# ژوندي یادونه

## د ژونديوقلموالو او فرهنگیانو یاد

## د مقالوټولگه

دریم ټوک

لیکوال

آصف بهاند

د ۲۰۲۶ کال جنوري

د کتاب ځانګړنې :

د کتاب نوم: ژوندي یادونه، دریم ټوک،

لیکوال: آصف بهاند،

د خپریدونېټه: د ۲۰۲۶ ام عیسوي کال جنوريمیاشت،

د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورتال.

# اهدا:

استادحبیب‌الله رفیع ته

چې د پښتو ژبې او ادب د غوړېدو

او غني کېدو له پاره یې ټول عمر له

کتاب، مطالعې او فرهنګ سره تېرکړ.

**د مطالبو فهرست:**


د سرخبرې ۷ ام مخ

۱ ـ عبدالغفور لېوال:

ـ څېړنوال عبدالغفور لېوال ۹ ام مخ
ـ د غفور لېوال د نورو منظمو په سیوري کې
د «پاچا» مطالعه ۱۷ ام مخ
ـ د هیلمند اوبو د دفاع لپاره موږ
هر یو باید «کک» شو ۳۳ ام مخ
ـ د عبدالغفور لېوال دویمههوسی
د پښتو شعر پر دېواله باندې یوه
نوې زرینه خښته ۵۴ ام مخ
ـ سلسال او شاهمامه
د مینې او انساني قانون سندرې او خبرې ۸۴ ام مخ

۲ ـ عبدالله شادان:

ـ «چشمهٔ شبنم»
(له موزونې درې ژباړې سره،
د لنډیو نوې ټولګه) ۱۱۸ ام مخ
ـ یوځل بیا «چشمهٔ شبنم» ۱۵۰ ام مخ

۳ ـ مطیعالله ویسا:

ـ خدمتګاران په زندان کې
قاتلین او خائنان په ګلستان کې ۱۵۴ ام مخ
ـ د مطیعالله ویسا د بند کیسه اوږده شوه ۱۶۷ ام مخ

۴ ـ عبيدالله درويش ډُراني:

ـ د عبيدالله درويش ډُراني
اويايمه کليزه دې بختوره وي! ۱۷۳ ام مخ
ـ په اوسني فرهنګي بهير کې
د استاد عبيدالله درويش ډُراني دريځ ۱۷۷ ام مخ

۵ ـ محمدانور وفا سمندر:

ـ محمدانور وفا سمندرد مينې، رڼا او غږ استازی ۲۰۱ ام مخ

۶ ـ نورمحمد لاهو:

ـ نورمحمد لاهو
او د شعر په هنداره کې يې ځو انځورونه ۲۵۲ ام مخ

۷ ـ ډاکټر بادام شفق:

ـ ډاکټر بادام شفق
د کار او زيار نه ستړي کېدونکي بېلګه ۳۰۵ ام مخ

۸ ـ عمر بورا زماني:

ـ د فرهنګ د بڼ بورا، عمر بورا زماني ۳۲۶ ام مخ

۹ ـ ګودر ځاځي:

ـ د ګودر ځاځي نوې سندره (چېرتهيې) ۳۵۱ ام مخ
او ورسره تړلي هيلې
ـ «خټ مې زنځيري» ۳۵۹ ام مخ

۱۰ ـ محمدالله هميم:

ـ «ډېوې، ډېوې ماښام»
یو ښه نوښت، یوه ښه لار ۳۶۸ ام مخ
ـ «بوډۍ ټال» د لنډیو نوې ټولګه ۴۱۳ ام مخ

۱۱ ـ محمدصدیق ننګ:

ـ سرګردان برخلیک لرونکی شاعر صدیق ننګ ۴۳۰ ام مخ
ـ د افغانستان په لویقاموس کې
د محمدصدیق ننګ بیوګرافي ۴۴۳ ام مخ

۱۲ ـ احمدولي اخکزی:

ـ احمدولي اخکزی او د پښتو ژبې ژوندي ساتلو هڅې ۴۴۶ ام مخ

۱۳ ـ قیس کبیر:

ـ قیس کبیر د علمي ـ فرهنګي کار، زیار
او وطندوستی یوه غوره بېلګه ۴۵۸ ام مخ

۱۴ ـ ډاکتر محمد تنها:

ـ افغان فزیکپوه ډاکتر محمد تنها
د رڼا او خلا پر لور ۴۷۸ ام مخ

۱۵ ـ شفیع‌الله صافی:

ـ شفیع‌الله صافی: نویغږ، نوی استعداد
د کونړ د هنرپروره درو د غرونو په لمنو کې
راټوکېدلی ګل ۴۸۶ ام مخ

۱۶ ـ د لیکوال پېژندنه ۵۰۷ ام مخ

## د سرخبرې

دا دی د «ژونديیادونه» دریم ټوک هم بشپړ او پرلیکه خپرېدو ته چمتو شو. ما تل هڅه کړېده چې د حقداره ژوندیو فرهنګیانو د عملي فرهنګي کارونو داسې برخې وځلوم چې د نوي نسل په روزنه او پرمختګ کې مؤثر واقع شي.

د دې مقالو په ترڅ کې ما له پیل نه تر اوسه پورې هڅه کړې چې د داسې فرهنګي علمي څېرو پر ژوند او اثارو باندې څه ولیکم چې د هغوی اثار او افکار د نوي نسل لهپاره د یوې ښې او نمونه تجربې بڼه ولري، څو د نوي نسل له پاره د یو ښه سرمشق په توګه وځلول شي.

د «ژونديیادونه» لومړی ټوک مې په ۲۰۲۰ کال په اپریل میاشت کې خپور کړ چې بیا د ۲۰۲۵ ام کال په جنورۍ کې يې د چاپی خپرېدو امکانات هم برابر شول، دویم ټوک مې د ۲۰۲۳ ام کال په فبروري میاشت کې په انلاین بڼه خپور کړ او دا دی اوس وتوانېدم چې دریم ټوک هم د انلاین خپرېدو له پاره چمتو کړم.

د «ژونديیادونه» په دریم ټوک کې د پنځهلس ژوندیو فرهنګیانو په باب زما پنځهویشت مقالې راوړل شوې دي.

زه خپلې هڅه کوم چې د دې لړۍ (ژونديیادونه) د نورو برخو لهپاره هم کار وکړم څو وتوانېږم د حقداره ژوندیو فرهنګیانو حق ورادا کړم.

# ښېرنوال عبدالغفور لېوال

**افغان جرمن انلاین پورتال ژمنه کړې ده چې «د افغانستان لوی قاموس» له لارې د هېواد ځینې خدمتګاران خپلو لوستونکو ته وروپېژني .**

**«د افغانستان لوی قاموس» په خپله لمن کې د ګڼو علمي، هنري، ژبنیو (مجمع اللغات، تاریخ، جغرافیه، کرنه، اقتصاد او...) لغاتو د راټولولو او خوندي کولو سربېره، پټیلې ده چې د «شاعرانو، لیکوالو، هنرمندانو او خدمتګارانو» په کتګورۍ کې چې د اثارو، مقالو شعرونو او په یا نورو برخو کې د لاسته راوړنو څښتنان اوسي، په لنډ ډول معرفي او خپلو لوستونکو ته یې په انلاین بڼه وروپېژني .**

**افغان جرمن انلاین پورتال خپله دنده ګڼي چې له توپیر او شخصي حُب او بُغض پرته په یاده برخه کې هغه ښاغلي او اغلې معرفي کړي چې افغان، افغانستان او افغان ټولنې ته یې خدمت کړی وي.**

د افغانستان نوښتګر شاعر پرکار څېړونکی، ژباړن، لیکوال، دیپلومات او د افغانستان د علومو اکادیمۍ ښېرنوال (معاون سرمحقق) عبدالغفور لېوال د ۱۳۵۲ هـ ش کال د کب په شلمه،

د افغانستان د کابل ولایت په «موسهي ولسوالۍ» کې د مولوي علي محمد خان حسین خیل په کاله کې زیږېدلی دی.

دلته به د غفور لېوال د زدکړو، دندو، بېلابېلو فعالیتونو، تخلیق کړو او لیکلو اثارو او ځینو نورو فرهنګي فعالیتونو په باب لنډ معلومات وړاندې شي:

**زده کړې:**

ـ ۲۰۱۹ د علامه طباطبايي پوهنتون د ادبیاتو د دکتورا دوره،

ـ ۲۰۰۸ د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه ماسترې،

ـ ۲۰۰۴- ۲۰۰۵ د امریکا د مریلند پوهنتون د ژورنالیزم له پوهنځي څخه فوق لسانس (همفري فیلوشپ)،

۲۰۰۰ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي څخه لسانس ( لومړۍ درجه)،

ـ ۱۹۹۳ د اعتبارخان له عالي لیسې څخه عمومي اولنمره فارغ.

**دندې:**

ـ جون ۲۰۱۹ تر اکتوبر ۲۰۲۱ میلادي، په ایران کې د افغانستان لوی سفیر او فوق العاده استازی،

ـ اپریل ۲۰۱۸ تر جون ۲۰۱۹ پورې په سرحدونو او قبایلو چارو کې د افغانستان د جمهوررئیس ارشد مشاور

ــ ۲۰۱۵ جولای څخه د ۲۰۱۸ تر اپریل پورې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د سرحدونو او قبایلو چارو د وزارت مسلکي معین او سرپرست،

ــ له ۲۰۰۶ څخه تر۲۰۱۵ پورې د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز رییس،

ــ ۲۰۰۵: د چارو د ادارې په لوی ریاست کې د فرهنګي چارو رییس او مطبوعاتي سلاکار،

ــ ۲۰۰۴ د امریکا په متحده ایالاتو کې د اندیانا پوهنتون د منځنۍآسیا د ژبو او کلتور د مرکز سلاکار،

ــ ۲۰۰۳-۲۰۰۴ د افغانستان د اساسي قانون د کمیسیون ویاند او د مطبوعاتي دفتر مشر،

ــ ۲۰۰۲ د ازادۍ راډیو د کابل بیرو عمومي ایډیټور او خبریال،

ــ ۲۰۰۱ په کابل کې د جګړې او سولې لپاره د راپور ورکولو د انستیتیوت لومړنی ایډیټور،

ــ ۱۹۹۸ ــ ۲۰۰۱ د افغانستان لپاره د مرستو د مرکز د بشري حقونو څېړونکی،

ــ ۱۹۹۵-۱۹۹۸ د کابل پوهنتون د فرهنګي شورا مرستیال.

ــ په بېړنۍ لویه جرګه کې د افغان لیکوالو ، شاعرانو او ژورنالیستانو منتخب استازی،

ــ د اساسي قانون د لویې جرګې د مطبوعاتي ټیم مشر او ویاند،

ـ د ګڼو مسلکي، هنري او ادبي تصديقليکونو، ستاينليکونو او لوحو ګټونکی،

ـ په هېواد او بهر کې د يو شمېر علمي، فرهنګي او ادبي خپرونو د کتونکې ډلې غړی،

ـ د قلم د نړيوالې ټولنې غړی او په افغانستان کې يې د بنسټ اېښودونکې شورا غړی،

ـ د افغان کلتوري ټولنو د جرګې غړی او په افغانستان کې يې د بنسټ اېښودونکې جرګه ګی غړی،

ـ د افغان ادبي بهير او رشاد کره کتنې ټولنې غړی،

**خپاره شوي آثار:**

کتابونه:

١ ـ مخه ښه او دوه منظومې ،شعري مجموعه،

٢ ـ ژړا ،اور ،مینه، شعري مجموعه،

٣ ـ هوسی ،تاریخي – حماسي منظومه،

۴ ـ ارشاک او اوشاس، تاریخي – حماسي منظومه،

۵ ـ د وريښمو تول، ادبي کره کتنه،

۶ ـ کله چې ته خپه شې، شعري مجموعه،

٧ ـ د ماشومانو لوبې او غوره بوختياوې، څېړنه،

٨ ـ د نيلوفرو کيسې، د ښځينه اتلانو کيسې، ټولونه،

۹ ــ د ټرای ښځې، ژباړه،

۱۰ ــ ته مې هېره نه وې، ، شعري مجموعه،

۱۱ ــ لام او ایلینو، تاریخي – حماسي منظومه،

۱۲ ــ ادبي یادښتونه ، د څېړنیزو مقالو مجموعه،

۱۳ ــ ته زما ټوله شاعري يې، دشعرونو مجموعه،

۱۴ــ د پوهاند سید بهاالدین مجروح د پښتوادبي آثارو رواني څېړنه (د ماسترۍ دورې تيزس)،

۱۵ – دربیمه لاره، د سیاسي ــ ټولنیزو مقالومجموعه،

۱۶ ــ شعري سېمبولونه ، دادبي تیوري په اړه علمي رساله،

۱۷ ــ افغانیزم ، د سیاسي - ټولنیزو مقالو مجموعه،

۱۸ ــ شل مېلیونران، د سیاسي - ټولنیزو مقالو مجموعه،

۱۹ ــ د ژبښوونې آرونه ( د ژبې د تدریس اصول) علمي رساله،

۲۰ – ادبي لیدلوري، د ادبي مقالو مجموعه، پښتو اکاډمۍ کوټه،

۲۱ ــ ګلغوټۍ ته اووم سرود، د شعرونو مجموعه،

۲۲ ــ افغانستان او انسانمحوره سیاست، د سیاسي ـ ټولنیزو مقالو مجموعه،

۲۳ــ د ستوریو کیسې، د ماشومانو لپاره منظومې کیسې،

۲۴ ـ کک او زرینه، تاریخي حماسي منظومه،

۲۵ ـ ویښتیا، روښانتیا او بدلون؛ د سیاسي ـ ټولنیزو مقالو مجموعه،

۲۶ ـ په ادبیاتو کې د اسطورې څېړنه، علمي تحقیقي اثر، د علومو اکاډمی،

۲۷ ـ پینځه منظومې، د منظومو ټولګه،

۲۸ ـ تا د اوبو په حافظه کې وینم، د شعرونو ټولګه، کوټه چاپ،

**مقالې:**

تر ۲۰۰ ډېرې علمي مقالې په ملي او نړیوالو کتابونو، خپرونو او ویبپاڼو کې خپرې شوي دي چې:

سیاسي، ټولنیزې، ادبي، د ژورنالیزم او ارواپوهنې مسایل په پښتو، دري او انګلیسي ژبو په کې څېړل شوي دي.

**په بهر کې ځینې کنفرانسونه، سیمینارونه او سمپوزیمونه:**

۱۱ ـ په اروپا او آسیا کې دځواک پرتلیزانډول او ستونزې، نړیوال سیمپوزیم، هوکایدوپوهنتون (جاپان) جولای ۲۰۰۹

۲ ـ د افغانستان او قبایلي سیمو وضعیت، لکچر، اوساکا پوهنتون (جاپان) ۲۰۰۹،

۳ ـ د افغانستان او روسیې نوې اړیکې، نړیوال کنفرانس (مسکو ـ روسیه ) اپریل ۲۰۰۹،

۴ ـ د افغانستان او روسيې د نويو شرايطو مطالعه، سيمه ييز سيمينار(مسکو- روسيه) مې ۲۰۰۹،

۵ ـ  افغانستان زموږ کور زموږ راتلونکی، نړیوال کنفرانس (لندن - انګلستان) فبروري  ۲۰۰۹،

۶ ـ  افغانستان او منځنۍ آسيا - ستونزې او امکانات، نړیوال کنفرانس  (دوشنبه - تاجکستان)  ۲۰۰۸،

۷ ـ  ديموکراسي او ثبات - ګډې هڅې او امکانات، نړیوال کنفرانس (باکو -  آذربايجان) ۲۰۰۸،

۸ ـ د ا فغانستان د بيا رغوونې بهير، سيمه ييز کنفرانس، جواهرلال نهرو پوهنتون (ډهلي - هند) ۲۰۰۸،

۹ ـ د ورېښمو د لارې نوې احيا، نړیوال سيمينار، کشمير پوهنتون (سرينګر - هند)، ۲۰۰۸،

۱۰ ـ په جنوبي آسيا کې د سولې لپاره د تدريسي پروګرام جوړښت، جامعه مليه اسلاميه پوهنتون (ډهلي هند)، ۲۰۰۸،

۱۱ ـ په افغانستان کې حکومت رغوونه او سياسي تاوتريخوالی، سيمه ييز کنفرانس ، جامعه مليه اسلاميه پوهنتون ( ډهلي هند) ۲۰۰۷،

۱۲ ـ  آسيا او اروپا ته د ناتو پراخيدل، نړیوال کنفرانس، د ايران د بهرنيو چارو وزارت (تهران – ايران)،
۲۰۰۷،
په جنوبي آسيا کې د سولې لارې چارې، سيمه ييز کنفرانس، جامعه مليه اسلاميه پوهنتون ( ډهلي هند) ۲۰۰۷،

۱۳ ـ د افغانستان، پاکستان او هند تر منځ د سولې درې اړخیزې خبرې، ډهلي پالیسي ګروپ، (ډهلي هند)، ۲۰۰۹،

له دې پرته په افغانستان کې د ۲۵ کنفرانسونو، سیمینارونو او علمي غونډو جوړونکی، د تدوير د چارو د کمیټو یا علمي غړی ،

۱۴ ـ د سیمه ییزې همکارئ علمي څېړنه، ۲۰۱۰ استانبول، ترکیه،

۱۵ ـ د شنګهای لس کلن حضور ته علمي کتنه، ۲۰۱۱ کال، قزاقستان الماتا،

۱۶ ـ د سارک ادبي فیستیوال،۲۰۱۱ ډهلي هیندوستان.

او ګڼ شمېر نور علمي سفرونه.

په هېواد کې د لسګونو علمي ناستو تنظیم او علمي غړیتوب.

**ژبې:**

۱ ـ پښتو،

۲ ـ دري،

۳ ـ انګلیسي.

# د غفور لېوال د نورو منظمو په سيوري کې

## د «پاچا» مطالعه






د عبدالغفور لېوال د «پاچا» منظومه، د ۲۰۲۳ م کال د جنورۍ پر يوويشتمه (۲۱مه) نېټه لومړۍ د ده پر فيسبوکپاڼه خپره شوه او تر هغه وروسته د ۲۰۲۳ م کال د جنورۍ پر دوه ويشتمه (۲۲ مه) نېټه په افغان جرمن پورتال کې هم انلاين شوه.

کله چې ښاغلي لېوال «پاچا» منظومه تر خپرېدو مخکې ما ته راولېږله، له دمې پرته مې له نظره تېره کړه، په هماغې شېبې مې زنګ ورووواهه او د نورو خبرو تر څنګ مې دا هم ورته

وويل چې د ښامار  د سبک نښې مې هم په کې ولېدلې او دا دوعا مې ورته وکړه چې:

«نور دې خدای د سیاست او اداري له دايرې نه لرې وساته، ځو د دغسې اثارو د تخلیق او پنځونې لپاره وخت ولرې.»

زه دلته د عبدالغفور لېوال پخوانیو منظمو ته تر لنډ نظر وروسته، د ده د اوسنۍ خپرې شوې منظومې «پاچا» په باب هم څو کرښې لیکم:

تر «پاچا» مخکې لیوال اته نورې منظومې هم تخلیق، چاپ او خپرې کړې دي. یو ځلې ما د لېوال څو چاپ

شوې منظومې داسې معرفي کړې او شمېرلې وې:

له «سلطان» نه مخکې لیوال له ټولو شخصي، رسمي او سیاسي بوختـتـیاوو سره ـ سره؛ د ګڼو شعرونو او مقالو په څنګ کې، نورې منظومې هم پنځولې دي چې نومونه يې دا دي:«

۱ ـ لومړۍ منظومه «هوسۍ» وه، چې غالباً په ۱۳۷۷ کې بشپړه او په ۱۳۷۸ کې لومړی ځل چاپ شوه،

۲ ـ دويمه منظومه «ارشاک او اوشاس»، چې په ۱۳۷۹ کې بشپړه او په ۱۳۹۰ کې چاپ شوه،

۳ ـ درېیمه منظومه «لام او ایلینو»، چې په ۱۳۸۷ کې چاپ شوې ده،

۴ ـ څلورمه «ککـ او زرینه» ده، چې په ۱۳۹۶ کې خپره شوه،

۵ ـ ځنګل (لنډکی منظومه) ۱۳۷۵ کې لیکل شوې او «ته زما ټوله شاعري یې» شعري ټولګه کې چاپ شوې ده،

۶ ـ سفر (لنډکی منظومه)، عرفاني منظومه ده، په کال ۱۳۸۴ کې لیکل شوې ده او «ته زما ټوله شاعري یې» شعري ټولګه کې چاپ شوې ده،
هیله ده چې «سلطان» هم ډېر ژر بشپړه او چاپ کړای شي.»
وروسته یې بیا په ۱۳۹۷ - لمریز، ۲۰۱۸ میلادي کال کې خپلې پنځه منظومې په یوه ټولګه کې د «پینځه منظومې» تر سرلیک لاندې چاپ او خپرې کړې چې دا لاندې منظومې په کې راوړل شوې وې:
هوسۍ، ارشاک او اوشاس، لام او ایلینو، کک او زرینه، سلطان.



لېوال هغه نوښتونه چې په خپلو تېرو تخليقاتو کې کړي وو، د پاچا په منظومه کې يې په ساده کليوالي ډول پسې تعقيب کړي دي، د همدې په وجه کولای شم ووايم چې عبدالغفور لېوال په اوسني پښتو ادب کې د مبتکرو شاعرانو په ډله کې د نوښت ښه استازولي په بريالي ډول کړې ده.

له چاپو شوو منظومو څخه يې دوې لنډې بېلګې دا دي:

له «کک او زرينه» څخه:

**...سمند ځي په منډه، منډه تر هيرمنده**

**چې د عشق نوی داستان ورته بيان کړي**

**په خوږو څپو ماړه دوه مينان کړي**

**هيرمند مست دی، هيرمند غاړې، غاړې غورځي**

**هيرمند خپلو مېلمنو ته لارې څاري**

**هيرمند ترږی دی، چې راشي دوه مينه**

**د څپو تندی يې کېږدي پر لمنه**

**پېرۍ وشوې چې هيرمند څپې، څپې دی**

**مست، سرکشه ، ډک له شوره، له هيبته**

**سيند د کک ـ زرينې عشق ته سلامي دی**

**له هغه وخته تر ننه لا جاري دی.»**

له «سلطان» څخه څو بيتونه:

«... کرښه کرښه، ليکه ليکه، تکه سپينه
د "لوی غر" پر هسکه څوکه واوره ښکاري

شين اسمان لکه لوی ډنډ د لاژوردو
شرشري يې د خوړونو لارې څاري

"سنګدره" کې د لوښتي ونې ولاړې
د چينو اوبه بهيږي لارې، لارې

پسرلی دی لاندې زمکې زرغونې دي
چيناړونه باد ته اوړي او راوړي

په شرشر يې د چنچنو چغار ګډ دی
د سونګوري په بوی مست د لوی غر هډ دی

د شوتلې د ګل عطر په څپو دي
د زېړګلي غرنی وږمه چليږي

له کړليچو د سيند شور اورېدل کيږي
داماني د غره سمسورې په وښو دي

د کوچيانو د رمو د ښکالو غږ دی
چېرته لرې د شپانه د های های چيغې

د سپرليو، وږو وريو بغبغې دي
کړنګاني د مېږو غاړو کې نغمې کا

د رمو د سپيو غږ په کې ورکيږي
هلته دلته، له کېږديو لوګی خيژي

کـلـي ډوب دي، د شـنـو ونــو په چوپـتيا کې
د خـم ونــو کـې ثــوري مــرغـــی چغـیړي

د غـره ډډه کـې ځــو مـېــږې څـــه پـسـونـــه
ځـو مـرغـومي او ځـو وري ورپسې ځـغلي

شـوخ سـپـرلی، يــوه کـمـره نه بل ته تـرپي
لـکـه چـتـکی پـــه خـبـزکـو نـــه مـړيړي...»

د لیوال په چاپ شوو منظومو کې که څوک د انځور جوړونې پروسه په ځير سره تعقيب کړي هلته لیدل کيږي چې په هره منظومه کې لېوال د موضوع د حق ادا کولو ترڅنگ د انځور جوړونې حق هم ادا کړی دی.

زما له نظره د پاچا په منظومه کې تازه نوښتونه، جالب ترکيبونه ـ زړه راښکونکي انځورونه دا لاندې دي:

ـ پسته سواره،

ـ د اتڼ ډول کرځول،

ـ شپېلۍ مار،

ـ د لاس دسمال،

ـ په مريو پټه شوې شنه رجړومه،

ـ د سنځلو نقره يي پاڼې،

ـ د لوند اخېر خوږ بوی،

ـ د مره مازيگر رنگ،

ـ د کلا په خوا کې د کرلي چرهار،

ـ د رڼو ستورو پاولي،

ـ د ډیوې د سوزېدلې پلتې بوی،

ـ د سیند مړه نغمه،

ـ د میین زړګي درزا یې
د سینې په انارونو کې ښکاره وه،

ـ د څو سترو زړونو سوز،

ـ پیېغلې پانې،

ـ شپیلۍ ته سوی پوکی ورکول،

ـ پر خوله باندې د برغولي اېښودل،

په «پاچا» منظومه کې بل د پاملرنې وړ مسأله، په ازاد شعر کې قافیه جوړول دي. په دې منظومه کې لېوال دا لاره هم تعقیب کړې ده چې د غیر مقفی شعر په ترخ کې قافیه جوړوي او داسې یې جوړه کړې ده چې د ده منظومه یې لا رنګینه کړې ده. دا یې څو خوندورې بېلګې دي:

د خَم* له چینارو سره د ګز ونې **ببرې**
نینې وې **خوندورې**

---

د تورو توتکیو ځاله جوړه وه **چچه** کې
پټ شور و **صاییزاده** کې

---

ژرندګړی **شپېلی** **مار** و،
د جومات خادم **ټوکمار** و

---

د چا به تور ژیری و او د چا به **نیمسری** وه
زېلی وه یا **زوبی** وه

---

پټي پټي **اوازې** وې،
غلې غلې **ګونګوسې** وې

---

د دوه سترګو په حلقو کې يې **مقام** و
د کږو وروځو محراب کې يې **امام** و

---

پرتمينې لا رجړومې **جوړولې**
او د سُنډو ګلدستې يې دسمالونو کې **ګنډلې**

---

د جانان د خواږه غږ **اذان** ترې ورک و
د خوږو خوږو خوبو **جهان** ترې ورک و

---

خان ځادر کې سر تاو کړی ورته **څک** و

د سردار دوښمن اوښتی تر **دښتک** و

---

خان يې تللی و او لور وه ورته **ناسته**
پېغله کونډه په نري ليمڅي وه **ملاسته**

---

چې توتان د خَم په ونو کې **پاخه** شي
پېغله کونډه به د خان په کور **واده** شي.

---

واکمن نه و په وطن کې واک د **بل** شو
پاچا تللی و، ترې پاتې خپل **کابل** شو

---

د شاطر زاړه واسکټ نه کيلي **ورکه**
د زيارت پيريانو وړې وه **چابکه**

---

د تنور په غاړه، هم په شنو **پټو** کې
هم په ډاګ کې، هم کاریز کې هم **چينو** کې

---

پېغلو نجونو، پخو ښځو، **اناګانو**
په راز راز کيسې کولې د **پېريانو**

---

برکت له هغې ورځې **الونیا** شو
چې وطن بې صایبزاده او بې **پاچا** شو.

دا مقفی بیتونه په ازاد شعر کې د یوه نوښت بڼه لري او هر بیت یې د ټولنې د نادودو، مینې، دردونو، ویرونو کیسې هم کوي.

په منظومه کې د ځینو ځایونو نومونه راوړل شوي دي، دا یوې بیل بحث ته اړتیا لري چې باید د تاریخي جغرافیې له اړخه وڅېړل شي او په منظومه کې د راوړل شوو ځایونو د نومونو په باب جلا مقالې ولیکل شي.

په «پاچا» منظومه کې د ښامار سبک رنګ له ورایه معلومېږي. د منظومې دې برخې ته پام وکړئ چې د ښامار د سبک نښې په کې ښکاري:

«... هلته دلته به کیسې خلکو کولې،

چې زلمی ملا سبق پسې و تللی

د میراث او د منطقو

سختې سختې مسئلې یې

د ځرخي* ملا دوره کې زده کولې

کله کله به د ځرخ په خانقا کې

د اذکارو له حلقې نه شو بېخوده

پرتمینې به په تورو سترګو وخوړ

صایبزاده ملا د عشق مجاز کې ډوب و.

صایبزاده ملا د ځرخ پیریانو ورک کړ

پرتمینې لا رجړومې جوړولې

او د سُنډو ګلدستې یې دسمالونو کې ګنډلې...»

د لیوال دا لنډه منظومه پر لوستونکو عجیب حالت راولي، په تېره هغه لوستونکي چې له «پاچا» منظومې سره یې ژوند یو څه اړخ لګوي او یا په منظومه کې د یادو ځایونو اوسېدونکي دي؛ له یو ډول نستالژیک حالت سره مخ کوي او د هغو ځایونو د لیدلو ارمان یې پر زړه او بدن غالب کېږي. همدا ډول دا عجیب حالت پر هغو لوستونکو هم راځي چې، په منظومه کې یاد ځایونه یې له خپل کلي ـ کور او ولایت سره ورتوالی لري. د منظومې ترلوستلو وروسته یو لوستونکي داسې ورته لیکلي دي:

«ګران لیوال صیب! قلم مو تاند او ګړندی اوسه، او الله پاک د تاسو ته هم پتمن، بریمن او هوسا اوږد ژوند در په برخه کړي.

ستاسو د نظم او نثر د پنځونې او تخلیق په اړوند، د دې واک نلرم او نه هم ځان ته د ارزونې حق ورکوم. خو په لوستلو یې:

ـ تاسو د تېرې څوارلسمې لیږدیزې پېړۍ د دریمې او څلورمې لسیزې له یاد دابنتونو سره مخ کړم. کوم چې ما به هر وخت د کلطغان، احمدخېلو، جانان کلا، حسین خېلو، لیاسخېلو او د نورو کلیو ځلمکي لیدل، چې خپل ماشومان وروڼه او خوینډې به یې په ډډو اړولي وو او د چینو غونډۍ لمرخاته اړخ ته د خدای ببنلي زېږي دم بابا، دم او دعا ته به یې ور وستل؛

ـ زه مو په دا تېر عمر، یو ځل بیا د تېر مهال په چینو غنډۍ، خانان خېلو، سیاه جوی، برو او کوزو میاخېلو، حاجیخېلو آن تر زړې کلا پورې، کلي په کلي پلی وګرځولم، چې اوس یې ښايي فزیکي بڼې ډېر بدلون کړی وي؛

ـ د خاناخېلو د ژرندې او د میاخېلو د ژرندې او شولو د پایکو(پایکوب) ننداري ته دې هم د تخیل او تصور د تال په ذریعه ور ولېږدولم، چې ښايي اوس یې نښې هم نه وي پاتې؛

ـ یو ځل د بیا د موسهي د سنګ ایستادې، کشلاغ، سیاجوی، ګنبد د لویو ویالو او له هغو څخه د جلا شویو وړو بیالو او لښتیو ډکو او رپاندو اوبو بهیر ته په ننداره ودرولم او په موسهي کې د اوسني وچ سین د هغه مهال، د کال د څلورو فصلونو د روانو شنو او کله کله د خړو توپاني اوبو لکه د خوب د لیدلو په شان، په تَصَوري ننداره کړم؛

ـ تنها دا نه ؤ، آن د شاتخانې څټ ته، تښتک ته د ور اووښتي غاښې د لارې ننداري ته دې هم ودرولم.
بیا هم مننه او درنښت!»

کله چې لېوال صاحب د پاچا منظومه پر خپله فیسبوکپانه خپره کړه، ځینو لوستونکو د منظومې په باب خپل نظرونه په کامنټ کې ولیکل، ځیني به یې د بېلګې په ډول دلته راواخلم:

ساجدالله صاحبزی:

«بهترینه منظومه ده لیوال صاحب سې تر اوسه مې لوستی، د هغه وخت د کلی، کلتور، زمانې نادرې دې پکې بیان کړي.

هره زمانه خپل ځانته یو ښکلا لري چې دې منظومه کې ټولې ښکلاوې د هغه وخت رانغښتل شوي.
که نږدې وای د بابا صاحب( صاحبزاده) د شعرونو ټولګه به مې درته ډالۍ کړې وای.»

همایون بهادري:

«لکه څنګه یې چې د لوستونکي زړه غواړي هغسې منظومه ده.
د خلیپه، صاحبزاذه، پادون او... راټولو دمره جالب دي، چې منظومه یې شهکار کړې ده.»

نذیراحمد نذیر:

«واه استاده
ژوند ژوند
ډېره عالي منظومه ده، زه یې دومره پسې واخیستم چې د وزنونو تفاوت مې احساس نه کړ.
تر یوه ځایه یې راته ستاسو د «رخې» نظم را یادوو، وروسته کیسه پسې نوره هم وغځېده، د کلیوالو انځورونو تر څنګ د باورونو، کلتور، ناورین او مینې موضوعات پکې عالي راغلي دي.
کاش داسې شعرونو مو ډېر درلودلی.
شکر چې تاسو لرو او لیکل کوئ.»

آصف بهاند:

«ډېره مننه لېوال صاحب له شریکولو نه،

نوې خبرې،

نوي انځورونه،

او نوي فکرونه.

نورې بریاوې.»

د غفور لېوال په تخليقاتو کې نوښت او انځور جوړونه یوه ثابته او منلې خبره ده. علامه عبدالشکور رشاد د لېوال د هوسۍ منظومې په مقدمه کې وړاندوینه کړې وه چې:

«زه ځوان شاعر (عبدالغفور لېوال) ته د دې ابتکاري تخليق مبارکي وایم، د ده استعداد زما په ز ړه
کې دا هیله پیدا کړې ده چې دی به د پښتو ادب لپاره د تخليق په برخه کې ډېر بريالی وی.

زه د ده د بري دعا کوم»

(لېوال عبدالغفور، هوسۍ، د پښتنې فرهنګ د ودې ټولنه، ۱۳۷۶ وری ـ ۱۹۹۹ اپریل، د رشاد صاحب سریز: الف ــ و مخونه)

لېوال تر «هوسۍ» وروسته، د څو نورو منظومو په لیکلو سره خپله ازموینه تېره کړه او دا دی د «پاچا» په تخلیق سره یې یو ځل بیا وښوده چې دی د هماغه ابتکاري تخلیق استعداد لري او تل په کې بريالی هم وي.

لیوال تر «پاچا» د مخه په نورو منظمو کې هم عجيبه تصویر جوړونه لري، مثلاً په «لام او ایلینو» کې «لام» لګیا وي د یوه سنګتراش هنرمن په ډول ساعتونه ـ ساعتونه د غرونو په تیـږو کې د «ایلینو» څېره لټوي ، تیـږې توږي او په خپل هنر سره له عادې تیـږې نه خپله معشوقه یعنې «الینو» جوړوي،

خو لېوال بیا په شپو ـ شپو او ورځو ـ ورځو لګیا دی د «لام» د مینې او هنر انځور د کاغذ یا کمپیوټر پر صفحه باندې د خپلو لغاتو د لښکر په زور انځوروي. په «پاچا» منظومه کې هماغسې لېوال لګیا وي د «صاحبزاده» او «پرتمینې» د مینې افسانه د افغاني ټولنې د دودونو په لړو او تیارو کې لټوي، د خپل شعري هنر په زور د ټولنې دودیزې لړې او ګردونه ور نه لرې کوي او د شعر د هنر په زور، د هغوي د مینې یوه ښکلې او روښانه تابلو خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي. دا یې یوه بېلګه ده:

«... صاییزاده و نیمه شپه جومات نه تللی

د رحمان بابا دیوان په ریک نه و

پرتمینه تښتولې وه قاف غره ته

د زیارت جنډو کې پټو ښاپیریانو

او د خان له کلا وتی و په پټه

نازولی سپین سمند له خپل اخوره

د شاطر له جیبه چا وه کیلي وړې؟

دا کیسې به د ګودر خورلنو کړلې

د تنور په غاړه، هم په شنو پټو کې

هم په ډاګ کې، هم کاریز کې هم چینو کې

پیغلو نجونو، پخو ښځو، اناګانو

په راز راز کيسې کولې د پېريانو
آآ- صلاة توبه په خوله وه د سپينږيرو
ټولې نښې د اخرې زمانې دي
برکت له هرڅه تللی خدای دې خير کړي
له کابله پاچا ورک دی، تخت چپه دی
له جوماته صايبزاده ملا وتلی
پېغله لور د دښتکي پېريانو وړې
له کلا نه د خان اس بيګاه وتلی
د قيامت نښې له ورايه راښکاره دي
له کندوانو برکت په الوتو دی
د شينو پادهوان بيا سوې نارې دي
"مال راوباسئ، پادې ته خير يوسئ!"
لا کړه ژرنده تاويږي اوږه باسي
ژرندګړی هر ماښام ځراغ ته ناست وي
په مرموزه موسکا ګوري بر کندو ته
ماخوستن شپيلۍ ته سوی پوکی ورکړي
د جومات خادم له ټوکو نه لوېدلی
صايبزاده پسې په پټه سلګی وکړي

غنمي خليپه ډول په کور کې پریښی

بر کنډو ته د پساو له سره ګوري

او پر خوله يې د يو راز برغولی ایښی...»

زموږ د دوديزې ټولنې د تولو قيوداتو او بنديزونو په چوکاټ کې، چېرې چې موسيقي د منصور په څېر په دار ځړول شوې ده؛ لیوال توانیدلی دی چې «ډول»، «شپېلۍ» او «د رحمان باب ديوان» د پښتني کلتور د پاملرنې وړ توکو په څير انځور کړي، او په دې لړ کې يې دا زړورتيا هم کړې ده چې «صاحبزاده» يې د موسيقي اورېدلو ته کېنولی، راديو يې په جيب کې ورته ایښې او ان تر دې چې صاحب زاده د تګ په وخت کې له ځان سره «د رحمان بابا ديوان» د مينې د سمبول په ډول وړي.

زه يو ځل بيا ګران عبدالغفور لېوال ته د «پاچا» د تخليق مبارکي وايم او د پنځونې په ډګر کې د نورو برياوو هيله ورته کوم.

# د هيلمند اوبو د دفاع لپاره

## موږ هر يو بايد «کک» شو

بـې لـــه ککه دا جـګـړه ګـټـلی نـــه شـو
د هـيـرمـنـد پر اوبـو بـنـد ژغورلی نـه شـو

د پـيـلانـو جـنـګ تـه کک پـهـلوان بويـه
چې هر ګورز يې زنځيري پيل راګوزار کړي

(عبدالغفور لېوال)

د «کک او زرینه» د منظومې اصلي موضوع د افغانستان اوبه دي چې حریص ګاونډي له ډېرو پخوا زمانو څخه سترګې ورته نیولي دي او ډېروختونه یې په وړیا ډول تر ستوني تېرې کړې هم دي.

کله چې د ګران دوست عبدالغفور لېوال د «کک او زرینه» منظومې د چاپ دروګه شوه، ما د دې منظومې په باب څو جملې ولیکلې او هیله مې څرګنده کړه چې د دې منظومې د بشپړولو کار ګړندی شي، ژر تر ژره دې چاپ او ګرانو هېوادوالو ته د لوستلو لپاره وړاندې شي. په «کک او زرینه» منظومې کې د هیرمن د اوبو تاریخي او سیاسي اړخونه په هنري ژبه بیان شوي دي.

په منظومه کې د مدبرې زرینې تر لارښونې لاندې اوه قومونه سره یو کېږي، کک پهلوان اړایستل کېږي چې د خپل هېواد او خلکو د ملکیت (اوبو) د ساتنې او دفاع په خاطر د مبارزې میدان ته راودانګې چې همداسې هم وشول.

د ایران د اخوندي رژیم مقاماتو په غیردیپلواتیکه ژبه یو ځل بیا د خپلو نیکونو غیر قانوني غوښتنې مطرح کړې دي، د هر بادرکه هېوادوال دنده ده چې د خپلو اوبو د مالیکت د دفاع په خاطر غږ وباسي، په تېره د اوبو د مدیریت متخصصین باید د مبارزې په دې میدان کې د خپل ملي مسؤلیت پربنا، له خپلو ملي ګټو په مسلکي او عالمانه ډول دفاع وکړي.

اوس بیا د ایران د مفتخورو واکدارانو د غیر دیپلواتیکو غوښتنو په پیل سره د هیرمن د اوبو موضوع راښورېدلې ده، زه همدومره کولای شم چې د لېوال صاحب د «کک او

زرینه» منظومې په باب خپل هغه یادداشتونه او یوه مقاله چې پخوامې د «اوبه، وینه او مینه ـ په «کک او زرینه» کې د وطنپالنې روحیه او ښکلایزجوړښت یې» ترسرلیک لاندې لیکلې او خپره کړې وه، یو ځل بیا خپره کړم او په دې ډول خپلو هېوادوالو ته د موضوع مهموالی ورپه زړه کړم:

**۱ ـ یادداشتونه:**

د «کک او زرینه» منظومې تر چاپ وړاندې مې چې د منظومې د پیاوړي شاعر ښاغلي لېوال په پته څو جملې او هیلې لیکلې او مطرح کړې وې، دلته یې یو ځل بیا رااخلم:

«زما د ګران دوست، زما د خوښې وړ شاعر او قلموال، ښاغلي غفور لیوال د نوې منظومې «کک او زرینه» ښکالو اوریدل کیږي. د لویې نیکمرغۍ ځای دی چې د لیوال صاحب د «کک او زرینه» په خپریدو سره به له یوې خوا د پښتو شعر خزانه بډایږي او له بلې خوا د هیواد د تاریخ په دې حساسو شیبو کې چې ښکاره دوښمن موږ ته خپل طبعي حق هم نه راپریږدي، لیوال داسې یو تاریخي واقعیت، د هنر په مټ او د شعر په ژبه د درنو هیواد والو مخې ته ږدي.

زه همدا اوس، د همدې کرښو په وسیله د «کک او زرینه» د بشپړیدو او خپریدو مبارکي لومړی لیوال صاحب ته او بیا د پښتو ادب او افغانستان ټولو خواخوږو او مینه والو ته وړاندې کوم.

ما له دې نه مخکې د ښاغلي لیوال دوې نورې منظومې «هوسۍ» او «لام او ایلینو» لیدلې او په خورا مینه او دقت مې یو ځل نه، څو، څو ځلې لوستې هم دي.

د ۲۰۱۷ کال د جولای په شلمه مې د فيسبوک پر پاڼو ولوستل چې «کک او زرينه» هم د بشپړېدو پړاو ته ور نږدې ده. دا زيری ښاغلي ليوال په دې تورو سره موږ ته را ورساوه:

«چې د تاريخ په روايت مو نيکونو ځنګه د هيرمند اوبه ساتلې او د ګاونډيو په وړاندې يې د دغه سيند ساتنه کوله، تاسو به يې د (کک او زرينه) يا ساکستان په منظومه کې ډېر ژر ولولئ (ان شاالله).

د دې منظومې لس سلنه کار پاتې او نور مې بشپړ کړی دی.

د ساکې پرتم په ځپو کې ورځ په ورځ ډوبېږم او په حيرانتيا، حسرت او افسوس ګورم، چې زموږ نيکونه تر موږ هوښيار وو، هغوی تر موږ ډېر زموږ د روانو اوبو پر اهميت او ارزښت پوهېدل. د ساکانو اووه ـ سره دوښمنې خپلخانې ـ د هيرمند د اوبو ساتنې په پار، سره يوځای شوې او په خپلو کې يې مرګ ژوبله پرېښوده.
خو، ولې موږ، اوس، د خِرد په دې زمانه کې دومره هوښيار او مېړني نه يو؟»
او يوه ورځ وروسته (۲۰۱۷ کال د جولای يوويشتمه) يې بيا داسې وليکل:
«... او منظومه بشپړه شوه، تر دې وروسته يې پوښتنه له خپرونکي (ناشر) څخه کوئ،
دا يې هم د پای څو کرښې:

...سمند ځي په منډه، منډه تر هيرمنده
چې د عشق نوی داستان ورته بيان کړي
په خوږو ځپو ماره دوه ميړان کړي
هيرمند مست دی، هيرمند غاړې، غاړې غورځي

هيرمند خپلو مېلمنو ته لارې ښاري
هيرمند ترې دی، چې راشي دوه مينه
د څپو تندی يې کېږدي پر لمنه
پېرېږ وشوې چې هيرمند څپې، څپې دی
مست، سرکشه ، ډک له شوره، له هيبته
سيند د کک ـ زريني عشق ته سلامي دی
له هغه وخته تر ننه لا جاري دی.»

او په داسې يوه حساسه شېبه کې دا کار کيدونکی دی چې دوښمن غواړي ټول هيرمند ونغري، تر ستونې يې تير کړي او کوربانه په تکنده سره غرمه کې تږي پريږدي. سره له دې چې په شاعر امر کول او يا دستور او فرمايش ورکول نا سم کار دی، خو زه له ښاغلي ليوال نه عاجزانه هيله کوم:

هر څومره چې ژر کيدای شي دا منظومه دې چاپ او تر لوستونکو پورې ورسوي.

ما په فيسبوک کې د دې خبر په کامنټ کې غوښتل چې دوې جملې ولیکم، ومې هم ليکلې، خو په تيروتنې سره دا دوې جملې را نه جلا، جلا پوست شوې. هغه دوې جملې دا دي:

چې بيا يو ليک ليکم نو کله به وي
اوس به يې نه ليکم په زړه مې دې وي

خو لږ شيبه وروسته مې دا ليک هم په نثر ولیکه او هم مې د شعر په ژبه. لومړی يې نثر او وروسته به يې شعر تاسو درنو لوستونکو سره شريک کړم:

فکر کوم تاسو د ښامار پر سبک روان ياست، تاسو مو له فکر او قلم نه د نوې زمانې ښامار جوړ کړئ، داسې ښامار

چې خلک او وطن د خپلې خولې د ځانځانی په اور ونه سيځي، بلکې د خپلې خولې اور د دښمن پر لور ور سم کړي او د «هوسی» آزادي وساتي، د «لام او ايلينو» بلورستان وژغوري او ساکستان وژغوري، افغانستان وژغوري!

## وژغـوره

(غفور ليوال ته)

تـــه آزادي د يـــو انســان وژغـــوره
لام، ايـلـيـنو بـلـورستان وژغـــوره

مـتـې دي بـډ وهــه تـکـړه شه ور ته
ساکان، هيرمند او ساکستان وژغوره

پرينږدې چې د ساکستان وينې او اوبه د دښمن ستونی لوند کړي. دا مې هم شعر:

تـــه يـــو لـيـوال د اسـطـورو، د شـعـر
تـــا د هـــوسی ســـا، قـــدمـونــه انځور

بـيـا پـــه قـلـم دې تـيـږه و تـــوږلـــه
د سـنـګـتـراش خـيـره دې وايـسـتـلـــه

لام ايــلـــيــنـــو دې پــــه کـــې ودرول
وچــو ډبـــرو کـــې دې وخـــوځـــول

زمـا لـــه لام نـــه ايـلـيـنـو خـوښـه ده
لـــه ايـلـيـنـو نـه مې لام نور هم خوښ دی

اوس دې د «کـک، زريـنې» لار څارمه
سـتـرګې پـــه لار يـمــه او پـيـار څارمه

چې بـيــا يــو لـيـک ليکم نـو کله بـه وي
اوس بـه يې لـيکم چې په زړه مې نـه وي

او تـا نــه هيله مـې همـدومـره ده بس:
صرفه ونه کړې په هيڅ څه او خپل وس

خــلـک را پــورتـه کړه پارسيانو مـخ ته
د دوی او نـــورو دښـمــنــانــو مــخ ته!»

۲۰۱۷/۰۷/۲۱
هيدرسليف
ډنمارک

## ۲ ـ د «کک او زرينه» منظومې په باب مقاله:

(اوبه، وينه او مينه ـ په «کک او زرينه» کې د وطنپالنې روحيه او ښکلايزجوړښت يې)



کک او زرینه د هیواد پالنې سرتیري او قهرمانان دي،
د کک او زریني پیام د هیواد پالنې پیام دی،
د وطن او وطني ګټو د دفاع پیام دی
او د میني هغه پیام دی
چې د ورو وژنې
پر ضد سر را
پورته کوي.

زه زرینه، چې لمسی د «تایمربس» یم
چې لومړی ستره واکمنه زرینه وه

د لومړی زرینې بله لور زرینه
نن ولاړه د هیرمند په ننګ و نام ده

*****

بې له ککه دا جګړه ګټلی نه شو
د هیرمند پر اوبو بند ژغورلی نه شو
د پیلانو جنګ ته کک پهلوان بویه
چې هر ګورز یې زنځیري پیل راګوزار کړي

مخکې له دې چې له کک او زرینې سره زما لیده کاته او ملاقات وشي، ما یې د راتلو د هرکلي په پار یوه مقاله او یو شعر له یوې یادونې سره خپور کړی و چې پاس یې یادونه وشوه. دا چې زما کور ته «کک او زرینه» ښنګه را میلمانه شول، دا کیسه به پریږدم، یوازې دومره به و وایم چې یو دوست د «کک او زرینه» د مخ لیدل په ډیره مهربانۍ را باندې ولورول، ما هم په ډیر درناوي په کور کې مخامخ را ته کینول. پانه ، پانه مې ولوستل داسې په دقت سره، لکه

ځوک چې بیا امتحان را نه اخلي. کله مې چې لوستل پای ته ورسول، نو سمدلاسه مې لیوال ته داسې ولیکل:

«بیا سلامونه!

«کک او زرینه» مې چې نن کور ته را میلمانه شول، یوه شیبه مې هم یوازې پرینښودل، د دواړو ځیرې مې سر تر پایه داسې له نظره تیرې کړې چې په ټولو رازونو مې ځان خبر کړ. په یوه سا مې ولوست او جالبه لا دا چې خپل یاد داشتونه مې ځینې واخیستل.
تاسو نه ډیره مننه،
او ستاسو قلم او هنر ته سلام،
پښتو شعر، پښتو ادبیات او افغاني فرهنګ به پر تاسو ویاړي.»

هر دراک لوستونکی په هماغه لومړنیو پاڼو کې پوهیږي چې د شاعر پیام څه شی دی؟ څه غواړي و وایي؟ د کک او زرینې ښکلا، کارنامې له وطن او د وطن له وینې (د هیرمند اوبه) ښخه دفاع او ننګه، دا هم لوستونکو او خلکو ته له وطن سره د مینې درس، د یووالي درس ور زده کوي، او هم د دوښمن په پیژندلو کې مهارت ور زده کوي او دا کار لیوال په ډیره لوړه هنري ژبه او ښکلو انځورونو سره په داسې استادانه ډول تر سره کړی دی چې د نظر وړ پیام ډیر ښه، په اسانه او مینې سره لیږدول کیږي.

د «کک او زرینه» په منظومه کې دوه کرکترونه ډیر مهم دي:

ـ کک چې د ساکي ټبر جنګیالی او قهرمان دی،

ـ زرینه چې د ساکي ټبر ملکه او مدبره مشره ده.

دا مدبره ملکه، چې اوه ټبرونه یې د ژوند او وطن د بنیرازۍ د اصلي څیز یعنې د هیرمند اوبو نه د دفاع په خاطر سره یو کړي دي او په دې هڅه کې ده چې ښنګه جنګیالی قهرمان کک د خپلو خلکو، وطن او اوبو دفاع ته را وبولي.

د کک او زرینې د منظومې پیام د وطن د مینې لیږدول دي او په «کک او زرینه» کې ځو مهم شیان په نښه شوي دي:

ـ ریښتینی اتل هغه ځوک دی چې له وطن، خلکو او وطني ګټو نه دفاع وکړي،

ـ زموږ په ټولنه کې د ښځو دریځ، مشرولي او ځیرکتیا.

ـ په منظومه کې دا پیام لیږدول کیږي چې وروړ له وروړ سره جګړه نه کوي، هغه څه چې دا ځلویښت کاله د افغانانو پر اوږو بار دي.

یو واري شاعر خپله داسي ولیکل:

«ښنګه هغوی تر خپل منځه جګړې پرېښوې او د خپلو اقتصادي سرچینو د ساتنې لپاره سره یو شول،

ښنګه زموږ نیکونو د خپلو عزیزانو له وژنو ځخه کرکه درلودله،

ښنګه یې د مېرمنو عزت ساته او په مشرۍ یې منلې،

ښنګه یې تر دوه زره کاله پخوانی زمانه کې سیاسي شعور ویښ و،

او...»

له خپلمنځي جګړې نه د کرکې یوه بیلګه د «کک او زرینه» په شیرږم سرود کې داسې انځور کړای شوې ده:

چې سالار له خپل تبر سره جنګ نه کړي
کک د خپلو تربورانو قتل نه کړي
کک کڅوال بولي خپل هد او خپله وینه
خپلو ورونو سره جنګ لیونتوب بولي
خدای دې نه کړي توره سره په خپلو وینو

شاعر د وطن د مینې د لیږدولو پیام په داسې شرایطو کې کوي چې وروسته له څو سوو کلونو بیا د فارسیانو د حرص خولې زموږ د وطن په لوري، په تیره د هیرمند د اوبو په لوري را خلاصې شوې دي او دا ځل په معاصره او لا ډیره بې شرمه بڼه؛ او شاعر د پخوانۍ کیسې په انځورولو سره په اوسنیو شرایطو او ستونزو کې له وطن نه، له اوبو نه او له هیرمند نه د دفاع مقدس پیام په هنري ژبه لیږدوي.

په داسې شرایطو کې د یوه ترخه واقعیت بیانول، هغه هم په ښکلې هنري ژبه او د یوه هنري اثر په چوکاټ کې د لوستونکو په مخ کې ایښودل، دا د لیوال شهکار دی.

په «کک او زرینه» کې تاسو لوستلای شئ چې په پخوا زمانو کې زموږ په ټولنه کې میرمنو څنګه مشري کوله، څنګه یې درناوی کیده. هلته په عملي ډول ښودل شوي دي چې له موږ نه زموږ نیکونه له هره اړخه ښه وو، د هر څه پر اهمیت پوهیدل، د خپلو ښتو ساتنه یې کوله او د میرمنو درناوی یې کاوه. د شاعر د اوږده تفکر او مطالعې پایله دا ده چې وایي:

«د ساکي پرتم په څپو کې ورځ په ورځ ډوبیږم او په حیرانتیا، حسرت او افسوس ګورم، چې زموږ نیکونه ترموږ هوښیار وو، هغوی ترموږ ډېر زموږ د روانو اوبو پر اهمیت او ارزښت پوهېدل. د ساکانو اووه ـ سره دوښمني خېلخاني ـ د هیرمند د اوبو ساتنې په پار، سره یوځای شوې او په خپلو کې یې مرګ ژوبله پرېښوده.

خو، ولې موږ، اوس، د خِرد په دې زمانه کې دومره هوښیار او مېړني نه یو؟»

په «کک او زرینه» کې کله چې د ساکانو ملکه «زرینه» راوزي او د اوو ټبرونو مشرانو ته خبرې کوي، هلته لیدل کیږي چې زموږ د تولنې ښځینه څومره پوهه، هوښیارتیا او پرتم لري او لیوال دا جریان د څه ډول شاعرانه تورو او انځورونو په قالب کې انځور کړی دی، د منظومې په دریم سرود کې یې دا یوه بیلګه ده:

د ساکي ټبر مشرانو سترې مه شئ
خدای مو راولـه د ستر هیرمند درګاه تـه
لـوی زرنګ مو هرکلي ته سترګې اېښي
زمانې مو د جنګونو تر شا پرېښي
نـن راټول پر یو تېغر پر یوه غولي
د ساکي خېلخانو جوړه ده تولنه
تر دعا وروسته مو نن سره جرګه ده
پر اوبو د ستر هیرمند مو مرکه ده
د ساکانو لوی هېواد به نن بنیاد شي
د اووه ګونو خېلخانو به پرې زړه ښاد شي
له هامونه تر کاسغر او امو رودو
له باختره تر باګرام او تر کابله

سـر لــه نـنــه بــه دا ټــول د ساک هېواد وي
لـــه پــامـــيــره رانـيـــولـــي تـــر زابــلــه
سـر لـه ننـه زمـــوږ وطـن لـوی ساکستان دی
د اريـــن د لـــوی کـــالـــه پـر زړه ودان دی
د سـاکـــي تــبـر اووه لـــويــې پـښـــې دي
د ساکـي ټـولـنـې خـويـنـدې خـپـلـخانـې دي
که زرنگ دی او که بُست زموږ دوه سترگې
زمـوږ له سوبـو په پارتيانـو زلـزلې دي
تاسـو ټـول ځلـوېښت مشـران زمـوږ ښـاغـلـي
د ســـاکـــانـــو د ټـــبــــر د ســـر وگـــړي
په دربار کې زما درې ورځې مېلـمه ياست
سـره وتـړئ د کـــلـک پـيـوستـون پـړي
ســاکـسـتان دې وي ســـر لـــوړی تـر ابـده!
په هـيرمند ځروب او مست دې په هوما وي
لــه هــر نـن نــه مـو دې ښـه هـــــره سبا وي!

او په خوب کې يې د اوو ټبرونو مشران داسې وايي:

لښـکـر چيغې کړې، مشـرانـو غـږ کړ پورته:
تـــخـت و بـــخـت دې بـــرقــــرار اوســـه اغلي
زمـــوږ سـتـرې مـــلـــکې، زريـــنـــې ښـکـلـې!
مـوږ راټـول ستا په درشل، ستا پـه بورجل يو
ساتـنـدوی د ساکستان پــه گـډ مـورچـــل يـــو
ساکستان زمـــوږ هـيـواد دی مـوږ پـرې وياړو
د هـيـرمند د هـر يـو ځـاځـکي حساب غـــواړو

شاعر چې په «کک او زرینه» کې، له پیل نه تر پایه پورې، د دې اوږده داستان په ترڅ کې، د دومره اساطیرو نومونه، د ماتو او بریاوو داستانونه، د دوښمن په مقابل کې د یوالي او اتحاد یادونه، د ځایونو نومونه، د پردیو اساطیرو او ملکونو او... یادونه کوي؛ دا نه د کوم خوب لیدلو له لارې او نه هم د کومې استخارې له لارې دا کار شوی دي، بلکې ټول د شاعر له زحمت، مطالعې، پوښتنو، سفرونو او په خپلو سترګو د ځایونو د لیدلو او شاعرانه وطني مسؤلیت درلودلو نه وروسته تر سره شوي دي. په خپله لیکوال یو وار داسې ولیکل:

«د «کک او زرینه» منظومې د لیکلو لپاره مې له کلونو راهیسې د کتابتوني اسنادو او تاریخي سرچینو راټولولو ترڅنګ، د زاړه ساکستان (سیستان) بېلابېلو ښارونو ته سفرونه وکړل. د هیرمند له څپو سره مې مزلونه ووهل، د فراه، نیمروز، هیلمند، کندهار، هرات او زابل زاړه ساکې میراثونه مې له نږدې وکتل. په فراه کې د کک کلا ته ورغلم او د خپلې اساطیري حماسې له اتلانو سره مې ګام پرګام یون وکړ.»

لیوال په «کک او زرینه» کې څو ډوله انځورونه وړاندې کوي:

ــ د کرکټرونو د ښیرې او کارنامو، ماتو او برياوو انځورونه،

ــ د طبیعت د ښکلا ترسیمول،

ــ د وطن مینه او له وطن څخه د ځان قربانولو ښوودنه.

د «کک او زرينه» په څلورم سرود کې، زرينه د کک مور ته داسې ور پېژندل کېږي:

زه زرينه، چې لمسۍ د «تايمرېس» يم
چې لومړۍ ستره واکمنه زرينه وه
د کوروش د جنګ سوبمنه، ها وياړلې
چې لښکر يې د پارسيانو تار په تار کړ
د خپل زوی کسات يې واخيست له کوروشه
چې د شاه پرې کړی سر يې ورنه راوړ
او په وينو د پارسيانو يې خړوب کړ
زما بدن کې هم تاويږي او چليږي
د هغې انا د وينو غورځنګونه
د لومړۍ زريني بلله لوور زرينه
نن ولاړه د هيرمند په ننګ و نام ده
هيرمند زوی د ساکستان زموږه وروو دی
هر يو ځاڅکی د اوبو يې پر موږ پور دی

د کرکټرونو د انځورولو بيلګې ډېرې دي، د منظومې په دولسم سرود کې د زرينې د ښکلا او اندام انځورول د ليوال د هنر کمال دی، وګورئ:

سترګې پرانيستلې کک، شاته يې خېز کړ
د ښکلا بله لنبه يې مخ ته راغله
خدای په څه هنر وه ښکلې جوړه کړې
د خدايي هنر جلوه يې مخ ته راغله
تورې زلفې يې ول، ول پر سپينو ولېو
هر اندام يې لکه موج د پسرليو
کک تَرور شو، کک نه وار وپار خطا شو
يو ناڅاپه د ښايست په تماشا شو

خـُم نــه ووتـلــه، تـاو لــکــه لــنـبـه شـوه
مـلـکـه زريـــنـه بـلــه شـوه، ډيـــوه شـوه
يــو زريــن نــازکــه تـاج يـې پـر سر ايښـی
مـخـامـخ پـرې سـور يـاقـوت لـکـه سکـروټه
ښـکـلـې سـترگـې يــې چـيـنـې وې د رازونـو
هســکــه غـاړه لـکـه تـکــه سـپـيـنــه بـتـه
پــه اوبـــرنـگــه اسمـــانـــي جــامـو پوښلې
لـکـه لــويـږي شـرشـره پـــر سپـينه بکـره
تـر نـازک کـمـيس يـې هــر اندام ښکاريـږي
د هــوس زلــزلـې راشــي چـــې خـوځـيـږي
دا نــازک بـــدن هــــوا بـانـــدې خوريـــږي
مـوج پـه مـوج د مـينـې تـريـو تـه لـړزيـږي
سپين بـدن، تـر نـيلي رنـگـې جـامې هـاخوا
چې ښـوريـږي، نـو خـوړل کـوي د زړونـو
چې قـــدم واخــلـي او ښــکــلــې ادا وکـړي
هـــره خـوا خپـې خـــورې شــي د عـطـرونو
غواړي کک، چې دې ښکلا ته په گونډو شي
مست هيرمند شي، ورته راشي، په ښپو شي

د «کک او زرينه» په يولسم سرود کې د طبيعت انځور داسې وړاندې شوی:

مـــازيـــگــر د پـسـرلـي دی څــه خـامـوشـه
لـــويـــه دښـتـه د فـــراه ده سـبــزه پــوشــه
هلته دلــتــه کـوشـنـی بـوربـوکی تــاو شـي
سـارانـي گـلـونـه ونـــځـــوي ځـــان تـــه
لـکـــه شـوخـه ډمــه هسکــه شـي اسمـان ته
ځای ځای غره کې ژيړ گلونه زرغونه دي

د کک دنــګــه ډبــريــنــه کـــلا لـــوړه
په بــرجونو يې ولاړ زلــمي سپاهــيان دي

د طبیعت د انځورولو په برخه کې کله، کله لیوال طبیعت په خبرو راولي او غږوي يې، د هیرمند شرهارى خبرې ګڼي او د هیرمند څپې غږوي، په خپله هیرمند غږوي. په شلم سرود کې يې دغه بیلګه راغلې ده:

زرينې سـترګې کـړي پـټې غـوږ يې ونيو
چېرته لرې يې تر غوږ د سيند څپې شوې
د هيـرمـنـد د شـرهـار اواز يـې واورېـد
د لـومـړي ګـوزار لپاره هيرمند خوښ دى
لـکـه سيـنـد چې مـنـدوى وي لـه ساکـانـو

او بیا هم لیوال د خپل کمال په ادامه کې د هیرمند د سیند په اړوند داسې یو نه حس کیدونکی انځور وړاندې کوي چې اوبه یا هیرمند یا د هیرمند څپې تږې دي، د دوو میناوو د مینې او قدمونو ښکالو ته تږى دى، د هغوى راتګ ته انتظار دى. د منظومې په درويشتم سرود کې راغلي دي:

سـمـنـد ځـي پـــه مـنـډه، مـنـډه تــر هـيـرمـنــده
چــې د عـشق نــوى داســتان ورتــه بـيان کـړي
راز ونــيـاز بـــانــدې مـــاره دوه مـــيـنــان کــړي
عـشق د لـــويـــو حـمــاســو دى د منـځ تکي
عـشق د هـــــري اتـــلـــــوالــې د زړه زړى
د عـشق شـور دى چې ودان لـوى ساکـستان دى
عـشق لـــــه بُستهٔ تـــــر زرنـــګـــه لا روان دى
د عـشق زور دى چې هـيـرمـنـد دى د سـاکــانـو
هيرمند مست دى، هيرمند غاړې غاړې غورځي

هیرمند خپلو مېلمنو ته لارې څاري
هیرمند تږی دی، چې راشي دوه مینه
د څپو تندی یې کبږدي پر لمنه

د وطن د مینې په برخه کې لیوال د منظومې په یوه ځای کې داسي دیالوگ برابر کړی دی چې د وطن مینه نور ټول عشقونه او کارونه ننگوي او هر څه د وطن تر مینې ځارېږي. کله چې زرینه کک ته د پارتیانو د حملې په باب وایي او بلنه ورکوي چې باید دی د یوه جنگیالي اتل په توگه د وطن، خلکو او هیرمند د دفاع په سنگر کې له دوی سره ودرېږي، نو کک له ځان سره داسي سوچ کوي:

کک د نویو احساساتو په تال زانگي
د ملکې زرینې ښکلا لوټلی
یو ځل بیا یې زړه نری نری تخنیږي
دا زړگی څه بوالهوسه ملامت دی
کله دلته کله هلته مینیږي
د گلبویې د بېلتون غم لا تازه دی
چې د بلې په پیکي پورې زنگیږي
خو دا ځل خبرې نورې کیسي نورې
تش مین د زرینې په ښکلا نه دی
دغې پېغلې یې په روح کې وینه کړې
د هېواد او د تبر نوې جذبه ده
دا ځل مینه د هیرمند او ساکستان ده
دا ځل عشق د یوې بلې خوږې مور دی
د غیرت دی هم د ننگ او د پېغور دی
دا ځل نورې مینې ډېرې زوروري
د دوښمنو له تور نیته اندېښنه ده

د ګلبويي او زرينې توپير ډېر دی
شهزادګۍ وه بوالهوسه، دروغجنه
پوهه لږه، کبرجنه، په زړه سخته
خو ملکه زرينه په سياست پوهه
د تبر پر درد دردمنه، لږ مغروره
د هيرمند په اوبو وتې ملا ترلې
د ساکانو د يووالي ارمانجنه!

ليوال د کيسې د مفاهيمو ترسيمولو ته د لغاتو له ستري ذخيرې څخه ځه ډول وللي توري انتخاب کړي او داسې يې ښه سره پيېلي دي چې سړی فکر کوي چې پر هر بيت يې ـ لکه د سرو زرو وستا کار ـ ځومره وخت لګولی دی او څه ډول يې مرصع کړی دی. زه خو د ليوال دې مهارت ته ګوته په غاښ شوم.

کک او زرينه د هيواد پالنې سرتيري او قهرمانان دي، د کک او زرينې پيام د هيواد پالنې پيام دی، د وطن او وطني ګټو د دفاع پيام دی او د مينې هغه پيام دی چې د ورو وژنې پر ضد سر را پورته کوي او دا کار د ليوال د شعري هستونې په هغه هنر کې تر سره شوی چې هر لوستونکی له ورايه ځان ته ورکاږي.

ليوال په «کک او زرينه» کې له دې ټولو کمالونو سره، يو ځل بيا له هره اړخه ځان وځلاوه. «کک او زرينه» هم وطني مينه ده، هم اقتصاد دی، هم تاريخ دی، هم سياست دی او هم هنر دی؛ نو ځکه زه ليوال ته وايم:

ليوال صاحب مبارک دې شه!

ــ د دې سترې ارزښتمنې کیسې بیا را ژوندي کول، هغه هم په داسې حساسو شرایطو کې چې د پارتیانو او پارسیانو بچیان زموږ مادي او معنوي هستیو ته لکه ښامار هسې خولې را اچوي،

ــ له خلکو او وطن سره مینه، له خپلو اوبو سره مینه او له خپلو وینو سره مینه. د دې مینې بیا را ژوندي کول او د نوي نسل په ذهنونو ته یې لیږدول،

او...

هغه هم په داسې هنر مندانه او شاعرانه ژبه او هنري انځورونو کې. دا کیسه مو د انځورونو په تال کې او د تشبیهاتو، استعارو، کنایو، تخیل او تخییل په څپو کې داسې انځور کړې چې ما یې تر اوسه ساری نه و لیدلی.
کله مې چې لوستل پای ته ورسول، نو سمدلاسه مې په کاغذ کې داسې ولیکل:

لیوال صاحب درناوی!

«کک او زرینه» مې په یوه سا داسې ولوست چې له کوره هم و نه وتم.

د «کک او زرینه» د مینې په داستان کې د وطن د مینې داستان، د وطن له انسان، اوبو او وینو سره د مینې د ځرنګوالي د داستان انځورول، هغه هم د داسې استعارو، کنایو، تشبیهاتو، تخیل او تخییل په زانګو کې؛ دا ستاسو د شعر هنر کمال ګڼم.

دا هم د «کک او زرینه» د بریا په پار د لیوال د هنر د کمال یوه بله بیلګه:

مازيګر دى، لمر ساه ډوبى په افق کې
د لويديز اسمان لمنه تکه سره ده
د لمر سره سترګه لا ځير دښتي ته ګوري
ځاى ځاى وريځې هم له رنګه تکې سرې دي
هلته لرې دى روان جنوبختيځ ته
يو سمند په تنده منډه، مست سرکشه
پرې د غره غوندې يو هسک قامت ښکاريږي
شاته پېغلي ورنه غبره تاوه کړي
اوږدې زلفې يې د باد څپو ته ناخې
تر جانانه د پېروتي په شان تاو ده
دوه بدنه پر يو بل خواره تاوده دي
غبره ډکه د زرينې له جانان ده
دا شيبه ورته ژوند ښکلى پر جهان دى
پهلوان نه مرمرينې متې تاوي
بنديوان د چا د غبرې د زندان دى
نن شپه تولنه د جانان تر څنګ سفر دى
د ښايست او مينې تاج يې نن پر سر دى
کک که تږى شو د يار سترګې به نوش کړي
د جانان شونډې به وخښي تر مستيه
د ملکې عشق يې نن زړه کې خروش کړي
نن شپه چېرته لاله زار کې د دوى شپه ده
تر هيرمنده لويه لار کې د دوى شپه ده
د هيرمند تر څنډو ډېر مزل لا پاتې
دغه شپه د ژوند تر تولو خوږه شپه ده
پر دوښمنو برى يو خوا جانان بلخوا
پر دوه زړونو د مراد ورمه خوره ده
هيرمند غوارې ميان تر خپلې غاړې

چې یــو بل سره د مـیـنـې په خـونـد پــوه شي
د ځــپـــو د مـسـتـانـــه شــوخيو خــوا تــه
پـــه خـــوږو د یـــوه نــوي پـیـوند پوه شي
سـمـنـد ځي پــه مـنـډه منډه تــر هـیـرمـنـده
چې د عشق نوی داستان ورته بـیـان کـړي

# د عبدالغفور لېوال دویمه هوسۍ

## د پښتو شعر پر دېواله باندې یوه نوې زرینه خښته

څه موده مخکې زما ګران دوست څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال د خپلو دایمي مهربانیو له مخې، د خپلې وروستۍ منظومې (دویمه هوسۍ) لوستل راباندې ولورول. ما هم په ډېره مینه او دقت سره یووار نه، بلکې دوه ځلې ولوستله او د خپلو تجاربو په رڼا کې مې وسپړله. دا دی د خپلې سپړنې رپوټ له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم.

### تر هرڅه مخکې د لیوال د منظومو یو لنډ جاج:

ما پخوا هم د لېوال او د ده د منظمو په باب مقالې لیکلې او خپرې کړې دي. د خپلو تېرو څېړنو په ترڅ کې چې د لېوال د منظومو په باب څه راته معلوم شوي دي، د هغو لنډ معلومات به دلته راواخلم:

د لېوال د «سلطان» منظومې د راتګ په پار (د «سلطان» د پېښې غږ) ترسرلیک لاندې مې یوه مقاله لیکلې وه. د هغې مقالې په پیل کې ما د لېوال د منظومو په باب داسې لیکلي وو:

«له «سلطان» نه مخکې لیوال له ټولو شخصي، رسمي او سیاسي بوختـتیاوو سره ـ سره؛ د ګڼو شعرونو په څنګ کې، نورې منظومې هم پنځولې دي چې نومونه یې دا دي:

۱ ـ لومړۍ منظومه «هوسۍ» (لومړۍ هوسۍ) وه، چې غالباً په ۱۳۷۷ کې بشپړه او په ۱۳۷۸ کې لومړی ځل چاپ شوه،

۲ ـ دویمه منظومه «ارشاک او اوشاس»، چې په ۱۳۷۹ کې بشپړه او په ۱۳۸۰ کې چاپ شوه،

۳ ـ دریمه منظومه «لام او ایلینو»، چې په ۱۳۸۷ کې چاپ شوې ده،

۴ ـ څلورمه «ککې او زرینه» ده، چې په ۱۳۹۶ کال کې خپره شوه،

۵ ـ ځنګل (لنډکۍ منظومه) ۱۳۷۵ کې لیکل شوې او «ته زما ټوله شاعري یې» شعري ټولګه کې چاپ شوې ده،

۶ ـ سفر (لنډکۍ منظومه)، عرفاني منظومه ده، په کال ۱۳۸۴ کې لیکل شوې ده او «ته زما ټوله شاعري یې» شعري ټولګه کې چاپ شوې ده،

هیله ده چې «سلطان» هم ډېر ژر بشپړه او چاپ کړای شي.»

وروسته يې بيا په ۱۳۹۷ - لمريز، ۲۰۱۸ ميلادي کال کې خپلې پنځه منظومې په يوه ټولګه کې د «پينځه منظومې» تر سرليک لاندې چاپ او خپرې کړې چې دا لاندې منظومې په کې راوړل شوې دي:

هوسۍ، ارشاک او اوشاس، لام او ايلينو، کک او زرينه، سلطان.

په لنډه يې که ووايم نو داسې به وي:

ــ لومړۍ هوسۍ د جګړو کيسې کوي، تخليقګر يې وايي چې: لومړۍ هوسۍ د افغانستان د جګړو يو سېمبوليک روايت دی، چې درې بنستې پوښتنې زموږ مخې ته ږدي:

ــ زموږ جګړې ځنګه، له چا سره او د څه لپاره دي؟

ــ ايا موږ د خپلواکۍ مفهوم پېژندلی دی؟

ــ له دې جګړو څخه د راوتلو لارېچارې څه دي؟

(لېوال عبدالغفور، پنځه منظومې، د خپرېدوځای: کابل- بهير مطبعه، د خپرېدوکال: -۱۳۹۷ لمريز، ۲۰۱۸ ميلادي، د مقدمې ۹ ــ ۱۰ مخونه)

ــ د ارشاک او اوشاس په باب لېوال ويلي دي چې: « ارشاک او اوشاس د کوشاني دوران د عظمت نښنه ده، چې د باګرامي ښکلا (اوشاس) او د پکتاني سرتيري (ارشاک) د مينې شور، د نيلاب له څپو سره يوځای، اباسين ته سپاري. په دې منظومه کې عشق، حماسه، هېوادپالنه او تاريخ يوداسې د بودۍ رنګين تال جوړوي، چې زموږ لرغونی عظمت زموږ په زړونو کې وزنګولای شي.

(لېوال عبدالغفور، پنځه منظومې، د خپرېدوځای: کابل- بهير مطبعه، د خپرېدوکال: -۱۳۹۷ لمريز، ۲۰۱۸ ميلادي، د مقدمې ۱۰ مخ)

ـ لام او ايلينو د پخواني نورستان (بلورستان) د مدنيت، اساطيرو او لرغوني تاريخ و هنر تلپاتي يادگار دی. په لام او ايلينو کې د لېوال کمال تر دې حده پورې دی چې د بلورستان تيـرو ته سا ورکوي او په خبرو يې راولي.

ـ په کک او زرينه کې د زاړه سيستان او د ساکانو د تولواکمنۍ عظمت گورو، هلته لېدل کېـږي چې ځنگه يوه مېرمن خپل خلک د خپلې شتمنۍ (د هلمند د سين اوبه) په خپل تدبير سره له حريص دوښمن څخه ساتي او دا لوی درس په يادگار پرېږدي چې ځنگه زموږ نيکونو د خپلو ملي ارزښتونو او شتمنيو ساتنه کوله.

ـ د ليوال د سلطان منظومې کيسه بيا د عرفاني اسطورې بڼه لري.

تر دويمې هوسۍ لنډه موده مخکې لېوال د «پاچا» منظومه خپره کړه.

د لېوال د «پاچا» منظومې لهپاره هم ما يوه مقاله (د غفور لېوال د نورو منظومو په سيوري کې د «پاچا» مطالعه) خپره کړه، د هغې مقالې په يوه برخه کې ما ليکلي وو چې:

«لېوال هغه نوښتونه چې په خپلو تېرو تخليقاتو کې کړي وو، د پاچا په منظومه کې يې په ساده کليوالي ډول پسې تعقيب کړي دي، د همدې په وجه کولای شم ووايم چې عبدالغفور ليوال په اوسني پښتو ادب کې د مبتکرو شاعرانو په ډله کې د نوښت بنـه استازولي په بريالي ډول کړې ده.»

د لېوال د پاچا منظومې په پار مې چې کومه مقاله لیکلې وه، د هغې مقالې په لړ کې مې یوه دوعا هم کړې وه، متن یې دا دی:

«نور دې خدای د سیاست او اداري له دایرې نه لرې وساته، څو د دغسې اثارو د تخلیق او پنځونې لپاره وخت ولرې.»

زما دوعا خدای قبوله کړه. کله چې پر افغانستان باندې تر سرو، شنو بادونو وروسته؛ سپین بادونه راوالوتل، لېوال صاحب له ټولو رسمي ـ سیاسي اداري جنجالونو راخلاص شو. اوس یې د ورځني ژوند ډېره برخه فرهنګي او علمي مسایلو ته بېله کړې ده او زما د کړې دوعا له مخې یې د خپلو تخلیقاتو لمن غوړولې او د ګڼو شعرونو او مقالو ترڅنګه یې د مهاجرت په چاپېریال کې لومړی «پاچا» (د ۲۰۲۳ ام کال جنوري) او بیا «دویمه هوسۍ» (د ۲۰۲۴ ام کال فبروري) تخلیق او خپلو مخاطبینو او پښتو ادب باندې ولورولې.

لېوال د هنر په ژبه تاریخي ناسپړلو غوټو د سپړلو لهپاره، زاړه یادګارونه مطالعه کوي، جوړو او ړنګو کلاګانو ته ورځي او ګوري یې، په تېرو هېرو قبرونو پسې دښتې، تپې، غرونه او هدیرې لټوي، په ساعتونو ساعتونو کیني او په کتابتونو کې تاریخی اسناد لټوي، سره پرتله کوي یې؛ څو داسې نښې او حقایق ترلاسه کړي چې د هغو په رڼا کې، د تاریخي ناسپړلو غوټو په سپړلو کې مرسته ورسره وکړي؛ هوايي خبرې نه، بلکې له حقیقت سره اړخ ولګوي، موضوع ښه مستنده کړي، بیا یې د خپل هنر په خُم کې ورنګوي او بیا یې خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړي.

ښه بېلګه يې همدا دويمه هوسۍ ده. عبدالغفور لېوال د دويمې هوسۍ د ليکلو له پاره د کابل په شيردروازه کې، ښامار ته ورته پروت دېوال د ليدلو لهپاره پر همدغه غره ورختلی او د غره پر سر تر هغومره وړاندې تللی دی چې څومره دا دېوال غځېدلی دی. د دېوال په اوږدو کې يې ټول برجونه او هلته شته قبرونه ليدلي او د هغو په باب يې پوښتنې او پلټنې کړې دي.

په دې ډول لېوال د هرې منظومې ترليکلو مخکې تر خپلې وسې او د امکاناتو په چوکاټ کې ځان پوه کوي، بيا کېښي خپل قلم ته د هنر رنګ وراچوي او په خپل فکر کې د موضوع په باب راټول معلومات د هنر په ژبه انځوروي. دويمه هوسۍ يې ښه مثال دی.

د لومړۍ هوسۍ په تخليق سره لېوال د خپلو منظومو د تخليق لړۍ پيل کړه. لېوال په تانده ځوانۍ کې دا جُرأت درلود چې لومړۍ هوسۍ يې حتی علامه رشاد ته هم ورښودلې او ورته اورولې وه. په هماغه وخت کې رشاد صاحب داسې دوعا ورته کړې وه:

«ما دهوسۍ ډرامه په ډېر غور ولوستله او په ډېر شوق مې واورويدله.

زه ځوان شاعر(عبدالغفور لېوال) ته د دې ابتکاري تخليق مبارکي وايم، د ده استعداد زما په زړه کې دا هيله پيدا کړې ده چې دی به د پښتو ادب لپاره د تخليق په برخه کې ډېر بريالی وی.

زه د ده د برې دعا کوم

اکاډیمسین پوهاند رشاد»

(لېوال عبدالغفور، پنځه منظومې، د خپرېدوځای: کابل- بهیر مطبعه، د خپرېدوکال: ۱۳۹۷- لمریز، ۲۰۱۸ میلادي، دهوسۍ د ډرامې په باب [د رشاد صاحب مقدمه] ۲۱ مخ)

او دا دی د علامه بابا دوعا قبوله شوه، لېوال په دې ازموینه کې داسې بریالی شو چې اوس د منظومو په ډګر کې یکه‌تازه او بې جوړې دی. زه یې په پښتو ادب کې د منظومه لیکنې قهرمان ګڼم.

په دویمه هوسۍ کې لېوال هماغه تجربه د «پاچا» تر منظومې نوره هم قوي او ښه تکرار کړې ده.
لېوال خپله «پاچا» منظومه د ۲۰۲۳ ام کال د جنورۍ په ۲۳مه خپره کړه او اوس دا دې دویمه هوسۍ یې د یوه لوړ پیام په ملتیا، له خپلو ځانګړو انځورونو او ښکلاوو سره بشپړه شوې ده او درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

د ۲۰۲۳ کال د دسمبر ۳۰مه وه چې لېوال د دویمې هوسۍ د زېږېدو او راتګ زیرې وکړ، زېرې یې د خپل مخکتاب پر مخ خپور کړ او په هماغه سبا (۲۰۲۴/۱۲/۳۱) په افغان جرمن پورټال کې هم دا مطلب راښکاره شو:»

پینځه‌ویشت کاله روسته

هوسۍ -۲ -

زه پینځه ویشت کلن وم، چې د وطن بدو حالاتو د «هوسۍ» منظومې الهام رابانديې ولوراوه.

زما اروابناد استاد اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد، چې هوسۍ ولوستله، ورویې غوښتلم، په سترګو کې یې یو ځاځکی

لا ډنډ ولاړ و، درانه غړ یې له غریو سره نور ابهت هم موندلی و. راته یې وویل:

د هوسۍ په اړه مې خپل تأثر کښلی دی، که چاپوله دې، بیا یې ورسره خپور کړه. او له دې سره یې په خپل ښکلي خط لیکلې سریزه «د هوسۍ د ډرامې په باب» راوسپارله.

تر دې ورهاخوا د استاد یوې بلې خبرې پرهغه مهال حیران کړم، استاد وویل:

«هوسۍ په داسې ځای پای ته رسېدلې، چې له دې ځایه بېرته هم پیلېدلای سي. خدای ج دې پر وطن ورحمیږي...»

د اروابښاد استاد له کراماتو ډکې وړاندوینې ته هغه مهال ځیر شوم، چې د هوسۍ د دویمې برخې د لیکلو تلوسه راپیښه شوه.

دا دی پوره پینځه ویشت کاله روسته، داسې مهال، چې زه د خپل ژوند پر پنځوسم درشل ګام ږدم، د هوسۍ دویمه برخه‌کښل پیلوم، بلکې دوه فصله مې کښلې ده.

زه هوسۍ نه لیکم. هوسۍ بیا، د هماغه لومړي ځل په څېر، ځان پخپله راباندې لیکي. د هېڅ پیښې په اړه مې وړاندې فکر کړی نه دی، هوسۍ لکه الهام راباندې اوري.

هره پیښه، هره صحنه، هر داستاني شخصیت یې په مخه راځي او ځان راپېژني.

دا څو شپې مې خوب ګډوډ دی، د هوسۍ بېلابېلې صحنې په خوب وینم. ناارام یم، ستومانه یم، خپه او غمجن یم.

هوسۍ د وطن د غمیزې داستان دی، کاشکې مو د وطن د خوښیو کیسې لیکلای. کاشکې مو د مینې او عشق داستانونه کښلی...

هوسۍ زخمي ده، د خپلواکۍ هوسۍ لاهم په سپېڅلې زمکه او پاکو اوبو د غنمو کرل غواړي، چې وطن له ربړو خلاص شي...

خدای دې نه کوي، چې - که ژوندی وپاېیدم - په پینځهاویا کلنۍ کې د هوسۍ درېیمې برخې لیکلو ته اړ شم.

کاشکې هوسۍ خپل ارمان ته ورسیږي او زه خپله بله منظومه په یوه عاشقانه و عارفانه کیسه راوښرخولای شم.

دعا کوئ،

هوسۍ به ژر ستاسو د سترګو ترمخ راڅرګنده شي.

**ان شاءالله»**

ما (آصف بهاند) په کامنټ کې داسې ورته ولیکل:

«مبارک دې وي، 🥰

زما دې بیا تلوسه کړه چې دویمې هوسۍ ښکلاوې او انځورونه ته لارې وڅارم.

«په کاته ـ کاته مې سترګې په واته شي
چې خبر دې د راتله راباندې وشي»

## د منظومې قهرمانان او کرکټرونه:

د دويمې هوسۍ د سپړنې په پيل کې غواړم لومړی د منظومې قهرمانان او کرکټرونه معرفي کړم، خو مخکې له دې د يادونې وړ بولم چې د ۲۰۱۹ کال د جولای په ديارلسمه نېټه په تاند وېبپاڼه کې د ښاغلي پوهنيار محب‌الله ترابي په قلم د «هوسۍ، د افغان انسان هيله» تر سرليک لاندې، د لېوال او د هوسۍ (لومړۍ هوسۍ) په باب يوه مقاله خپره شوې چې د يادې مقالې په متن کې د علامه رشاد په حواله، د لومړۍ هوسۍ پر سيمبولونو رڼا اچول شوې ده.

### ـ کليوال شپون او مينه يې د توروسترګو ښکلې نجلۍ:

«او دلته دوه ميينان،

يو يې شپونکی، چې په شپېلېو باندې کوډې کوي

بله ملنګه نجلۍ

هغه چې تورې تورې سترګې لري

غاړه په غاړه ځو يو لرې ځای ته

پاکو اوبو سپېڅلې خاورې پسې

غواړو غنم و کرو

او کليوالو ته مو ژوند وبښو

ما او د تورو تورو سترګو ښکلې...»

شپونکی په خپلي جادوگری شپلۍ سره باید خلک د جهالت له درانه خوبه راویښ کړي، غنم وکري او د خپل کلي (وطن) سمسورتیا، ابادي، ازادي او خوشحالي ورپه زړه کړي. له هوسی نه درې پور اخیستي غنم چې د تورسترګې د غاړې په زرین تاویز کې یې ایښي دي، دا به د احمدشاهبابا پر سر باندې د غنمو د هغو ټومبلو د وږو داني وي چې د شیرسرخ په جرګه کې د ده پر دستار باندې ټومبل شوي وو. او اوس دوی غواړي چې چېرته سپېڅلې خاوره او له وینو څخه پاکې اوبه وموومي څو دا غنم بیا وکري:

«غواړو غنم وکرو

او کلیوالو ته مو ژوند وبښو

زخمي هوسی او کلیوال

وږي نهار راته په تمه ناست دي» ۳ ام مخ

«خدایزده چې چېرته به سپېڅلې خاوره

پاکې اوبه وموموو؟

چې هلته وکرو غنم د هوسی

ها چې زموږ د خپلواکۍ نښه ده.» ۶ ام مخ

ـ پرتمینه او اسه:

پرتمینه او اسه لرغوني قهرمانان دی چې په دې منظومه کې د وطن د دفاع په خاطر، د یرغلګر لښکر په مقابل کې جنګیږي. څنګه چې په دواړو هوسیو کې د کرکټرونو تداخل

شته، ځکه هماغه تورسترګي دلته د پرتمیني په نامه راڅرګنده شوې ده. همدا تورسترګي ده چې په بېلابېلو کرکټرونو کې راڅرګندېږي لکه: ملالۍ، ناهید، نازو، فرخنده او...

«زه «پرتمینه» یم او زما جانان «اسه» نومیږي

مور دوه مین یو او د غره په دیواله کې خښ وو

«د غبرګو تورو د پاچا» له زماني ښخه تر نن

او تر همدې تېرې شپېې پورې په خوب ویده وو

چې ستا شپېلۍ راویښ کړو»

کومه کیسه چې پرتمینه کوي، د پېښې سیمه یې د کابل شیردروازه ده او له دیوال نه موخه د زنبورکشاه او زنبیلکشاه دیوال دی چې د یوه تېري کونکي لښکر د مخنیوي لهپاره جوړیږي:

«زما اسه،

زما دغه خوږ جانان هم راغی د دیوال بیګار ته

چې لمرلوېدو نه د بیدیا د لښکر

د ځرمښکیو او کربوړو له صحرا نه راروان یرغلګر

زموږ تر کلي پورې

په اسانۍ رانهشي

او د دې دنګ غره د لمنې خلک

د غبرګو تورو د پاچا له خونړی لښکره

ځان او وطن وساتي...»

**ـ د غبرګو تورو شاه، د یرغلګر لښکر مشر:**

په پخوانیو زمانو کې د یرغلګرو لښکرو مشر:

«... او د دې دنګ غره د لمنې خلک

د غبرګو تورو د پاچا له خونړی لښکره

ځان او وطن وساتي»

«د غبرګو تورو شاه لګیا و، زموږ له خلکو یې سرونه رېبل»

**ـ ملنګ بابا:**

د افغانستان د خلکو جمعي خرد دی.

«چې یو ناڅاپه د ملنګ بابا ښکالو راغله

هغه ملنګ چې د دوه سترګو په ځلا کې یې دونیا ښکارېدې

هغه چې زړه کې یې د دې کلي کیسې ژوندۍ دي...»

**ـ د غبرګ توري شاه پیرو او د ژېړو پاڼو د لوګیو کوډګر:**

د غبرګتوري شاه لارویان او لښکریان د ټولنې ارتجاعي قشرونه یا د شنو، سپینو او تورو جنډو رېونکي خلک.

«دا کوډګر هم ها د خپلو تېرو ـ تېرو پلار نیکونو

پـه شان کوډې کړې د ژېړو ـ ژېړو پاڼو

دوی د ژېـړو کاغذونو

پـه لوګـي خلـک ویده کړي

او بیا خلک پـه لوګیو شي طلسم

بس ړانده شي، یا کاڼه شي

یا يې ژبې و خولې ګونګۍ شي

یا لـه ویرې يې زوبـۍ شي...»

**ـ اوردیو:**

روسان شوروي یرغل:

«د کنګلونو لـه هېواده

او

د یـیرږو لـه ځنګلونو څخه

«اوردیو» لـه خپلو سرو پېریانو سره راغی زمور د کلي چم تـه»

**ـ لاتدیو:**

انګریزي یرغلګر، امریکایي تیريکونکي:

«لاتدیو» چې زړه يې مونږ د خلکو لـه کینې نـه ډک و»

**ـ د کوډګرانو لښکر:**

طالبان اوله دوره:

«د کوډګرانو د زامنو او لمسيو لښکر

هغه چې ژېړ ـ ژېړ کاغذونه يې وو ډک له لړمانو، له مارانو، ښامارانو څخه

له ژېړ زمري نه يې زده کړې وې لا نورې کوډې»

**ـ هوسۍ:**

د ازادۍ سمبول:

«او د هوسۍ په ننګ وتلي کليوال يې سره ووېشل په ډلو ـ ډلو»

«هغه کلونه، چې زموږ د خپلواکۍ ملکه

ښکلې هوسۍ د هسکو غرونو لوړو ترو کې زخمي پرته وه»

**ـ تور ابليس:**

پنجابي واکمنان چې تل يې زموږ پروطن او خلکو باند لوبې کړې دي:

«يو لوی کوډګر د خرمښکيو او کربوړو له بيديا څخه د تور ابليس بيديا ته راوست»

**ـ ژېړ زمری:**

اوسامه بن لادن:

اوسامه په عربي کې زمري ته وايي، لادن زېړګل ته وايي:

«د غبرګو تورو د شاه دغه لمسی

- چې یادیده «ژېړ زمری» -

په ژېړو، ژیړو کاغذونو کې د تورو ښامارانو د لوګیو یو
بډای کوډګر و

چې د سرو زرو څو ځولۍیې په اوښانو بار وې...»

**ـ بوډا چوپړګر:**

د اوردیو یا د شوروي لښکر پر ټانک باندې سپور چلباز تورمدیر:

«تر هغه روسته، چې اوردیو مات شو

تر هغه روسته، چې د یـیـرږو ځنګل اور واخیسته

تر هغه روسته، چې بوډا چوپړګر ورک شو د زمان د
ګردلو لړو کې»

**ـ د هوسۍ سپاهي:**

د پاکستاني ملیشوو او تنظیمونو په مقابل کې له وطن څخه د دفاع سپاهیان چې لاربنوونه یې ډاکټر نجیب کوله:

«په لومړۍ ورځ یې د هوسۍ یو سپاهي وواژه

ها چې لاتـدیو یې د ابلیس له دښتې

د مرګ فرمان و کښلی»

**ـ پنځوس یوسترګي دیوان:**

د امریکا په مشری د ناتو ایتلاف:

«پنځوس یوسترګي دیوان، چې راسپاره دي د پولادو په لیوانو باندې

او پاس اسمان کې پرې تاویږي د پولادو کارغان

دیوان دربیږي او د دنګو ـ دنګو غرونو کلی

بیا په لمبو کې سوزي»

**ـ د کوډګرو لښکر:**

دا هم تنظیمیان دي او هم د طالبانو دویم ځل راتګ:

«هغه شیبې، چې د کوډګرو د لښکر متروکو

د هوا ډېو کې د شرک زخمونه ونڅول

هغوی، چې ژېړو کاغذونو نه ماران او ښاماران کړی کړی سوزوي

چې راروان وو د زړې کلا درشل ته د لوګیو ترمنځ

د غبرګو تورو د پاچا جنده یې هسکه په لښکر رپیده»

هغوی، چې ډېر د پیغلو نجونو او د ښځو د دوه سترګو له لیدو وېرېدل

او د سړیو له ویښتیا ښخه یې کرکه راتله

د ژبېړ زمري په فرمان راغلل او د ټولو ښځو سترګې يې پرې وترلې»

**ـ دويمه پرتمينه:**

دا د جهالت د لښکرو په اور کې لولپه شوې فرخنده ده چې په دويم قيامت کې انځور شوې ده:

«په هغه ورځ چې اسه

او پرهغه مينه ښکلې پرتمينه پېغله

ولاړل له سيند څخه لويديز لوري ته

غوښتل يې هلته پټه شوې څه سپېڅلې خاوره بيا ومومي

د پرتمينې په زړو او هېرو شويو خاطرو کې لکه خوب چې وينې

د يو ختين منګي کيسه کرځېده

چې پهکې پاکه او سپېڅلې خاوره

د پرتمينې مور ساتلې وه، د دې لپاره...»

د دويمې هوسی په دويم قيامت کې چې دويمه پرتمينه راځي او دا هغه کوي چې ناپوه او ويده نارينه راويښ کړي او خلک د دوه توري پاچا د لارويانو پر جادو باندې پوه کړي، د کوډګرو له خوا لومړی په تېرو ويشتل کېږي او تر ډېر زجر وروسته سوځول کېږي، دا قهرمانه معاصره فرخنده ده چې په رڼا ورځ د تيارو د لارويانو له خوا وسوځول شوه.

## د منظومې نوي انځورونه او نوي شعري ترکيبونه:

په دويمه هوسۍ کې د لېوال د پنځو منظومو د شعري انځورونو او شعري ترکيبونو تجربې په نوې بڼه ځلېدلي دي. په دويمه هوسۍ کې نوي انځورونه ځکه قوی او زړه وړونکي دي چې د ټولو تېرو منظومو د شعري انځورونو تجربې سره يوځای شوې دي او د هغو په قالب کې مفاهيم ادا شوي دي.

د دويمې هوسۍ د لوستلو په ترڅ کې ما ته ډېر نوي شعري ترکيبونه او شعري انځورونه په مخه راغلي دي، دا يې ځوبېلګې دي:

ــ ځو ژرندې اوبه:

«داسي يو سيند، چې په کې ځو ژرندې اوبه بهيږي»

ــ ځګېروېدلي غږ:

«په ځګېروېدلي مهربانه غږ غوښتنه کوي...»

ــ ژوندون اوږدول:

«ګرانه شپونکيه! زه خو ستا د دې خوږې شپېلۍ په تمه لا ژوندون اوږدوم»

ــ د غرونو له ديوالونو څخه د رازونو دوړې څنډل:

«شپېلۍ راواخله او د تېرې زمانې کيسه نغمه نغمه کړه

د دغو غرونو ديوالونو له رازونو دوړې بيا وڅنډه

د دې نيمزالي سيند په راز مې پوه کړه
ما ته شپېلۍ ووهه!»

ـ د ښامار غځووني:

«لکه له خوبه راويښ شوی ښامار چې غځووني وکړي»

ـ مړاوي اننګي:

«په مړاوو مړاوو اننګو يې راروانه وه د اوښکو مرغلره رنهه»

ـ د غبرګو تورو پاچا:

«د غبرګو تورو د پاچا له زماني ښخه راغلي خلک»

ـ دول غربېدل:

«د لوی ديوال د جوړېدلو اشر ته دول وغربېد»

ـ له تورو وريځو نه خرمن ايستل:

«لکه برېښنا چې په اسمان کې په يو ګړز له تورو وريځو نه خرمن وباسي»

ـ د باد وربېښميني ښنې:

«غږ يې دره کې د پاسته باد په وربېښمينو ښنو غوټه، داسې بنه
لګېده»

ـ د جګړې طلسم:

«... او د جګړو طلسم مات کړو،

خپلواکي او سوله بیا راولو»

ــ نیمه‌خوا سیند:

«سیند نیمه‌خوا بهیږي»

ــ باد په اتڼ سر دی:

«... او باد د غره د دیواله په ویجاړ برج کې په اتڼ سر دی.»

ــ د سیند نیمزاله مزل:

«د سیند نیمزاله مزل موږ سره ترخنګ بهیږي»

ــ پولادي لیوان:

«کلا د ډېرو زمانو د پولادي لیوانو داړو ده کپ کپ خوړلې»

ــ د ژېړو کاغذونو لوګي:

« دوی د ژېړو کاغذونو

په لوګي خلک ویده کړي»

ــ ختین بنامار:

«د غځېدلي اوږد ختین بنامار له لیکې سره»

ــ د زمان خوب:

«هغوی زما شپېلی راویښ کړل د زمان له خوبه»

ــ په سترګو کې برېښنا تاوېدل:

«او ما ليدل، چې د ملنګ په ځلېدلو زرځو سترګو کې
برېښنا تاوېده»

ــ د ځګړو سور دوزخ:

«د ډلو ډلو د ځګړو په سره دوزخ کې سوزېد»

ــ د ماشوم وينه:

«هغه کلونه، چې د ډلو تورې سرې وې د ماشوم په وينو»

ــ د پولادو کارغان:

«او

ژېړزمري د تورو وسپينو پولادو د کارغانو په زور

هلته تر اوو سمندرونو هاخوا

د لاتدېو لوړې هسکې دنګې مانۍ...»

ــ د سرو لمبو درمند:

«د سرو لمبو په درمندو کې او د اور په ژرنده

داسې ايرې ايرې کړې

لکه چې هېڅ رادنګې شوې نه وې»

ــ د باد نڅا:

«باد يو ځل بيا د زاړه برج په منځ کې ونڅېده»

ــ د موسکا ګلونه:

«پيغلو ځوانانو په مورږ وشيندل ګلونه د خوږو موسکاوو»

ــ بې زوره سلګی:

«بابا ملنګ هلته ولاړ و او ژړل يې په بې زوره سلګو»

ــ د ونو په شنو څانګو کې د باد پټېدل:

«مرغۍ لا غوږ وې او باد پټ و د څنګله د ونو شنو څانګو کې»

ــ له لمبو او له سکروټو رغېدلې نغمه:

« يوه له درده،
له لمبو
او له سکروټو رغېدلي نغمه»

ــ د لمر چوپتيا:

«لمر به په چوپه خوله راوخوت او څنګله نه به خاموش واوښته»

ــ د تللو زمانو ايينه:

«لکه د تللو زمانو په ايينه کې چې سبا ته ګوري»

ــ د شپيلۍ مرۍ:

«زما له ستوني نه روستۍ سکروټه لاړه د شپيلۍ مرۍ ته»

ــ جلوهلې تورۍ:

«د غبرګو تورو د پاچا دوه جلوهلې تورې»

ـ د سيند ژړا:

«سيند خپلې لور ته ژاړي

د پرتمينې ايرې ليکه ليکه

د سيند اوبو سره راونې دي ختيځ لوري ته...» ۶۵ ام

د پرتمينې ايرې

د اوبو ذهن مينځې

سيند لاروان دی...»

ـ د اوبو  ذهن:

«د پرتمينې ايرې

د اوبو ذهن مينځې

سيند لا روان دی...»

ـ د رڼو اوښکو فرش:

«ختيځ د خپلې ښکلې لور راتلو ته فرش د رڼو اوښکو غوړولی په لار...»

ـ په ايرو سره د اوبو مينځل:

«په هغه تور ماښام، چې سيند خپلې اوبه د پرتمينې په سپېڅلو ايرو ومينځلې»

ـ د اروا نخښېدل:

«په هغه شپه، چې د ستي پېغلې اروا د غره په لوړ ديواله ونخښېده»

ـ د باد انګولا:

«او غره د باد له انګولا سره په کوکو ژړل»

ـ د لمر زرين جام:

«لا سباوون د لمر زرين جام ته شپېې شمارلې»

زما له نظره د دويمې هوسۍ انځوريزه ننداره، د نووترکيبونو يوبل حيرانونکی کاروان دی چې لېوال په دويمه هوسۍ کې روان کړی دی. د دويمې هوسۍ په لومړي پړاو کې شپونکی له خپلې مينې سره بنه مست راون دی چې پاکې اوبه او له وينو پاکه مځکه پيدا کړي، څو وږو او نهرو ته غنم وکري، په خپله شاعرانه دونيا کې يې بېلتون هم چيرې لرې د د تورو سرو او خونړيو ديوانو په ساړه زندان کې بندي کړی دی او خپله مست روان دی. دا يې د لېوال په هنرمندانه قلم د خولې څو خبرې دي:

«بېلتون بندي دی، خدايزده چېرته لرې

زه د دې کلي مساپر شپونکی روان يمه لا

لکه زما د خپل زړګي درزا په بل ګوګل کې

زخمي هوسی او کليوال

وړي نهار راته په تمه ناست دي...»

په دویمه هوسی کې د شعر د نورو ښکلاوو په څنګ کې، د منظومې متن عجبه رواني لري چې له پیل نه ترپای پورې هېڅ ډول سکتګي نه په کې حس کېږي. د داستان په پیل کې شاعر په نستالژیک ډول د جګړې په اور ناسوځېدلی زمان او شین کلی یادوي. دا یې څو بېلګې دي:

«ها ورکې شوې زماني ته ګوندې بیا ورسو

چې زموږ کلي کې لا فصل د غنمو شین و

او کلیوال مو په یو بل مېین وو

هغه د مینې او ښکلا زمانه

چې کلیوالو مو غنم کرل او مستې چینې

له پاکو سپینو اوبو ډکې بهېدلې په ویالو او ان تر سینده
پورې

مستې هوسی،

د خپلواکی ملکې

لا زموږ د کلي په خوښیو پاچاهي کوله

چې لا په کلي کې د تورو سرو دیوانو لاره تېره نه وه...»

شاعر له جګړې نه مخامخ شکایت نه کوي، خو کله چې د غنمو کرلو مسؤلیت باندې خبرې کوي او په پاکې خاورې او

سیبڅلو اوبو پسې ګرځي، تولي مځکې او چینې د انسان په وینو لړلې ښیي. دا یې څو بېلګې دي:«

ـ لا لتوو سپېڅلې خاوره او له وینو څخه پاکې اوبه

غواړو غنم وکرو

او کلیوالو ته مو ژوند وبښو...

ـ د داسې خاورې څرک لا هم نهښکار ي

چې د انسان وینه پرې بل انسان شیندلې نه وي

هغه چینه ورکه ده،

چې په کې وینه بهېدلې نه وي...

ـ خدایزده چې چېرته به سپېڅلې خاوره
پاکې اوبه ومومو؟
چې هلته وکرو غنم د هوسۍ
ها چې زموږ د خپلواکۍ نښنه ده

ـ د لوړو لوړو غرونو اوښکې راروانې دي، خو رنګ په کې د وینو ګډ دی»

**د دویمې هوسۍ پیام:**

په هوسۍ منظومه کې یو ځانګړنه دا ده چې تورسترګې ښکلې پیغله په بېلابېلو کرکټرونو کې راځرګندېږي. پرتمینه، ملالۍ، ناهید، نازو، فرخنده دا ټولې همدا تورسترګې ښکلې پیغله ده.

د دویمي هوسۍ په منظومه کې کله چې تورسترګې د پرتمینې په نامه د فرخندې په رول کې راڅرګندېږي، په هماغه ځای کې د جهالت او افراطیت قرباني کېږي، چې اسه له دوه توري پاچا نه غاړه غوښه کړي وه او د دویمي هوسۍ د پیام اصلي خبرې دویمي پرتمینې یا فرخندې له خولې اورېدل کېږي، فرخنده په لوړغږ سره وایي چې:

زه هرڅه وینم او په هرڅه پوهېږم، تاسو ولې غواړئ چې زما سترګې وتړل شي، تاسو ولې «د ښکلیو پېغلو او ښځمنو له لیدلو نه ویرېږئ داسې؟ چا څه ډول جادو درباندې کړی دی؟

«زه پاڅېدلې یم، چې دغه تور طلسم مات کړم

زه به د نورو ښځو سترګې هم رڼې پرانیزم

زه به د ښکلو نجونو سترګو نه پردې لرې کړم

زه به دا ستاسو کوډې ونه‌منم

د دې مارانو، لړمانو، ښامارانو تور لوګي به د دې غرونو شنه اسمان څخه جارو کړم، جارو!»

پرتمینې د فرخندې په رول کې چیغې وهلې او خلکو ته یې ویل: په تاسو کوډې شوي، ویښ شئ او ځانونه پوه کړئ، زه راغلې یم چې ښځو ته د رڼا او نارینه‌وو ته د وینتیا مفاهیم بیان کړم او...

دا څو کرښې د دویمي هوسۍ له هغې برخې رااخیستل شوي دي چې د دې منظومې د پیام یوه‌برخه په کې نغښتې دی:

«... هغې نارې وهلې:

های زما خلکو!

اې د سیند د دواړو غاړو خلکو!

اې غیرتي نرانو!

په تاسو کوډې شوي

تاسو په ښو او بدو نه پوهیږئ

د یو کوډګر په چیغه

خپله بېوزلي خور په کانو ولئ

دغه کوډګر ستاسو د هرڅه دوښمنان دي،
ولې نه وینبـږئ؟

لږ څه راویښ شئ، ګورئ دا څه کوئ؟

زه یم راغلې، چې طلسم مات کړم

زه یم راغلې، چې دې ښځو ته رڼا راولم

او نارینه وو ته وینتیا راولم

دغو تیارو ته روښانتیا راولم»

په لنډه توګه ویلی شم: د دویمي هوسۍ پیام دا دی چې په جهالت کې راګیر خلک له ډوبېدو وژغورې او د لوی‌کوډګر په دود (لوګي) ویده شوي خلک له درانه خوبه راویښ کړي.
هغه څه چې بهرنیانو د خپلو موخو د ترلاسه کولو له‌پاره پر

موږ باندې کړي؛ د هغو پر ضد مبارزه وشي او ستونزو ته حللارې پیدا شي.
په دویمه هوسۍ کې دا پیام هم وړاندې شوی دی چې د دین په نامه تل خلک غولول شوي دي، موږ باید رابېدار شو او په حقایقو ځان پوه کړو، د مذهبي استعمار هغه کړۍ باید ماتې شي چې له سلګونو کلونو راپه‌دېخوا د خلکو پر ذهنونو حاکمې دي. د کوډګرو له مخې نه مذهبي نقابونه لرې کړای شي او اصلي څېرې یې خلکو ته وروښودل شي.

دا منظومه (دویمه هوسۍ) د ښامار سبک په پیروۍ تخلیق شوې ده، توپیر یې دا دی چې په ځانځاني ښامار کې خج پر جفتو څپو باندې راځي او په دویمه هوسۍ کې پر طاق څپو باندې.

## ټایپي تېروتنې:

ما ته په رالېږل شوي متن کې ځینې ټایپي تېروتنې هم ترسترګو شوې، ما د چاپېدونکي او یا پرلیکه کېدونکي متن د تصحیح په غرض په نښه کړې او بېرته مې لېږوال صاحب ته ورولېږلې، هغه هم په ورین تندي د متن ټایپي تېروتنې اصلاح کړې.

زه د دویمې هوسۍ تخلیق د پښتو شعر پر دېوال باندې د یوې نوې او زرینې خښتې اضافه کېدل ګڼم، د جهالت په خوب ویدو خلکو ته یې د ویښولو یوه چیغه بولم. د دې غنیمت اثر د تخلیق په پار لومړی ښاغلي لېږوال ته او بیا د پښتو شعر ټولو مینه‌والو ته مبارکي وایم.

**د دویمې هوسۍ د ژرچاپېدو یا پرلیکه کېدو په هیله!**

# سلسال او شاهمامه

## د مینې او انساني قانون سندرې او خبرې

### د عبدالغفور لېوال نوې منظومه

«دلته وینه بهول لویه ګناه ده
د بامیان د خلکو شوې دا سلا ده»

*****

«دلته کور، کلي او غره کې ژوند روان دی
په امان دی که حیوان دی که انسان دی»

(د سلسال او شاهمامه له متن څخه، دریم سرود)

که د عبدالغفور لېوال شاعرۍ ته یو ځغلندنظر وشي، هلته به ولیدل شي چې ده له لومړۍهوسۍ نه نیولې، بیا تر سلسال او شاهمامه پورې منظومې تخلیق کړې دي. لېوال لومړۍ هوسۍ داسې یو بزرګ انسان ته د کتنې لهپاره په لاس ورکړه چې هغه د خدای په دربار کې یو منظور او مقبول شخصیت و، علامه رشاد ته؛ هغه منظومه په استادانه ډول له نظره تېره کړه او د مقدمې په ډول یې داسې خو کرښې پرې ولیکلې چې تر نن پورې د شاعر لېوال لهپاره او د هریوه لوستونکي له پاره د یوه درس بڼه لري. د هغې مقدمې په ترڅ کې علامه بابا د شاعر لېوال په باب یوه وړاندوینه او یوه لنډه دوعا کړې وه:

«زه ځوان شاعر (عبدالغفور لېوال) ته د دې ابتکاري تخليق مبارکي وايم، د ده استعداد زما په ز ړه کې دا هيله پيدا کړې ده چې دی به د پښتو ادب لپاره د تخليق په برخه کې ډېر بريالی وی. زه د ده د بري دعا کوم»

(لېوال عبدالغفور، هوسۍ، د پښتني فرهنگ د ودې ټولنه، ۱۳۷۶ وری ـ ۱۹۹۹ اپریل، د رشاد صاحب سريز: الف ـ و مخونه)

وړاندوينه سمه وه، دوعا هم د خدای په دربار کې قبوله شوه او لېوال وتوانيد چې د خو منظومو په تخلق سره د پښتو شاعرۍ پر هسک زرين دېوال باندې ځو زريني خښتې وراضافه کړي چې «سلسال او شاهمامه» يوه بله نوې زرينه خښته ده.

د عبدالغفور لېوال د منظومو په باب ما پخوا د خپل فکر او تجربو په دايره کې ځيني مقالې او يادداښتونه خپاره کړي دي، په دې مقاله کې به د لېوال صاحب د نوې منظومې (سلسال او شاهمامه) په باب، په منظومې کې د انځورکړای شوي داستان او د لېوال صاحب د شعر د نويو تجربو په باب ځو لنډې خبرې وکړم.

د ۲۰۲۵ ام کال د اپريل په اوومه نېټه، غفور لېوال د يوې نوې منظومې د تخليق زيری داسې خپور کړ:

«خوښ يم، چې د زړې اريانا د پاروپاميزاد په لمنو کې د باميکان و زاړه زابلستان په وياړلي مدنيت پورې تړلې د عشق او مينې د يوې بلې حماسې د سندريز کولو زيری درکوم.
د ساکي «سلسال» او د باميان د مير د نازولې لور شاهزۍ «شاهمامې» د مينې و وياړ منظومه پيل شوې ده.

دا منظومه به مو د باباغره د لمنو د غرنيو ګلونو په وږمو ونازوي، د شاهامي ښکلا ته به د تخييل په ټال کي وزنګيږئ او د شاهزوی سلسال له پولادي متو به د انسانژغورني د حماسو تندريز اوازونه د تاريخ له کنګرو څخه واورئ.

د منظومې د پيل يوه برخه دلته لوستلای شئ:

**د بابا له هسکې څوکې وږمه راشي**
**توپانونه هيندوکوښ کې لا شغيږي**
**بيا د پاروپاميزاد په سردرو کې**
**د بامي ګلونو عطر په څپو دي**
**د کپروک له چينو ډک ليښتي بهيږي**
**ځنګ ته ډاګ يې د ورکيو شنه ورشو شي**
**هلته دلته پرې د ژرندو ځرخ تاويږي**
**د اوبو شرشرې خوږ ته ورغورځيږي**
**هسک باميان درې درې د چنارونو**
**ترې راتاوه غاړه‌کی د دنګو غرونو**
**له شيبره د ګوربت غره تر لمنو**
**کاروانونه د وريښمو په مزلونو**
**باميکان درې درې دی پرښنه پرښنه**
**کلکې ګاګرې يې اسمان سره جنګيږي**
**د ډبرو د ولاړو ديوالونو**
**په اوچتو کنګرو کې باد راځرخي**
**ځوان ګوربت له خپلې ځالي رااالوتی**
**د وادي په شنه اسمان کې راتاويږي**
**پسرلی دی، داماني زمردينې**
**د چينو اوبه بهيږي تکې سپينې**
**دلته هلته د غاټول په زړګي داغ دي**

**پېغلې مستې راوتلې دي مهينې**
**شنه ګيبي، سره كميسونه تورې زلفي**
**د بخدي د بيرغو په شان رنګينې**
**په سندرو، په ټپو په خندا ګانو**
**زړونه وړي په مستو مستو اداګانو... »**

آصف بهاند په كامنټ کې داسې ورته وليکل:

ټولو فرهنګي دوستانو او لېوال صاحب ته دې مبارک وي!
هيله ده چې لکه نورې منظومې، «سلسال او شاهمامه» هم د پښتو شعر د زرين دېوال يوه قيمتي خښته شي.

د «سلسال او شاهمامه» د بشپړېدو په هيله.❤️

د ځينو نورو فرهنګيانو كامنتونه:

نعمان دوست:

«په نيک فال يې نيسو دكتور ليوال صيب.
زموږ په حلق کې لا تر اوسه د (ككې او زرينې) خواږه شته، باوري يوو چې دا نوې منظومه به مو حلقونه نور هم له تريخوالي خوندي وساتي.

يوه غوښتنه:

په منظومه کې ډېرې نومونه شايد موږ ډېرو ته نا اشنا وي. كه هر يوه ته شماره ورکړل شي او لمن ليک کې يې اوسنی نوم، يا لنډه تشريح وليکل شي خوند به يې لا زيات شي.
درناوی»

جلال خپلواک:

«واه قدرمنه استاده هيله من يم چې د لام او ايلينو غوندې کش
او کشش به
پکې موجود باور وکه زه تر ننه د لام او ايلينو په لوستلو موړ
شوی نه يم، ستا په ګوتو د هنر جادو څپې وهي.»

## اوس د سلسال او شاهمامه په باب:

لېوال د «سلسال او شاهمامه» د منظومې په پای کې د «څرګندونې» ترسرليک لاندې د ځينو نومونو، اصطلاحاتو او ځايونو شرحه په لنډه‌ول راوړې ده چې د منظومې په لوستلو کې له لوستونکو سره مرسته کوي. په همدې برخه کې يې د «سلسال او شاهمامه» په باب داسې ليکلي دي:

«د «سلسال او شاهمامه» کيسه، په ساده بڼه د افغان ولس ترمنځ د يوې فولکلوريکې افسانې په بڼه شته، يو شمېر ليکوالو هم رااخيستې، له هغې ډلې ارواښاد خليل الله خليل رانقل کړې او ښاغلي جواد خاوري هم په «شګفتي های باميان» کتاب کې خوندي کړې ده. د دغې منظومې زړی هماغه فولکلوريکه کيسه ده.»

(«سلسال او شاهمامه» منظومې په وروستۍ برخه کې د څرګندونو لومړۍ شمېره)

دغه راز لېوال د يادو څرګندونو په اتمه شمېره کې د «شاهمامه» په باب داسې ليکلي دي:

«شاهمامه: شاهمېرمن يا ملکه يې لغوي مانا اخيستل شوې ده، اريانا دايرةالمعارف ليکي، چې :«په اسطورو کې [د باميان] ۵۳ متري مجسمې ته (صلصال) او ۳۵ متري مجسمې ته

شاهمامه ویل کېدل، چې لومړی یې نرینه او دویمه یې ښځینه ګڼل شوي دي.»

(«سلسال او شاهمامه» منظومې په وروستۍ برخه کې د ځرګندونو اتمه شمېره)

او د «سلسال» په باب د یوه قاموس (فرهنګ نفیسی، خیام، جلد ۳ صفحه ۱۹۲۳) په حواله داسې لیکي:

«سلسال: د بامیان لویه مجسمه ځینو (سلسال) او ځینو نورو (صلصال) ګڼلې ده. سلسال د خوړو، یخو او رڼو اوبو بهیر ته وایي، چې ترستوني تېرېږي. همدا راز تر ستوني تېرېدونکیو پستو شرابو ته هم ویل کېږي.

صلصال له شګې سره ګډه شوې خټه، ښه خټه، هغه خټه چې لا ورڅخه ختین لوښی جوړ شوی نه وي.

خوشال بابا فرمايي:

**محبت د همای سیوری دی که څه دی**
**که کیمیا دی، زر کوي سنګ و صلصال**

که څه هم د مجسمې ظاهري بڼې ته په پام به د «صلصال» نوم ورلنډ وي، خو په دوو دلایلو د «سلسال» نوم غوره برېښي؛ لومړی دا چې دا «شاهمامه» سره په غبرګون د شخص نوم دی، نه د خټې. دویم په کیسه کې د اوبو او د اناهیتا ونډې ته په پام د خوړو او رڼو اوبو په مانا دلته اسم بامسما ګڼلای شو.»

(د منظومې په وروستۍ برخه کې د ځرګندونو دیارلسمه شمېره)

په خپله لېوال د منظومې په متن کې د «سلسال» او «شاهمامې» په باب په هنري ژبه خبرې کړې دي. د منظومې په متن کې شاعر شاهمامه داسې راپېژني:

**«... شاهمامه د باميکان د پاچا لور ده**
**د اوبو د الهې ژوندی حضور ده**
**شاهمامه د لمر د وړانګو غوندې سپينه**
**د سوريا په ترانو يې ده پربولې**
**په دې پېغلو کې همدا تر ټولو ښکلې ...»**
(لومړیسرود)

دغه راز د منظومې په متن کې شاعر په خورا لوړ او هنرمندانه نوښت سره «سلسال» داسې راپېژني:

**«له هرځايه راټول شوي دي ځوانان بيا**
**د هوسيو په ښکار وتي دي ښکاريان بيا**
**په ښکاريانو کې يو ځوان ښکاري سلسال دی**
**د سرکښه اس په شان يې مټ او يال دی**
**غنمرنګه، کنجک برېت او توري څنې**
**پلن ټټر يې د پېنځو سرتېرو ډال دی**
**نبغ کتل يې د ډېرو زړونه چوي**
**او غرور يې د ميينو زړو وبال دی**
**لوی کهول يې زابلي دی د ساکانو**
**سکه نښه د زابل د پاچايانو»**
**زابل‌شاه تورمان يې پلار دی په زابل کې**
**واک يې بر دی په غزني او په کابل کې**
(دویمسرود)

## په منظومه کې نوي انځورونه او نوي شعري ترکیبونه:

لېوال لکه د نورو منظومو په څېر، په دې منظومه (سلسال او شاهمامه) کې هم په موضوع، ځایونو او پېښوو پورې اړوند؛ د انځور جوړونې ښې او نوې تجربې کړې دي. ما د لېوال تربحث لاندې منظومه څوځلې ولوستله او د لوستلو په ترڅ کې به مې د دې منظومې نوي انځورونه او نوي شعري ترکیبونه په نښه کول. زه ادعا نه کوم چې زما دا کار به د ټولو لوستونکو لهپاره د منلو وړ وي، خو د دې خبرې کولو حق ځانته خوندي ګڼم چې ووایم: د لېوال په «سلسال او شاهمامه» کې زما له نظره دا انځورونه او شعري ترکیبونه نوي دي:

ــ د غرونو غاړمکۍ:
«ترې راتاوه غاړمکۍ د دنګو غرونو» (لومړیسرود)،

ــ له اسمان سره د ګاګرو جنګېدل:
«کلکې ګاګرې یې اسمان سره جنګیږي» (لومړیسرود)،

ــ د نجونوخېل:
«بیا سپرلی دی او د نجونوخېل وتلی» (دویم سرود)،

ــ د غشيڼځا:
«شغ شو غشی په نځا د باد څپو کې» (دویم سرود)،

ــ د باران ملکه:
«د باران د ملکې چې زړګی تش شي» (دویمسرود)،

ــ د هوسیو اوښکې:
«د هوسیو اوښکې وینئ که ړانده یاست؟» (دریم سرود)،

ــ غر له ځایه ایستل:
«واه دا څه حسن، دا څه غرور دی خدایه»
څه خوږه غوسه چې غر باسي له ځایه» (دریم سرود)،

ــ د غرور الماس:
«ورو یې شونډو زمزمه کړې دا خبرې
د غرور الماس دې مات کړ ملغلرې» (دریم سرود)،

ــ د توراوربل نڅا:
«په خندا یې یوه شوخه ادا وکړه
تور وربل یې په هوا کې نڅا وکړه» (دریم سرود)،

ــ د سورغر پړک:
«سرې غالۍ یې د سورغر د پړک په شانې» (څلورم سرود)،

ــ ګوتې په څڼو کې لار باسي:
«د مور ګوتې د زوی څڼو کې لار باسي
او له زړه نه یې د پټ راز مهار باسي» (څلورم سرود)،

ــ د ستورو رمه:
«او د ستورو یوه پنډه رمه څري» (څلورم سرود)،

ــ طلایي کمرونه:

«د بامیان د رود په غاړه چینارونه
مازیګر دی، طلایي ښکاري کمرونه» (پنځم سرود)،

ــ د مچکې خرپ ته د اوبو رېبږدېدل:
«د وروستۍ مچکې خرپ ته اوبه ریږدي» (پنځم سرود)،

ــ د رڼا رېږدېدل:

«رڼا رېږدي د خوشبو پېلوځي دود ته» (شپږم سرود)،

ــ د سپېڅلې سوما اور:
«د سپېڅلې سوما اور رګو کې ځغلي» (پنځم سرود)،

ــ ژوند د اسمان د تندي ټیک:
« دا څه تریخ برخلیک زما په برخه لیک دی
چې ژوندون مې د اسمان د تندي ټیک دی» (اتم سرود)،

ــ سمندر د رودڅپه:

«چې په خوږ سلسال دې روح او زړه تکیه وي
سمندر به هم د رود یوه څپه وي (نهم سرود)،

ــ مرګ پر برکندو درول:
«لوی خطر دی، هر پړاو کې دیو په څَو دی
مرګ د لمر غوندې ولاړ په بر کندو دی» (نهم سرود)،

ــ د قدرت لاس:
«د قدرت لاس دي تراشلي تالارونه» (لسم سرود)،

ــ د باد کوکارې:
«کله کله په کې باد وهي کوکارې» (لسم سرود)،

ــ د رڼا کړۍ:
« د رڼا یوه کړۍ ورنه تاویږي» (لسم سرود)،

ــ پر ګرمواوبو باندې د زلفو بارېدل:
«خورې زلفې یې په ګرمو اوبو بارشوې» (لسم سرود)،

ــ د سهار پل:
«د ختیځ شفق کې پل د سهار ښکاري» (لسم سرود)،

ــ د روح لمنه:
«راځئ راشئ دواړه دلته زما خواته
چې د روح لمنه ونیسو رڼا ته» (یولسم سرود)،

ــ د رڼا ړنګېدل:
«شېبه راغله، چې تالار کې خاموشي شوه
په کې ړنګه نقره رنګې رڼایي شوه» (دولسم سرود)،

ــ د سکروټو غر:
«کله کله تر شپېړه سر راباسي
له سپېرمو نه د سکروټو غر راباسي» (پنځه‌لسم سرود)،

ــ د لمبو درمند:
«تر هغو یې چې سر تاو کړ هغې خوا ته
سلسال ووت د لمبو د درمند شا ته» (شپاړسم سرود)،

ــ د ښامار غضب:
«ټول وجود یې د لمبو په لوګي تور دی
غر سیزلی د ښامار د غضب اور دی» (شپاړسم سرود)

ــ د زلفو اژدها:
«د دنګ ځوان په شوندو غلې شان موسکا ده
د شهی په مخ د زلفو اژدها ده» (شلم سرود)

ــ ډبرین تاج:
«هیندوکوښ د اریانا ډبرین تاج دی» (دوه‌ویشتم سرود)
ــ د غرمزړه:
«له لمدو کبلو بوی د غره د زړه ځي» (دوه‌ویشتم سرود)

«د اژدر له درې پټ د غره په زړه کې» (اته‌ویشتم سرود)

«د غره زړه کې سهمګين دي رواقونه
د پردو تر شا يې پټ دي ميين زړونه» (نهويشتم سرود)

ـ د زلفو ابشار:
«سلسال بيا سر د جانان پر زنګون کېښود
پرې شهې د تورو زلفو ابشار پرېښود» (دوهويشتم سرود)

ـ د باد ګوتې:
«سلسال دنګ ولاړ په پرښه افق ګوري
تورو څنو کې يې ګوتې د باد ښوري» (درويشتم سرود)

ـ د اوبو پسته وړمه:
«په حسرت دي دوه ميين ولاړ دره کې
د اوبو د بهېدو پسته وړمه کې» (څليريشتم سرود)

ـ د عشق لومړنۍ اوښکه:
«داسې روڼ لکه د عشق لومړنۍ اوښکه» (څليريشتم سرود)

ـ د مستباد شپېلۍ:
«د مست باد شپېلۍ ته ناځي چينارونه» (شپږويشتم سرود)

ـ د چنار نڅا:
«د مست باد شپېلۍ ته ناځي چينارونه» (شپږويشتم سرود)
«لا د باد شوخۍ ته ناځي چينارونه» (اتهويشتم سرود)

ـ د چنګ له تاره د لمبې ايستل:
«دوی د چنګ د تار له رګه لمبې باسي
سوز و ساز د عشق په روح کې ننباسي» (اوهويشتم سرود)

ـ د غرهغېږ:

«چې لمرخرک وهي نو ښکليو رواقو نه
ها د غره غېږه کې جوړو دوه تاقو نه» (اتهويشتم سرود)

لېوال د منظومې په بېلابېلو سرودونو کې د ښکارندوی غوري په شان د طبيعت په ستاينه کې ډېر برلاسی ښکاري، داسې يې ترسيموي چې لوستونکې له ځانسره د ښېښو ځای ته بيايي او لکه د ګرځندويانو لارښود هرڅه مخامخ ورښيي. دا يې څو بېلګې دي:

**«پسرلی، چې واورې والوتې له زمکې**
**په نوروز چې پېغلې ووتې نازکې**
**د ځلورو چينو هرخوا بهيرونه**
**پرې زرغون شول د غاټولو کتارونه**
**د چينو اوبه رواني وې په دښتو**
**هغه ځای کې چې په رود شولې ورګډې**
**نو کوچيانو ورته واړولې کډې**
**د سپرلي د روستۍ مياشتې ورځې شپې دي**
**په باميان کې ورشوګانې زرغونې دي**
**د اصيلو ګلابونو موج مستې کا**
**چينارو کې د مرغيو چهچهې دي**
**هلته دلته نجونې وتې کروندو ته**
**او د شوخو ماشومانو هلهلې دي»**

(شلم سرود)

*********

**د اژدر له درې پټ د غره په زړه کې**
**سمندر په شور بهيږي په موجونو**
**د بابا د هسکې څوکې په سر زانې**
**هيندوکوښ کې لا شور ګډ د توپانونو**

**ټول د پاروپاميزاد غرونه په شور دي**
**له پاميره ان د غور تر منارونو**
**په خوړونو کې هوسۍ دي ترهېدلې**
**کټ کټا راځي د زرکو له ناوونو**
**ها مرغه چې ټوله شپه نغمه سرا و**
**غږ يې ګډ دی د بلبلو په غږونو**
**عجيبه ده، ټول باميان سندرې وايي**
**شرهار اورېدل کيږي د رودونو**
(اتهويشتم سرود)

## په منظومه کې د عاطفي احساس انځورول:

د منظومې په يوه برخه کې د انساني عاطفي تصوير په عجب هنرمندانه او نوې بڼه وړاندې شوی دی، هغه هم د يوې ښځينه له خولې:

يو ناځاپه شاهامې خپل غږ اوچت کړ
په غوسه يې د سلسال د اس کمند کې
د ترلې هوسۍ خوا ته لاس کړ پورته
تاسو څوک يئ؟ او له کومه ياست راغلي؟
په سينو کې مو ډبرې دي که زړونه
د کبليو چيغې اورئ که کاڼه ياست؟
د هوسيو اوښکې وينئ که ړانده ياست؟
دا هوسۍ چې مو په غشي ټپي کړې
د بچيو له بغارو يې خبر ياست ؟
موږ لا هلته په ورشو کې اورېدلي
مګر تاسو يې ترپکې نه ليدلي
د وړو وړو بچو مور مو نيولې
نامراده مو ده بند په بند ترلې

تاسو میندي ماشومان لرئ په کور کې؟
**زړه مو نه خوږېږد د دوی په شورماشور کې ؟**
(دریم سرود)

**د عاموخلکو اصطلاحات:**

ـ سراو، پس‌او
د اوبو د ویش واکمن پاچا میراو دی
چې بلـد هم په سراو هم په پس‌او دی» (دویم سرود)،

ـ ګاګره:
«په تېشه وي چا تراشلي دغه ګاګره» (یولسم سرود)

ـ ګندنار او جارو:
«ګندنار او جارو هرځای کې ولاړ دي»

ـ اوبه پتم کېدل:
«ډند راوځرخېد پتم شو روڼ ځلیږي» (څلیریشتم سرود)

ـ ورابانې:
«د ورابانو په ګوګل زړونه درزیږي
د لیدو شیبه ورو ورو رانږدې کیږي» (نهویشتم سرود)
د پاسنیو نادرو اصطلاحاتو د کارولو په څنګ بلې خبرې ته چې زما پام شو هغه دا ده چې په ټوله پښتو شاعرۍ کې تر خوشحال خټک وروسته، عبدالغفور لېوال لومړنی شاعر کې چې د «سپاندې» ویی یې کارولی دی، هغه هم په ډېر شاعرانه مهارت سره، تاسو وګورئ:

**«یو کتار خدمتګارانو په سکروټو**
**ډېرې سپاندې او مانو پاڼې شیندلې»**
(اتهویشتم سرود)

د منظومې په متن کې شاعر په عمدي ډول د پښتو ژبې د اصلي اصولو له مخې داسې ويې يا لغتونه کارولي دي چې پخوا د «غلط مشهور» د قانون له مخې عام او لکه د چا خبره منل شوي وو او کلونه کلونه کارېدل. ځو بېلګې يې «شاهمېرمن»، «شاهزی» او «شاهزوی» دي چې پخوا به ځينو قلمو الو او ويناوالو د «ملکه»، «شاهزادګی» او «شاهزاده» په ډول ويل او ليکل. دا د منظومې له متن څخه د پاسنيو وييونو د سمې کارونې څو بېلګې دي:

د شاهزوی سلسال ترمخ چې يې ولاړه
د خپل سر خيرات له خدايه ځنې غواړه
(دريم سرود)

د زابل شاهزوی په زړه غشی خوړلی
لا و پېغلې شاهامې ته فکر وړی
(دريم سرود)

نجلۍ ولاړه او سلسال يې په ځای پرېښود
د ښکاري شاهزوی په زړه يو داغ کېښود
(دريم سرود)

*****

د همزولو سترګې برندې وې ختلې
د باميان د شاهزۍ قهر ته وې غلې
(دريم سرود)

دومره پوه شوه، چې شاهزۍ يې ده زوولې
دايه‌ګانو په وربښمو کې پېچلې
(اووم سرود

**مازيګر چې زابلي وزير جرګه شو**
**شاه‌باميان نـه يې لاس غوښتى د شاه‌زۍ دى**
(شپـږم سرود)

*****

**شاه باميان برسرکې ناست په ډېر پرتم دى**
**ورسره ترخوا يې ناسته شاه‌مېرمن ده**
(شپـږم سرود)

**شاه‌مېرمن د باميکان په درد اخته وه**
**شاه‌باميان هم وارخطا و هم خوشاله**
(اووم سرود)

**د منظومې د قالب په باب:**

کله مې چې د سلسال او شاه‌مامې خوسرودونه ولوستل، ما فکر وکړ چې منظومه د مثنوي قالب په چوکاټ کې ويل شوې ده، وروسته مې وليدل چې په ټوله منظومه کې د مثنوي قالب نه دي مراعات شوى او ګڼشمېر بيتونه ازاد پاى لري، د دې منظومې په متن کې داسې هم شوي دي چې کله کله شاعر د مثنوي د قالب له اصولو وزي او په څو بيتونو کې، بيتونه په خپلو کې هم‌قافيه نه وي. دا يې د څو بيتونو بېلګې دي:

**«هاخوا لرې شنه ورشو کې نجونې خاندي**
**ساراني ګلونه وټومبي وربل کې**
**د وړو کبليو غږ تر ورشو راغى**
**شاه‌مامه د نجونو خبل نه شوه رابېله**
**مخ په غره يې سترګې برندې وګنډلې»**
(دويم سرود)

کله مې چې لیوال صاحب په دې باب وپوښته:

«ایا تاسو دا منظومه ټوله د مثنوي په قالب کې ګڼئ؟
د متن په ډېرو ځایونو کې بیتونه سره همقافیه نه دي، چې دا ولې؟»

ده داسې ځواب راکړ:

«استاده منظومه په مثنوي قالب کې نه ده او نه هم ټول بیتونه سره همقافیه دي، قافیه په ځینو بیتونو کې راغلې، خو ګڼ یې بیا ازاد پای لري البته وزن د ټولو مسرو یو دی ، خو قافیه په ټولو بیتونو کې رعایت شوې نه ده زما د درېیو روستیو منظومو ( لام او ایلینو)، ( کک و زرینه) ، (سلطان) جوړښت هم کټ مټ همداسې دی، البته هوسۍ (دواړه) او (ارشاک او اوشاس) بیا په ازاد شعر کې لیکل شوې دي.»

**په منظومه کې د تاریخي ځایونو د نومونو یادونه:**

لېوال په منظومه کې د وطن د یو شمېر تاریخي ځایونو نومونه هم یاد کړي دي چې زه یې دلته یوازې د نومونو یادونه کوم:

- بابا غر،
- هیندوکوش،
- پاروپامیزاد
- بامي
- کپروک
- شبېره،
- ګوربت‌غر،
- بامیکان،

ــ بخدي،
ــ لوی‌غر،
ــ دنګ پامیر،
ــ سورغر،
ــ ترنک،
ــ د هراویت،
ــ ناوور،
ــ پاروپامیزاد غر،
ــ هري نه بیا تر
ــ غور،
ــ باختر،
ــ هیلمند،
ــ اراکوزي ـ اراکوزیا،
ــ کاسغر یا کاشغر،
ــ شاه‌پولاد،
ــ پاروپامیزاد غر،
ــ سمایي غر،
ــ شبېر،
ــ د اژدر دره،
ــ هډه،
ــ پنجهېر،
ــ سوات،
ــ هري،
ــ ساکستان،
ــ اریانا،
ــ بابل،
ــ چین،

ـ سیکارام،
ـ ګندهارا،
ـ اوزبین،
ـ سوګد یا سوکد

## د سلسال او شاه‌مامه پیام:

انسانیت د ټول بشریت له‌پاره هغه ګډ منلی مفهوم دی چې هېڅ پوله نه‌مني، که د ټول بشریت ګډه عقیده هم ورته وویل شي، ډېره به ښه وي.

انسانیت مینه کول دي، انسانیت داسې عمل ترسره کول دی چې کوم شخص یا ژوندي موجود ته دې ضرر ونه‌رسېږي او څوک درنه خوابدي نه‌شي، د انسانیت بنسټ، مهرباني ده او د مهربانيکولو په پایله کې موږ کولای شو نورو مخلوقاتو ته ارامتیا ورپه برخه کړو.
د لېوال د دې منظومې پیام د انسانیت او عاطفې رایجول دي:

راشئ، راشئ، چې پیدا ورکه مانا کړو
درد و رنځ څخه پناه دغه دونیا کړو
راشئ راشئ، چې په ځان کې ښامار مړ کړو
چې د نفس پړانګ د وجود خاورو کې خړ کړو
چې په روح کې له څلوروسرچینونه
اته ډنډه د رڼو رڼو اصلونو
لاژوردین لکه غمي رانه بهاند شي
سمندر چې د مانا ورنه څپاند شي
راشئ راشئ، چې بامیان له نن نه روسته
یو سپېڅلی ښوونځی د روښانتیا شي
دغه ګاګرې، دغه سمڅې، دالانونه

**د اوهامو خوبولیو ته ویښتیا شي**
**راشئ راشئ او بامیان داسې وطن کړئ**
**چې له ټولې دونیا راشي کاروانونه**
**پرې انبار وي د فکرونو کتابونه**
**د وربښمو په لار جوړ سپېڅلی ښار کړئ**
**یو تمځای یې د باختر په لویه لار کړئ**
**له باګرام او تاکسیلا ښخه تر غوره**
**بګولان سره ملګری نانګراهار کړئ**
**ګنداریا نه تر هیلمند و هېراویتي**
**اسمایي سره ترون د ناویهار کړئ**
**دغه زمکه کړئ راویښه او روښانه**
**د ژوندون مانا پیدا په دې دیارکړئ...»**

(دولسم سرود)

خو کله مې چې لېوال صاحب نه د منظومې د پیام پوښتنه وکړه:

«د «سلسال او شاهمامه» منظومې پیام څه دی؟

نو ده داسې راته ولیکل:

«د دغې منظومې درې اساسي پیغامونه دي:

۱ ـ افغانستان او بامیان د وربښمو د لارې پر سر د یوه بډای او روښانه مدنیت کوربه و او بامیان د بودايي اصولو یو لوی پوهنتون و، دلته خلکو سولهییز ژوند درلود او له نړۍ ښخه ورته خلک تلل راتلل.

۲ ـ د منظومې کرکټرونه د انسان د دروني نړۍ سیمبولونه دي، ښامار د حرص او ځانځانی، پرانګ د بېرحمی او تیري

سپمبول دی، چیني حقیقت ته د رسېدلو او د دغو حقیقتونو پر بنسټ د اخلاقي اصولو منل او رعایت دی. د اوبو ډنډونه د روحي پاکۍ او رونوالي سپمبول ده ، اوبه مهمې دي هم په طبیعت کې او هم په سپمبولیکه توګه د پاکۍ او رونوالي د نښې په توګه په روحي نړۍ کې، د نفس له ښامار او د بې‌رحمۍ له پړانګ سره جګړه د روحي اتلوالۍ معیار ده، چې د مینې په څواک پر مخ ځي.

۳ ـ بامیان د ساکي ټبر اصلي ټاټوبی دی، زابلي واکمن هم ساکان و، تاریخي جغرافیا او ټبر پوهنه ښیي چې د پښتنو نیکونه (ساکان) د لویو تمدنونو وارثان او رامنځته کوونکي وو او هغسې چې د افغانانو د هویت دوښمنان یې ادعا کوي افغان ټبر یوازې د غرنیو کوچانو او څو روسته پاتې قبیلو پاتې شوني نه دي.»

دغه راز د دولسم سرود په ادامه کې د منظومې د پیام په باب داسې هم راغلي دي:

**چې بامیان د فکر و پوهې کرونده شي**
**د انسان د ازادۍ بله ډیوه شي**
**چې مجبور انسان د ژوند له درد و رنځه**
**د خلاصون په رمز و راز دلته خبر شي**
**بامیکان د اریانا د زړه ګوهر شي**
**چې له هر وطنه راشي روزنتون ته**
**د ساکیامونې د فکر پوهنتون ته**
**ستاسو دواړو تر نظر لاندې به دلته**
**د دونیا وګړي زدکړې ته رادرومي**
**دا وادي به د پېژاند پیلوځه روني**

دغه تورې مغارې او دالانونه
په ډبرو کې دا لوی لوی تالارونه
دا به تولوته د پوهې پالنځي وي
د رڼا او د ویښتیا به دا تولګي وي
تاسو دواړه به تر ډېره ورته ګورئ
نیروانا به مو په برخه یو سکون کړي
دردالی به یو تلپاتې پیوستون کړي
(دولسم سرود)

د «سلسال او شاهمامه» یادونه او د دوی د راتلونکې ژوند او ماموریت یادونه د منظومې په یوبل ځای کې داسې شوې ده:

د باران او د اوبو ښکلې واکمنې
شاهمېرمن ته خوب کې داسې وینا وکړه
شاهمامه دې مبارک شه بختورې
د ښېنتن دالی یې وګڼه اغلې
شاهمامه د ژوند ژغورنې نښانه ده
د کرکېلې و پنځونې نښانه ده
دا به خلاص کړي د دې غرونو او رغونو
مېشته خلک هم د کلیو او ښارونو
په اس سور یو پهلوان به ورسره وي
یو راویښ روښان انسان به ورسره وي
دوی به جوړ کړي د رڼو اوبو ډنډونه
کړي به خلاص له خوني پړانګ رمې پسونه
دوی به لوی ښامار په پارو پامیزاد کې
د ډبرو په زندان کې راایسار کړي
دوی به خلاص ترې لوی مزدک د ناویهارکړي
په هغه ورځ به یې دا نیزه په کار شي

## چې پرې خوښ باګرام، هډه او ناګراهار شي

(اووم سرود)

سلسال د شاهباميان په دربار کې خپل انساني ماموريت دا ګڼي چې د ژوندون له لارې ښخه به درد او رنځ لرې کوي. دا د سلسال د خولې خبره ده:

«هغه زه يم چې خوني پرانګ به ايسار کړم
درد و رنځ ښخه به پاکه د ژوند لار کړم
د بندونو جوړېدو ته به ډېرې
لکه هار د شاهامې له شمېره باسم
اريانا ته به وياړونه زه راوړمه
سربښندمه مګر مينه به ګټمه
هغه ورځ رارسېدلې چې مونږ دواړه
له ښاماره څرمن باسو، له پرانګ داړه
اريانا به تل اباده وي ښېرازه
شاهامه به مې هملارې وي همرازه
دې درو کې به د ژوند سرود غږيږي
د وربښمو لار به بېرته امن کيږي
باميان تش مه شه د چنګ له خواږه سازه
له زابله به د مست رباب نغمې وي
په درو کې به وي پېغلې هماوازه
که سورغر، که هسکې څوکې د بابا دي
هيندوکوښ دې خالي نه‌وي له شهبازه
(نهم سرود)

په منظومه کې د ساکيامونې ښوونو يادونه هم شوې ده، په دې باب مې چې لېوال ويوښته:

«تاسو په نولسم سرود کې مو د ساکیاموني ښوونې یادې کړې دي، مقصد مو د بودیزم اصول دي، که بل څه؟»

په ځواب کې یې داسې راته وویل:

«هو، د ساکیاموني ښوونې د بودا اصلي سپارښتنې دي چې د بودیزم اصول یې هم ګڼلای شو ، څلور حقیقتونه او اته اصلونه دي.»

د روایتونو له مخې، سلسال او شاهمامه په داسې ځای کې یوبل سره ویني چې له شاهمامې سره د همځولونجونو یودلګی مل وي او سلسال له خپلو اندیوالانو سره د ښکار په نیت راوتلی وي. سلسال غرڅه په غشي ولي، خو د شاهمامې له کلکې نیوکې سره مخ کېږي او شاهمامه سترګو په سترګو خبرې ورسره کوي. دواړه خپلو کورونو ته ځي او همدا لومړنی لیدنه د دوی په زړه کې د مینې تخم کري.
کله چې د سلسال کورنی پوهېږي چې ده زړه بایللی دی، پلار یې د یو هوښیار وزیر په مشرۍ بامیانو ته د شاهمامې پلار ته یوه جرګه ورلېږي، هلته د هلک لوري ته اته شرطونه وړاندې کېږي چې دا جلې به هلته درکول کېږي چې سلسال دا شرطونه پوره کړي.

**«مازیګر چې زابلي وزیر جرګه شو**
**شاهبامیان نه یې لاس غوښتی د شاهزۍ دی**
**ځوان سلسال ته په جرګه وزیر راغلی**
**شاه بامیان ته مرکه وزیر راغلی**
**شاهمامه غواړي میراو نه و سلسال ته**
**شاهبامیان په حیرت تللی دغه حال ته...»**

(شپېږم سرود»

د شاهنامې پلار هم د خپلې لور د ژوند نوي ملګري مخکې يوشمېر شرطونه ږدي او وايي چې شاهنامه هغه څوک ودولی شي چې دا شرطونه پوره کړي او شاعر په هنرمندانه ډول ياد شرطونه داسې د کلماتو په تار کې پيېلي دي:

«که هرچا شاهنامه غوښته نو اول به
له درېګونو پراوونو نه تيرېږي
ژوند به ژغوري له دردونو او رنځونو
د بديو او تيارو له ګوزارونو
دې نيزې سره به غبرګ په سفر وځي
ها چې غواړي شاهنامه د ژوند څراغ کړي
هم به دا ساتي له توره اهريمنه
هم به ځان د ګناهونو له تورتمه
چېرته مل به يې شي لاره کې روښان څوک
ها له لرې لمرخاته نه راروان څوک
ها چې ويښ دی او د ژوند په ساز پوهېږي
رنځ و درد نه د خلاصون په راز پوهېږي
همدا ويښ روښان سړی به يې لارښود شي
د بابا غره په خوړونو کې يو پړانګ دی
هم شپانه خوري هم رمې خوري د کوچيانو
د وربښمو کاروانونه ترې ويرېږي
له لښکرو ښخه غرونو کې ورکيږي
هم د پاروپاميزاد د غره درو کې
يو ښامار دی، چې له خولې يې اور باديږي
کاروانونه چې په لار ځي د وربښمو
سره اوښان له سوداګرو سره نغاړي
څو څو واړې کاروانونه هلته ورک شول
خلک پټې پټې کړي کيسې يو بل ته

چې يو لوی اژدها پټ دی په دې غرو کې
له هري نه بيا تر غور ان تر باختره
له هيلمند، اراکوزي بيا تر کاسغره
کاروانونه دا ښامار په اور لمبه کا
نشته داسې پهلوان چې يې چاره کا
بل پړاو زموږ د رودونو او اوبو دی
د کپروک چينې روانې دي بيابان ته
هيچا جوړ نه کړل بندونه په رودونو
دغه چاره هم زما د لور په برخه
اناهيتا ده ورسپارلې دغه پازه
يو روښانه او يو ويښ سړی به راشي
زما د لور او پهلوان د اريانا ته
نو سلام دې وي زما و زابل‌شاه ته
او درنښت دې وي سلسال ته هم وزير ته
ما به زر ځلې وای لاس د لور درکړی
د زابل تر شاه مې نه‌شته ښه ملګری
خو زما د شاه‌مامې برخليک جدا دی
له وصلت څخه يې مخکې درې پړاوه
اته بنده، خوني پړانګ او اژدها دي
موږ په تمه چې پيدا هغه سړی شي
چې هم ويښ دی هم روښانه راروان دی
لمرخاته نه يې سفر مخ په باميان د ی
ها روښان به راپيدا اريايي ځوان کړي
دغه سوبه به هماغه پهلوان کړي
له څلور چينو به جوړ کړي اته بنده
له کپروک نه د درې تر روستې ډنډه
چې خوني پړانګ رااېسار کړي په کمند کې

**کړي بندي يې د بابا د غره ګړنګ کې**
**چې په دې نيزه ګوزار لوی اژدها کړي**
**شاهمامه به هم واده روسته تر دا کړي**
**زما د لور د لاس‌نيوي اړونه دا دي**
**زما نه دي د سرلوړې اناهيتا دي»**
(اتم سرود)

د سلسال له لوري د شاهمامې د پلار د شرطونو تر پوره کولو وروسته، د سلسال او شاهمامې د وصلت او واده درووړه پيل شوه او لېوال په عجيب شاعرانه مهارت سره دا صحنې داسې انځور کړې دي:

**«شاهباميان به سبا ولېږي استازی**
**زابل‌شاه ته به وروړي يو داسې زيری**
**چې سلسال او شاهمامه بېرته ستانه شول**
**په ليدو يې زموږ سترګې شوې روښانه**
**په بريا يې اندېښمن زړونه راښه شول**
**چې څلور چينې جارې کړې په ډنډونو**
**د ساکيامونې ښووونو سره سمې**
**تر دې روسته به باميان کې وي لوی جشن**
**د شها او د شهی د واده بزم**
**شاهمامه به د سلسال د شپو څراغ شي**
**له دوه زړونو نه به بېل د بېلتون داغ شي**
**د زابل او د باميان د خېلخانو به**
**ترون وشي د ګلانو او ګبينو**
**د سهاک تبر به خوښ په دې وصال شي**
**شاهمامه چې ښکلې ناوې د سلسال شي»**
(يوويشتم سرود)

د سلسال او شاهمامي د واده په مراسمو کې د ساکیاموني (بودا) په موجودیت کې چې له ختیځ نه د ویښتیا او روښانتیا د لاربښوونو لهپاره راغلی و؛ خلکو هلته دوه تاقونه جوړ کړل چې یو د سلسال لهپاره و او بل یې د شاهمامي لهپاره. د «سلسال او شاهمامه» په شپېرویشتم سرود کې دا جریان لېوال په خورا شاعرانه مهارت سره انځور کړی دی، چې یوه برخه یې دلته رااخلم:

**«د بامیان د میراو لویه مېلمستیا وه**
**د وربېښمو په لار جوړه تماشا وه**
**د بامیان او زابل خلک وو راوتي**
**دا واده د هر ساکي د زړه ارمان و**
**په دې جشن کې ورګډ هر زوړ و ځوان و**
**خلکو جوړ کړل دوه تاقونه د غره دډ کې**
**د بامیان د درې هغه دیوالونه**
**چې تراشلي یې ښېتن دبرین غرونه**
**چې په کې دي مغارې او دالانونه**
**تالارونه ، لارې لارې دهلیزونه**
**چې ساکیاموني راغلی و ختیځ نه**
**د ویښتیا او روښانتیا لار یې ښووله**
**خلکو هغه ځای کې جوړ کړل دوه تاقونه**
**په لوړ غره کې مخ ختیځ ته رواقونه**
**یو رواق د زابلي سلسال لپاره**
**بل یې ښکلې شاهمامې ته و توږلی**
**د ساکیاموني تالار ته چې نږدې وي**
**د ویښتیا ورانګې به هلته لاخورې وي**
**د ساکي تبر دا ښکلي نازولي**
**چې د یو بل په وصال سره خواږه شي**

د باميان د ګلابونو په باران کې
په سرلوړو چينارو کې به واده شي
ناوې و زوم به د باميان رواج په ځای کا
لوی رواق کې به سلسال جامې اغوندي
په دا بل کې به شاهزی خپل ځان سينګار کا
د باميان نجونې ګلابو پسې ګرځي
شاهزلميان غوړوي څنې مست اتڼته
شاهزابل او شاهمېرمن يې مېلمانه دي
(شپېرويشتم سرود)

روايت داسې دی چې په پای کې سلسال او شاهمامه د غره په تېرو کې تيرې شول. شاعر دا صحنه په ځانګړي هنري مهارت سره داسې انځور کړې ده:

چې روستی پردې يې لرې کړې همزولو
حيرانتيا شوه را خوره په مخ د ټولو
لويه خدايه! دا څه وينو په رواق کې
نه سلسال نه شاهمامه شته په اتاق کې
هسکو دنګو رواقونو کې ولاړ دي
دوه ښېرې لکه ډبرو کې توږلي
لکه غره نه انځورګر چې وي تراشلي
د سلسال رواق کې لوی جسم ولاړ دی
د ساکيامونې په شان يې څه اغوستي
تک سور لوی ځادر يې جسم ښخه تاو دی
ان د غره تر هسکې څوکې پورې دنګ دی
هاخوا بل رواق کې هم ولاړه ښکلې
شاهمامه ده ډبرينه په جامه کې
او ترې تاو ځادر اوبرنګ اسماني ښکاري

د امیر د بند په شان نیلابي ښکاري
د تراشلي غره په لوړ کوګل کې ښکاري
دوه ولاړې دبریني لوړې پژې
له هیبته ډکې ښکلې او رنګینې
چې بامیان کې چا پخوا لیدلې نه وې
بس همدا مجسمې وې د ډېرو
نوره نښه د شها او شهی نه وه
نه سلسال په خپل رواق کې ښکارېدلو
نه په بل کې شاهمامه د پردې شاته
لکه غره چې وي له ستوني نه تېر کړي
لکه تېږو وي په ګېډه ننه ایستي
لکه نهچې د زابل زوی و راغلی
لکه نهچې د بامیان لور وه زوولې
د زابل ناوې او زوم د بامیان دواړه
رواقونو وو خوړلي په سیېدو کې
لمر راوخوت خو د ښکلیو نښه نه وه
هیڅوک نهشول خبردار چې پېښنه څه وه
څوک خبر چې شاهمامه او سلسال څه شول
سپېدهچاود نه روسته هېڅ ترسترګو نه شول
بس په دنګو رواقونو کې ولاړ وو
قامتونه د ډېرو په کې لواړ وو
د ډېرو یو قامت الواني رنګه
بله ښکلې یې نیلي اسماني رنګه
وه سلساله! خلکو ډېرې نارې وکړې
شاهمامې! د بامیان لورې، وایه څه شوې
خو رواق ښخه هېڅ غږ د چا رانهغی
د پردو پردو پردو له شا رانهغی

**خدای خبر ساکیاموني څه وو ویلي**
**خدایزده څه يې وو روستي بند کې لیدلي**
**خدایزده چېرته وو شها او شهی تللي**
**دبرين دوه قامتونه يې وو پرېښي**
**هيچا بيا خبر رانهوړ چې دوی څه شول؟**
**شاهمامه او سلسال برخه د دې غره شول**
**ښايي دوی وو رسيدلي نیروانا ته**
**لوی یادګار يې و پرېايښی اریانا ته**
(دېرشم سرود)

په تیرو باندې د سلسال او شاهمامې بدلېدل یو افسانوي روایت دی. دا د «نیروانا» حالت ته رسېدل دي، دا داسې یوحالت دی چې انسان له ټولو نفسيخواهشاتو مبرا شوی وي. د دې دوو تنو په ډبرو بدلیدلو ته څېله شاعر عبدالغفور لیوال دری دلیله په شفاهي خبرو کې ما (آصف بهاند) ته داسې وړاندې کړل:«

۱ــ په خلکو کې دا افسانه شته چې کله سلسال او شاهمامه د جامو د بدلولو لهپاره د پردو شاته ولاړل، بېرته راونهوتل، کله چې خلک ورغلل وېليدل چې دوی په تیرو بدل شوي دي،

۲ــ سلسال او شاهمامه د نیروانا حالت ته رسېدلي وو، ځکه په تیرو بدل شول. «نیروانا د بودیزم یوه بنسټي او روستۍ موخه ده. دا د انسان د روح د بشپړې آزادۍ «خلاصون/ رهايي» او د کړاو د پای حالت ته وايي.

نیروانا هغه حالت دی چې پهکې انسان له دوکهه (درد و رنځ، ناارامی او ناخوښی) څخه وژغورل شي، او د **سمسارا** (دژوند و مړیني او بیا زیږېدو په څرخ کې له بیا بیا راتللو) څخه بهر

وځي. هغه څوک چې نيروانا ته رسېږي، نور د بيا زيږېدو او دونيايي کړاو سره نهمخ کيږي.
له نفسي غوښتنو څخه خلاصون: په نيروانا کې ټولې غوښتنې، له دونيا سره تړاو، ناپوهي او د "زه" ځانځاني له منځه ځي. دا يو داسې حالت دی چې پهکې انسان بشپړه رواني، روحاني او دروني سوله او رهايي ترلاسه کوي.

نيروانا د جنت يا بل کوم فزيکي ځای په شان نه دی، بلکې دا يو ذهني او روحاني حالت دی. د مطلقې پوهې، رواني سولې، او روښانتيا حالت.

د بوديزم د ښوونو پربنسټ، نيروانا د ژور فکر، مراقبې (مديتېشن)، اخلاقو، د څلورو حقيقتونو د پېژندنې او اتو اصلونو ته د ژمنتيا له لارې ترلاسه کېدای شي. دا يوه ژوره پوهه او درک غواړي چې انسان د څلورو سپېڅلو حقيقتونو مفهوم وپېژني.» (سلسال او شاهمامه منظومې په وروستۍ برخه کې د څرګندونو ديرشمه شمېره)

۳ــ د باميانو په بودايي پوهنتون کې روزل کېدل. د باميانو بوتانو په شاوخوا کې سوري دي، هرسوری يو ټولګی دی چې د دې پوهنتون شاګردان به پهکې روزل کېدل. دا يو سمبوليک تمثيل دی چې څنګه يوڅوک د نيروانا حالت ته رسېږي.»

د لېوال د منظومو په باب چې ما پخوا څه ليکلي دي، د لېوال د ټولو منظومو او شعري تجربو تر لوستلو وروسته مې ليکلي دي؛ زه کولای شم ووايم چې: عبدالغفور ليوال په اوسني پښتو ادب کې د مبتکرو شاعرانو په ډله کې د نوښت ښه استازولي په بريالي ډول کړې ده او هره منظومه يې د دې ادعا جلا مثالونه کېدای شي.

لېوال په خپلو منظومو کې هڅه کړې ده چې د خپل هویت، تاریخي اقتدار او ملي‌ګټو د ساتنې له‌پاره، له خپلو اساطیرو او تاریخي ارزښتونو څخه؛ د خپل وطن قهرمانان راواخلي او خپلو مخاطبینو، په تېره نوي نسل ته یې ورووپېژني او په دې ډول په دوی کې ملي روحیه رامنځته کړي، وېروزي او پیاوړې یې کړي. ښې بېلګې یې «کک او زرینه»، «لومړی او دویمه هوسۍ» کېدای شي.

لیوال په ټولو منظمو کې عجیبه تصویر جوړونه کړې ده. ما پخوا د لېوال د شعري تجربو په باب لیکلي وو:

مثلاً په «لام او ایلینو» منظومه کې لام لګیا وي د یوه سنګتراش هنرمن په ډول ساعتونه ـ ساعتونه د غرونو په تیـږو کې د «ایلینو» څېره لټوي، تیـږې توږي او په خپل هنر سره له عادي تیـږې نه خپله معشوقه یعنې «الینو» جوړوي، خو لېوال بیا په شپو ـ شپو او ورځو ـ ورځو لګیا دی د «لام» د مینې او هنر انځور د کاغذ یا کمپیوتر پر صفحه باندې د خپلو لغاتو د لښکر په زور او شعري تجربو په رڼا کې انځوروي. په «پاچا» منظومه کې هماغسې لېوال لګیا وي د «صاحبزاده» او «پرتمینې» د مینې افسانه د افغاني ټولنې د دودونو په لړو او تیارو کې لټوي، د خپل شعري هنر په زور د ټولنې دودیزې لړې او ګردونه ور نه لرې کوي او د شعر د هنر په زور، د هغوي د مینې یوه ښکلې او روښانه تابلو خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي. دغسې په دویمه هوسۍ کې.

**او دا دی اوس هماغسې له «سلسال او شاه‌مامه» سره یې د خپل شعر جنډه هسکه نیولې ده او بریالي نوي قدمونه یې اخیستي دي.**

# «چشمهٔ شبنم»

## (له موزوني دري ژباړې سره، د لنډیو نوې ټولګه)




د پښتو لنډیو د ټولګو د پېژندنې په لړ کې دا ځل د «چشمهٔ شبنم» ټولګه باندې خبرې کوم. دا کتاب د څلور سوه اته شپېته (۴۶۸) لنډیو هغه ټولګه ده چې د هېواد پیاوړي فرهنګي عبدالله شادان د پښتو لنډیو له نورو ټولګو څخه انتخاب او بیا یې په شاعرانه ذوق سره په موزون ډول دري ژبې ته ژباړلې دي، خو تر هر څه مخکې د ښاغلي عبدالله شادان لنډه پېژندنه چې د لنډیو ژباړې یې له ډېر پخوا راپیل کړې دي او دا ټولګه یې د کار یوه نه هېرېدونکې بېلګه ده.

د ښاغلي شادان بیوګرافي په دري ژبه په ویکیپیډیا کې راغلې ده، چې زه به یې په لنډون سره پښتو ته راوژباړم:

## عبدالله شادان:

«عبدالله شادان په ۱۳۲۷ لمريز کال په کابل ښار کې په يوه روښادې کورنۍ کې زېږېدلی دی. تر ليسې وروسته کابل پوهنتون ته تللی دی او هلته يې حقوق او سياسي علوم لوستي دي. تر فراغت وروسته يې د افغانستان په ستره محکمه کې د قضا مجلې د مرستيال په توګه دنده پيل کړه، خو وروسته له څه مودې راډيو افغانستان ته لاړ او هلته يې د هنري ادبياتو په تخليق باندې پيل وکړ او په لومړي پړاو کې يې د راډيويي داستانونو په ليکلو پيل وکړ چې دا داستانونه يې تر ټولو مشهور ګڼل شوي دي:

ـ محکوم به فنا،

ـ عشق شکوهمندترين،

ـ ژاندارک،

ـ سپيده دميد،

ـ داستان‌های توره،

ـ وطن پناه منی،

ـ کودکان فردا.

عبدالله شادان شاعري هم کړې ده او تر ټولو مشهور شعر يې ځينو سندر غاړو له موسيقي سره زمزمه کړی دی، د ياد شعر لومړی بيت دا دی:

**وقتی عاشق شوی راز دلته گفته نتانی**

## چقدر سخته خدایا، چقدر سخته خدایا

عبدالله شادان یو ځل ایران ته د یوه لنډمهالي کورس لپاره لاړ او د «برنامه جوړولو» او «د تلویزیوني پروګرامونو ډایرکټ» کورسونه یې ولوستل، د ۱۳۵۶ کال په حوت میاشت کې بېرته وطن ته راستون شو او د تلویزیوني پروګرامونو ډایرکټ یې پیل کړ چې د افغانستان د ملي تلویزیون لومړنی سندرې، تمثیلي پارچې یې ښې بېلګې دي، له هغې ډلې نه د احمدظاهر مشهوره سندره: «لیلی لیلی لیلی جان» د عبدالله شادان په لارښوونه او ډایرکټ ثبت شوې ده.

عبدالله شادان په ۱۳۵۹ کال کې د افغانستان د تلویزیون د رئیس په توګه وګمارل شو او وروسته تر هغه د رادیو تلویزیون د دولتي کومیټې د معین په توګه وګمارل شو.

عبدالله شادان د افغانستان په رادیو تلویزیون کې د خپلو کاري فعالیتو په لړ کې یو شمیر بدلونونه او تنوعات رامنځته کړل چې د مثال په ډول یې دا کارونه د یادولو وړ دي:

ـ رادیو تلویزیون یې د هنرمندانو او فرهنګیانو په کور بدل کړ،

ـ موسیقي یې په څو برخو (کلاسیک، غزل، محلی، د وړونو قومونو موسیقی، تکنوازی او آماتور) وویشله او د خپرولو لپاره یې ځای او وخت ورته وټاکه،

ـ د موسیقي د نویو ډلو ایجاد لکه: د باران ډله، جامي ډله او نور،

ـ د تلویزیوني فلمونو جوړول لکه: دختری با پیراهن سفید، کیفر، دهکدهٔ من او نور،

شادان د سینما په برخه کې دا کارونه تر سره کړي دي:

ـ عبدالله شادان د یوه ممثل په توګه په سینمایي فلم کې هم رول لوبولی دی چې «رابعهٔ بلخي» سینمايي فلم د داودفاراني او خالق علیل په ډایرکټ جوړ شو و،

ـ دغه راز شادان د افغان فلم د مؤسسې د ځینو اخباري او مستندو فلمونو له پاره نریشن لیکلی دی،

ـ دغه راز شادان د «کودکان فردا را می‌سازند» او د «حماسه عشق» سینمائی فلمونو لپاره د فلمنامې لیکل هم کړي دي،

نور فرهنګي او ادبي کارونه:

ـ د «ګاوصندوق» او «دیوار» نمایشنامو ډایرکټ چې د هېواد پیاوړو او نوموتو ممثلینو استاد بیسد او استاد عزیزالله هدف رول په کې لوبولی دی،

ـ د ممثل په توګه د راډیویي پروګرام (افسانه‌های اپرای جهان) کې رول لوبول،

ـ په تیاتري پروګرام کې د شعر د دکلمې په دوه ساعته خپرونه کې ګډون چې ښاغلي احمدشاه علم یې ډایرکټ کاوه،

ـ په غرېزه بڼه د افغانستان د مطبوعاتو تاریخ (له شمس النهار څخه تر نن پورې)

ـ د «جرعه ای از شراب کهنهٔ عشق» ترسرلیک لاندې د دري ژبې د لرغوني شعر د غورچاڼ دکلمه. په دې پروګرام

کې چې دوه شپېته (۶۲) برخې یې درلودي، له رودکي رانیولې تر نن پورې د دوه سوه (۲۰۰) شاعرانو لنډه بیوګرافي او د شعرونو بېلګې له خوندورې موسیقي سره مل وړاندې شوي دي.

په افغانستان کې د عبدالله شادان وروستۍ دولتي دنده د افغانستان د ژورنالستانو اتحادیې ریأست و، خو په ۱۹۹۲ م کال کې د افغانستان د امنیتي وضعې د خرابېدو په وجه اړوت چې له وطن څخه مهاجر شي، په پای کې لندن ته ورسېد او هلته یې د بي بي سي راډیو په فارسي برخه کې کار پیل کړ.

عبدالله شادان له سیما عثمان شادان سره واده کړی، دوه اولادونه لري او اوس له خپلې مېرمنې او اولادونو سره د انګلستان په لندن ښار کې ژوند کوي.»

## او اوس «چشمهٔ شبنم»:

د ښاغلي عبدالله شادان تر ټولو وروستی فرهنګي کار چې زما له نظره تېر شوی دی، همدا د پښتو لنډیو انتخاب او دري ژبې ته موزونه ژباړه (چشمهٔ شبنم) ده چې په همدې مقاله کې به خبرې پرې وشي.

په همدې څو تېرو ورځو (۲۰۲۳/۰۱/۱۰) کې خبر شوم چې د ښاغلي عبدالله شادان له لوري یو شمېر لنډۍ انتخاب، په یوه ټولګه کې راټولې او وروسته تر هغه په ډېرې حوصلې یادې لنډۍ په هنرمندانه ډول له پښتو نه دري ژبې ته په موزون ډول ژباړل شوې دي.

د استاد دستګیر نایل د معلوماتو له مخې په یاد کتاب کې څلورسوه اته شپېته (۴۶۸) لنډۍ راټولې شوې او په موزون

ډول ژباړل شوي دي. زه د ښاغلي عبدالله شادان د دې فرهنګي کار درناوی کوم او مننه ځينې کوم چې د استاد بېنوا پر پل يې پل کېښود او په اوسني وخت کې يې د پښتو لنډيو يوه بله ټولګه له دري منظومې ژباړې سره ټولو لوستونکو او د پښتو لنډيو مينوالو ته وړاندې کړه.

په اوسنۍ ميډيا د ترټولو شوخ بڅې (فيسبوک) په لمن کې تر ښو شيانو ډېر هغه څه خپرېږي چې په لوستلو او ليدلو نه ارزي، خو کله ـ کله يوه نيمه خبره يا داسې څه سري ته په مخه ورشي چې د ډېر ښه او کاري ارزښت لرونکي وي.

څه موده مخکې ما ته په فيسبوک کې د لنډيو د يوې داسې ټولګې نوم او معلومات په مخه راغلل چې ما ته له انتظاره لرې او سم د کار مواد په کې وو. د لنډيو دا ټولګه **«چشمهٔ شبنم»** نومېږي. د دې ټولګې په باب معلومات د دانشمند دوست استاد دستګير نايل په فيسبوپانه کې په مخه راغی. زه چې په همداسې ټولګو او همداسې موضوع او معلوماتو پسې سرګردانه ګرځېدم، نو مې دا معلومات غنيمت وګڼل، کاپي مې کړل او څو شېبې وروسته مې له ښاغلي نايل نه د يادې ټولګې په باب د نورو معلوماتو غوښتنه هم وکړه، ده هم په فرهنګي او علمي بزرګوارۍ سره ما ته زما ټول غوښتي معلومات راولېږل چې زه همدلته د زړه له تل نه مننه ځنې کوم.

د لنډيو د دې نوې ټولګې (چشمهٔ شبنم) په باب د نايل صاحب په پوست کې کوم معلومات چې اېښودل شوي و، دلته يې له تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم:

«چشمه ی شبنم!

«چشمه ی شبنم» نام کتابی از جناب عبد الله شادان است که این روزها بدستم رسید. از ایشان اظهار سپاس می کنم.کتاب چشمه ی شبنم، در سال ۱۴۰۰ خورشیدی از طرف انتشارات (آن) که دارای ۲۵۶ برگ است، در ۵۰۰ نسخه درهرات به چاپ رسیده است.جناب عبد الله شادن، از فرهنگیان فر هیخته، سخنور توانا، دکلیماتور خوش صدا وگردانندهء نام اشنای بر نامه های ادبی و «زمزمه های شب هنگام» رادیو تلویزیون افغانستان بودند. در باره ء لندی های زبان پشتو و برگردان ان به زبان پارسی تا کنون هیچکس و یا اندک کسانی چنین همت و خدمت بزرگی به زبان و فرهنگ را کرده باشد.
در این کتاب، ۴۶۸ «لندی» پشتو گِرد آوری و سپس به زبان پارسی به گونهء نظم، برگردان شده است.به همه معلوم است که «لندی» های زبان پشتو، یکی از غنی ترین و مردمی ترین شعر، فرهنگ وسروده های کلتوری زبان پشتو است که هم در میان مکتب خوانده ها و هم مردم عام بکار برده شده و زمزمه می شوند. لندی ها، احساسات عمیق عاشقانه، حماسی، اخلاقی و روان شناسانه ی مردم عام، عشق ها، امید ها و نا امیدی ها، قهرمانی ها و احساسات میهن پرستانه را انعکاس داده اند. شاعر و یا شاعران این نوع شعر ها، معلوم نیست و هر شخص بیسواد و با سوادی توانسته است با سرودن این لندی ها، بر غنای فرهنگ و زبان بیفزاید. اینجا چند لندی را بعنوان مثال از این کتاب با برگردان پارسی ان می اورم با معذرت که درکیبورد، برخی از حروف پشتو نبود اشتباه تایپ شده است:

ـ خبری کوی شوندی دی ریژدی
لکه سورگل چه د سهار شمال وهینه

(سخن که می گویی، لب هایت می لرزد
مانند گل سرخی که بران باد صبحگاهی می وزد.)

ـ بیلتون دی قدر په ما زیاتې کرو
تلی د پښو به دی په سترګو ښکلومه

(جدایی کرد قدرت نزدم افزون
حالا کف پای تو را با دیده گان خود می بوسم)

ـ په خپل وطن می خدای مر کی
چه د جانان توره لونګی می کفن شینه

(در وطن میراندم پروردگا را
تا سیه دستار جانانم شود بهرم کفن)

ـ اول می زله، ذری ذری کری
هله ناری کلی چه مین درباندی یمه

( اول دل مرا ذره ذره کردی
حالا با فریاد می گویی که عاشق تو هستم)

ـ بیلتونه مخ دی مولا تور که
چی ورانوی د عاشقانو جور کورونه

( جدایی، خدا رویت را سیاه کند
که تو خانهء اباد عاشقان را خراب میکنی)

ـ که خوله می اخلیی،زر ښه واخله
د کلا ښاته میلمانه راغلی دینه

( اگر می گیری از من بوسه یی، پس زود بگیر
که پشت قلعه مهمانان رسیدند.)

برای جناب شادان عمر دراز و قلم پُر بار، ارزو دارم.»

ما چې کله پاسنی معلومات ولوست، نو مې په کامنټ کې داسې ورته ولیکل:

«سلام استاد بزرگوار نایل صاحب!

مطلب زیبا و جالب تان را در مورد مجموعهٔ جدید لنډۍ ها خواندم، خیلی جالب بود و باعث مسرت اینجانب گردید.
در قدم نخست متشکرم ار دوست فرزانه اقای عبدالله شادان که یک مجموعهٔ از لنډۍ های زبان پښتو را جمع آوری و په زبان دری برگردان، چاپ و برای خوانندگان هردو زبان دري و پښتو په حیث یک تحفهٔ گرانبها پیشکش نموده اند.
از شما بزرگوار هم جهان سپاس که در معرفي این مجموعهٔ ارزشمند رول به سزا بازي نموده اید.
من از چندین سال بدینسو در عالم مهاجرت دست به گرد آوري لنډۍ های ناب و جدید پښتو زده ام و تا به حال سه مجموعهٔ جمع اوري نمودم که دو مجموعهٔ ان په شکل آنلاین تقدیم علاقمندان لنډۍ شده و مجموعهٔ سومی هم به زودی پیشکش خوانندگان عزیز خواهد شد.
در مجموعهٔ نخست در پهلوی شناسایی، تاریخچه، شکل و محتوی لنډۍ ها، تمام مجموعه های لنډۍ ها که چاپ شده اند و از نظر من گذشته اند، به معرفي گرفته ام. حال میخواهم که در مورد مجموعهٔ «چشمهٔ شبنم» که اقای عبدالله شادان جمع اوري و ترجمه نموده اند، چند سطر بنویسم.
اگر زحمت نمیشود چند صفحهٔ کتاب را از روی لطف فرهنگي برایم عکاسي نموده و در مسنجر بفرستید.
صفحات مورد نظر من اینهاست:

ـ صفحهٔ معرفي کتاب،

ـ اگر مقدمهٔ بر کتاب نوشته شده باشد، یا تمام صفحاتش و یا چند صفحهٔ مهم آن را،

ـ چند صفحهٔ متن کتاب را به گونهٔ مثال کار دارم.

از همکاري فرهنگي و مهرباني استادانهٔ تان قبلاً سپاسگزارم،

کوچک شما پوهندوی آصف بهاند»

د کومو پاڼو او عکسونو معلومات چې ما له ښاغلي نایل څخه غوښتي وو، ده په ورین تندي او ډېر ژر ما ته رالولېږل چې یوه بېلګه یې دا ده:



٩٤ چشمه‌ی شبنم

۱۴۳
په باغ کې مه ګرځه مینه
ګلان شرمیږي مخ په پاڼو پټوينه

مکن گردش به باغ ای دلبر من
که می‌شرمند گل‌ها از تو و با برگ‌ها رخساره می‌پوشند

۱۴۴
باغوانه ورشه باغ ستره کره
سبا ورځمه د ګلابو سیل به کړمه

برو ای باغبان پاکیزه کن باغ
که فردا می‌روم دیدار گل‌های گلاب آنجا

د لنډیو راټولونه او د هغو په باب څېړنه هر کله نوې او اړینه ده، ځکه دا د پښتني فولکلور یو داسې ټوکیدونکی او هره ورځ غوړیدونکی ژانر دی، چې څومره نوی را زرغونیږي، هغومره تولیدو، نوې کار، نوې څیړنې او لا نویو ژباړو ته اړتیا لري.

ما (آصف بهاند) د پښتو لنډیو په باب د خپلو څېړنو په لړ کې، د پښتو لنډیو د چاپ شوو ټولګو په هکله په «لنډۍ د ثبتولو ستونزه» کتاب کې داسې لیکلي وو:

«له کومو مآخذونو نه چې لنډۍ را اخیستل کېږي، د اوسنیو لاس لرلو موادو له مخې چې زموږ په واک کې دي، هغه مجموعې دي چې په سم یا نا سم ډول، چاپ شوې دي، چې ځینې یې د علمي ــ رسمي مرکزونو له خوا او ځینې یې بیا په مستقل ډول خپرې شوې دي.»

او هلته مې د پښتو لنډیو دا لاندې ټولګې معرفي کې وې:

ــ پښتني سندرې،

ــ پښتو لنډۍ (د بینوا ټولګه)،

ــ پښتو لنډۍ (د اکادیمی ټولګه)،

ــ روهي سندرې (لومړی ټوک)،

ــ روهي سندرې (دویم ټوک)،

ــ ګل ټپې په دریو ټوکونو کې،

ــ سپوږمیه کړنګ وهه رالویږه،

ــ ننني لنډۍ (د نا کراره کلونو ټپې)،

ــ ويښې جذبې روغ توپانونه،

ــ د لنډيو يوه ټولګه او دوه کتابونه،

ــ د ميني ټپې،

ــ د پښتو شعر هندسي جوړښت،

ــ ادبي هڅې،

ــ پښتو لنډۍ، مصرۍ، ټپې،

ــ پښتني سندرې،

ــ پښتو سندرې،

ــ لنډۍ ها.

تر دې وروسته هم د لنډيو ځينې ټولګې او د لنډيو په باب څېړنې چاپ شوې دي لکه:

۱ ــ «د بوډۍ تال» د محمد الله هميم ټولونه،

۲ ــ «د فولکلور شهۍ» (د لنډيو په اړه څېړنيزې مقالې) د اکادميسن سليمان لايق تاليف.

خو ځنګه چې دا دوه پاسني کتابونه ما تر اوسه نه دي تر لاسه کړي، ځکه مې څه نه دي وربانډې ليکلي.
د ښاغلي شادان تر دې هڅې مخکې هم پښتو لنډۍ نورو ژبو ته ژباړل شوې دي او ډېرې کاميابي ژباړې او هڅې ګڼل

شوې دي چې د څو ژباړو یادونه به یې د بېلګې په ډول دلته وکړم:

۱ ــ د بېنوا صاحب «پښتو لنډۍ» ټولګه،

۲ ــ د الهام صاحب «لنډۍ ها» ټولګه،

۳ ــ د ډانمارکي محقق ینس اِنه فولدسین ( Jens Enevoldsen) «سپوږمیه کړنګ وهه رالوېږه» ټولګه، چې یوشمېر لنډۍ او پښتو متلونه یې انګلیسي ژبې ته ژباړلي دي،

۴ ــ د ډنمارک د درسي نصاب په مرستندوی درسي کتاب (نېریوالي کیسې) کې شپږ پښتو لنډۍ په ډنمارکي ژبې ته ژباړل شوې دي،

۵ ــ د مجیب مهرداد ژباړه، له پښتو ژبې نه دري ژبې ته جالبه ژباړه ده، خو ډېرې نه، بلکې څو محدودې لنډۍ یې ژباړلي دي او ما په هماغې نېټې یوه مقاله پرې ولیکله او خپره مې کړه.

ما د لنډیو په باب په خپلو پخوانیو څېړنو کې د یادو دوو ټولګو (د بېنوا صاحب «پښتو لنډۍ» ټولګه، د الهام صاحب «لنډۍ ها» ټولګه) په باب چې کومې خبرې کړې دي، ځنګه چې د شادان صاحب له ټولګې سره یې موضوع یوه ده، نو زه به هغه خبرې دلته یوځل بیا رانقل کړم:

ــ پښتولنډۍ:

(د استاد عبدالروف بینوا په زیار، لومړی چاپ:۱۳۳۷ ل، دویم چاپ:۱۳۸۷ ل کال.)




د دې مجموعې لومړی چاپ له رنګه انځورونو (نقاشي) سره د لنډیو دري او انګلیسي ژباړه هم درلوده. په دویم چاپ کې له دري او انګلیسي ژباړې سره اردو ژباړه هم ورزیاته شوې ده. د لنډیو دا ټولګه ما په کابل کې لیدلې ـ لوستلې وه او اوس یې دویم چاپ (۱۳۸۷) په واک کې لرم.

(پښتو لنډۍ، د استادعبدالروف بینوا په زیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷کال)

ـ د «لنډۍ ها» ټولګه او پوهاند رحیم الهام:




د لنډیو د ټولګو او منابعو د پیژندنې په برخه کې مې دا ځل د «لنډۍ ها» تر سر لیک لاندې یوې ټولګې ته لاس رسی پیدا کړی دی چې د لنډیو د مقالو په دې برخه کې خبرې ور باندې کیږي.

«لنډۍ ها» د لنډیو د هغې مجموعې نوم دی چې د پوهاند رحیم الهام په زیار او هڅې د لنډیو په باب له یوې مقدمې (دري او پښتو) له یو شمیر لنډیو او په دري ژبې باندې له ژباړې سره، په ۱۳۷۹ کال کې د «اریک» د ګرځنده کتابتونونو د ادارې له خوا خپره شوې ده.

په کتاب کې لومړی د خپرونکې ادارې یاد داشت راغلی دی. په دې یاد داشت کې د «اریک» د نشراتي موسسې د تاریخ او کار پر څرنګوالي باندې خبرې شوې دي. وروسته له هغه د لنډیو په باب د درانه استاد پوهاند محمد رحیم الهام مقدمه په دوو ژبو(پښتو ـ دري) باندې راغلې ده چې د لنډیو په باب نوي او د پام وړ ټکي په کې شته.

پوهاند الهام د لنډیو په باب له معمولي او چوکاټي خبرو ور آخوا، نور نظریات لري چې مهم ټکي یې دا دي:

«لنډۍ د پښتو شفاهي اشعارو یو ډول دی چې له دوو نا برابرو مسریو څخه جوړه ده. لومړنۍ مسرۍ یې ۹ او دویمه یې دیارلس سیلابه لري. په لومړۍ مسرۍ کې یې فشار پر څلورم او په دویمه مسرۍ کې یې فشار پر څلورم، اتم او دولسم سیلاب واقع کیږي.

لنډۍ قافیه نه لري او دویمه مسرۍ یې د «a» په ترنمي غږ پای ته رسیږي. وزن یې آهنګوال ایقاعي دی او د معمولو عروضي وزنونو څه نښې په کې نه څرګندیږي.

د ټولنپیژندنې او ښکلا پیژندنې د تحلیل په رڼا کې د لنډیو ارزښت موندنه او په علمي بڼه د شکل او مضمون او د هغو یو بل سره مناسبت، بررسي او څیړنه ډیره کمه شوې ده...

لنډۍ د پیدایښت پیلامه تر اوسه نه ده معلومه او داسې بریښي چې تر اسلام د مخه د پښتو د زړو هیجایي شعرونو یادګار او پاتې شونې وي ...

تر اوسه د لنډیو له لړو ډیرو ۲۲ مجموعو په هکله معلومات لرو چې ۱۳ یې چاپي نسخې او نورې قلمي دي او...»

(الهام محمدرحیم، لنډۍ ها، خپرندوی: ادارۀ کتابخانه های سیار اریک، د پښتو مقدمې و– ز مخونه)

د زیاتو معلوماتو لپاره لوستونکي کولای شي چې «لنډۍ د ثبتولو ستونزه» زما یوبرېښنایي اثر ۲۳ ام مخ او ۴۳ ام مخونو ته سر ورښکاره کړي.

اوس به بیا راشو د «چشمۀ شبنم» ټولګې ته:

د لنډیو دا ټولګه تر اوسه ما نه ده ترلاسه کړې، خو د چشمۀ شبنم مقدمه او هغه مواد چې د دې مقالې د لیکلو لپاره زما په کار و، اوس مې په اختیار کې دي.

د ښاغلي شادان له خوا د پښتو لنډیو دا هنري ژباړه او کومه سریزه چې ده پر دې ټولګه باندې لیکلې ده، له هغه نه په ټول کې د لنډیو د جغرافیې او د لنډیو دویونکو د سمې پېژندنې داسې انساني او هنري پیام رسول کېږي چې له هغه نه د لوړو هنري مسایلو ترڅنګ د پخلاینې او وروولۍ یو لوړ پیام هم ترلاسه کېدای شي.

د «چشمۀ شبنم» په سریزه کې راغلي دي چې ښاغلي شادان څنګه او کله د لنډیو ژباړه پیل کړه، څنګه ده خپلې لیکلې او ژباړلې پاڼې له لاسه ورکړې، څنګه یې بېرته د لنډیو ژباړې ته مخه کړه چې حاصل د لنډیو او د هغو له موزونې هنري

ژباړې سره داسې یوه ټولګه ده چې د هنر او ښکلا ډېر ښه سمبول یې ګڼلی شو.
(چشمهٔ شبنم (مجموعهٔ لنډۍ های زبان پښتو)، مترجم: عبدالله شادان، انتشارات آن، هرات ـ افغانستان، سال: ۱۴۰۰ هـ ش)
دا لاندې د «چشمهٔ شبنم» د سریزې د یوه مخ عکس دی چې شادان صاحب د لنډیو د ژباړې د څرنګوالی او د خپل کار د موخې په باب په کې غږېدلی دی:


۸ چشمه‌ی شبنم

ترجمه‌ها با توفان حوادث روزگار به باد فنا رفت. سال‌های بعد، زمانی که دیگر با خانواده‌ام ناگزیر به ترک میهن و در بریتانیا مهاجر شدم فرهیخته‌ای مرا به یاد آن ترجمه‌ها انداخت. روزی از روزها با تنی چند از صاحبدلان در خانه‌ی زنده یاد داکتر عبدالاحمد جاوید بودیم. او ورق‌پاره‌ای را به من داد. در آن، سه یا چهار لنډۍ به فارسی برگردانده شده بود. پرسید که کار من بوده؟ گفتم نه! اما همین کاغذپاره مرا واداشت تا دوباره به فکر برگردان شماری از لنډۍها به شعر و یا برگردان آهنگین آنها به فارسی دری بیفتم. می‌خواستم مجموعه و یا گزینه‌ای از لنډۍها را به دست آرم تا بتوانم جُنگی از برگردان آنها فراهم سازم اما کار و تلاش برای تأمین معیشت، فرصت جست‌وجوی آن را نمی‌داد.

سرانجام، پس از گذشت بیش از یک‌ونیم دهه، دو دوست همکارم در دفتر بی‌بی‌سی دو مجموعه‌ی بزرگ لنډۍ را در اختیارم قرار دادند. یکی «پښتو لنډۍ» چاپ کابل و دیگری «روهی سندرې» چاپ پیشاور.

هر دو مجموعه حاوی حدود سی هزار لنډۍ‌اند. ازین شمار، شاید بیش از ۸۰ درصد لنډۍها در هر دو مجموعه همسان آمده‌اند؛ اما آنچه این دو جُنگ را از هم متمایز می‌سازد، املای آنهاست. «روهی سندری» که در پیشاور چاپ شده، املای اندکی متفاوت با املای «پښتو لنډۍ» چاپ کابل دارد.

من از میان این همه لنډۍ حدود پنجصد لنډۍ را به فارسی دری به شعر برگردانده‌ام. اگر فرصتی بود و زندگی بود، شاید به برگردان شمار بیشتری ازین دُردانه‌های احساس و عاطفه‌ی ادبیات‌مان سعی ورزم. اما امید من این است تا جوانان عاشقِ فرهنگ، این کار را ادامه دهند و در بنای پلِ نیرومند همدلی برای انتقال رساتر احساس و عاطفه و شور و حال یک بخش از مردم دیار پر غنای‌مان به بخش دیگری از هم‌میهنان سهم بگیرند.

دا يو عام اصل دی چي: «چېرې چي کار وي، هلته تېروتنه هم وي» د همدې اصل پر بنا د «چشمهٔ شبنم» په ټولګه کې، په تېره پښتو متن کې ځينې تېروتنې ترسترګو کېږي چي دلته يې د څو مثالونو يادونه کوم:

په ډېر ځايونو کې د لنډيو په بيا ليکنه کې تېروتنه شوې، داسې چي د ځينو لنډيو يوه هجا يا ورنه پاتې ده، يا يوه هجا وراضافه شوې ده. د لاندي لنډۍ په لومړي نيم بيتي کې يوه هجا ور زياته شوې ده (ښايي ټيپی تېروتنه وي) او د لنډۍ شکلي بڼه يې ور خرابه کړې ده:

**که** عاشقی وای جدايی نه وای
خدايه په در کی به دی څه کم شوی وونه (چشمهٔ شبنم، ۵۷ ام مخ)

بله ستونزه دا ده چي په کتاب کې رانقل شوو لنډيو کې په ځينو لنډيو کې پښتو توري نه دي کارول شوي او د هغو پر ځای يې راټولونکي او ژباړونکي د دري ژبې تلفظ ليکلی دی، لکه: «کړې» د «کرې» په بڼه راوړل شوی دی. دا لاندې يې يوه بېلګه ده:

«اول می زله، ذری ذری کری
هله ناری کلی چه مین دربا‌ندی يمه»

د دې لنډۍ اصل داسې دی:

اول مې زړه ذرې ـ ذرې کړې
هله نارې کړې چې مين درباندې يمه

د «چشمهٔ شبنم» د ټولګې کومې بېلګې چې زما په واک کې دي، له دې ښکارې چې ښاغلي عبدالله شادان له پښتو نه دري ژبې ته په ژباړه کې برلاسی دی، لنډی يې دېرې ښې ژباړلې دي او کله ـ کله يې موزونه ژباړه دومره خوندوره راغلې ده چې لوستونکی هڅوي چې د «چشمهٔ شبنم» کتاب ترلاسه او ټول ولولي. زه به يې د درې موزونې او خوندورې ژباړې څو بېلګې دلته کېږدم:

زما وروستي ديدار ته راشه
چې په ارمان خاورو ته لاړ نه شم ميينه

ژباړه:

برای واپسين ديدارم ای دلبر بيا پيشم
که با قلب پر از حسرت مرا در خاک نسپارند (چشمهٔ شبنم، ۳۹ ام مه)

*****

ستا د وصال باران و نشو
په نم د سترګو لندوم د زړه باغونه

ژباړه:

باران وصال تو نيامد
ـ سيراب کنم باغ دلم با نم چشمان (چشمهٔ شبنم، ۵۷ ام مخ)

*****

یا د ختن باد رااالوتی
یا عنبري زلفې جانان سپړلې دینه

ژباړه:

ــ یا که این سو می وزد بادِ ختن
یا که افشان کرده موی عنبرین جانان من
(چشمهٔ شبنم، ۷۵ ام مخ)

*****

یار مې په ګلو کې بیده دی
د سپینې خولې شبنم به زه پرې اوروومه

ژباړه:

ــ یار من بر بستر از گل فرو رفته به خواب
شبنمی از بوسه های خویش می بارم بر او
(چشمهٔ شبنم، ۹۱ ام مخ)

*****

په باغ کې مه ګرځه میینه
ګلان شرمبېږي مخ په پانو پټوینه

ژباړه:

ــ مکن گردش به باغ ای دلبر من

که می شرمند گل ها از تو و با برگها رخساره می پوشند
(چشمهٔ شبنم، ۹۴ ام مخ)

*****

په وربش لو کې دې خوله راکړه
په غنم لو کې به ګېډۍ درسره وړمه

ژباړه:

ـ به وقت جَودَرَو، یک بوسه ام دادی
گه گندم درو، پشتاره ها را با تو خواهم برد
(چشمهٔ شبنم، ۲۳۶ ام مخ)

*****

حسن دې شته، منکر ترې نه یم
دومره غرور وربانديې مه کړه تېر به شینه

ژباړه:

ـ هست زیبایی تو را، منکر نیم
آن قدر مغرور زیبایی مشو، خواهد گذشت (چشمهٔ شبنم، ۲۳ ام مخ)

*****

په صبر ـ صبر پوره نه شوه
سبا مې نيت دی بې صبری ته ملا تړمه

ژباړه:

ـ به صبر و صبر مقصودم نه شد حاصل
نيت کردم که بر بندم
په بې صبري کمر فردا (چشمهٔ شبنم، ۲۶ ام مه)

(چشمهٔ شبنم (مجموعهٔ لنډی های زبان پښتو)، مترجم: عبدالله شادان، انتشارات آن، هرات ـ افغانستان، سال: ۱۴۰۰ هـ ش)

د ښاغلي شادان د «چشمهٔ شبنم» کتاب کوم مخونه چې د بېلګې په ډول ما ترلاسه کړي دي، له هغو مخونو نه د لنډيو څو نورې بېلګې او ژباړې يې، د دې بحث د ښه پای لپاره دلته رانقلوم:

کټ مې پر لوړه غونډۍ کښېږدئ
چې د اشنا د ملک شمال راته راځينه

ژباړه:

بستر من بر بُلندای بلنديها نهيد
تا نسيم سرزمين يار من بر من وزد

*****

ځنې دې پرېوتې پر ورځو
پېکی دې سم کړه، پر زړګي دې وويشتمه

ژباړه:

موی تو افتاده روی ابروانت
راست کن دستار خود، بر قلب من خنجر زدی

*****

یار مې په زین کې راته کوږ شو
د پښو څوکې لګوم خوله ورکومه

ژباړه:

یارم از بالای زین خم کرده خود را سوی من
می شوم بالا به نوک پا و بوسش میدهم

*****

په صبر صبر پوره نه شوه
سبا مې نیت دی بې صبری ته ملا تړمه

ژباړه:

به صبر و صبر مقصودم نه شد حاصل
نیت کردم که بر بندم
په بې صبري کمر فردا (چشمهٔ شبنم، ۲۶ ام مه)

*****

حسن دی شته منکر تری نه یم
دومره غرور ورباندی مه کړه تیر به شینه

ژباړه:

هست زیبایی تو را، منکر نیم
آن قدر مغرور زیبایی مشو، خواهد گذشت (چشمۀ شبنم، ۲۳ ام مخ)

*****

او خو چې بل شي وروسته مړینه
زړه چی مین شی همیشه لمبی وهینه

ژباړه:

آتش چو فروزان شد، خاموش شود آخر
دل چون که شود عاشق پر شعله بو دایم (چشمۀ شبنم، ۲۳ ام مخ)

*****

په ما دی څه کړی دی خدایه
چې نور دی ګل کړه زه غوټی ولاړه یمه

ژباړه:

تو با من ای خدای من چه کردی
که کردی دیگران را گل، ولی من غنچه ماندم

*****

په وربش لو کی دی خوله راکړه
په غنم لو کی به ګیدی درسره وړمه

ژباړه:

به وقت جَودَرَو، یک بوسه ام دادی
گه گندم درو،
پشتاره ها را با تو خواهم برد (چشمهٔ شبنم، ۲۳۶ ام مخ)

*****

بنګړی می وو په لاس می نه کړل
په تش مړوند د آشنا غیږی ته ورځمه

ژباړه:

داشتم چوری، نه پوشیدم ولی
می روم بی دستبند آغوش یار (چشمهٔ شبنم، ۱۶۲ ام مخ)

*****

بنګړی نیم کته که نیم پورته
چه په خالی مړوند دی سر ولګومه

ژباړه:

نیمه چوری هات را بالا بکش نیمه فرو
تا که بگذارم سرم بر ساعد خال تو (چشمهٔ شبنم، ۱۶۲ ام مخ)

*****

آشنا سورګل د کوه طور دی
زه مرغلره د دریاب د غاړی یمه

ژباړه:

گل سرخی زه کوه طور یارم است
و من یک دانه مروارید غلتانِ لب دریا (چشمهٔ شبنم، ۱۳۲ ام مخ)

*****

آشنا ګلاب نه ګیله مه کړه
نازک اندامه همیشه بی وفا وینه

ژباړه:

یارمن، از گلاب گله مکن!
نارک اندام بی وفاست همیش (چشمهٔ شبنم، ۱۳۲ ام مخ)

*****

مسلمانی په چا کی نه شته
د لاس بنګړی می خرڅوی ژړا راځینه

ژباړه:

هیچ کس را نیست آیین مسلمانی دگر
می فروشد دستبندم گریه می آید مرا (چشمهٔ شبنم، ۱۱۰ ام مخ)

*****

په لیلا هرسړی مین دی
بخت د هغو دي چه لیلا شی پرې مینه

ژباړه:
همه کس عاشق لیلی ست ولی
بخت آن راست که لیلی بشود عاشق او (چشمهٔ شبنم، ۱۱۰ ام مخ)

*****

په باغ کی مه ګرځه مینه
ګلان شرمیږی مخ په پاڼي پټوینه

ژباړه:

مکن گردش به باغ ای دلبر من
که می شرمند گل ها از تو و با برگها رخساره می پوشند
(چشمهٔ شبنم، ۹۴ ام مخ)

*****

باغوانه ورشه باغ ستره کړه
سبا ورځمه د ګلابو سیل به کړمه

ژباړه:

برو ای باغبان پاکیزه کن باغ
که فردا میروم دیدار گل های گلاب انجا
(چشمهٔ شبنم، ۹۴ ام مخ)

*****

چی د زړګي مینه یی نه وي
مین یی مه کړې د ملا په تاویزونه

ژباړه:

ندار اگر عشقِ ناشی ز دل
نسازیدش عاشق به تعویز آخوند ها
(چشمهٔ شبنم، ۹۱ ام مخ)

*****

یار مې په ګلو کې بیده دی
دسپینی خولې شبنم به زه پرې ورومه

ژباړه:

یار من بر بستر از گل فرو رفته به خواب
شبنمی از بوسه های خویش می بارم بر او
(چشمهٔ شبنم، ۹۱ ام مخ)

*****

دنیمو شپو سندري خوند کا
څوک به مین وي څوک به ورک له ملکه وینه

ژباړه:

سرود نیمه شب ها لذت آرد
یکی عاشق بود آن دیگری دور از وطن نالد
(چشمهٔ شبنم، ۷۵ ام مخ)

*****

یا د ختن باد را الوتی
یا عنبری زلفی جانان سپړلی دینه

ژباړه:

یا که این سو می وزد بادِ ختن

یا که افشان کرده موی عنبرین جانان من (چشمهٔ شبنم، ۷۵ ام مخ)

*****

ستا د وصال باران ؤنشو
په نم د سترګو لندوم د زړه باغونه

ژباړه:

باران وصال تو نیامد
سیراب کنم باغ دلم با نم چشمان
(چشمهٔ شبنم، ۵۷ ام مخ)

*****

که عاشقی وای جدایی نه وای
خدایه په در کی به دی څه کم شوی وونه

ژباړه:

اگر عاشقی بود و هجران نبود
چه کم می شد از بار گاه تو پروردگار!
(چشمهٔ شبنم، ۵۷ ام مه)

*****

زما وروستي دیدارته راشه
چی په ارمان خاوروته لاړ نه شم مینه

ژباړه:

برای واپسین دیدارم ای دلبر بیا پیشم
که با قلب پر از حسرت مرا در خاک نسپارند
(چشمهٔ شبنم، ۳۹ ام مه)

*****

باده د یار حالونه راوړه
ظالمان شته دي ما ويار ته نه پرېږدينه

ژباړه:

بیار احوال یارم را تو ای باد!
که اینجا ظالمانند و مرا با یار نگذارند
(چشمهٔ شبنم، ۳۹ ام مه)

(چشمهٔ شبنم (مجموعهٔ لنډۍ های زبان پښتو)، مترجم: عبدالله شادان، انتشارات آن، هرات ـ افغانستان، سال: ۱۴۰۰ هـ ش)

## یوځل بیا «چشمهٔ شبنم»




په شملګی دې شوم غلطه
د بې ننګی نه دې زه څه خبره ومه

فریب شمله ات را خورده بودم
چی میدانستم از بې ننګیِ تو

*****

هره ګړۍ راته په یاد یې
د خدای دې هېره شم چې تا به هېرومه

## تويی در خاطرم هر ساعت و هر دم
## فراموشی خدا گردم، اگر گردی فراموشم

ما څه موده مخکې د لنډيو د يوې نوې ټولګې (چشمهٔ شبنم) په باب يوه تفصيلي مقاله وليکله او په ځينو ويبپاڼو کې مې خپره کړه. د يادې مقالې د ليکلو په لړ کې ما د لومړي لاس موادو ته اړتيا درلوده او په همدې بهانه مې له درانه فرهنګي عبدالله شادان د ټيليفون له لارې خبرې وشوې، عبدالله شادان په همدې ټولګه کې د پاملرنې وړ پښتو لنډۍ دري ژبې ته په استادانه او هنرمندانه ډول ژباړلې دي، له ده نه مې هيله وکړه چې که امکان ولري ما ته دې د «چشمهٔ شبنم» ټولګه راولېږي چې زه د کتاب مقدمې ولولم، د کار پر څرنګوالي باندې ځان پوه کړم او له هرڅه مهمه دا چې د کتاب له اصلي متن نه د يو څو ژباړل شوو لنډيو بېلګې په خپله خوښه راواخلم. ښاغلي شادان هم د کتاب د رالېږلو وعده وکړه؛ خو په انګلستان کې د کاربنديزونو په لړ کې د انګليس د پوست برخي کارکونکو د خپل کار بنديز په لړ کې يو شرط دا ايښی چې له ياد هېواد څخه بهر ته به پوست نه لېږدوي. لنډه دا چې په هغه وخت کې کتاب را ونرسېد او ما خپله مقاله (چشمهٔ شبنم، له موزوني دري ژباړې سره، د لنډيو نوې ټولګه) خپره کړه

نن (۲۰۲۳/۰۳/۲۹) مې چې پوستبکس خلاص کړ، که ګورم چې «چشمهٔ شبنم» ټولګه پکې پرته ده. زه له ښاغلي شادان څخه د زړه له تل نه مننه کوم چې خپله وعده يې پوره کړه او ما ته يې د «چشمهٔ شبنم» د ليدلو او لرلو وياړ را وبانبه.

ښاغلي شادان د کتاب په دويمه پاڼه کې د خپلې فرهنګي زحمت دا نسخه ما ته داسي ډالۍ کړې ده:

«اهدأ به جناب آصف بهاند اديب و ادب شناس و فرهنگي گرامی. عبدالله شادان، ۲۰۲۳/۰۱/۱۷ ، لندن»

دا دی په همدې بهانه به اوس زه تاسو درنو لوستونکو ته د کتاب له متن څخه د څو هغو ژباړل شوو لنډيو بېلګې وړاندې کړم چې ښاغلي

شادان په استادانه او هنرمندانه ډول داسي ژباړلي دي چي په ريښتيا سره يي د دواړو ژبو حق ورادا کړی دی:

هلکه ځانته غره نه شي
که ته چنار يې، زه د ګلو لښته يمه

ژباړه:

ای پسر مغرور جان خود مشو!
تو چنار استی اگر، من شاخه ی گل هاستم (۲۴۱ ام مخ)

*****

يووار مي ټينګه کړه په غېږ کي
بېګاه مي مړ په خوب ليدې، ليونی شومه

ژباړه:

تنگ بفشارم در آغوشت دمی
مرده ات ديدم به خواب دوش، ديوانه شدم (۲۳۸ ام مخ)

*****

په سره دوزخ کي دې ډېره شه
کور دي ايره شه زه دې اور ته ونيومه

ژباړه:

جايگاهت دوزخ سوزان شود
در فگندی ام به آتش، خانه خاکستر شوی (۲۲۰ ام مخ)

*****

په زړه به لويه تيږه کېږدم
جانانه تا له به يې ورورو صبرومه

ژباړه:

مي گذارم بر دلم سنگی بزرگ
از تو صبرش ميکنم جانان من!
آهسته ـ آهسته (۲۲۲ ام مخ)

*****

په شملګۍ دې شوم غلطه
د بې ننګۍ نه دې زه څه خبره ومه

ژباړه:

فریب شمله ات را خورده بودم
چی میدانستم از بی ننگیِ تو (۲۲۷ ام مخ)

*****

هره ګړۍ راته په یاد یې
د خدای دې هېره شم چې تا به هېرومه

ژباړه:

تویی در خاطرم هر ساعت و هر دم
فراموشی خدا گردم، اگر گردی فراموشم (۲۲۸ ام مخ)

*****

زړه دې ارام کړه مسافره
بوی مو د باد په لاس درواستاوه مینه

ژباړه:

ای مسافر قلب خود آرام کن!
من برایت بوی خود را میفرستم، دست باد (۲۳۲ ام مخ)

یادونه:

د «چشمهٔ شبنم» بشپړه پته دا ده:

چشمهٔ شبنم (مجموعهٔ لنډی های زبان پښتو)، مترجم: عبدالله شادان، انتشارات آن، هرات ـ افغانستان، سال: ۱۴۰۰ هـ ش)

# خدمتګاران په زندان کې

## قاتلین او خائنان په ګلستان کې

دا د رڼا او تیارې جګړه ده، د ښونځي جوړونکو او ښونځي سوزونکو تقابل دی. د قلملار ټولنې مشر مطیع الله ویسا باید په ګلستان کې وای، نه په زندان کې.



**«راځئ تعلیمي انقلاب راولو،**
**د هیواد د ټولو ستونزو د حل لاره یوازې تعلیم دی،**
**راځئ هر افغان ماشوم د ښوونځي خاوند کړو، ترڅو د**
**هیواد او ولس آینده وژغورو.»**

(مطیع‌الله ویسا)

د ۲۰۲۱ ام میلادي کال د اګست په نیمایي کې د یو سیاسي ـ نظامي بدلون په راتګ سره طالبانو د افغانستان واک تر لاسه کړ او خپلو موخو د رسېدو په غرض یې خپل پروګرامونه پیل کړل. د دوی له پرېکړو او پروګرامونو سره د افغانستان په هره څنډه کې او په بهر کې مخالفتونه او انتقادونه پیل شول، دوی د خلکو د خولو د پټولو لپاره پ ء هر انتقاد او غږ باندې، د شرعي قوانینو پرده وغوړوله او تر نن پورې خپلې پالیسۍ ته په پټه او ښکاره دوام ورکوي.

د تېر حکومت غله، قاتلین او هغه ښکاره مفسدین چې ټوله نړۍ کې یې خیانتونه ښکاره او ثبت دي، په درناوي سره آزاد کړل؛ خو تیټ پوړي افراد لکه عادی سرتېري او صاحبمنصبان او هغه مدنی فعالان چې نه له سیاست سره کار لري او نه له نظاني چارو سره، نیسي، شکنجه کوي یې او له نامالوم برخلیک سره یې مخ کوي.

نن (۲۰۲۳/۰۳/۲۸) میډیا خبر ورکوي چې د تعلیم د برخې سرسپارلی سرتېری او قهرمان، د قلملار ټولنې مشر مطیع الله ویسا یې توقیف کړی دی.

تاند نن ولیکل چې: «طالبانو د ښوونیزو هڅو مخکښ فعال مطیع الله ویسا نیولی»

په دې هکله د تاند په رپوټ داسې راغلي دي:

« تاند:( سې شنبه، د حمل ۸ ) راپورونه وايي، چې د طالبانو د رژیم ځواکونو د افغانستان د تعلیمي هڅو یو مخکښ فعال مطیع الله ویسا نیولی.

د ځينو سرچينو د معلوماتو له مخې، ښاغلی ويسا د دوشنبې په ورځ کابل کې نيول شوی.

ويسا د کندهار اوسيدونکی دی، چې له ډېرو کلونو راهيسې يې د قلم لار په نوم يوه ټولنه جوړه کړې او د ښوونيزو هڅو د پراختيا لپاره مبارزه کوي.

هغه د طالبانو له بيا واکمنيدو مخکې هم دغه هڅې ترسره کولې او زيات تمرکز يې د نا امنۍ له امله له ښوونيزو فعاليتونو پر محرومو سيمو و.

ويسا په وروستيو کې د افغانستان له ډېرو کليوالو سيمو، چې طالبان او بهرني پلويان يې پکې د نجونو له زده کړو سره د ولسي مخالفت ادعاوې کوي، د خلکو غږ منعکسوه، چې د نجونو د ټولو ښوونځيو بيرته پرانيستل يې غوښتل.

په ټولنيزو رسنيو کې ډېرو افغانانو د نوموړي نيونه او د طالبانو ورته داسې عملونه غندلي.

دا په داسې حال کې ده، چې اوږمه ورځ د کابل په لويديز کې طالبانو د نجونو د زده کړو د بيرته پيل په ننګه د ښځو د يوه ځپل شوي لاريون ۳ فعالانې هم نيولې وې او د نړيوالو فشارونو له امله يې پرون بيرته خوشې کړې.»

دغه راز د بي بي سي پښتو په يوه تازه رپوټ کې د مطيع الله ويسا د نيولو

په باب داسې راغلي دي:

«طالبانو د زدکړو برخې فعال او د 'قلم لار' ټولنې مشر مطيع الله ويسا کابل کې نيولی

په افغانستان کې د طالبانو حکومت امنيتي ادارو د ښوونې د برخې د يوه فعال بنسټ 'قلم لار' مشر مطيع الله ويسا په کابل کې نيولی او نامالوم ځای ته وړی دی.

مطيع الله ويسا چې د جمهوريت له مهاله د افغانستان په ګڼو ولايتونو کې د نړليو ښوونځيو د پرانيستو، د زدکړو په برخه کې د عامې پوهاوي د‌پړېدو او پر اړمنو کسانو د کتابونو او ليک لوست اړوند توکو د وېشلو برخو کې فعال و، په افغانستان کې د طالبانو له واکمنېدو وروسته د نجونو د نړليو ښوونځيو د بېرته پرانيستو لپاره هم مدني فعاليت کاوه.

د ښاغلي ويسا ورور عطاالله ويسا چې دی هم د قلم لار مدني ټولنې يو فعال دی، بي بي سي ته وويل، ورور يې د طالبانو حکومت امنيتي کسانو د کابل ښار له پنځمې امنيتي حوزې له ځان سره بېولی، خو د ځايځايګي او نيول کېدو د لامل په اړه يې چا دوی ته مالومات نه دي ور کړي.

په افغانستان کې د طالبانو حکومت امنيتي ادارو بي بي سي ته منلې چې مطيع الله ويسا يې دوشنبه ناوخته له کابل ښاره له ځان سره وړی، خو په دې اړه يې نور جزيات نه دي ور کړي.

افغانستان کې په کور دننه او بهر د خواله رسنيو ګڼو کارنو د ښاغلي ويسا د ژر خوشې کېدو غږ پورته کړی دی.

په دې لړ کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي رپوټر ريچارډ بېنټ هم پر خپل ټويټر ليکلي چې د مطيع الله ويسا نيول کېدو هېښ کړی دي.

ښاغلي ببېنېت زيات کړې چې د قلم لار تولنې مشر خونديتوب تر هر څه مهم دی او دا چې د ټولو قانوني حقونو درناوی يې بايد وشي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور پښتين هم د ښاغلي ويسا د نيول کېدو د يادونې ترڅنګ پر خپل ټويټر ليکلي چې "يوه اونۍ وړاندې په هلمند کې د بشري حقونو فعال نورايل کليوال ونيول شو او لا هم په بند کې دی. دا ډول خپلسرې نيونې بايد ودرول شي."

ښاغلي ويسا د افغانستان د ګڼو ولايتونو لرې پرتو سيمو ته له خپلو داوطلبو ملګرو سره يو ځای سفرونه کول او ځايي خلکو ته يې د تعليم د اړتيا او نورو بنسټيزو حقونو په برخه کې عامه پوهاوی ور کاوه...»

ټول ولس او ټولو نړيوالو ته مالومه ده چې د مطيع الله ويسا د فعاليتونو موخه څه ده. ده يو ځل په ډېرو لنډو جملو کې خپل هدف داسې ځرګند کړی و:

**«راځئ تعليمي انقلاب راولو،**
**د هيواد د ټولو ستونزو د حل لاره يوازی تعليم دی،**
**راځئ هر افغان ماشوم د ښوونځي خاوند کړو، ترڅو د هيواد او ولس آينده وژغورو.»**

کتاب ويشل، د کتابتونونو جوړول، د ښوونځي زدکوونکو ته د قرطاسيه او بکسې رسول، هغو ته د زدکړو زمينه برابرول او تر ټولو ستر ارمان دا چې د ټول افغانستان باسواده کېدل، د دې کارونو کوم ځای منفي اړخ او منفي پاينټ لري چې دی زندان ته لېږل کېږي؟




د مطیع الله ویسا نیول او نامالوم ځای ته یې وړل دا ثابتوي چې دلته پوهې، تعلیم، کار او پرمختګ سره هېڅ لېوالتیا نه شته.

افغان فزیکپوه او د ښوونې روزنې د نهضت کلک پلوي او عملي کار کونکی استاد محمد تنها د ویسا ورونو د فعالیتونو په باب پخوا داسې لیکلي وو:

«د مطیع الله ویسا او اُستاد صابر حسیني دې په ډېرو هغو پوهاندانو، پروفیسورانو، ډاکټرانو، انجینیرانو، جنرالانو چارواکو او زورواکو بلاګې ګرده ورده وګرځي چې یواځې د خپلو شخصي ګټو لپاره هرڅه ته بېځایه هوا ورکوئ او بیا ځان هم په خلکو واجب الاحترام بولي.
رب دې ویساګان او حُسینیان په دې خاوره ډېر کړي. آمین»

ما پخوا تر دې هم د قلملار ټولنې، د دې ټولنې د مشر مطیع الله ویسا او د ده د فعالیتونو په باب ګڼې مقالې لیکلې او خپرې

کړې دي، مینوال کولای شي په لاندې پتو کې یادې مقالې ولولي:

بهاند آصف، د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه، خپرونکی: افغان جرمن پورتال، ۲۰۱۹ کال، ۱۶۸ ــ ۱۹۰ مخونه.
کتاب په لاندې لینک کې ترلاسه کېدای شي:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_de_talim_dewa_ketab6.pdf

بهاند آصف، ژوندي یادونه، لومړی توک، خپرونکی: افغان جرمن پورتال، ۰۲۰ ام عیسوي کا ل، ۲۵۳ ــ ۲۸۶ مخونه.

کتاب په لاندې لینک کې ترلاسه کېدای شي:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_zwandy_yadoona_ketab11.pdf

دا خبره ما تل کړې ده او اوس یې بیا تکراروم:

زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنی زماني له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!

د معارف په برخه کې د مطیع الله ویسا او د قلملار تولني د فعالیتونو یوه موخه هم همدغه پاسني اصل ته کار کول دي او دا د نوي نسل په روزلو او د وطن په ابادی کې هغه بنستیز

عمل دی چې مطیع الله ویسا تل کار ورته کړی دی، دی نو اوس د څه په وجه توقیف او زندان ته لېږدول کېږي؟

د بي بي سي په پاسني یاد رپوټ کې د مطیع الله ویسا لنډه پېژندنه راوړل شوې او د ځینو مدني فرهنګي فعالیتونو یادونه یې شوې ده چې زه یې دلته رااخلم:

«مطیع الله ویسا څومره پېژنئ؟



مطیع الله ویسا شاوخوا ۳۰ کاله وړاندې د کندهار په معروف ولسوالۍ کې د یوه ښوونکي په کور کې زیږېدلی.

نوموړي په کوچنیوالي کې تر هغې وروسته چې ښوونځی یې په کورنیو جګړو کې سوځېدلی، پتېیلې وه چې د ماشومانو د زدکړو حق لپاره به مبارزه کوي.

هغه او ملګرو یې تر اوسه په لېرې پرتو سیمو کې ۵۲ تړل شوي ښوونځي بېرته پرانیستي او ۱۸ کتابتونونه یې جوړ کړي دي.

هغه همدارنګه د افغانستان په لېرې پرتو کليو او بانډو کې د لويانو د باسواده کېدو او ليک لوست لپاره د موټر سايکل ګرځنده کتابتون هم جوړ کړی و چې د کتاب لوست د دود عامونې ترڅنګ يې ځايي خلکو ته د زدکړو برخه کې عامه پوهاوی هم ور کاوه.

مطيع الله ويسا به د افغانستان لېرې پرتو سيمو کې د ښوونيز کمپاين پر مهال د هغه ځای له مشرانو سره د زدکړو د اهميت په تړاو خبرې کولې.

هغه به همدا راز ماشومان، په ځانګړي ډول نجونې راټولولې، کتابونه او د ليک لوست نور اړين توکي به يې پرې وېشل او په پای کې به يې د هغوی د هڅونې لپاره پخپله کتاب هم ورته لوست.

د قلم لار ټولنې له ۲۰۰۹ کاله تر دا وروستيو د افغانستان په لېرې پرتو سيمو کې پر ماشومانو او لويانو ۱۳۰ زره راټول کړي د بېلابېلې محتوا لرونکي کتابونه وېشلي او په کندهار او اروزګان ولايتونو کې يې د کمپيوټر زدکړې درې مرکزونه هم جوړ کړي دي.

د دغې ټولنې مشر مطيع الله ويسا چې اوس د طالبانو حکومت له خوا په نيول شوی، پر افغانستان د طالبانو له بيا ځل واکمنېدو وروسته د افغانستان د ۲۰ ولايتونو بېلابېلو ولسواليو ته ښوونيز کمپاين لپاره سفرونه کړي دي.»



د مطیع الله ویسا په نیولو سره، د افغانستان روناندي او په خبره پوه خلک سخت خوابدي شول او دا کار يې نه يوازې وغانده، بلکې د علمي او رغنده پيامونو په خپرولو سره يې د مطیع الله ویسا د ژر ازادولو غوښتنه وکړه.

دلته به د فرهنګيانو او قلموالو د غبرګون دوې بېلګې راواخلم:

فضل حق صفي:

«دا مطيع الله ویسا صاحب نوميږي!
دومره صادقه ، مؤمن خدای راستکاره او زړه سوانده او د یوه پاچاهي سړی دی چی توبه ، په مجلس یی ولاکه څوک موړ سی ، دومره د شه فکر ،شه استعداد او د وطني مینی او احساس خاوند دی چی ټول ملت شاهد دی.
د یوه نخود قدر یی هیچاته تکلیف نه دی رسولی بغیر له خیر څخه ، اما خپله یی ډیر تکلیفونه زحمتونه خواری لیدلی دی ، زړه یی له یو عالم ګیلو ډک دی . چی څومره دردونه په زړه کې لری ، له نږدی ورڅخه پوښتنه وکړي بيا دده احساس پوه

، استعداد نوبت درته معلومیږی . فقط دومره ګناهکاره دی چې خپل زوریدلی ولس ته د علم او پوهې په رڼا کی عامه پوهاوی او د دوی اسلامی ، انسانی ،بشري ژوند حقوق ترلاسه کولو په خاطر د قلم لار سرلاری وو او د ورسته پاتې ټولنوو د تعلیم او پوهی ظرفیت لوړولو په خاطر او الهی ورکړی ، وطنی مینی او ماشومتوب کی دده د مکتب د دروازو د اور هغه ترخه تجربه چی د لیدلی ده ، د احساس له مخې دا هغه څه دی چی نوموړي دی ته لیواله کړ ترڅو په اینده کی د دا ډول ظلم مخه ونیول سی، دا څوارلس کاله مبارزه وکړله ترڅو هر فرد نارینه او ښځینه د علم او پوهی څخه برخمن کړی.
ددی الهې خدمتګار او دالله تعالی د رضا په خاطر کړی خدمتونو په نتیجه کی نن دادی دوهمه ورځ ده په یو نامعلوم برخلیک اخته دې.
الهی!
ته یې ساتندویه او مددګار شی
ته یې روغ رمټ خپل کور ته، سلامت راولی
آمین

#releasematiullahwesasoon
#matiullahwesa

اجمل تورمان:

«مطیع الله ویسا له نیږدي یوې نیمې لسیزې راهیسې د علم او پوهې د خپرولو په برخه کې کار کوي٠
د هغه په هڅو ډیری ماشومان مکتبیان شول او لیک، لوست یې زده کړ، په ځانګړي ډول په پښتنو سیمو کې یې د کار اغیز ډیر محسوس دی٠

ویسا دې خوشې شي، هغه سره ټوپک نشته، قلم یې په لاس کې دی!»

د افغانستان د قلموالو او مدني فعالانو تر څنګ، د ملګرو ملتونو دفتر یوناما هم له طالبانو غوښتي دي چې د هغه د نیولو دلیل او د ساتلو ځای معلوم کړي. یوناما په خپل وروستي پیام کې ویلي دی چې:

«یوناما له واکمنو غواړي چې د هغه ځای ځایګی مالوم کړي، د نېولو دلیل یې په ډاګه کړي او دا ډاډمنه کړي چې کورنۍ سره اړیکه او قانوني وکیل ته لاسرسی ولري.»



ریښتیني قهرمانان هغه نه دي چې په ژوند او مړینې یې خلک زوروليې، په تیارو کې یې ساتلي او په قبرونو یې پنځه سوه میلیونه ډلره مصرف شوي وي؛ ریښتینی قهرمان عطا الله ویسا

دی چې په خپل لګښت يې د وطن د نوي نسل د روزلو لپاره دومره کارونه ترسره کړي دي چې په ليکلو او ثبتولو يې قلم او ليکوال ستړی کېږي.

مطيع الله ويسا د خلکو پوهول، د نوي نسل روزل او د افغانستان ابادول غواړي. دا په سپېرو خاورو کې مطيع الله ويسا ته ناست کوچنيان يې د کورنی غړي نه، بلکې د افغانستان راتلونکې ده چې دی غواړي باسواده او تعليم يافته شي. مطيع الله ويسا د رڼا او تبارې د جګړې هغه سرتيری دی چې کوراکو رڼا خپروي د ده ځای زندان نه، بلکې د ښوونځيو او پو هنتونون ټولګي او کتابتونونه دي.

**لطفاً مطيع الله ويسا ازاد کړئ،**
**پرېږدئ چې هغه خپل وطني**
**او انساني مسؤليتونه**
**ترسره کړي!**

# د مطيع‌الله ويسا د بند کيسه اوږده شوه

## (د خلکو راتلونکې په تيارو کې که په رڼا کې؟)



«راځئ تعليمي انقلاب راولو،
د هيواد د ټولو ستونزو د حل لاره يوازې تعليم دی،
راځئ هر افغان ماشوم د ښوونځي خاوند کړو، ترڅو د
هيواد او ولس آينده وژغورو.»

(مطيع الله ويسا)

د مطیع الله ویسا د توقیف موده نږدې پنځوس ورځو ته ورسېده، خو تر اوسه يې نه د بندیخاني محل مالوم دی او نه يې کورنۍ له حاله خبره ده. د ده کورنۍ وايي، دوی لا هم نه دي پرېښودل شوي چې له هغه سره مخامخ وګوري.

په افغانستان کې د معارف د عامېدو د ډګر ترټولو فعال شخصیت مطیع‌الله ویسا د روان ۲۰۲۳ ام کال د مارچ په اته‌ویشتمه (۲۸مه) د نامالوم دلیل له مخې د طالبانو له خوا ونیول شو او تر اوسه يې نه ګناه معلومه شوې او نه برخلیک؛ د همدې دلیل پر بنا د ده کورنۍ او یو شمېر فرهنګیان حق لري چې ووايي:

**د مطیع‌الله ویسا د بند کیسه اوږده شوه، ده د ټولو ښوونځیو د پرانستلو لپاره هلېځلې کولې، خو واکدارانو د زندان تیارو ته ولېږه.**

ځیني خلک داسې فکر کوي چې د افغانستان خلک نا شکره او ناسپاسه دي او هرڅه ژر هېروي او د همدې هېرولو د پالیسۍ په دایره کې د مطیع‌الله ویسا د زنداني کېدو قضیه هم د خلکو هېره شوې ده، خو زه داسې فکر کوم چې خبره به دغسې نه وي، د عامو خلکو څه له لاسه کېږي، که څه ووايي او خپل نظر څرګند کړي، ښايي په خوله ووهل شي، خو کوردننه او بهر شته داسې خلک چې مطیع‌الله ویسا یې نه دی هېر، د هغه د خلاصون له پاره يې غږ جګ کړی دی او خپل نظریات يې څرګند کړي دي، خو له بدشامته چې نوي واکداران په خپل دریځ او پالیسۍ باندې کلک ولاړ دي، نه د خپلو مني او نه هم د پردیو څه اوري.

زه به دلته د څو تنو نظریات راواخلم چې د مطیع‌الله ویسا تر زنداني کېدو وروسته یې د هغه د ازادولو غږ اوچت کړی دی:

عصمت قانع:

«وه د بند اوزندان کوتوالیانو
فرض او حقه روژه ده زه د الله ګناه ګار بنده او د اخرالزمان خطاکار امتي په ټول اخلاص درته وایم چې پر دغه مطیع الله باندي والله که د انصاف په دوربین کې هیڅ هم ثابت کړي نو چې بیګناه دی ولي ځانونه ګناهګاروئ
ژر یې راخلاص کړئ دمعاندینو او مغرضینو خولې به هم بندي شي او الله ته به هم په سپین مخ ودریږئ»

یوناما او د ټولنیزو رسنیو ګڼ کاروونکي:

«د مطیع الله ویسا کورنۍ: طالبانو زمونږ په کور چاپه اچولې د قلم لار ټولنې مشر مطیع الله ویسا کورنۍ ادعا کوي او وایي، طالبانو یې پر کور چاپه اچولې او دوی یې ګواښلي دي.

وروسته تر هغه چې تېره ورځ په کابل کې د قلم لار ټولنې مشر مطیع الله ویسا د طالبانو د استخباراتو لخوا ونیول شو، د نومړي د کورنۍ غړي وایي، طالبانو نن غرمه په خوشحال خان مېنه کې د دوی پر کور چاپه اچولې ګرځنده ټلیفون، کاغذونه او یو شمېر اسناد یې له ځان سره وړي دي.

د ویسا کورنۍ وایي، طالبانو ګواښلي چې له رسنیو سره خبري ونه کړي.

طالبانو تر اوسه نه دي ويلي چې مطيع الله ويسا يې ولې بندي کړی دی.

په عين وخت کې د طالبانو لخوا د مطيع‌الله ويسا نيول کېدو پراخ غبرګونونه راپارولي دي .

**د يوناما په شمول د ټولنيزو رسنيو ګڼو کاروونکو د طالبانو دا کار غندلی او د هغه د ژر خوشې کېدو غوښتنه يې کړې.**

مطيع الله ويسا د تېرو ۱۴ کلونو راهيسې د افغانستان په لرې پرتو سيمو کې د ماشومانو د زده کړو لپاره هڅې کوي.»

د اروپايي ټولنې ځانګړی استازی توماس نيکلاسن:

«د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي توماس نيکلاسن نن په خپله ټويټرپاڼه ليکلي، د طالبانو لهخوا د مطيع‌الله ويسا نيول کېدو سخت اندېښمن کړی دی.
هغه زياته کړې: "ښاغلی ويسا له ۲۰۰۹ کال راهيسې په ټول هېواد کې د افغان هلکانو او نجونو زدکړو ته د لاسرسي لپاره کار کوي."

**توماس نيکلاسن له طالبانو غوښتي چې مطيع‌الله ويسا خوشې کړي.»**

د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکونکي ريچارډ بېنيټ:

«د افغانستان د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکونکي ريچارډ بېنيټ هم ويلي، د مطيع‌الله ويسا نيول کېدو اندېښمن کړی.

بېنیټ زیاته کړي، **د هغه خوندیتوب مهم دی او ټولو قانوني حقونو ته یې باید درناوی وشي.»**

د ښځني نړېوالي ټولنه:

«د ښځني نړېوالي ټولنې پر ټویټر یوه بیان کې یو ځل بیا غږ کړی چې د زدکړې فعال مطیع الله ویسا دې سملاسي خوشې کړل شي.»

د بشري حقونو ټلواله:

«د بشري حقونو ټلوالې پر طالبانو د مطیع الله ویسا په ګډون د نیول شویو ټولو فعالانو خوشې کولو غږ کړی.»

مطیع‌الله نه کوم سیاسي کار کاوه. نه مسلح و او نه یې وسلوال درلودل چې د هغه په ونج کې ونیول شي؛ مطیع‌الله ویسا د افغانستان د راتلونکو نسلو د علمي او مدرني روزنې لپاره زمینه مساعدوله، د نجونو او هلکانو د ټرلو ښوونځیو د بیا فعاله کېدو لپاره یې له خلکو سره مشورې کولې او هغوی ته یې د زدکړې او تعلیم ګټې او لارې چارې ورښودلې.

مطیع‌الله ویسا د معارف د عامولو انساني عمل ـ چې د ټولو اسلامي او انساني اصول سره برابر و ـ د پوره کېدو لپاره د افغانستان د ټولو ولایتونو هغو سیمو ته ورته چې ښوونځې یې ټړلي وو او دا کار ده ټول په خپل شخصي مصرف کاوه، پلی به روان و، بایسکل ـ موټرسایکل او موټر یې په خپل شخصي مصرف برابرول او د زدکونکو او خلکو لیدلو ته به ورته، خبرې یې ورسره کولې او د علم ډیوې یې په لاس ورکولې.

اوس که په عاجزانه ډول پوښتنه داسې وشي چې:

**مطیع‌الله ویسا د کوم تور په جرم د زندان تیارو ته لېږل شوی دی؟**

ځواب به څه وي؟

د مطیع‌الله ویسا توقیف او ده ته ورته کسانو نیول ـ شکنجه کول او یا فزیکي له منځه وړل، نه یوازې دا چې یو غیر انساني او غیر اسلامي کار دی، بلکې د افغانستان نوي واکداران خپلې پښې خپله په تبر وهي او د خپل نظام د نابودۍ زمینه برابروي. زما هیله دا ده چې دوی له ټولو خلکو سره، په تېره له فرهنګیانو او اهل معارف سره خپله رویه بدله کړي او هغوی ته د زدکړو د زمینه برابره کړي. زما جدي غوښتنه دا ده چې مطیع‌الله ویسا ژرترژره خوشې کړای شي چې له خپلې کورنۍ سره یو ځای شي او د وطن د نوي نسل د روزلو کار ته دوام ورکړي. په دې کې د هر چا ګټه ده.

# د عبيدالله درويش دُراني

## اوياىمه کليزه دې بختوره وي!



دا چې ځړېږي مخامخ درته په دار سرونه
په دې وطن کې به همدغه وو د کار سرونه

وېږي يې هسې هم غاصب همېشه وېږي په زوره
کشکې دا ځل زموږ غنم وکړي د مار سرونه

(درويش دُراني)

نن د پښتو ادب د مطرح شاعر او لیکوال عبیدالله درویش دُراني اویایمه کلیزه ده. همدا ورځ د ده د هنر، شعر او ترسره کړو فرهنګي خدمتونو ته د درناوي لپاره ځانګړې شوې ده.

دا ورځ دې بختوره وي. د اوسني ځوان نسل په منځ کې د درویش صاحب شعر او فکر ځانګړي دریځ او خپل تاثیر لري.

ښاغلي درویش دراني ته ښه روغتیا، اوږد عمر او د فرهنګي کارونو د ترسره کولو لپاره نوره حوصله او بریا غواړم. له هغه چا نه هم مننه کوم چې د درویش دراني د اویایمې کلیزې ورځ یې د دوریش دراني د ورځې په نامه یاده کړه، څو ټول قلموال وکولای شي چې د دې حقداره فرهنګي شخصیت د ترسره کړو کارونو او خدمتونو یادونه او درناوی وکړي. دا دود باید نور هم پیاوړی او عام شي چې موږ د خپلو علمي ــ فرهنګي شخصیتونو درناوی په ژوندینې وکړو.

له ښاغلي عبیدالله درویش دراني څخه مننه او خوښنه چې د خلکو په پوهولو او راویښولو کې یې ډېر زحمت ګاللی دی، دا نسل او راتلونکي نسلونه به یې دا خدمت هېر نه کړي.

دلته به د ښاغلي درویش دراني د بختورې کلیزې د درناوي په پار د ښاغلي نقیب‌الله لارمل یوه لنډه لیکنه راواخلم چې په فیسبوک کې یې د دراني صاحب د کلیزې په پار خپره کړې ده:

«عبید الله چې پهٔ ادبي کړیو کې د درویش دوراني پهٔ نامه یادیږي، د سویلي پښتونخوا پهٔ کوټه ښار کې د ۱۹۵۳ م کال پهٔ شاوخوا کې وزیږېد. لومړنی او لوړې زده کړې یې پهٔ

خپله سيمه کې کړې او د کوټې لهٔ بلوچستان اکاډمۍ نه يې پهٔ انګليسي ادبياتو کې ايم اې کړې ده. دی اوس د همدې پوهنتون د ادبياتو استاذ هم دی.

درويش دورانی د پښتو د تېرو دوه نيمو لسيزو نماينده شاعر دی، چې د لر و برو پښتنو د چاپيريال او فکر پلوشې يې پهٔ شعر کې د اوچتو خيالونو او ژور عاطفي تړون پهٔ بڼه ځرګندې دي.

درويش تر نورو شاعرانو د پښتو پهٔ ساډوبي حال ډېر غمجن دی:

**دا چې ځرېبږي مخامخ درته پهٔ دار سرونه**
**پهٔ دې وطن کې به همدغه وو د کار سرونه**

**وړي يې هسې هم غاصب همېشه وړي پهٔ زوره**
**کشکې دا ځل زموږ غنم وکړي د مار سرونه**

نن د مې ۴مه د دې عظيم او ستر شاعر ښاغلي درويش دراني د زوکړې ۷۰ مه کليزه ده. دغه ورځ د درويش صيب ژوند، هنر، شعر او خدمت ته ځانګړې شوې ده.

د پښتنو دغه عظيم شخصيت ته دې رب ج اوږد، خوشحاله او د خير عمر ورکړي!

چا به هسې ويل يار لره دې بيايم
زهٔ درويش به پهٔ رښتيا پسې روان شوم

---

تهٔ طرفدار د تاريکۍ زهٔ ارمانجن د رڼا
ملګريه! درومه ستا جلا زما جلا لاره ده

---

با وجود د دې چې تاته لاره نۀ وه
ما لۀ بل چا سره لاره جوړه نۀ کړه

---

زړۀ مې درد کوي لۀ زړۀ وریسې ژاړم
دښمنان چې مې وي ، مړۀ وریسې ژاړم

---

بېلتانۀ دې د هر چا پۀ غم شریک کړم
یار د بل درومي او زۀ وریسې ژاړم

---

لیک د یار راغلی دی درویش ته دی یې نۀ لولي
وجه یې دا ښیي چې لیکلی پۀ پښتو نۀ دی

---

بیا پۀ جنګ ښکاري هوا او خراغونه
خدایه و ساتې رڼا او خراغونه

یه مرګبه، ماشومان مې راته خاندي
سره پرېږده خو شپې ما او خراغونه

خپل مخونه ستا د مخ پۀ رڼا مینځي
لمر، سپوږمۍ، ستوري، برېښنا او خراغونه

پۀ دې نور پسې سپېڅلو خلکو مه ځئ
یو ځای شوي دي بلا او خراغونه

د وطن پۀ هدیرو کې وي درویشه
هره شپه نری ژړا او خراغونه

# په اوسني فرهنګي بهير کې

## د استاد عبيدالله درويش دُراني دريځ




زړه مې درد کوي، لهٔ زړهٔ ورپسې ژاړم
دښمنان چې مې وي مړهٔ، ورپسې ژاړم

بيلتانهٔ دې د هر چا په غم شريک کړم
يار د بل دروميې او زهٔ ورپسې ژاړم

دا ځل خبره او بحث پر ژونديو دی، پر داسې ژوندي چې ډېر خلک په ځان پسې وربولي او د اشعارو پيام او رڼا يې داسې کشش لري چې ډېر خلک ورپسې روان دي، دی په رېښتيا سره درويش دی او لکه رحمان بابا قلندر مشربه او په ساده کلام سره د زړونو خبرې کوي، انساني مينه ـ عاطفه ويشي او له نورو سره د هغوی په غمونو کې ځان شريکوي. اوسنی بحث مو د پښتو ژبې پر معاصر شاعر استاد عبيدالله درويش دراني باندې دی. دی د انساني عاطفې مبلغ او په ساده کلام سره د مينې استازی او لارښونکی دی.

درويش دُراني ته هر لقب او نوم چې ورکول کېږي، هغه د دې په وجه دی چې ده لوی او اړين انساني افکار د ساده کلام په قالب کې خپلو لوستونکو او مخاطبينو ته وړاندې کړي دي. د همدې هنر له برکته، درويش ته د اوسنيو پښتنو شاعرانو په لومړي صف کې ځای او دريځ ورکړل شوی دی.

دا د انساني عاطفې وروستی حد دی، د درويش صاحب په دې دوو بيتونو کې انساني عاطفه او درد داسې انځور شوی دی:

زړۀ مې درد کوي، لۀ زړۀ ورپسې ژاړم
دښمنـان چې مې وي مـړۀ، ورپسې ژاړم

بـېلتانـۀ دې د هر چا پۀ غـم شريک کړم
يــار د بــل دروميـي او زۀ ورپسـې ژاړم

درويش په نرمه ژبه خپلو مخاطبينو ته د نويو انځورونو په چوکاټ کې داسې څه په مخکې اېښي دي، چې هر کلمه او هر بيت يې په ټولنه کې د شته واقعيتونو څرګندوی ګڼل

کېږي. د درویش دراني په اشعارو کې مینه، امید، د نرم مزاجی په چوکاټ کې د شعري موسیقیت په وزرونو الوت کړی دی او له انسان سره د مینې درس په کې ورکول کېږي. درویش د یوې جګړه ځپلې ټولنې په منځ کې د عدم تشدد کچکول غاړې ته اچولی دی، د جګړې پر ضد یې احتجاج کړی دی او انسانان د سولې دایرې ته وربولي:

لمن مې ډکه ده لهٔ کانو خو څوک نهٔ پرې ولم
پهٔ عادتونو کې دا یو عادت د غـرهٔ لـرم زهٔ

ښاغلي نور سعید د درویش دُراني د شخصیت او اثارو په باب داسې لیکلي دي:

«د درویش دراني د شعر روانه او بې تکلفه ژبه، د ده په نثر او نظم کې له وطن او ولس سره درد او خواخوږی ډک احساس د دې لامل شوي، چې نژدې هر لوستی پښتون یې تر څه نه څه حده له اثارو سره اشنا شي او سندرغاړي یې شعرونه زمزمه کړي...»

درویش دُراني په خپل شعر کې د ژوند په باب خبرې کوي، انسانیت ته ډېر ارزښت قایل دی او تبلیغ ورته کوي، وطني او تاریخي مسایلو ته په کې ځای ورکوي، د خپلو ټولو لیکنو او تخلیقاتو په ترڅ کې په ساده ژبه په نرمی سره د پورتنیو یاد مسایلو په باب خپلو لوستونکو او مخاطبینو ته په مهارت سره ذهنیت ورکوي.

## د درویش دُراني بیوګرافي:

د دورویش دُراني د بیوګرافی په باب ډېر لږ څه زما له نظره تېر شوي دی، خو په ویکیپېډیا کې یو څه خبرې پرې شوې

دي، هلته د درویش دُراني د پېژندنې په باب داسې راغلي دي:

«درویش درانی

درویش درانی (په انګرېزي: Darwesh Duranai) چې دا مهال د بلوچستان ايالت په مرکز کوټه کې ژوند کوي، په اصل کې د کندهار د ګلستان د سيمې دی.

مخينه

درويش درانی که څه هم په سهيلي پښتونخوا کې زېږېدلی دی، خو په اصل کې د افغانستان د کندهار ولايت د ارغستان ولسوالۍ څخه يې کورنۍ هلته کډه شوې او همهلته اوسېدلې ده.

درويش درانی يو له هغو شاعرانو څخه دی چې د افغانستان وروستۍ غميزه يې په پوره هنر سره انځور کړې ده.

زده کړې

درويش درانی چې په انګليسي ژبه کې ماسټري لري، په پښتو ژبه کې يې ستوري په لمن کې، په کاڼي کې هنداره او هوا او ښراغونه مشهورې شعري ټولګې دي. د شعر تر څنګ يې د پښتو شعر د عروض په باب هم کتاب چاپ کړی دی.

کورنی ژوند

ډاکټر عبدالباقي درانی او د اردو ژبې تکړه شاعر ډاکټر عصمت درانی د درويش دراني وروڼه دي. د ۲۰۱۱ز کال د مارچ په ۳۱مه د ښاغلي درويش مور په حق ورسېده.

ویاړ غونډې

د درویش دراني په ویاړ د ۲۰۰۶ز کال د نومبر په ۱۹مه په ننګرهار کې غونډه جوړه شوې وه، چې مډال هم ورکړل شو.

شاعري

د درویش شعرونه پیچلي نه دي، په اکثرو کې یې د حالاتو انځورګري په پوره هنر سره شوې ده. اضافي خبرې نه کوي او د غزل تر څنګ یې نظلمونه ډېر له پیغام او درد څخه ډک دي.

چاپ اثار

شاعري

۱. اغزنه لاره
۲. زخمي لاسونه
۳. هوا او ځراغونه
۴. ستوري په لمن کې
۵. په کاڼي کې هنداره
۶. په ناورین پسې ناورین
۷. دا بوټي به لونګ شي

نثر

۱. پښتو عروض»

## د درویش دُراني اثار:

عبیدالله درویش دُراني د خپل فرهنګي ژوند په موده ډېر څه کړې دي چې د درناوي او قدردانۍ وړ دي. د ده د اثارو کوم

لست چې په ويکيپېډيا کې خپور شوی دی، هغه پخوانی (کېدای شي د ۲۰۱۶ ام کال) وی. درويش هڅاند او تل مبتکر قلموال و او دی، زه ډاډه یم چې د ويکيپېډيا تر معلوماتو وروسته به هم د درويش صاحب نور اثار چاپ شوي وي. د ددويش د اثارو هغه لستونه چې د ده د کليزې او ځانګړې ورځې په پار انلاين شوي دی، له يو بل سره توپير لري؛ دلته په اروپا کې د قحطالکتاب په دايره کې ما بل څه نه شوای کوالی، نو مې د همدې توپيرونو پر بنا، د دې مقالې د لا غنا او بشپړتيا په موخه، له ځينو دوستانو څخه مرسته وغوښته چې د درويش صاحب د اثارو لست بشپړ شي. ما تر ټولو د مخه ګران او هڅاند زلمي سمسور ودان نه هيله وکړه چې د دې لست په بشپړلو کې مرسته راسره وکړي. هغه هم د خپلو لومړنيو معلوماتو له مخې دا لست راوليږه:

«اغزنه لاره، زخمي لاسونه، هوا او څراغونه، ستوري په لمن کې، په کاني کې هنداره، په ناورين پسې ناورين، دا بوټې به لونګ شي او پښتو عروض.»

ما ورته وليکل چې دا لست هم نيمګړی دی، بيا ده په خپل نوښت سره خبره په خپله فيسبوکپاڼه کې له خپلو دوستانو سره شريکه کړه، دا يې متن دی:

«مرسته وکړئ!

د درويش دراني صاحب د ټولو کتابونو نومونه چا ته ياد دي؟! د يو مهربان استاذ پکار دي. زه خو يې دا پېژنم:

اغزنه لاره
زخمي لاسونه

هوا او ځراغونه
ستوري په لمن کې
په کاڼي کې هنداره
په ناورین پسې ناورین
دا بوټي به لونګ شي
او پښتو عروض»

د ودان صاحب د دوستانو معلومات، د درویش صاحب د اثارو د لست په بشپړېدو کې مرسته وکړه چې همدلته لومړی له سمسور ودان څخه او بیا د ده له ټولو هغو دوستانو څخه مننه او خوښنه ځرګندوم چې د درویش صاحب د کتابونو په باب یې خپل معلومات له ما سره شریک کړل. دا یې یوه بېلګه ده:


حقوق یې د مصنف دي!

د کتاب نوم: کره کتنه او د هغې زغمل
شاعر: درویش دُرانے
کمپوزر: حافظ رحمت نیازے
لومړے چاپ: ۲۰۱۸ع
د چاپ شمېر: (۱۰۰۰) زر ټوکه
د چاپ چارې: صحاف نشراتي مؤسسه کوټه/ کندهار

د لیکوال کتابونه:
شاعري:
۱- ستوري په لمن کې
۲- په کاڼي کې هِنداره
۳- په ناورین پسې ناورین
۴- دا بوټي به لونګ شي
۵- کر د ګلو
۶- په ځراغ پسې ځراغ
نثر:
۱- پښتو عروض
۲- د پښتنې ژوند کرۀ ورۀ
۳- کره کتنه او د هغې زغمل

تر سمسور ودان وروسته ما له ښاغلي بارکوال میاخیل څخه د درویش دراني د آثارو د لست د بشپړېدو لپاره ځکه مرسته وِغوښته چې ده له درویش دُراني سره هم لیدلي دي او هم يې د درویش د کلیزې او ځانګړې ورځې په مناسبت خبرې ورسره کړې دی. دا د مسنجر په وسیله له میاخیل صاحب نه زما د غوښتنې لیکلی متن دی:

«میاخیل صاحب سلامونه !هیله ده هرڅه ښه وي .د یوې مقالې د لیکلو له پاره مې د درویش دراني د اثارو بشپړ لست په کار دی، که کولای شې د فرهنګي همکارۍ له مخې یې راته راولیږه یا له دراني صاحب نه مرسته وغواړه .له مرستې نه مو همدا اوس مننه!»

میاخیل صاحب په ځواب کې یو عکس راولیږه چې د درویش صاحب د چاپ شوو اثار ښودنه یې کوله، خو څرنګه چې هغه لست زما له نظره بشپړ نه و، نو ورته ومې لیکل چې دا به بشپړ نه دي او ده په ځواب کې دا معلومات هم راسره شریک کړل:«

«پښتو عروض»، «د پښتني ژوند کړه وړه» او «کره کتنه او د هغې زغمل» د نثر کتابونه دي، نور ټول د شاعرۍ،

د ده لومړۍ درې شعري ټولګې: اغزنه لار، زخمي لاسونه، هوا او څراغونه وو، بیا یې هغه درېواړه په «ستوري په لمن کې» شاملې کړې.»

ما بیا هم میاخیل صاحب نه هیله وکړه چې: «که له ده نه معلومات وغواړئ، څنګه به وي؟» ده په سړه سینه او بزرګوارئ سره راته ولیکل چې: «همدا کتابونه یې چاپ دي،

خو زه به بیا هم پوښتنه وکړم.» څو شېبې وروسته یې په غږیز پیام کې داسې راته وویل:

«بهاند صاحب په خیرونه! جوړ یاست ـ ښه یاست؟ همدا اوس مې دستي له درویش صاحب سره خبرې وکړې، نو دغه کتابونه دي چې په عکس کې ما راوړي دي، او هغه درې چې ما مخکې ذکر درته وکړ چې د ده درې اولې شعري ټولګې وې، ازغنه لار، زخمي لاسونه او هوا او څراغونه؛ دا چې دي دا اول چاپ شوي او دا درې سره ده په «ستوري په لمن کې» سره یو ځای کړې. نور یې چاپ شوي دغه کتابونه دي ټول.»

زه همدلته د همدې کرښو له لارې له ښاغلي بارکوال میاخیل نه هم د زړه له تل نه مننه کوم چې د درویش صاحب د اثارو د لست په بشپړلو کې یې له ماسره مرسته وکړه.

څنګه چې مخکې د ښاغلي بارکوال میاخیل په حواله وویل شول: د درویش صاحب درې شعري ټولګې (اغزنه لار، زخمي لاسونه، هوا او څراغونه) چې وروسته په یوه ټولګه کې سره راټولې او د «ستوري په لمن کې» نوم ورکړل شو، عین خبره ښاغلي د سمسور ودان راسره شریکه کړه چې د ده د یو دوست (میوند شینواري) د معلوماتو له مخې یې کوله، د ښاغلي میوند شینواري معلوات نوی او په زړه پورې دی، دا یې متن دی:

«د درویش د اثار په اړه یوه اړینه یادونه درویش په ځوانۍ کې خپلې درې وړې- وړې شعري ټولګې« اغزنه لار، زخمي لاسونه، هوا او څراغونه» خپرې کړې، وروسته یې بیا دا درې واړه ټولګې چاپ کړې چې یوه ټولګه «ستوري په

لمن کې» ترې جوړه شوه. ډېر شعرونه داسې دي چې په مخکينيو درې واړو کتابونه کې وو، په دې ټولګه کې نه دي راخيستل شوي او هغه شعرونه درويش منسوخ اعلان کړي دي، نور دې په درويش پسې نه ترل کېږي .نو «اغزنه لار، زخمي لاسونه، هوا او خراغونه» د درويش اثار نه دي. اوس د ده لومړۍ شعري ټولګه «ستوري په لمن کې» ګڼل کېږي.»

زه د دې معلوماتو لپاره له سمسور ودان او د ده له دوست ميوند شينواري نه هم منننه او خوښنه کوم چې موضوع يې نوره هم روښانه کړه.

د دې خبرو په تاييد سره د استاد عبيدالله درويش دُراني د اثارو بشپړ لست د اوس لپاره دا دی:

**الف ـ شاعري:**

۱ ـ ستوري په لمن کې،

۲ ـ په کاڼي کې هنداره،

۳ ـ په ناورين پسې ناورين،

۴ ـ دا بوټي به لونګ شي،

۵ ـ کر د ګلو،

۶ ـ په خراغ پسې خراغ.

**ب ـ منثور اثار:**

۱ ـ پښتو عروض،

۲ ـ د پښتني ژوند کړوړه،

۳ ـ کره کتنه او د هغې زغمل.

د درویش دُرانی د اثارو دا لست، د ده د یو کتاب (کره کتنه او د هغې زغمل) په هغه چاپ کې راغلی دی چې په ۲۰۱۸ ام کال کې راوتلی دی، که یې تر دې وروسته کوم نوی اثر نه وي چاپ شوی، نو زه دا لست بشپړ ګڼم.

په اوسني فرهنګي بهیر کې عبیدالله درویش دُراني د پښتو شاعرۍ د یو جلا لارې او سبک خاوند شاعر دی چې لکه رحمان بابا په ساده کلام او نرمۍ سره یې ځانته جلا لار او سبک پرانستی دی.

د درویش دُراني د قلم ځواک هلته مالوم شو چې د ده اویایمه کلیزه د درویش دُراني د ورځې په نامه ولمانځل شوه، د درویش پر ژوند او هنر باندې د ګڼو فرهنګیانو او قلموالو خپرې شوې لیکنې او یادداشتونه ښیي چې د درویش شاعري، هنر او لیکنې په څومره قوت او اخلاص لیکل شوې دي او د لیکونکو او تبصره کونکو ډېره سلنه لیکنې او تبصرې هم په ښه قوت او د هنر په قالب کې په داسې ډول لیکل شوې دي چې نه یوازې د لیکوال د لیکنې قوت ښیي، بلکې د درویش د هنر او په ټولنه کې یې د دریځ انځور هم په صداقت سره وړاندې کوي.

د درویش دُراني د اویایمې کلیزې او د درویش دُراني د ورځې په مناسبت په هماغې ورځې ما آصف
بهاند داسې ولیکل:

«نن د پښتو ادب د مطرح شاعر او ليکوال عبيدالله درويش دُراني اويايمه کليزه ده. همدا ورځ د ده د هنر، شعر او ترسره کړو فرهنګي خدمتونو ته د درناوي لپاره ځانګړې شوې ده.

دا ورځ دې بختوره وي. د اوسني ځوان نسل په منځ کې د درويش صاحب شعر او فکر ځانګړي دريځ او خپل تاثير لري.

ښاغلي درويش دراني ته ښه روغتيا، اوږد عمر او د فرهنګي کارونو د ترسره کولو لپاره نوره حوصله او بريا غواړم. له هغه چا نه هم مننه کوم چې د درويش دراني د اويايمې کليزې ورځ يې د دوريش دراني د ورځې په نامه ياده کړه، څو ټول قلموال وکولای شي چې د دې حقداره فرهنګي شخصيت د ترسره کړو کارونو او خدمتونو يادونه او درناوی وکړي. دا دود بايد نور هم پياوړی او عام شي چې موږ د خپلو علمي – فرهنګي شخصيتونو درناوی په ژوندينې وکړو.

له ښاغلي عبيدالله درويش دراني څخه مننه او خوښنه چې د خلکو په پوهولو او راويښولو کې يې ډېر زحمت ګاللی دی، دا نسل او راتلونکي نسلونه به يې دا خدمت هېر نه کړي.»

## د درويش دُراني پر ژوند، هنر او مقبوليت باندې د درويش د ورځې په مناسبت د ځينو قلموالو نظريات:

د درويش پر ژوند، هنر او مقبوليت باندې چې څه ليکل شوي او زما له نظره تېرل شول، ما ته دا هيله پيدا شوه چې په اوسنۍ زمانه کې د بې مسؤليته فيسبوکي اپلتو تر ځنګ موږ داسې قلموال او د فکر خاوندان هم لرو چې د نن او سبا لپاره حساب پرې کېدای شي. دوی د درويش د فکر، هنر او اثارو تر لوستلو

وروسته، د درویش په باب لیکنې کړې دي. دا لاندې یې څو هغه بېلګې دي چې د درویش د ورځې په مناسبت، د ده د فرهنګي دريځ او افکارو په باب لیکل شوې دي او زه یې دلته د درویش دُراني د فرهنګي شخصیت د درناوي لپاره بیا خپروم:

نقیب‌الله لارمل:

«عبید الله چې په ادبي کړیو کې د درویش دوراني په نامه یادیږي، د سویلي پښتونخوا په کوټه ښار کې د ۱۹۵۳ م کال په شاوخوا کې وزیږېد. لومړنی او لوړې زده کړې یې په خپله سیمه کې کړې او د کوټې له بلوچستان اکاډمی نه یې په انګلیسي ادبیاتو کې ایم اې کړې ده. دی اوس د همدې پوهنتون د ادبیاتو استاذ هم دی.

درویش دورانی د پښتو د تېرو دوه نیمو لسیزو نماینده شاعر دی، چې د لر و بر پښتنو د چاپېریال او فکر پلوشې یې په شعر کې د اوچتو خیالونو او ژور عاطفي تړون په بڼه ځرګندې دي.

درویش تر نورو شاعرانو د پښتو په ساده‌بي حال ډېر غمجن دی:

**دا چې ځړېږي مخامخ درته په دار سرونه**
**په دې وطن کې به همدغه وو د کار سرونه**

**وړي یې هسې هم غاصب همېشه وړي په زوره**
**کشکې دا ځل زموږ غنم وکړې د مار سرونه**

نن د مې ۴مه د دې عظیم او ستر شاعر ښاغلي درویش دراني د زوکړې ۷۰ مه کلیزه ده. دغه ورځ د درویش صیب ژوند، هنر، شعر او خدمت ته ځانګړې شوې ده.

د پښتنو دغه عظیم شخصیت ته دې رب ج اوږد، خوشحاله او د خیر عمر ورکړي!»

ابراهیمشاه قیاس:

«اکثر چې زهٔ مشاعرو کې ښوک شاعر واورم یا یې په سوشل میډیا وګورم نو د شعرونو یې یو شان تاثر او خوند وي خو چې کله یې کتاب ګورم نو هغه خوند او مزه یې نه وي شاید کتاب کې یې د معیار په ځای مقدار ته ډېر پام کړای وي او ډیر بې معیاره شعرونه غزلې نظمونه پکې شاملې وي چې د بوریت سبب ګرځي او ذهن ځان ته هغومره متوجهٔ کولے نه شي خو یو څو مې داسې شاعران هم لوستي چې کتاب یې د شروع نه تر اخره د معیار داسې نمونې دي چې یوه لمحه هم د لوستونکي ذهن نه پرېږدي چې بل طرفته واوړي چې یو په هغو کې استاذ درویش درانی دی چې د شروع نه تر اخره یې د خپل اسلوب تسلسل جاري ساتلے او تر دې که پوره کتاب یې په یو محفل کې ولولې نو په یقین سره به مو زړه برابر هم بوریت ته ورنکړي، 'په کاڼي کې هنداره'...»

بارکوال میاخیل:

«استاد درویش درانی زما په ادبي ژوند کې لږ تر لږه په هغو شخصیتونو کې دی چې په هره لنډه او اوږده شخصي او ادبي ناسته، غونډه، سېمینار او کانفرنس کې مې ډېر څه او ډېرې نوې خبرې ترې اورېدلې او زده کړې دي، د ده چې څنګه

شعر ډېر په فصيحه او ساده ژبه دی خو له نوښتونو او شعري ښايستونو ډک دی، همداسې يې خبرې هم تل په ظاهر ساده او عام فهمه وي خو ډېرې ژورې او نوې وي او لوی کمال يې دا دی چې اکثر ګرانې خبرې له ساده مثالونو سره دومره اسانه کړي چې د هرې ذهني کچې مخاطب نه يوائې دستي په پوهېږي بلکې زړه او ذهن ته يې لوېږي او اثر وربانديې کوي. د پښتو په معاصرو شاعرانو او ليکوالو کې درويش دراني يو غنيمت شخصيت دی چې د کار او هنر خواږه يې تر لر و بر وطنه رسېدلي او هر څوک يې په عظمت قايل شوي دي، که څه هم خپله هغه د خپل تخلص غوندې يو درويش انسان دی او د چا له ستاينو او لمانځنو ډېر لرې دی خو پکار دی موږ داسې اتلان پر ژوند وستايلو چې ټول ژوند يې د خپلې ژبې، خاورې او ولس د هوساينې او سوکالۍ په ارمان د زړه وينې څښولې وي»

#DarweshDay
#4MayDarweshDay

ګلرحمان رحماني:

«نن د پښتو ژبې د نامتو اديب، استاد او کره کتونکي درويش دراني د زوکړې ورځ ده. د غزل داسې شاعر چې د پښتنې ولسې ژبې او فرهنګ ډېرې زرينې تابلوګانې يې په شعر واړولې او د خپل غزل د ښکلا په نندارتون کې يې پر هنر مينو وکتلې او ذوقمنو لوستونکو ته يې د مينې، رمز، راز، ننګونې، پېغور، نصحت او کنايو په ژبه ژوند ور زده کړ. مينه، مهرباني او عاطفه يې ور وښوده:

بېلتانه دې د هر چا په غم شريک کړم
يار د بل درومي او زه ورسره ژاړم

یا:

تا کوی شوی خو تا یاره جوړه نه کړه
زما زړه نه دې هنداره جوړه نه کړه

با وجود ددې چې تاته لاره نه وه
ما له بل چا سره لاره جوړه نه کړه

استاد درویش ګڼ شعري ژانرونه کارولي، خو هغه د غزل شاعر دی، غزل یې له پنځو بیتونو نه اوږدوي او د مضمون له اړخه یې هر غزل او د غزل هر بیت بلا خبرې او خواږه تصویرونه لري.

دا چې په پښتني خاوره له پخوا نه ناورین روان دی او هره ورځ په کې نوې تراژیدي سر وهي، په ناورین پسې ناورین ګورو؛ د درویش غزل یې هم متاثر کړی او د تراژیدیو ګڼ تصویرونه یې خوندي کړي:

څه له دعوه کوې چې خپل کور ته فایده دې راوړه
لمر دې له ځانه سره وړی و او شپه دې راوړه

یا:

لحده نیسه یې قرار په غېږ کې
یو دردېدلی او خوړمن در سپارو

دي پرهرونه یې د ستورو په شان
د کهکشان زخمي بدن در سپارو

یا:

یو لاس مې پروت و د سینې په ژور زخم باندې
او بل مې پورته کړ همدې حال کې دعا ته خدایه

او دا هم د ده خبره ده:

د وطن په هديرو کې وي درويشه
هره شپه نرۍ ژړا او ځراغونه

یا:

اې مورې زوې دې داسې يوه جنګ لره روان دی
چې ته هم د برې ورته دعا کولی نه شې

څه موده وړاندې مې د شعري اسطورو په اړه د ليکنې هوډ وکړ، اسطوره له ډېرو لرغونو زمانو زموږ پر هنر او فکر واکمنه ده، خو شعر کې په خپله دوديزه او فرهنګي بڼه را ځرګنديږي او د شعر د ژبني چاپېريال څمکه يې د ودې لپاره ښه مناسبه ده. يو شاعر وايي:

دا ويل کيږي چې دوې خويندې له جنته راغلې
او په هغو کې يوه ته شوې او يوه شوه سپوږمۍ

یا:

اسمان ته لاړ د ختو نشته
ليلا او مجنون په عاشقی ختلي دينه

همدا دوې اسطورې شاعرانه شوې، خوند او رنګ يې موندلی دی، له فرهنګي تاريخ او پوهې سره يې زموږ اشنايي زياته کړې ده. دا چې استاد درويش په پښتني کړو وړو، دود دستور او فولکلور ښه خبر دی، د ګڼو پښتني او شرقي اسطورو بېلګې يې په غزل کې را ځرګندې شوې، ما د « درويش او ځراغ» په نوم ځانګړې څېړنيزه مقاله وړباندې ليکلې ده.

دا ستا د زړه و خواته در روان دی بل سړی
زه نه يم اوس د دغه کلي خان دی بل سړی

درویښه دې وطن کې دی بس دا عجب دستور
چې توري يو سړی وهي او خان دی بل سړی

لکه چې ياده شوه د درویش صاحب غزل د مینې او عاطفې استازی دی، ددغه د کلام پیغامونه ډېر سخت زړې هم د مینې پر الهي ډالی نازوي، انسان له خپل اصلي هویت او شخصیت سره تړي، له تکبر او نفرت یې ژغوري، یاني په هېڅ صورت نه غواړي چې دده د یوه عاطفي غزل له لوستنې وروسته همغه لومړی کس پاتې شي.

زړه مې درد کوي له زړه وریسې ژاړم
دښمنان چې مې وي مړه وریسې ژباړم

بېلتانه دې د هر چا په غم شریک کړم
یار د بل درومي او زه وریسې ژاړم

له رحمان بابا وروسته که چا په پښتو غزل کې نرمه، ساده او ولسي ژبه په هنري اندازه او بشپړ شعري کیفیت کارولې وي، د ټولو په سر کې به درویش دراني وي، لنډ بحرونه، ترکیبونه، خپلو ځانګړو کلمو، تصویرونه او د ولسي محاورې، پښتنې زمان او مکان کارول د هغه ځانګړې مهارت دی او د شاعرۍ ډېر کم داسې مینه وال به ومومو چې د درویش صاحب يو نیم غزل یې په یاد نه وي. پاک رب دې استاد ته سوکاله او اوږد عمر ورکړي.

د زوکلیزې او ورځې په بانه یې خپلې دا خبرې په داسې بیتونو پای ته رسوم چې د غونډو د ویاندویۍ پر مهال مې د پای یا مخه ښې شېبو کې تل تکرار کړې دي:

چي بيا نه توره پورته شي نه سر په وينو رنګ شي
باداره دغه جنګ دې د وطن اخري جنګ شي

که زړونه سره يو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لالونه شي دا بوټي به لونګ شي

يا:

موسم بدل دی ښايي تللي مرغان بېرته راشي
و خپل وطن ته د کډوالو کاروان بېرته راشي

درویشه داسې به ونه شي چي زموږ هديرې
سپين ږيري واړه کړي ستانه او ځوانان بېرته راشي»

#DarweshDay
#4MayDarweshDay

نقيب‌احمد قريشي:

«درويش د مينې او حسن پيامبر:

چي له تا ولاړمه ياره بيرته راغلم
را معلومه نه وه لاره بيرته راغلم

خالق د ارغستان پر شنه و زرغونه مځکه د مينې او حسن پيامبر د پښتو ژبې د شنې او زرغونې کولو لپاره وپنځاوه.

درويش دراني لوی سو، شاعر سو، لوی شاعر سو او اوس د پښتو ژبې د سترو شاعرانو او ليکوالو په کتار کي د سر سړی ګڼل کيږي او پر دې خبره د افغان وطن هر انسان متفق دی.

درويش دراني د پښتو ژبې لپاره در دوران سو:

زياتيږي ورځ په ورځ دلته د درد غوندي وګړي
پيدا کړې لويه خدايه! د دوا غوندي څه خلک

پر افغان وطن دا مېين شاعر او ليکوال خدای پيدا کړی د همدې لپاره دی چې پښتو ژبې ته درمل او دوا سي.

جوړېدای سوه خو تا ياره جوړه نه کړه
زما زړه نه دي هينداره جوړه نه کړه

باوجود له دې چې تاته لاره نه وه
ما له بل چا سره لاره جوړه نه کړه

په پښتو ژبه کي خوشال خان ختک خپل شعري سبک تر فلسفي خان غني خان پوري راورسوئ، غني د فلسفي موضوعاتو خاکې شعري کړي، سوالونه يې ايجاد کړل، پټ پټ يې ځوابونه ورته وويل، خو د پېښور ملايانو هغه کافر کړ، خو سوال او ځواب ته هم نه ورسره کښېنستل او سردار علي ټکر يې شاعري هم ور خرابه کړه.

غني او ملا لکه اور او اوبه تر اوسه اضداد پاته دي چې تر قيامته به اضداد وي او په دې اضدادو کي يو ظريف جمال غني ته نور او جلاليت دواړه ورکړي دي چې دا د خالق عطا ګڼل کيږي.

بيا د ارغستان/کندهار له غرونو يوه درويش سر را هسک کړ او ويې ويل:

ته يې نه ويني د لمر په لکی پوري
چې ترلي توره شپه ده زه يې وينم

او يا دا چي:

دا رنګه شپه وه چي پر سر باندي مو ستوري نه وو
داسي مزل و چي تر پښو لاندي مو لاره نه وه

ستا په تندي کي به مي خپله خيره وليدله
په کوم ورخ چي به له ما سره هينداره نه وه

يو په قبرونو کي راغلي تر دي ځايه پوري
درويشه! دا ځل د وطن ځمکه هواره نه وه

درويش دراني پښتو ژبي ته نوی سبک ورکړ، له زړو عباراتو او پرديو ژبو له ګردابه يې پښتو شعر راوويست، نوي رنګونه يې ورکړل او تر حد زيات يې په پښتو شعر د پښتون د سر خلاصولو کوښښونه وکړل، دې خصوصياتو هغه "لوی شاعر" کړ:

سومه له ځانه سره زه هم په ژړا چي کله؛
زما قاتل د زوی له قبره په ژړا روان سو

يا دا:

چي بيلي پښي ځي له وطنه د هغو لپاره
د کل تر پانو د اغزو څوکي پستې کړې خدايه!

په خپلو اوښکو بيرته ومينځو رانجه د سترګو
زموږ په هره ښادی غم ولي پسې کړې خدايه!

د هيندارو، څراغونو، ميني او معصوميت د دې شاعر پر شاعرانه ليارو ږغېدل، علم، رياضت او ژوره پوه غواړي چي هغه جوهر زما په وجود کي نه سته.

د درویش دراني شاعري د شعري موسقيت، نرم مزاجی او رومانيت څخه دومره مالامال ده چي يکي يو لفظ ته يې هم د خو ګوته نه سو نيولای.

د درويش په اړه رايې يوه نه ده
څوک يې بت ګڼي او څوک وايي سړی دی...

او لويه درويښه! لويه درويښه! د سايل په ژبه درته وايم:

د محبت ځواني مي چل د ستومانی زده کوي
لړي دي زلفي پر مخ نوري پېچ و تاب پريږده

عمر دي دراز واوسه! چي د پښتو شعر کاسه لبريزه کړې.

ن.ا.ق
٤ می ٢٠٢٣»

محمود مرهون:

دا رنګه شپه وه چي پر سر باندي مو ستوري نه وه
داسي مزل و چي تر پښو لاندې مو لاره نه وه

يو په قبرونو کي راغلي تر دې ځايه پوري
درويشه دا ځل د وطن ځمکه هواره نه وه
درويش درانی

«موږ به د خپل درويش د هنرمن درويش، د درانه درويش، د وياړ درويش کوم کوم اړخونه بيانوو، د افغان تراژيدی شاعر، د افغان ولس د درد ژبه، د افغان ولس د هيلو ترجمان او که به بل بل نوم ورته خوښو ځيني خلک يوازي پېژنو خو نوم او ځای ورته تاکل زموږ د وس خبره نه وي.

اصلي خبره خو دا ده چي ته مو پیر یې مور دي درویشان یو مګر تا هیڅکله پر مور ځان نه دئ تللی او همداسي درویش پاته سوی یې.»

او په پای کې د یو داسې قلموال نظر رااخلم چې له درویش صاحب سره یې د ده د کلیزې او ده ته د ځانګړې شوې ورځې په مناسبت خبرې کړې دی او د ډېری قلموالو او فرهنګیانو د نظریاتو لوستنه او څارنه یې کړې ده او په پای کې خپل برداشت داسې لیکلی دی:
بارکوال میاخیل:

«د درویش ورځ»
د استاد درویش دراني ورځ ولمانځل شوه او زما په نظر تر خپله وسه ښه ولمانځل شوه، د رحمت شاه سایل صاحب، پیر محمد کاروان صاحب او درویش صاحب دا ورځې باید په راتلونکي کې تر دې په ښه بڼه ولمانځل شي او تر له مخه تیاري ورته وشي چې له ټولنیزو رسنیو بهر په دغو ورځو ځانګړې غونډې هم وشي او کتابپلورونکي هم د دغو درېواړو هستیو په ګډون د پښتو کتابونه په دغو ورځو لړ ازانه کړي چې دا به هم دوی ته یو ډول درناوی وي .
زه پوهېږم چې ډېر به له دې سره مخالف وي چې ولې د دغو درو کسانو لپاره باید ځانګړې ورځې وي او له ورمې ورځې مې دا محسوسه هم کړه بلکې ځینو عملاً ورسره مخالفت ثابت هم کړ او غلي پاته شول، خو دا هم تر لمر ښکاره خبره ده چې دغو درېواړو کسانو پخپلې شاعرۍ یو پوره نسل متاثره کړی او د شاعرۍ مینه وال یې بېساري دي، نو د دوی له دغو ورځو سره دې له دې کبله مخالفت نه کیږي چې ګوندې تر دوی لویې هستۍ په پښتو ادب کې نه شته.

زه د سایل صاحب، کاروان صاحب او درویش صاحب درپوا ړو له خوی او طبعیته خبر یم چې د شهرت ورې خو ببخي نه دي مګر له شهرت سره د ډېرو نورو پښتنو مشرانو غوندې حساسیت لري، زموږ پر وخت نن سهار مې درویش صاحب ته ټیلیفون وکړ، د ده د ورځې په اړه مې ورته وویل او «ډیوه سپېس» ته مې را دعوت کړ، خو وچ انکار یې وکړ او ویې ویل چې د خپل ځان په اړه خبرې نه شي کولای. دا خبره به ډېرو خلکو ته نوې وي، زه چې څومره خبر یم د درویش صاحب د هیڅ یوه کتاب مختکتنه تر اوسه نه ده شوې او د دې یوه لویه وجه دا ده چې هغه وایي زه نه غواړم زما کتاب د ستاینو په اوږو د خلکو تر ګوتو ورسېږي بلکې زما او د بل هر چا کتاب که خپله پښې ونه لري چې د خلکو تر کورونو ورسېږي زه مصنوعي پښې نه شم ورکولای.
درویش صاحب د دې وطن د بل هر شاعر او لیکوال غوندې خپل ټول ژوند خپلې ژبې ته ورکړ، زه فکر نه کوم چې د هغه د شاعرۍ څو کتابونو به هغه د دومره لوی دولت څښتن کړی وي، خو بیا هم چې څوک ډېر نیژدې پر څنګ ورسره روان شوی له لستوڼي یې سور خنجر ورته را ایستلی دی او ورته ویلي یې دي چې «شاعري دې رښا نه لري درویشه»، ځکه خو په اویاکلنۍ کې هم شاید لا ډاډه نه دی چې څوک به یې د خپلې عظیمې شاعرۍ له کبله د فرانس له بالزاک سره برابروي او څوک به د خپل کلي او قبیلې په عینکو کې ورته ګوري او دا یې د لمانځنې په ورځ هم ثابته شوه. د درویش صاحب د زوکړې او دا نننۍ ده ته ځانګړې ورځ دې نېکمرغه وي او بیا بیا دې وربانډې راشي:

د درویش په اړه رایه یوه نهٔ ده
څوک یې بُت ګڼي او څوک وایي سړی دی»

# محمدانور وفا سمندر

## د مینې، رڼا او غږ استازی



**د نړۍ تر ټولو قیمتي او د قدر وړ ډالۍ:**

**د وفا سمندر په هر پوست، هره خبره، هره جمله او هر توري کې وفا، رڼا، غږ، هیلې او د ژوند څپې د یوې ډالۍ په توګه مخاطبینو ته وړاندې کېږي؛ په هغې ټولنه کې چې خوځلوېښت کاله تاوتریخوالي حکومت کړی وي، وهل، وژل، وینېتویول او دې ته ورته شیان عادي او منل شوې خبرې ګرځول شوې وي؛ ایا د وفا سمندر پاسنۍ ډالۍ به د نړۍ تر ټولو قیمتي او د قدر وړ ډالۍ نه وي؟**

آصف بهاند

په دې مقاله کې د اوسنۍ زماني پر داسې یو لیکوال باندې بحث کوم چې د یو شمېر مطرح اثارو خاند دی، د جلا سبک او ځانګړي طرز تفکر درلودونکی دی، له هېڅ سیاسي ګوند یا تنظیم سره تړاو نه لري، لاره یې د معمول خلاف له ډېرو بېله ده او د بیان یا ویلو طرز یې د ځینو له نظره مبهم او غامض بریښي. زموږ د زماني دا لیکوال محمدانور وفا سمندر نومېږي. ترهر څه مخکې د ده پېژندنه:



د ښاغلي وفا سمندر بیوګرافي ما په ویکیپیدیا کې پیدا نه کړه، بیا راپه یاد شوه چې ما کوم وخت د ډوکتور لطیف یاد له فیسبوکپاڼې راخوندي کړې وه. کومه بیوګرافي چې یادصاحب خپره کړې وه، هغه د وفا سمندر له خولې لیکل شوې او د هغې متن دا دی:

«پلار ویل: «هلکه! غنم لو کې دنیا ته راغلې»؛ خو آبو مور به راته ویل: «نه، ته مې په مني-طلایي موسم- کې دنیا ته راوړې!» خو زه چې څه د ځان په اړه خپل واک ګڼم، د تلې مېاشتې وروستۍ نیمه شپه وه او زه په دنیا کې را را ښکاره شوم.

له خیاله چې د ذهن دنیا ته راواوړم، نو په پېژندپاڼه کې یې راته ۱۳۴۱ لمریز (۱۹۶۲) زېږدیز کال د زېږون کال لیکلی دی.

آه، اوس نه ماشومتوب شته، او نه زه غواړم ماشوم شم؛ ځکه ماشومتوب تللې زمانه ده او تللې مړه ده؛ او یوه «اوس» ژوندۍ! تېره د تاریخ په پاڼو کې ښخه ده. او هلته ګورم چې پلار په کال ۱۹۶۹ کې د مېدان درې مرکزي لیسې لومړي ټولګي کې معلم ته په لاس ورکړم چې اصلاح مې کړي!

ابتدایه مې د مېدان کوټهعاشرو په لومړي ښوونځي کې سرته ورسوله او وروسته مې د پلار مدیر محمد اکبر خان د زړه په زور، د میدان مرکزي لیسه کې ځان له یوه ټولګي بل ټولګي ته کش کړ، خو انقلاب چې د خلکو لپاره سور اور شو؛ نو مېدان مې له کورنۍ سره خوشې کړ او دولسم ټولګی مې په ۱۳۵۹ کال کې د کابل غازي لیسې (چې هغه مهال شیرشاه سوري لیسه نومول شوې وه) په ښه درجه ختم کړ او

د عمر د کموالي له امله، د مکلفیت عسکرۍ له دامه را خلاص پاتې شوم او د کانکور ازموینې موقع مې له لاسه ورنکړه او مخامخ خپل لومړي انتخاب (ژورنالیزم څانګې) ته کامیاب او د ۱۳۶۳ کال په ژمي ور نه فارغ شوم.

ها مهال له یوې خوا د بل بدلولو او له مقابل لوري د هغوی د اصلاح کولو سرو او شنو توپانونو خاکباد جوړ کړی ؤ او ما هم په نوي ځواني ایدیالوجیک مزي پالل، څو د «ځان» په بغاوت واوښتم او د ایډیالوجۍ جغ مې مات او ځان موندنې او ځانپالنې ته را وزګار شوم.

زما لومړنۍ نوکري او د لیکوالۍ کیسه:

د ۱۳۶۴ کال د چنګاښ په مېاشت کې د مرکزي رادیو ټلویزیون کې د خبرڅانګې راپورتر په نامه حکومتي نوکرۍ ته ورولوېدم. دلته و چې قلم زما زده شو. دلته و چې خبریال او بیا لیکوال راووتم. دا لا چېرې! اوه- اته کاله کېدل چې زه د لیکوالۍ له تومنې ډک ګرځېدم.

مومن خان او شیرینو زه ملا کړم،

کال ۱۳۵۴ و. زه د مېدان د چاریکې د خزاندار عیسی خان د برجورې کلا پیتاوي کې له «شریف» او «داود» او... سره په توشلو او «شتو» وم، چې د «محمد عزیز» بنجاره له جړنګانو، بنګړیو، زرتارو او نکروزو ډک خر مخ په کلي را تاو شو.

نور یاد ته نه راځي. زما لاس کې د «آدمخان او درخانۍ» او که «مومن خان او شیرینو» وړوکی کتابګوټی و. زه تر وچ لمر لاندې، په سپېرو خاورو کې تر هغو ناست او پروت

وم، چې چا را غږ کړ: «انوره! جګ شه چې «آبا» دې راغی!»

په دې پسې بله پېښنه وشوه، بله وشوه...ما «دختر یتیم»، «دختر همسایه»، «جنایت بشر»...فارسي پولیسي ناولونه په خپله ماته ګوډه فارسو لوستل او لا نور له محمد عزیز بنجاره تر لاسه کول.

داسې ؤ، چې زما مخه مکتب ته شوې وه، خو دا وړمه مې تازه تجربه کوله، چې د ولس بدلولو لپاره سره او شنه او تور اورلن انقلابونه له لارې را ورسېدل. نو زه چې تازه د حروفو په هندسه کې لارې ته شوی وم، د ایډیالوژۍ وبا ووهلم. لس دولس کلونه وشول چې ما ځان په دې دوزخ کې پردی وپېژاند او را ووتم، چې د کلام په سمندر کې یو سپین غسل وکړم. خو لاره او آواره او د غره څوکې دومره د «بل» بدلولو «اصلاح کولو» فکر پرسولې او رنګ کړې وې، چې ښایسته وخت تېر شو، ترڅو اوسنی «زه» مې زوکړه وکړي.

سمندر د لمر لوېدو پر مهال:

زه همدغه یم. د «دوه زره نوي یم کال» له کیسه ییزو طنزونو سره د لیکوالانو په لیکه پسې راشین شوم. «زرګره او زر لاسی کوډګر»، «بنیادمان»، «په کور یو لیونی» دري پښتو ناولونه او «غږ چینه» ادبي- عرفاني نثرونو ټولګه او «غږ او رڼا زما وزرې» هم زه وم، چې خپل اصیل «زه» مې لټاوه. دې سره فارسي ناول «دوازده بال» او «چشمه اوا» هم چاپ شول.

تېر کال «بل بدلولو دوزخ»، «ځان موندلو برزخ» «ټول سفر ؤ د ځان دننه» ناول او «رڼا کوچنيان»
اوس هم تاسو په زړوونو شريفو انسان ورونو ته د «مينې کولو جنت» ډالۍ په لاس کې لرم. دغه کتاب د هغو بحثونو د پای بحثونه دي، چې يو کال دمخه د بل بدلولو دوزخ په نامه پېل شوي ؤ.

زما لپاره مينه، محبت، لورينه،

دا کتابونه له چاپ راوتي، خو زه تازه خپل د زېږون «ختيځ» ته رسېدلی يم. خدای خبر څومره کاغذونه به کميس او پرتوګ پرځان زاړه کړم، ترڅو خپل اصيل برخليک وځلوم.

خو که محمد عزيز بنجاره نه وای، زه به دغه پوړۍ کې هم نه وم. ياد يې دومره را په کې شين پاتې دی، چې د ليکنې پېل مې پر هغه و. ۱۹۸۲ کال و. د پوهنتون له زده کړو سره مې يوه د سلو پاڼو کتابچه د محمد عزيز په باب ناول ته بېله کړه. کتابچه ډکه شوه، خو نه چاپ شوې او نه له ما سره شته!

زه او زما نسل چې د «بل» بدلولو انقلابي جنګ منګولې شو، راښنه شو، نو داسې مو شپه په پردي کور شوه. زه پېښور کې پروت، له بي بي سي راډيو سره د ماشومانو لپاره په ډرامه ليکلو او پروګرام جوړولو شوم. د تخت سرې چې بدل را بدل شول، زه هم د کليو پراختيا وزارت او څو نورو ادارو سره د رسنيز سلاکار او ويندوی په توګه په کار شوم، تر څو سيمه‌ييزو اورګانونو ادارې ته د فرهنګي او ژبنيو رسنيو چارو لپاره را ولوېدم؛ او تر دې دمه لګيا يم چې په کتاب ليکلو سره ټول ځان ننداري ته وړاندې کړم.

چاپ شوي آثار:

۱ ـ «دوه زره نوي یم کال» مجموعهٔ داستانواره های طنزی، سال ۱۳۷۰، وزارت اطلاعات و فرهنگ،

۲ ـ «زرګره او زرلاسی کوډګر» رمان، سال ۱۳۷۹، پیشاور،

۳ ـ « بنیادمان» رمان، سال ۱۳۸۰، پیشاور،

۴ ـ « په کور یو لیونی» رمان، سال ۱۳۸۸، مقام ولایت میدان وردګ،

۵ ـ «د غږ چینه» مجموعهٔ ۱۰۰قطعه نثر ادبی-عرفانی،

۶ ـ «چشمهٔ آوا» مجموعهٔ ۱۰۰ قطعه نثر ادبی-عرفانی (به زبان دری)،

۷ ـ «غږ او رڼا زما وزرې» قطعه های نثر شاعرانه ادبی-عرفانی (به زبان پشتو) مطبه جهان دانش،

۸ ـ «دوازده بال» رمان ( به زبان دری) از سوی انتشارات انستیتوت مطالعات افغانستان،

۹ ـ «جادوګر هزاردست (رمان فارسي) دوبار ۱)انتشارات آرون، تهران. ایران و ۲)انتشارات تاک. کابل

۱۰ ـ « د غږ او رڼا لاروی» مجموعه مقاله، نقد و نظر در مورد اثار و سبک کار ادبی وفا سمندر، مطبعه مسلکي افغان،

۱۱ ـ «ټول سفر ؤ د ځان دننه» ناول، مطبعه و انتشارات عازم،

۱۲ ــ «د رڼا کوچنیان» ترجمه «کودکان نور»، اثر فرا روانشناسی، حادثات نزدیک به مرگ مطبعه و انتشارات عازم،

۱۳ ــ «د بل بدلولو دوزخ» مطبعه و انتشارات عازم،

۱۴ ــ «د ځان موندلو برزخ» مطبعه ملالی، کندهار،

۱۵ ــ «د مینې کولو جنت» انتشارات کتابخانه نور.

چاپ ته چمتو آثار:

۱ ــ «هر یو خپل سقراط دی» رمان (به زبان پشتو)،

۲ ــ «د مینې اکادمۍ باغ»،

۳ ــ «د حال ابدیت»،

۴ ــ «د درک شېبې»،

۵ ــ «دعا د ځان سپارل دي»،

۶ ــ «غږ د کلمو روح»،

۷ ــ «داستان های معنوی» ویرایش، تحشیه و ترتیب، مجموعهٔ در حدود ۱۰۰داستان از سراسر جهان،

۸ ــ «مانیزې کیسې» ترجمه و ویرایش، مجموعهٔ داستان های واقعی از سراسر جهان،

دغه رنګه وفا سمندر څلور کاله بي بي سي راديو (زموږ نړۍ زموږ راتلونکې) تعلمي پروژې لپاره څلور کاله

روزنيزې ډرامې ليکلي دي. په راوروسته کلونو کې يې د دويچ وله راديو پښتو برخې لپاره شپږ اووه سلسله يي ډرامې ليکلي، چې د يادې راډيو له څپو جوړې او خپرې شوي دي. سربېره پر دې د وفا سمندر ليکنې او ځنې کتابونه، د (Kabul nath.de) و (Keegday) و (Nawid ruz) او نورو ويبپاڼو کې هم خپاره شوي او خپرېږي.

ترلاسه کړې جايزې:

۱ ـ د طنزونو ټولګه، د اطلاعات او کلتور وزارت، ۱۹۸۰ زيږدي کال،

۲ ـ د «دوه زره نوی يم کال» کيسه ييزه طنزونو ټولګه، د ۱۹۹۳ زيږدي کال دريمه جايزه،

۳ ـ سرمقاله د اطلاعات او کلتور وزارت د ۱۹۹۴، زيږدي کال دويمه جايزه،

۴ ـ «زرګره او زرلاسی کوډګر» ناول، د ۲۰۰۴ زيږديز کال دويمه جايزه،

۵ ـ «بنيادمان» ناول، د ۲۰۰۳ زيږديز کال څلورمه جايزه،

۶ ـ د «دوازده بال» رومان، د ۲۰۱۱ زيږديز کال لومړۍ جايزه،

۷ ـ «په کور يو ليونی» ناول، د ۲۰۱۲ زيږديز کال لومړۍ جايزه،

۸ ـ د پامير جريدې لخوا د کال جايزه،

۹ ـ د ۱۳۷۴ لمريز ليږديز کال د مقالې ليکلو جايزه،

۱۰ ـ د ژورنالستانو اتحاديې بېلابېلې کلنۍ جایزه،

۱۱ ـ د ۲۰۰۸ زېږدیز کال د ستر لوست د پروګرام جایزه او ځنې نورې ادبي جایزې.»

د دې بیوګرافۍ د لا بشپړېدو په خاطر د یاد صاحب لپاره په کامنټ کې انور وفا سمندر د خپلو اثارو د لست د بشپړیدو په پار یو یادداشت هم لیکلی و، زه بیا پوه شوم چې د هغه په ځواب کې بی یاد صاحب څه لیکلي وي؛ خو د دې کرښو د لیکلو په وخت کې ښاغلي وفا سمندر د خپلو ټولو اثارو لست ما ته راولېږه چې دا یې متن دی:

«د محمد انور وفا سمندر چاپ شوي آثار:

آثار چاپ شده:

۱. «دوه زره نوي یم کال» مجموعۀ داستانوارههای طنزی، سال ۱۳۷۰، وزارت اطلاعات و فرهنگ
۲. « زرګره او زرلاسی کوډګر» رمان، سال ۱۳۷۹، پیشاور
۳. « بنیادمان» رمان، سال ۱۳۸۰، پیشاور
٤. « په کور یو لیونی» رمان، سال ۱۳۸۸، مقام ولایت میدان وردگ
٥. « د غړ چینه» مجموعۀ ۱۰۰قطعه نثر ادبی-عرفانی
٦. «چشمۀ آوا» مجموعۀ ۱۰۰ قطعه نثر ادبی-عرفانی (بهزبان دری)
۷. «غږ او رڼا زما وزرې» قطعه های نثر شاعرانه ادبی-عرفانی (به زبان پشتو) مطبه جهان دانش
۸. «دوازده بال» رمان ( به زبان دری) از سوی انتشارات انستیتوت مطالعان افغانستان-اخن

۹. جادوگر هزاردست (رمان فارسي) دوبار ۱)انتشارات آرون، تهران. ایران و ۲)انتشارات تاک. کابل
۱۰. «د غږ او رڼا لاروی» مجموعه مقاله، نقد و نظر در مورد اثار و سبک کار ادبی وفا سمندر، مطبعه مسلکي افغان.
۱۱. «ټول سفر ؤ د ځان دننه» ناول، مطبعه و انتشارات عازم،
۱۲. «د رڼا کوچنیان» ترجمه «کودکان نور»، اثر فرا روانشناسی، حادثات نزدیک به مرگ مطبعه و انتشارات عازم،
۱۳. «د بل بدلولو دوزخ» مطبعه و انتشارات عازم،
۱٤. «د ځان موندلو برزخ» مطبعه ملالی، کندهار،
۱۵. «د مینې کولو جنت» انتشارات کتابخانه نور،
۱٦. دردونکې خاطرې، عازم انتشارات؛
۱۷. خاطرات دردانگیز، انتشارات عازم
۱۸. «هر یو خپل سقراط دی» رمان (به زبان پشتو)
۱۹. «د مینې اکادمۍ باغ؛
۲۰. د حال ابدیت؛
۲۱. د درک شیبې؛
۲۲. دعا د ځان سپارل دي؛
۲۳. غږ د کلمو روح

آثار آماده چاپ:

۱. تېرژوندونونه، خوبونه او د روح سفرونه، ژباړه
۲. « داستان‌های معنوی» ویرایش، تحشیه و ترتیب، مجموعۀ در حدود ۱۰۰داستان از سراسر جهان
۳. « مانیزې کیسې» ترجمه و ویرایش، مجموعۀ داستان‌های واقعی از سراسر جهان

تر کار لاندې:

١. بی‌پدر. ناول
٢. زړه خو تر هرڅه ځوانه مینه. ناول او نور

# 2

دا خبره وفا سمندر په خپله ماته ویلې ده چې: د ۲۰۲۱ ام کال په اگست کې د نویو واکدارانو په راتگ سره ده خپل ډېر یادداښتونه سوځولي دي. دا چې په هغو سوځول شوو پاڼو کې به څه وو، یوازې به وفا سمندر ته مالوم وي.

ما (آصف بهاند) د محمدانور وفاسمندر ټول اثار له نظره نه دي تېر کړي چې پر شکل او محتوی باندې یې بحث وکړم او یا یې د ژبې او تفهیم پر روانۍ او پیچلتیا باندې وغږېږم. د دې مقالې د بیا سمونې او کتنې په وخت کې، زما په غوښتنه، وفا سمندر د فرهنگي ملگرتوب او مهربانۍ له مخې خپل څو کتابونه راولېږل چې نومونه یې دا دي:

ــ د بل بدلولو دوزخ،

ــ د ځان موندلو برزخ،

ــ د مینې کولو جنت،

ــ غږ او رڼا زما وزَرې،

ــ د غږ چینه

دا کتابونه مې له نظره تېر کړل او د سمندر د اثارو ځینې برخې چې ما د نورو قلموالو په مقالو کې لوستې او یا مې په تولنیزه میډیا کې د ده ورځنیو پوستونو په ترڅ لیدلې دي، له

دې ټولو نه ما دا پایله تر لاسه کړه چې سمندر د مینې، رڼا او غږ استازی او مبلغ دی، **د وفاسمندر په آثار او خبرو کې زما لپاره مهم او د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې دی پر ټولنه باندې د حاکمې کرکې، دوښمنۍ او بدبینۍ پر ځای د مینې او تفاهم وړاندیز کوي، دا په لوړو غږ سره وایي چې یو د بل په چارو کې لاسوهنه مه کوئ.**

ما په دې مقاله کې لومړی د ده بیوګرافي راواخیسته، بیا به د ده پر هغو نظریاتو لږ تم شم چې دی موږ ته د مینې، رڼا او غږ مبلغ او استازی معرفي کوي، وروسته تر هغه به د ځینو هغو قلموالو لنډ نظریات هم راواخلم چې د ده د فکر او ویلو د طرز پر څرنګوالي باندې یې خپل نظریات څرګند کړي دي او په پای به یې د کلام څو بېلګې هم راوخلم:

د جګړې، لوټ تالان، وینو تولو، له ژوند څخه محروومولو، رنګارنګ تاوتریخوالو... په ګرم بازار کې یو څوک پیدا شي چې د دې ټولو شیانو پرضد ودرېږي، یوازې د مینې ډال ورسره وي، د وفا شعار یې پر تندي لیکلی وي، د انسانیت پر لاره روان وي او د یوه غږ پلټونکی وي، تاسو به څه څوک ورته غوره کړی؟
زه خو د دې لارې یو سرسپارلی لاروی پېژنم چې هغه محمدانور وفاسمندر نومېږي.

انور وفاسمندر ته هرڅه ښکلي دي او د مینې په رنګ رنګېدلي. د خپلو خبرو، لیکنو او پوستونو په وسیله غواړي چې خلک د مینې او وفا بڼ ته ورروبولي او له جګړې او تولنیزو ناوړو اړیکو نه رازېږېدلي کرکه چې د خلکو پر عینې ژوندانه او ذهنونو باندې حاکمه ده، ورنه وتورې، د

کرکې توره پرده ورنه لرې او د مينې په سمندر کې يې ولمبوي.

د چيزفهمه خلکو د ژوند په دايره کې ذهنيت داسې دی چې: که خدای د ځلورګامونو په اندازه هم د ژوند کولو وخت درکړي، بايد په مينه کې تېر کړای شي، نه په کرکه کې. د وفا سمندر د فکر او باور انګړ ډېر پراخ، په ښکلاوو ډک او له انساني مينې مالامال دی.

انور ټول مينه ـ مينه دی، له هرې کلمې يې مينه راورېږي، هره وينا او هره ليکنه د مينې په لوښي کې وړاندې کوي، ځکه نو دی په ريښتيا سره د مينې او وفا يو رښتينی سرسپارلی سرتېری دی. دی به يو عادي عکس نه له خپل ذهن نه د راوتونکو کلماتو په وسيله د مينې داسې ښنه جوړه کړي، چې لوستونکی او ليدونکی اړ وي چې په شېبو ـ شېبو هغه عکس ته وګوري او څو ځلې د ده ليکلې جملې ولولي. دا يې د ليکلي پوست لنډ متن دی:

«چې ناست وې، ناست وې، ناست وې...
ټول عمر- د دې قصر هغه بره کړکۍ کې-
يوازې ناست وې،
او په بل مازديګر «هغه» راشي.
بيا دننه شئ؛
ديوالي‌بخارۍ ته ناست وئ،
د خسو- سکروټو قرصه‌هار وي؛
او تاسو يوبل، په سرو شغلو کې، په نځاه وينئ!
ښنګه مينه ليونتوب نه دی!!
کور يې ودان، دې عکس يو عمر مينه راباندې وکړه:



وفا سمندر هرډول ټپ د مینې د مرهم په کارولو سره رغوي.
دا د ده د خولې خبره ده:
«افغانان که په تن روغ هم وي، خو وروستیو ناخوالو او جګړو د دوی ذهن، زړه، احساس او عواطف ټپي کړي او دا ټپونه یوازې د مینې په وسیله جوړېدلای شي...»
وفا سمندر د یو چا د بریا مبارکۍ ته هم د تورو او کلماتو کاروان په مینې باروي او بیا هرکلي ته ورځي، په ریښتیا چې دی د مینې مبلغ او استازی دی:
«د مرغانو د اواز او الوت په دې بندیز بندیز دنیا کې، فریحې نوزادي، په کوربندوافغان‌پېغلو لپاره، زیری راوړ:
زما د څه باندې څلورو لسیزو، یار، ملګري او انډیوال، احمدجان‌نوزادي، پر خپله فسبېوک‌پاڼه، دغه عکس سره کښلي

و، چې لور یې (فریحې نوزادي) د انګلستان له یوه مشهور پوهنتونه، د عامه روغتیا په برخه کې، ماستري ترلاسه کړې!
د نوزادي کورنۍ، سترې، ځېلي او په غمونو کې ډوب هلمند او غمو غوبل کړي افغانستان ته دې دا ښادي مبارک شي!
د دې په هیله، چې د افغان نارینه تریخ ځیګر، د خدایي مینې او رحمت په باران، د تعصب او کرکې له سرطانه پاک شي.
او ښځه د انسان په قد برابره، د ژوند، زدهکړو او کار دنیا ته راووځي!»
وفا سمند په ټولنه کې هره پېښه چې وغواړي، راایخلي د خپل فکر په لابراتوار کې یې اچوي او د افغان انسان نیکمرغۍ او د وړاندې تګ په موخه یې رنډوي (صیقل ورکوي) او بېرته یې د خلکو په مخکې ږدي، دا لاندې یې یوه ببلګه ده:
«پکتیکاوپکتیاوخوست، په نوي پاڅون سره، تر سپوږمۍ، تېزه رڼا، د افغانانسان پر خزان، خزان ذهن او زړه راخوره کړه.»

وفا سمندر یو ځلې د مینې د ویش په باب داسې ولیکل:
«د مینېکولو جنت:
«لومړی ګام
عشق پېلوم. مینه کوم. ځان په ټوله هستۍ کې خوشې کوم.
نغواړم څو منه غوښه، څو لاستي هډوکي او فقط یو دوه منۍ پیپ سره وینه پاتې شم.
سرنوشت یوه کلمه ده: مینه، مینه، مییییییییییییییییییییی...نه!
بې مینې نشته. خدای چې شته؛ مینه شته؛ او په مینه شته.
مینه یې ورکوي. مینه ځان وېشي.
ژوند بې مینې نشته. او مینه بې ژونده نه ده. ځکه نو ژوند مینه ده او زه غواړم هر خدای پیدا کړی ته مینه ورکړم، مینه واوروم، مینه شم.

غواړم عشق او مینه یوه یوه ته و اورم؛ دومره چې هر غبر او حرکت، او فکر او عمل مې مینه شي .
دا هغه وخت شوني ده، چې مینه کې اوبه شم، مینه شم او د ځان په نامه یو نوم، یو ویاړ، یو دیوال او یو شهرت و نه اوسم.»
د جګړې په داسې یو ماحول کې چې له سمې او غره نه، له بوټو او ونو نه د وینو او باروتو بوی جګېږي، د وفا سمندر له ژوند ښونکو افکارو او لیکنو نه، د مینې او وفا وږم د خلکو پزې او ذهن ته رسېږي؛ دا یو الهي نعمت دی.

دا يې بله بېلګه:

«د مینې خاوره
١
په ګډه يې اورو:
«د مینې خاوره غږ ده، کلمه ده او د ابدیت له عاشق سمندره را روانه ابدي نغمه.
تورو (حروفو) کې چې مینه (پو) نه کړې، نو شنډ دي؛ د مینې لیاقت نلري.
مینه ده، چې د حروفو اندامونو ته د مینې سا ور (پو) کوي.
که مینه نه وي، حروف په جنګیالیو نومونو بدلېږي.
که مینه نه وي، حروف، کلمې، ادبیات...د جنګ په فرمانونو بدلېږي.»
مینې اکادمېسن
(د مینې اکادمی باغ) څخه
یادونه:
(د مینې اکادمی باغ) او څو نور کتابونه، چاپ ته چمتو شوي، نو چې څه وخت د خدای تعالی اراده وه، چاپ به شي.»




وفا سمندر د خپلو ورځنیو مینه ناکو پوستونو په لړ کې یوه ورځ داسې پوست خپور کړ چې د ټولو مینو یوه ټولګه په کې راټوله ده، وګورئ:

«پر زخم زخم زړونو او حواسو مو، د مینې یو تندباران وشه!»

د وفا سمندر د پاسني انساني شعار په کامنټ کې ما داسې ورته ولیکل:

«د کرکې پر ځای مینه داسې خپرېدای شي:

«پر زخم ـ زخم زړونو او حواسو مو، د مینې یو تندباران وشه!»

ډېره مننه انور جانه، وفا سمندر جانه! 🥰 »

دا يې يو بل پوست دی:

«زما ښاغليه، زما اغلې!

عجب وخت يې دی، چې په دې شنه سهار، خپل زړه و ذهن کې انبار انبار د ګيلو، شکايتونو، نفرتونو...خځلې، راوباسو، د باد وزرو ته يې ورکړو، چې يو مخ يې له ځان سره يوسي!

راځئ وښيو چې موږ ژوندي، تازه او نوي انسانان يو!

راځئ وښيو چې د بخشش، ورکړې (که نور څه نلرو، يوه خوله خندا خو مو په وس کې ده!)او مهربانۍ اولنمرګان يو!

ټول کار دادی:

د نورو وګړو-هغه که باکتابه دي يا بېکتابه - اخرت، خدایتعالی ته وسپارو،

او دنيايي چارې تولملو بشري قوانينو تر چتر لاندې سرته ورسوو!

د ژوند او بخت مدينه همدا ده.

ډېره يې مه ذهني کوئ، ژوند کولو ته را زړور شئ!»

د مينې تر همدې پوست لاندې مې د مننې په دود دا لنډ کامنټ ورته وليکه:

د مينې او وفا استازيه!

کور ودان چې په دې شنه سهار کې دې د مینې او وفا په سمندر کې ولمبولوو.

وفا سمندر په ټولنه کې د مینې د خپرېدو لپاره داسې لیکي:

کلا؛ د ډار سندوک!
له هغې ورځې، چې «انسان» د انسان ښکار ګرځېدلی دی،
انسان، د کلا، برج، بالاحصار، چپن‌دیوال
او نور دېوالونه، پر ځان راتاو کړي.

زمکه؛

د انسان د خرپ‌وترپ سور میدان دی!

تر هغو چې زړه عقل فتحه کړي: «نه په چا کار لرم؛ نه به څوک کار راباندې لري!»

زړونه مو په څه هوا کې دي؟

بې‌مېنې زړه، نشته؛

نو مینې ته زړور شئ!»

دا د وفاسمندر د یوې بلې ورځې لنډ پوست دی:

«بیا وایم: خپل مبارک ځان، د بدکردارو د بدیو په ډېران مه بدلوئ!»

ما آصف بهاند د همدې مطلب په کامنټ کې داسې ورته ولیکل:

«د وفا سمندره!

له تاسو نه ډېره مننه چې د خلکو د ذهن په کرونده کې د وللو او سپېځلو افکارو زړي کرئ.
بریا مو په برخه،

وړاندې ځه!»

عام نظر داسې دی چې ژباړه له يوې ژبې نه بلې ژبې ته د پوهو او تجربو د لېږد او د ژبو د غنا ښه وسیله ګڼل کېږي، خو وفا سمندر د ژباړې مینه‌وال نه دی. يوه ورځ يې د تیلیفوني بنډار(۲۰۲۳/۰۶/۱۰) په ترځ کې عجبه نوې خبره راته وکړه:

«ژباړه د تخیل قاتله ده او په درنه سترګه نه ورته ګورم.»

خو کله داسې هم شوي چې له پاسني نظر سره ـ سره يې ژباړې ته زړه ښه کړی دی او ځينې شيان يې ژباړلي دي:

ـ د «کودکان نور» په نامه کتاب يې له فارسي ژبې نه پښتو ته د «د رڼا کوچنيان» په نامه ژباړلی دی چې چاپ شوی دی،

ـ «تېر ژوندونونه، خوبونه او د روح سفرونه» چې نه دی چاپ شوی.

(آرزو عظیمي، د غږ نقاش (د محمد انور وفا سمندر د ژوند او لیکوالی هنر په اړه یوه لنډه څېړنه(، دويم چاپ، ۱۳۹۶ ل کال، ۵۰ ام مخ)

د وفا سمندر هرېل او هره ايستونکې ساه، له مينې سره مل ده، دا مينه دی د ټولو لپاره غواړي او وايي چې د ټولو خلکو ژوند بايد له مينې سره پيل شي او د مينې په ملتيا تېر شي. د

دې خبرې ثبوت يې په ډېرو پوستونو کې ليدلای شئ، دا يې يوه بېلګه ده:

«... نوې ورځ، نوی ژوند دی.

ويښ بايد واوسو، چې هرڅه پخپل فکر کې پالو، يا يې بل ته وايو، يا عمل پرې کو، بېرته موږ ته راګرځي.

څومره به ښه شي، مينه واورو، مينه ووينو، مينه ترلاسه کړو!

دغسې به وشي؛ خو چې ذهن، حواس، چلندونه او کړنې مو د مينې له جنسه جوړې وي!

مينهکول، د خدمت معنوي بڼه ده.»

د دې کرښو ليکوال وفا سمندر ته د پاسني مطلب په کامنت کې داسې وليکل:

«د وفا سمندره، د مينې استازيه!
د نفرتونو په دې اړودوړ کې دې د مينې ځپې خورې او برلاسې غواړم؟»

ده بېرته د مينې په الفاظو دا ځواب وليکه:

«قدرمن بهاند صاحب!
پر ژوند او بخت مو د مينې سپينناور، زرغون واوسه.»

دا يې د تېرو مينهناکو پوستونو په لړ کې څو نور پوستونه دي:

«... زړه دې چې په خدايي مينه ډک شو، بيا نه د ځان او جهان لپاره، د مينې يو ستر باغ يې!
راځئ، له دې شيبې، د مينې‌باغ واوسو!»

«عاشق بودن فتح هستی است.
چقدر لذت دارد، وقتی احساس می‌کنید، عاشق هستید!
عاشق می‌باشید و روی زمین هیچ دشمنی ندارید!
عشق انقلابی است که همه‌ی زندگی آن را جشن خواهد گرفت!»

دې باسني مطلب ته ښاغلي اسماعیل لاروي په کامنټ کې داسې ليکلي دي:
«ستا اخلاص دې په ټولو ژوندې سرو کې عام شي.»

«زموږ ملا غوټه ماته ده!
داځکه ماته ده، چې غواړو، ټوله دنيا-ټول وګړي- د ځان په رنګ کړو!!!
که په دغه فکر، دغه باور، دغو اخلاقو ادامه ورکوو، په خدای که روغه ورځ ووينو!!
راځئ زما هم يوه نيمه ومنئ؛ له نورو به تېر شو؛
نور به خدای ته وسپارو؛
نور پوه شه او خدای پوه شه؛
ځان به جوړ کړو!
را سره غږ کړئ: نه د چا په دين، نه يې په دنيا کار لرم!
راځئ نن له ځان او يوه يوه وګړي سره په روغه کې ژوند وکړو!
وينئ، وسلې او جګړې د انسان‌نفس جوړې کړي، رواج کړي او په فرهنګ او باور اړولي دي!
عکس پخاطر!

که زما پخاطر نه وي، ددې ماشوم پخاطر، د یوه بل له سر، ازادۍ او مال څخه لاس اخلو!»

**د مینې اکاډیمۍ تاریخچه او بنسټ ایښودونکي:**

په داسې جګړه ځپلې ټولنه کې لکه افغانستان چې له هرلوري کرکه، مرګ او وینې اوري، وفاسمندر په داسې چاپیریال کې «د مینې اکاډیمي» جوړوي او د خپلو همفکره ملګرو په ملتیا غواړي چې د کرکې او جګړې په چاپیریال کې مینه وکري او د رڼا بزغلي کښېنوي.

یوه ورځ (۲۰۲۲/۱۲/۱۳) یې د همدې اکاډیمۍ په باب داسې ولیکل:

«مینه اکادمي او د عشق نوی مزل:

مینه‌اکادمي، چې د ۱۳۹۷کال په پسرلي کې، د وخت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نه د جواز په ترلاسه کولو، رسمي فعالیت پیل کړی و؛ د نظام له نسکورېدو سره، افغانستان کې خپل فعالیت په رسمي توګه پاتې ورساوه؛ خو دادی نورې خدایي زمکې یې د فعالیت پرمخ غېږه پرانستې.

د مینه اکادمۍ بنسټګر پلاوی: (محب جهاني، سیال یوسفي، نثار ژوند، ناصر عظیمي، دیاسنګ انجان، بي‌بي‌ماه احمدي، صدیق جهاني، اسمعیل اشنا...) او نورو مینه‌ګرو ورونو او خویندو، افغانستان کې، د مینه‌اکادمۍ په څو کلن عاشقانه مزل کې، ګام ګام په مینه او لورینه برخه را سره اخستې.

افغانستان کې د (مینه‌اکادمي) فعالیت په څو ټکو کې:

۱) د مینې او لورینې په اړه، سمینارونه ورکول،

۲) راډيويي پروګرامونه جوړول،

۳) د رسمي ارګان په توګه (برکت) نشريې چاپول،

۴) شپږ عنوانه کتابونه (خدای شته/ د مينې اکادمۍ باغ/ د درک شپېږ/ د حال ابدیت/ غږ د کلمو روح/ او دعا ځانسپارل دي) چاپول او وړيا وېشل. او داسې نور کارونه.

یادونه: د مینهاکادمي ټول فعالیت وړيا او د خپلې خوښې له مخې و او له دې وروسته به، بهر له هېواده دغسې وي!

مینه دې ژوندۍ وي.

او «یار زنده صحبت باقي.»

د وفاسمندر له پوستونو څخه ښکاري چې د ده یو کرکټر «عشقاکادمیسین» دی او کله، کله د هغه/هغې له خولې نه روایتونه کوي. یو ځل یې د «عشقاکادمیسین» په حواله داسې یو څه په خپله پانه کې راکاپي کړي وو چې له حقیقت او مینې مالامال وو. هغه پیام داسې و:

«دوزخ زموږ خپل کاږهواږه فکرونه او عملونه دي، چې ببرته خپلې غاړې ته رالوېږي!

نو جنت هغه مینه-لورینه ده، چې موږ نورو سره کړې او کوو یې!

څومره دې، چې زړه پراخ و، جنت دې هم پراخ دی.

څومره دې چې فکر، زړه او احساس ښایسته و، جنت دې څو چنده زیات دی

ته که له ځان سره، نورو سره او خدای تعالی سره په روغه شې او هر کار په مینه وکړې، ټوله دنیا به تا سره په مینه شي.

اوس دې خوښه، چې خپل ذهن، خپل زړه او خپل زور، په څه شي لګوې.

دوزخ یا جنت، ستا خپل انتخاب، خپل هوس او خپل زحمت دی!»

(عشق‌اکادمیسین تازه مسیج)

ما په ځینو ویبپانو کې د محمدانور وفا سمندر لیکنې له نظره تېرې شوې دی، دلته به یې د څو بېلګو سرلیکونه یاد کړم:

تاند:

«ژوند مینه ګره بوړبوکی»

تاند:

«د خدمت فلسفه»

تاند:

«د بل بدلولو دوزخ»

تاند:

«ژوند مینه ګره بوړبوکی»

کابل‌نات:

«هغه مجروح وه؛ زه څه ولیکم؟!»

هشت‌صبح:

«مولانا، شمس او د روح سفر»

تاند:

«د نور او معرفت سمندر»

ازادي‌راديو:

«ایا د افغانستان اوسنی چاپیریال د ماشومانو لپاره مناسب دی؟»

هشت‌صبح:

«ژوندی عرفان»

اغلي ارزو عظیمي د محمد انور وفا سمند پر ژوند او افکارو باندې د لیسانس دورې مونوګراف په چوکاټ کې خورا په زړه پورې لیکنه کړېده، چې سرلیک یې دا دی:

«د غړ نقاش، د محمد انور وفا سمندر د ژوند او لیکوالی هنر په اړه یوه لنډه څېړنه»

دا غنیمت او د قدر وړ کتاب تراوسه دوه ځلي چاپ شوی دی. په دې اثر کې په‌خورا هنري ډول د وفا سمندر ژوند له زماني پلوه په څو لسیزو کې تر کتنې او څېړنې لاندې نیول شوی دی او په هره لسیزه کې د سمندر په هنري ژوند کې راغلي

هنري بدلونونه څېړل شوي دي. اغلې ارزو عظیمي د فا سمندر د هنري سفر تکاملي بهیر څېړلی دی او په خورا لوړه هنري ژبې سره یې داسې انځور کړی دی لکه یوه ماهره استاده چې وي:

ــ شپېتمه لسیزه،

ــ اویایمه لسیزه،

ــ اتیایمه لسیزه،

ــ نوي یمه لسیزه.

د اغلې ارزو د کتاب (د غږ نقاش) په یوه برخه کې د وفا سمندر په باب داسې لیکل شوي دي:

«ښاغلی محمد انور وفا سمندر د عرفاني مطالعې ځانګړی اتل دی. ځوان او با استعداده محمد انور وفا سمندر د لنډو ادبي ټوټو، داستانونو، ناولونو، رمانونو، ژباړو، تحقیقي، تخلیقي، علمي مقالو داسې نوښتګر، ارت نظره او ژورخیاله سمندر دی، چې د ادب د دریابونو ډېر لږ ملاحان اومانېوګان به یې د پوهې تل ته ځان ورسولی شي. د ښاغلی محمد انور وفا سمندر نوم د لیکوالو او فنکارو په لړ لیک کې له ۱۳۶۹ ل.ل
)۱۹۹۰ع) کال څخه راپه دېخوا مشهور شو .د ښاغلي سمندر صاحب ځانګړنه په دې کې ده، چې دی تقلیدګر لیکوال نه؛ بلکې نوښتګر پنځوونکی دی. دی لکه ماشوم او کمکی زلمی د چا پېښې نه کوي، د چا پر پلونو قدمونه نه ږدي. هغه چې له ذهنه، او بشري مکتبونو ستړی شو، نو بیا یې د زړه په

پښتو تګ پېل کړ او ما ته هغه د زړه په پښتو روان موجود برېښي.»

(آرزو عظیمي، د غړ نقاش، د محمد انور وفا سمندر د ژوند او لیکوالۍ هنر په اړه یوه لنډه څېړنه، دویم چاپ، خپرندوی: مینه‌اکادمي، ۱۳۹۶ ل کال، ۹ ـ ۱۰ مخونه)

لکه څنګه چې په کوچنیانو باندې، په ډېرو کې ـ په جوماتونو یا کور کې د سعدی ګلستان او بوستان لوستل کېدل، په محمد انور باندې هم د دوی کلي ته راتلونکي بنجاره محمد عزیز راوړي کتابونو (دختر یتیم، دختر همسایه او جنایت بشر فارسي پولیسي ناولونه) ولوستل شول او د راتلونکې لیکوالۍ زړی په کې وکرل شو.

دا د محمد انور وفا سمندر د خپلې خولې خبره ده چې ما (آصف بهاند) ته یې کړې چې د یادو پولیسي ناولونو لوستل دومره اثر پرې وکړ چې د هنري ادبیاتو د تخلیق زړی یې د ده په ذهن کې وکاره، لومړنی ناول (بنیادمان) یې ولیکه او یوه مجرب لیکوال عبیدالله محڅک ته یې د دې لپاره وسپاره چې هغه یې د خپلې هنري تجربو د څراغ په رڼا کې ولولي او بیا ده ته خپل نظر ووایی، هغه لیکوال هم ولوست او ده ته یې وویل:

«زلمیه دا دې لومړی لیکنه ده؟»

او بیا یې د هنري نثر لیکلو ته داسې وهڅاوه چې د محمد انور په ذهن کې د لیکوالۍ کرل شوی زړه نور هم راټاند شو او ډېرې ښانګې یې راوټوکولې.

د محمد عزیز بنجاره کتابونو پر وړوکي انور ژور تاثیر وکړ او د محمد انور ذهن به تل له بنجاره او د هغه د کتابونو له محتویاتو سره لوبېدل، محمد انور دا لوبېدونکي فکرونه د خپلو هنري لیکنو د لومړنیو تجربو په ډول د کاغذ پر مخ میلمانه کړل، خو له بده شامته چې د انور هغه کرښې د حوادثو بلاوو ونغرلې او یادونه یې یوازې د زلمي انور د ذهن په کنډوالو کې د ناپېژاند باد په څپر داسې شپېلۍ غږوي چې یوازې انور یې اورېدلی شي.

محمدانور وفاسمندر له سیاست نه ځان لرې ساتي او تل د مینې په سمندر کې وفا لټوي، خو ژوندپېښې یې داسې وایي چې په ځوانۍ کې یې سرو بادونو پر بدن باندې سرې نونکۍ راخېژولې وې، انور د خپلو فکري بدلونونو په لړ کې په چټکۍ سره د وفا او رڼا واکسین وکړ او له سرو نونکیو نه یې ځان خلاص کړ.

اغلې ارزو عظیمي د «غږ نقاش» په کتاب کې د وفا سمندر د ځرګندونو په لړ کې یو ځای د ده له خولې داسې روایت کړی دی:

«وفا سمندر، خپله وایي، چې د هر هنري اثر له بشپړولو سره یې، ګڼله، چې دا یې د تخلیق او ادبي کار اوج او د پای ټکی دی؛ خو هغه وایي، چې زما لپاره تل بل ګام شته، ځکه نو له دومره لیکنو او پنځونو سره ـ سره، هغه خپل هري کار تازه او نوي بولي. دغه مهال چې وفا سمندر په رسمي ډول د سیمه ییزه اورګانونو له خپلواکه ادارې سره کار کاوه او لا کار کوي، د هغه لیکنو له سیکالوجیک رنګ نه عرفاني-معنوي رنګ ته ځان بېل کړ. اوس هغه د نوي، تازه او خلاق عرفان د یوه لاروي په توګه، د هنر په ژبه، د معنا تازه

ځېرې، په خپل ښکلي نثر سره نقاشي کولې، او د بېلابېلو کتابونو په بڼه يې له چاپه راوېستلې.

(آرزو عظيمي، د غږ نقاش، د محمد انور وفا سمندر د ژوند او ليکوالۍ هنر په اړه يوه لنډه ځېړنه، دويم چاپ، خپرندوی: مينهاکادمي، ۱۳۹۶ ل کال، ۴۸ ـ ۴۹ مخونه)

**درې کتابونه، درې پیامونه:**

د وفا سمندر د کار طرز او د فکر ځرنوګوالی ترډېرو پورې. د ده په ورستيو درې چاپ شوو کتابونو کې ښه ځرګند شوي دي:

ـ د بل بدلولو دوزخ، (چې په تېرو ځلوېښتو کلونو کې د «قتل جرم » تر پوښتنې او نقد لاندې نيسي.)،

ـ د ځان موندلو برزخ (د نورو په ژوند، ازادۍ او برخهليک کې ځوک بايد مداخله او قضاوت ونکړي.)،

ـ د مينې کولو جنت (مينه په مينه کولو تر لاسه کېږي).

محمدانور وفا سمندر له بل چا سره نه شي پرتله کېدلای، په دې چې د ده هرڅه خپل دي او د هېڅچا پر سبک نه دی روان، د تورو او کلماتو په اوډلو او کارولو کې ځانته جلا سبک لري چې تر ده پخوانيو ته هېڅ ورته نه دی. دی د کلماتو په يوځای کولو او ودولو کې ځانګړي منحصر په فرد سبک لري، عادي خبرې هم په داسې ډول ليکي چې يوازې د ده د سبک او فکر استازولي کوي. د ساري په ډول يې دا څو جملې ولولئ:

لومړی مثال:

«بختور به هغه وخت وم، چې زړه او فکر له مينې ډک کړم.»

*****

دويم مثال:

«غبړ او رڼا، د روح ويټامين:
که غبړ او رڼا نه وي، حيات پای مومي او هېڅ نه پاتې کېږي.
غبړ او رڼا د عشق او رحمت له بېپولو اقيانوسه را بهېږي او د هستۍ، ذرې ذرې ته ژوند ورکوي.
بېرڼا اوسېدلای شو؛ خو بېغبړه نه!
«غبړ» خدايي مينه، په ټوله هستۍ کې «پو/پف» کوي.
غبړ حيات دی او د لښتې د غاړې له چنجي نيولې، تر بنيادم، تر غره، تر لمر، تر ستوريو او تر کهکشانونو، ټول په خالص غبړ ژوندي دي.
شعر، هنر او فکر د غبړ ذهني- رواني بنې دي.
طلاييغبړ، د طلايي زړه په غوږ اورېدلای شو؛ مين واوسئ.»

وفا سمندر کلمې د موسيقي نغمو او څپو ته نخوي او خپل غبړونه داسې نقاشي کوي چې ځينې يې ژر درککولای شي او ځينې لا تردېرو نه پرې پوهېږي. د سمندر د کتابونو نه نيولې، بيا په ټولنيزو رسنيو کې تر يوه واړه پوست پورې، چې څومره يې لولې دا ثابتيږي پرکومه لار باندې چې سمندر روان دی، هغه د انسانيت لاره ده، د سمندر افکار د مدرنې نړۍ له فکر او قوانينو سره په ټکر کې نه دي، بنايي د افغانستان له دوديزې ټولنې سره يو څه ستونزې ولري، خو

زه فکر کوم چې سمندر يې دومره خيال نه ساتي، دی ارام او متين له تينګ هوډ سره پر خپله لاره روان دی.
وفاسمندر هرڅه ځانته ليکي او لومړنی مخاطب يې ځان دي، دی هېڅوک نه ردوي او قضاوت هم نه پرېږ کوي، د بل ردول ښه نه ګڼي.
مخکې هم يادونه وشوه چې ارزو عظيمي «د غړ نقاس» د وفا سمندر پر ژوند، افکارو، اثارو او د استدلال پر څرنوکالي باندې ليکلی دی، د کتاب په پای کې اغلې ارزو يو نوی او مهم نوښت هم کړی دی او له وفا سمندر سره يې يوه مرکه کړې ده. دا مرکه د ۱۴۰۲ ل کال د وري په اتلسمه (۱۸مه) په « ۸ صبح» کې
هم خپره شوې ده. دلته به د مرکې ځينې برخې راواخلم، د مرکې دا پوښتنې او ځوابونه به له يوې خوا د ځينو لوستونکو په ذهن کې راپيدا شوو پوښتنو ته ښه ځوابونه وي او له بلې خوا به په لنډ ډول د انور وفا سمندر د طرز تفکر پېژندنې څرک هم په کې وموندل شي:«

ارزو: وفا صاحب! خبرې دې سپينې مرغلرې دي، ستا خبرو سره د سړي زړه اشنا ښکاري؛ خو ذهن نه وربانديږ پوهيږي. ته دا منې؟

وفا سمندر: ذهن!!! لا تېر کال ما د (بل بدلولو دوزخ) پسې د (ځان موندلو برزخ) ۴۸ ګامونه وليکل او هلته دا زما دعوه وه، چې د هر وګړي ذهن يو کمپيوټر دی، يوازې په دومره توپير سره، چې د ځنو کمپيوټرونو حافظه زياته د ځنو کمه، ځنې يې زياتې وړتياوې لري او ځنې بيا لږې وړتياوې لري. خو ټول ذهنونه، پر انسان سپاره کمپيوټرونه دي...

**ارزو:** که سږی وغواړي ستا ټولې لیکنې په دوه درې کلمو واړوي، نو یوازې «غړ، رڼا او مینه» پاتې کېږي. غړ، رڼا او مینه زړه ته اشنا دي، د زړه خوښېږي، خو بیا هم څوک ښايي ستا په مقصد پوه نشي...تاسو په دې کلمو کې څه لیدلي؟

**وفا سمندر:** زه د غړ او رڼا د مکتب شاګرد یم. په دغو دوه درې کلمو کې ټوله انرژي را ټوله ده. زما لپاره تر الهي غړ او رڼا بل نیږدې او حاضر حقیقت نشته...وېرېږم زما خبرې بل ډول تعبیر نشي! ښه ته یوه سپېڅلې پېغله یې، کټ مټ لکه خپله پېغله لور مې داسې یې، نو له تا یې نه پټوم، موږ تاسو هر یو، خدای غواړو. د هر ژوندي سرنوشت خدای ته ورتګ دی. نو هغه باید پیدا کړو. هغه باید ولټو. هغه ته باید ځان ورسو. خو خدای په لور نه د سړک لاره ورغلې، نه الوتکه ورتللی شي، نه سپوږمکۍ او نه څوک د پخوا په شان د اوښ یا آس یا فیل په سپرلۍ، د هغه سپېڅلي ټاټوبي ته ځان رسولی شي.

**آرزو:** دا خو ما اورېدلي او لوستي دي؛ خو تاسو څرنګه غړ او رڼا یادوئ؟

**وفا سمندر:** ما وویل، چې زه د کلمې یا غړ او رڼا د مکتب شاګرد یم. زه یو لاروی یم. ما ځان خدای ته سپارلی او پرته له خدایه، هېڅ شی راته حقیقي نه برېښي. دا دنیا ماته د خدایي غړ او رڼا څېره- ښه ده ووایم څېرې- ښکاري. که خدایي عاشقانه نعره نه وي، دنیا یوه شېبه هم نشي پاتې کېدای. او دا راته زړه وایي. خدایي غړ را اوري، دغسې یې د الهي نور وړانګې پر هستۍ او نیستۍ را خورې دي؛ نو ماته د غړ او رڼا له تجربې زیاته حقیقي پوهه بله په نظر نه راځي...بیا

وایم چې زه د کلام شاګرد یم. د هېڅ شي دعوا نلرم او نه مې په وس ده...

**ارزو:** دې خبرو دې په چرتونو لاهو کړم...ښه اوس د عشق یو څه ووایئ...زموږ په کلتور او خوی او عادت کې خو عشق د دوه نااشنا ځوانانو شدیده عاطفي رابطه بلل کېږي. تا ته عشق څه ښکاري...دا ځکه وایم، چې ته خو زما د پلار پر ځای یې، خو بیا هم په دې عمر د عشق چیغې وهې...دا ولې؟

**وفا سمندر:** عشق: ارروزجانې! عشق نه ده د وېلو... زما شعرونه یا د چا کلام په یاد نه پاتې کېږي، خو د رحمان بابا دا یو په زړه را شین دی، او دومره مې وېلی اوس یې تاته هم وایم:

**«دا دنـیـا ده خـدای له عشق پـیـدا کړې**
**د جملـــه و مخلوقـــــاتو پلار دی دا»**

تېرو کلونو کې ما ډېر ولیکل او نور ځان سره موافق شوی وم، چې د حقیقت ورکه مرغلره یوازې په ډېرو لیکلو نه موندل کېږي؛ نو باید څه مهال څه ونه لیکم؛ خو چې په خپل چاپېریال، خپلو خلکو، خپلو خویندو ورونو، مشرانو او کشرانو په ژوند مې نظر وځغلاوه، نو یو مخ راته د مینې لوږه را تر نظره کېدله. ما ومنله، چې خلک مې، مشران او همزولي مې، سخت د مینې تږي دي. نو باید مینه وشي. او تاسو به دا را سره منئ، چې انساني محدودیتونه، دا فرصت نه راکوي، چې یوه یوه ته خور شې، وررور شې، اولاد شې، پلار شې... او د ژوند او سرنوشت ښکاره او پټ زخمونه او دردونه یې ورته تکور کړې؛ نو بیا مې د لیکنې لاره ونیوه

او (میني کولو جنت) باغ مې د خپل زړه په سپین اور را پوخ او دغې میني ته ترې نفوسي ټولني ته وړاندې کړ.

د میني په اړه فقط دوه حقیقتونه یو ځل بیا افشا کوم:

**یو:** مینه فقط په کولو تر لاسه کېږي،

**دوه:** مینه تر ټول برتر الهي قانون دی. او د انسان ذات- اروا- شته، ځکه چې خدای تعالی ورسره مینه کوي.

**آرزو:** له دومره ډېرې لیکوالۍ ستا لوی مقصد او مرام څه دی؟

**وفا سمندر:** په دې هڅه او تلاش کې یم، چې متن، نثر، کلمې دومره سپېڅلی، خالصې او سوچه شي، چې پرته له الهي عشق او سپېڅلې موسیقۍ بل هېڅ څه په کې پاتې نشي.»

اغلې ارزو د مرکې په پای کې د «وروستی یاددښت» ترسرلیک لاندې د وفا سمندر د ژوند، اثارو او افکارو تر مطالعې وروسته خپل نظر په لنډ ډول داسې لیکلی دی:

«د وفا سمندر په اړه له دومره مطالعې او دغې لیکنې سره بیا هم نه یم پوهېدلی، چې وفا سمندر څوک دی؟ څه وایي؟ څه غواړي؟ زه له وفا سمندر سره ډېره ناسته یم، هغه زما لپاره معنوي پلار دی، باور وکړئ، چې دومره مې هغه د هغه له خبرو او مجلسه موندلی، هغومره مې د هغه د اثارو په لوستلو نه دی موندلی. زه بیا بیا د هغه اثارو مطالعې ته ناسته یم. خو هغه تل له خپلې لیکلې پنځونې یو قد لوړ ودرېږي.

ځکه نو ښايي تاسو يوه ـ يوه ته هم غوره وي، چې وفا سمندر، فقط دغه شېبه وموميځ، دغه شېبه يې وغږوئ. او دغه شېبه هغه وموميځ، چې څوک دی؟ ولې دی؟ او څه خزانه يې له ځان سره راوړي؟ ځکه نو زما لپاره سخت برېښي، چې وفا سمندر تعريف شي. او دغه تعريف په يوه ادبي حقيقت بدل او نورو نسلونو ته پاتي شي. هغه شېبه په شېبه نوی رنګ راوړي. او دا يې «ځان» دی.

ښايي يوه لاره دا وي، چې دي کشف ته مورږ هر يو خپله متې را ونغاړو.» (د غرنقاش، ۱۶۴ ـ ۱۶۵ مخونه)

د وفا سمند پر ليکنو، اثارو او افکارو باندې ګڼوفرهنګيانو خپل نظريات د مقالو او په لمانځغونډو کې د ويناوو په ترڅ کې څرګند کړي دي، چې ډېره برخه يې توصيفي بڼه لري، خو د دې ترڅنګه ځينې قلموالو بيا د ده د سبک او طرز تفکر پر څرنګوالي باندې انتقاد هم کړی دی چې دلته به يې يادونه وکړم:

د وفا سمند په باب د نورو نظريات:

پوهاند ډوکتور مجاور احمد زيار د وفا سمندر په باب د «د يوويشتمې پېړۍ منصور» تر سرليک يوه مقاله ليکلې ده چې د ۲۰۲۰ م کال د فبرورۍ په اوه‌لسمه نېټه په تاند کې خپره شوې ده.

په دې مقاله کې زيار صاحب د وفاسمندر د ليکنو تر څو صفتونو وروسته، د وفاسمندر پر نوې فکري لاره باندې په ډېر تنده ژبه خپلې نيوکې داسې د وفا سمندر په ادرس داسې وړاندې کړې دي:

«د ځوان پښتسرلاري ، خوږ ژبی شاعرولیکوالو ژباړن او رسنوال (وفا سمندر) چې له نومهالي اروپایي مود و فېشن سره پرې د چا هېڅ باور نه راځي،د سېکولرېزم پرځای دېتر مولانا هم زیاته نږه اپلاتوني- اشراقیاو ان منصوري لیاره پسې واخلي!

څو ورځې وړاندې چې ګران او هڅاند سمندر د افغانستان په علوموااکادمۍ په خپل راتګ وپاسللم اویو پریوسره وغږېدو،دامنښته یې راته وکړهچې دخپلي ادبی او شعري وړتیا دلوړونېاو د یوې نوې ادبي، او بیاپه پښتو کې د نوښتګرانه لارې کښني په موخه تش په تیوریکي یا تاکتیکي، نه پراکتیکي توګه،بې له دې چې په کړن کې پرې وګروهېږي،د منډې له مخې تصوف ته مخه کړې او ځان یې پکې دومره ملا کړی چې څوک ګروهپلټونکی (محتسب) یې داتورتومت دېزې پېزوان نه کاندې: ((چې بې علمه شیخي کاندي، همدا کفر یې بس دی))!
... بیاهم په دې لړ کې دا لاندې څو علمي-منطقي (ولې)مخامخ د وفا صاحب مخې ته بږدم او ځني پوښتم چې که ته په دې یوویشتمه پېړۍ کې همدغه لوی زات خپل ځمکنی خلیفه دومره ذهني پرمختیایي پړاو ته رسولی چې الکترو نیکي تېکنالوژۍ رامنځته کړي، د ګمپیوټر ساینس له ارتو و بیرتو شاهکاریو په لړ کې تر مېس ربوټ( الکترونیکي کور مزدورې ) پورې ورسوي؛د بیولوژیکي انجنیرۍ په چوکاټ کې پروتو پلازم ورغوي او له DNAڅخه ژوي ځار وي راوپنځوي. او چې لا د همدې رواني پېړۍ په اوږدو کې انسانی ماغزه نورې څه معجزې راپنځوي، وار له مخه یې فرضیې، تیورۍ او وړاندوینې،خبرتیایي (انفارماتیکي) وزلې وسیلې (انټرنېټي

رسنۍ)، او ساینس فېکشنو نه پرلپسې ټولې وا قعي انسانی نړۍ ته رسوي؛ اکر داچې ته د مسلکی صوفیانو غوندې تراوسه پر تاریخ ځپلې دوه نیمزرکلنه ذهني ( sub jective)اپلاتوني فلسفه شخوند وهې او بیا یې تر هرڅه له مخه په ټول ښاخ و غر ور سپین سترګی داسلامي عیني (objective) فلسفې ځایناستې کوې، ایا ګرده اسلامي او بیا خپله پښتني- افغاني ټولنه په ځان پورې نه خندوې؟
او په دې لړ کې دا اپلتې(واهیات) څنګه په خدای راکړي ذهني سول اوسني خرد، نه ستا په (خرد قبلي) توجیه کولای شې:
د میلیونونو کلونو په پوړیو کې دا پر مختللی ژوند و ژواک له معجزه وزمه ذهني کارندوییو او بریاوو سره پر نشت شمېرل!
د زرګونو کلونو تمدن د ژبې له ایجاده تر نني معراجه له صفر سره ضربول!
تر وینده ژبې چې تمدن یې په مټ رامنحته شوی او له چوپتیا (سکوت)، په نورو ټکو، له ګونګېداسره دغه هرڅه سم له سمونې پر سیند و سمندر لاهو کول!
دا دومره ارته بیرته نړۍ له ټولو مادي او معنوي پرمختګونواو نعمتونو او خوندونو سره چې پر ځمکه د خدای خلیفه ( انسان) په کاروزیار رامنځته کړي او لا کوي یې،له نشته برابرول!
له ناخوالو سره د جنګ جګړې پرځای سمڅوته تېښته کول...
لکه، ستر خوشال چې وایي:
کښېنې په خلوت کې شیخه، سود یې راته وایه!
ولې پر خپل ځان دا هسې ارت جهان تنګ کړې؟

او داهم د یوه نوښتګر ټاپ پارسي شاعر او اندیالسید رفعت حسینی دامنطقي شننه او ارزونه:

عرفان وتصوف درافغانستان وایران وهند وپاکستان
اسلامگرایی /غیرعربی/ می باشد.
درتمام اینکشورها
رکودِ اجتماعی مشهود است .
گونه یی دیگر از باصطلاح، جهان بینی نیست
و دریچه وشیوهء دیگرگونِ اندیشیدن دربارهء هستی وکائنات و انسان نمیباشد.
د ملګرو ملتو تازه ګوزارش وايي چې ستا په نومَونه (مجازي) نیمه نړۍ، اوپه دې لړکې ستا نیم هېوادوال،د شپږ.و میلیونو ماشومانو په ګډون، همدا سړنی ژمی له مرګاني ولږې سره مخامخ دي او دغه سازمان متې تر نیمايي ژمي پورې مرسته کولای شي او ته بیاهم په خیالی اسمانو کې ددوه نیم زرکلنې اپلاتوني ببولالې راغبرګوې: دا هستي د زماناو مکان په قلمرو کې د خالص عشق انعکاس دی او...
(د غړ چینه ۱۶۶)!
او یا به وایې،له دې هستۍ سره تړلې هر راز ښې او بدې او په دې لړ کې ولږه تنده، ترهګري او مرګ و ژوبلې زموږ د خپل ذهن زېږنده ده. خو زه ګومان نه کوم، ته د ورته لیدتوګې ګروهن د هندوانو لسمه هومره ولږه تنده وزغملای شې چې له۶۰-۵۰ کلنۍ سره یې د روژې په نامه تر مرګه پورې نیسي او پرخپل اتکل ترتش په نامه اسلامي عارفانو مخکې فنا فی الهي پوړۍ ته رسېږي، که نه، لږ تر لږه جنت ته خو په یوه منډه ځان رسوي!
او بیا د دې پرځاي چې پر خپلو نوښتګرانه ادبي پنځونو وویاړې، په لوی لاس یې سپکه وړی کوې، لکه د(خدای شته)

په نامهپه کښلي سپین شعر سره (هماغه ټولګه ۱۸۰) او داسې نور.»

نجیب منلی بیا خپل نظر داسې څرګند کړی دی:

«منلی وايي چې د سمندر هرڅه په ابهام کې دي، خو کېدای شي یو وخت ځان بدل کړي او له ابهامه راوزي، منلی صاحب استدلال دا دی چې سمندر تر پخوا ښه شوی دی، مثال يې داسې ورکوي چې: هغه سمنر چې «بنیادمان» لیکلی دی، هغه سمندر نه دی چې «د غږ چینه» يې لیکلې ده.» (سمندر وفا، د غږ او رڼا لاروی، افغان مسلکي مطبعه، چاپکال: ۱۳۹۱ کال ژمی، ۸۴ ام مخ)

ډاکتر محب زغم:

«د ټول کتاب اصلي خبره دا ده چې «مینه په ویلو نه کیږي، مینه په کولو کې شته». سمندر د مینې یو ډول انساني، عرفاني، تصوفي او لامحدوده ښه یاودي چې جنس او جنسیت نه پېژني، په عمر نه ده تړلې، د رنګ پروا نه لري، قوم او توکم ورته بې مانا دي، انسانان په دین او مذهب سره نه بېلوي ... بلکې مینه «د هر انسان اول او اخر کار دی»، «د هر انسان هېر شوی کار دی»، «الهي غږ دی» ...
سمندر وايي «مینه هغه سپین اور دی چې سړی سوځي خو تور داغ نه پرېږدي.»، «مینه په کولو کې ژوندۍ ده، پرته له دې مینه نشته.»

فکر کوم سمندر غواړي یو ځل بیا د مولانا شیبلی (نای) راواخلي او کرکو کانه کړیو غوږونو کې د مینې هېره شوې نغمه وغږوي. دې دې نتیجې ته رسېدلی دی چې موږ ځکه د مرګ چوپړ وهو چې مینه مو هېره کړې ده، دلته ځکه سرونه

پرې کېږي، سترګې ړندېږي، زړونه راایستل کېږي، جسدونه سوځول کېږي، پېغلې او ژنې سنګسارېږي، د بمونو واسکټونه اغوستل کېږي ... چې مینه هېره شوې ده.

سمندر لا په خپل نثر کې هم شاعرانه تشبیهات کاروي: آصف دا یې بېلګې دي چې ډاکتر محب زغم د سمندر په «د مینې کولو جنت» کې په نښه کړې دي:

«د ګران وفا سمندر دغه کتاب سربېره پر دې چې د محتوا په لحاظ عالي دی او خورا انساني پیغامونه لري، په هنري لحاظ هم پهزړه پورې اثر دی. سمندر د یوه نوښتګر او شاعر طبیعته لیکوال په توګه خپل نثر په ښکلو ترکیبونو، تشبیه ګانو، استعارو او سېمبولونو ښایسته کړی دی. یو څو نمونې یې دا دي: کنسرو شوي او پاستوریزه فکرونه، سپینه پوهه، تل ژوندی، د شرم زغره، د شرم سیاه چال، د ایډیالوجۍ مسافر، عاشقانه نبوغ، مینه ګر، نفرتګر، مونث نارینه ګان.»

ډاکتر زغم «د مینې کولو جنت» له ښکلایز اړخ نه د رضایت تر څنګ د کتاب ژبنی اړخ هم ښه ارزولی دی او د خپل علمي بحث په ترڅ کې داسې وایي:

«همدارنګه د فعلونو تنوع ته پام کوي او عین مفهوم د مختلفو فعلونو په وسیله بیانوي: «سپین ته تور ولاړ دی، رڼا ته تیاره پته ده، غرونو ته درو خولې خلاصې کړې، ښه په بدو ککړ دي، مثبت ته منفي لاره نیولې، او مینه د کرکې په جبل کې خوب وړې.»
او دغه مرکبه جمله د جوړښت په لحاظ راته نوې ښکاري:
«ګلانو سرې شوندې غوړولې چې انساني ککړتیاوو خوسا کړې هوا، په خپل ګلابي تنفس سره پاکه او سوچه کړي.»

د دې جملې متعارفه ښه ښايي داسې وي: ګلانو سرې شونډې غوړولې چې هغه هوا چې انساني ککړتياوو خوسا کړې، په خپل ګلابي تنفس سره پاکه او سوچه کړي.
خو د ښاغلي سمندر جمله لنډه ده او د «چې» تکرار په کې نشته. دا ډول جملې په انګليسي کې شته خو په پښتو کې مې تراوسه نه وې ليدلې.
بل کمال يې دا دی چې په ځينو ځايونو کې يې فعلونه نوي کړي دي. مثلاً: «دا مې هم پر فيسبوک وموندل او پښتو توري مې ورواغوستل.»
يا په دې جمله کې: «پر دې متن مې زړه بايله، ما هم راواخست او پښتو ته مې راکوز کړ.»
د دې کتاب ځينې جملې په دې ارزي چې د مقولو او متلونو په شان وکارول شي، لکه دا:
- شيطان ځينو انسانانو ته د خپلو تعريف شويو ګناهونو لاسپاک دی...»

یونس اربن:

د دې کرښو د بيا کتنې په وخت کې وفا سمندر ما ته يو لينک راولېږه، په لينک کې د ده په باب د يوې جوړې شوې لمانځغونډې د يوې برخې ويډيو وه چې په هغې کې د انور وفا د ژوند ـ اثار او افکارو په باب، د ده يو کليوال ـ سيمه‌وال او ملګری ښاغلی یونس اربن خبرې کړې دی، د ښاغلي یونس اربن وينا دولس دقيقېڅلورڅلوېښت ثانيې وه او هره جمله يې ترمرغلرو ځکه ارزتمنه ده چې دی د انور وفا سمندر د فکر او فن ژورو ته ورښکته شوی، هرڅه يې په دقيق ډول مطالعه کړي او د انور وفا د فکر او سبک خلاصه يې په خپله وينا کې راخيستې ده. ياده وينا ډېره علمي او

هراړخيزه ده او هغه څه په کې ويل شوي دي چې د وفا سمندر د فکر او ليکنو ليدلورى ښيي. د يونس اړين له علمي وينا څخه ځومرغلرې د مثال لپاره دلته رانقلوم: «

ـ ... کره کتونکي وفا سمندر د کوم مکتب په تله کې نه شي تللى،

ـ په اوسنيو ليکوالو کې زه وفا سمندر د عدم تشدد فلسفې يو رېښتينى او يوازينى پلوي بولم،

ـ هغه ته د ټولو بنيادمانو وينه يو رنګ ښکاري،

ـ د وفا يون ډېر سپېڅلى او انسانى دى،

ـ هغه شيطان بېوطنه کول غواړي.»

## يوه سپارښتنه او يوه هيله:

دلته زه د دې خبرې يادول ډېر اړين ګڼم چې وفا سمندر يو ځل بيا بايد د هغه چا په باب سوچ وکړي چې د هغه کتابونو د ده د ککرې په ګومبزه کې د ليکلو تخم کرلى دى، وفا سمندر د محمد عزيز بنجاره په باب بايد بيا يو څه وليکي. کله چې وفاسمندر د خپلې ليکوالۍ په باب غږېږي نو په ټينګار سره وايي:

«... که محمد عزيز بنجاره نه واى، زه به دغه پوړۍ کې هم نه وم. ياد يې دومره را په کې شين پاتې دى، چې د ليکنې پيل مې پر هغه و. ۱۹۸۲ کال و. د پوهنتون له زده کړو سره مې يوه د سلو پاڼو کتابچه د محمد عزيز په باب ناول ته بېله کړه. کتابچه ډکه شوه، خو نه چاپ شوى او نه له ما سره شته!»

کله مې چې دا پاسنۍ جملې له ښاغلي محمدانور وفا سمندر نه واورېدې، د ټيلفون پر کرښه مې ورته وويل:

انورجانه!

وفا سمندرجان!

سپارښت يې ګڼې که هيله يې ګڼې، زه غواړم چې د بنجاره په باب دې چې هرڅه ليکلي وو، يو ځل بيا يې ولیکه، خو نه له خپل اوسني حالته، بلکې ته به ځان بيا هماغه وخت ته ستنوې، هغه وخت ته به خپل فکر بيايې چې د بنجاره په باب دې د لومړي ځل لپاره څه ليکلي وو، په هماغه بڼه به يې انځورې، چې په ځوانۍ کې دې انځور کړي و، د اوسني وخت فکر او تجربې به نه ورسره ګډوې.

دلته به «غږ او رڼا زما وزرې» کتاب څخه د وفا سمندر د شاعرانه نثرونو څو بېلګې :«

زما اراده نه، د خدای اراده دې ترسره شي.

۱

غږ د سکوت فعل دی. سکوت سوچه نه تالیف شوی غږ!
سکوت ټول غږونه په ځان کې لري.
سکوت يو دی او غږونه يې نومونه،
پرته له دې غوږونه نه ورته خلاصيږي.
موږ «غږ» نه اورو؛
نومونه يې اورو، چې د ذهن ماشين ورته اختراع کړي.
نو زموږ غږ؛ غږ نه دی، هسې يوه تياتري لوبه ده،
زه د «زه» او زه ترمنځ واټن پر دغې نشه تېروم!

هغه فزیکي غږ چې غوږ کې خلاص شوی،
هغه وچې، کلکې، پلاستکي، لرګیني، اوسپنیزي، نقره¬يي
او...نانځکې دي،
چې تمدن يې راوباسي،
او زما شخصي زمانه یې د خرڅلاو بازار ګرځي.
زه یې ولې اورم؟
تشه ډکېدل غواړي!
وږی مړېدل غواړي!
نوم لیکل کېدل غواړي!
...
زه به تش وم؟!
زه تشه یم!
غږ، نوم را باندې لیکي.
زه په غږ کې خپله تشه وژنم.
زه په غږ کې خپل سکوت ماتوم.
غږ زما شراب دي.
زه کنډو، کنډولی؛
د غږ لاره؛
آواره؛
دښته؛
پانه،
...
تر هغه چې یوې مور زېږولم، زه چېرې وم؟
تر هغه چې یوه پلار نومولم، په څه نومېدلم؟
تر هغې چې د کلي، قوم، دود، تاریخ واسکټونه او خولی یې
را اغوستلې؛
پر سر را ایښوولې

زه څه وم، څوک وم؟؟؟

❋❋❋

۲

د کمپیوټر کړکۍ ته ناست وم؛
د ونې یوې پاڼې سره مې لیدل!
پاڼې خپله ټوله ښکلا او ځلا د خدای په نوم خوشې کړې وه؛
پاڼه تشه جالۍ وه، نه شنه او نه هم ژوندۍ!
د پاڼې کالبوت تار، تار سره نښتی و، ژوند یې نه و!
ژوند خدایي دی؛ خدای ته ورځي!
دنیا وچ، تیاره او تار تار کالبوت پاتې کیږي.
خدای شته؛ خو چې ذهن را پر سر نه وي، راسپور نه وي؛
مرګ پیدا نه کړي!
«هغه» دی؛ خو چې ذهن (ځای) خوشې کړي؛
خو چې زه خپل کارونه له تاریخ څخه راټول کړم!
...
دومره څه و، چې پرته له دې درې ټکو په هېڅ څیز کې نه ځایېدل.
ټکي، نه وېل شوې کلمې دي.
ټکي د کلمو له شکله، له حالته الوتي!
ټکي په خدای خبر دي، ځکه کرښې، هندسې او تبصرې نه جوړوي.
خدای شته؛ نور څه دي چې باید ووېل شي!
خدای شته؛ زه څوک یم چې توضیح ورکړم!
خدای شته؛ نو هېڅ څیز نه شته!
ما څه ونه وېل؛ هغه تش ځایونه وغړېدل،
چې د پاڼې د وزن او شکل په تللو سره؛

ما د مړو تارونو په تشیال کې ولیدل.

❋❋❋

٣

ولې سره وژنو؟!
څوک اضافي دي؟؟؟
خدای چې پیدا کړي دي؛ نو څوک اضافي دي؟!
خدای یې هومره رنګین، راز راز، او متفاوت پیدا کوي،
چې لا ښه ولیدل شي.
«هغه» د همدغو رنګارنګ کلمو په ژبه خپل عشق غږوي.
وګړي، موجودات، د «راشکو بابا غر» او دا زما او ستا
غرونه غرونه ښېرې کلمې دي.
کلمې تر هغو غږ خوشې کوي، چې د غږ چېنې ته
ورسېږي او تر چینې کېدلو پورې وسوځي!
«هغه مینه دی، مینه یې را په مخه کړې، او مینه یوازې
هغه په ډاګه کوي!»
په هره ښېره او نوم کې یوازې هماغه آبدي نوم غږېږي:
هغه خپله وینا ښیي؛ نو چېرې ولاړ شو؟
دا شنه یا په اوړي سره یا په مني طلا شوې ژېړه یا په
واورو کې تند پروت ژمی،
هغه دی چې وایي!
ژوند پیدا کوي، ژوند هغه غږولی، راوړی او بېرته وربللی
دی.
ژوند نه مري:
یوازې ځي او راځي، ترڅو هومره پوخ شي، چې یوازې
هغه ووینې.
بل نه شته؛ یوازې یو شته...

خدای چې دی، نو څوک یې نشي پېژنلای؛
نشي معنا کولای؛
نشي را زده کولای.
خدای شته؛ نو څه شی را زده کوئ؟!
لمر شته؛ عکسونه څه کړم.
ژوند شته؛ متن به څه ووایي؟
ټوله هستي...یوه، یوه (هستي) وایي؛ مه غږېږئ،
چې «یو» غږېږي!
ډېرې له خبرو کولو تشې دي.
غرونه او سیندونه
لمر او سپوږمۍګانې، څه نه وایي؛
یوازې یو یې وایي.
او وګړي، خدای هومره وایي، چې وړ یې دي!
مکتبونه-کتابونه داسې دي...
هغه هومره شته، چې پوهېدلای یې شم.
هومره یاد ته راځي، چې ورنیږدې شوی یم.
هومره مینه راسره کوي، چې منلای یې شم.
هومره لوی او ښووونکی دی، چې زړه مې غواړي.
هومره زما دی، چې زه یې لاره شوی یم.
هومره مې په خوله راځي، چې ورته په خوله له خبرو سپین شوی یم.
هومره یې اورم، چې غوږونه مې ورته تش کړي.
...
څه و، پرېږده چې همدا ټکي یې په ځان کې خوندي کړي.
هغه شته، خو چې زه شیان ونه وینم.»

دا څو کرښې به د وفاسمندر د وروستني پرلیکه شوي پیام په ډول دلته راواخلم چې د ۲۰۲۳ کال د جون د شپاړسمې په

سهار یې انلاین کړی دی، ګوره نو چې څوک څومره څه ورنه اخیستلای شي:

«هستي؛ ۸میلیارده ارکستر:
مینې‌اکادمیسین راته کړل: وېل یې اورې؟
ما وېل: هو اورم، ستا غږ اورم!
وېل یې: زه او ته فقط یو بل اورو؛ خو هستي د ۸میلیارده وګړو د خوږو غږونو سپېڅلي ارکستر دی. او زه او تل فقط خپل او یو بل اورو!
هڅه مو داده، چې یو بل کې، مازې یوه توره نښه پیدا او پلمه کړو او د یو بل فکر ته، احساس او عاطفې ته او معنوي رنګینۍ ته غله شو!
ټول تلاش مو دادی، چې د یو بل (فکر، احساس او عاطفه، اخلاق او معنوي وده) ور بدله کړو، پخپل رنګ یې کړو!
دې سره د یو بل د (فکر، عاطفې او معنویت او خدا ورکړې آزادۍ) غله یاستو!
نو سوله به له کومه شي؟ خوښي به له کومه شي؟؟
که موږ ځانته، بل ته، نړۍ ته، د خدایي مینې له دریڅې وګورو، ژوند او سرنوشت به مو یو دم جنتي شي.
ځکه ټول تخلیق- له یوه تور مچه نیولې، بیا تر لوی عالم او دانشمنده- د خدای دی او د خدای په تخلیق کې ذره عیب لټول، خپله لوی عیب دی!
که موږ د زړه په سترګه وګورو، نو بیا ښایي د هېڅ یوه ګریوان څېرې نشي، هېڅ وګړی خفه، او ناښاد ونه اوسي.
بیا به ټوله زمکه یو مخ د ښادو، آبادو او مینه‌ګرو وګړو، یو ستر ګلستان شي.

او دا ښاد او سره پخلا او مهربانه ستر ارکستر به دنیا د معنویت او هوښیارۍ یوه داسې ستره نغمه کړي، چې بشر په خوب هم نه وي لیدلې.
او دې کار ته یو زړه په کار دی؛ مین زړه!
فقط مینه کولای شي د ښادۍ او ژغورنې داسې توپان پر ژوند او برخلیک را ګډ کړي.
او دا کار هغه وخت شونی کېږي، چې ځانته او بل ته او ټول مخلوق ته د مینې په سترګه وګورو.
تقدیر مو دادی: بختور مو شه»

# نورمحمد لاهو

## او د شعر په هنداره کې يې ښو انځورونه



نورمحمد لاهو د ښو شعري انځورونو او شعري ترکيبونو
خزانه ده، دا چې کله او څنګه دی دا انځورونه او
ښکلي ترکيبونه د خپلو مخاطبينو ننداري لپاره
وړاندې کوي، دا يوازې په ده پورې اړه لري.

(آصف بهاند)

زما د فرهنګي کارونو ډېره سلنه د نوي نسل د سمې روزنې په موخه ترسره کېږي. همدې هدف ته د رسېدو په موخه مې تل هڅه کړې ده چې د بېلابېلو مقالو د لیکلو، لکچرونو وړاندې کولو، کتاب لیکلو او په محفلونو کې د خبرو کولو له لارې خپل کار ترسره کړم. په دې لړ کې زما د پالیسۍ یوه برخه دا ده چې د اوسني فرهنګي بهیر ځینې داسې څېرې د مثال په ډول وټاکم او د هغوی پر فرهنګي ژوند، کارونو او لاسته راوړنو باندې څه ولیکم، چې په ریښتیا سره یې سړی د یوې ښې بېلګې په ډول د لوستونکو او نوي نسل په مخکې اېښوداۍ شي. هغه فرهنګي څېرې چې زه باید څه پرې ولیکم، په هغو کې یو د ځانګړي شعري سبک خاوند نورمحمد لاهو دی. زه به په دې مقاله کې د ده د ژوند او فرهنګي کارونو ته اشاره وکړم او د هغه ترڅنګه به د لاهو یوشمېر نوي شعري ترکیبونه او نوي شعري انځورونه په نښه کړم.

مخکې تر دې چې د ده د فرهنګي شخصیت د بېلابېلو اړخونو په باب څه ووایم، لومړی د ده بیوګرافي:

کله مې چې د نورمحمد لاهو په بیوګرافۍ پسې ویکیپیډیا ته سرورښکاره کړ، هلته مې هم یو څه ومیندل چې زه یې ځینې برخې رااخلم:

«نورمحمد لاهو

نور محمد لاهو د پښتو ژبې یو نامتو شاعر دی. چې په ۱۳۴۹ لمریز کال کې یې د کابل په دهمزنګ سیمه کې نړۍ ته سترګې وغړولې. د نوموړي شعري استعداد او وړتیا د دې لامل شوی چې په نړیواله کچه ډېر پښتانه ځان ته راجلب کړي. نوموړی ځان ته د ځانګړي سبک او جلا لارې خاوند

شاعر دی. يو شمېر پښتانه کره کتونکيو لکه؛ اروابناد اسحاق ننګيال، سعيد شاه سعود، استاد اسدالله غضنفر، صديق الله بدر او نورو ليکوالو د تمثيلي او د اشياوو د شاعر لقب ورکړی، دا ځکه چې د نوموړي ګڼ شمېر شعرونه د اشياوو سره خبرې دي. داسې خبرې دي چې په افغانستان کې د ډېرو لږو شاعرانو ورته پام شوی.

لاهو په ۲۰۱۰ زېږديز کال کې د هېواد د ناامنيو له کبله هېواد پرېښودلو ته اړ شو، او اروپايي هېواد ته کډوال شو. هغه دا مهال اروپا کې د خپلې کورنۍ سره اوسېږي.

شخصي ژوند:

نور محمد لاهو د اروابناد محمد الله خان زوی، په ۱۳۴۹ لمريز کال په کابل کې نړۍ ته سترګې غړولي دي. لوړې زده کړې يې په کابل پوهنتون او سويس کې پای ته رسولي. لاهو په پښتو او دري ليکنې کوي په انګليسي او الماني ژبو هم پوهيږي. نورمحمد لاهو د اشياو د شاعر په نامه په خلکو کې شهرت لري. نور محمد لاهو د کره کتونکو له نظره ځان ته د ځانګړي سبک او لارې خاوند شاعر بلل کيږي.

چاپ شوي آثار:

۱- بلال په وينو کې (شعري ټولګه). ښاغلي سيد شاه سعود او اروابناد اسحاق ننګيال پرې سريزې ليکلې دي. دواړو ليکوالو نوموړی د جلا لارې او سبک خاوند شاعر بللی دی،

۲- د شاتو سيند (شعري ټولګه)،

۳- تکې سرې سترګې (لنډې کيسې)،

۴- د غوا دیګی (د ماشومانو لپاره نکلونه)،

ناچاپ اثار يې،

۱- زرو جانه (ناول)،

۲- د غره د سر بادونه (ناول)،

۳- راشه کنه مرم درپسې (ناول)، چاپ

۴- اوښکه په لمبو کې (ناول)،

۵- شپې او څراغونه (شعري ټولګه)،

همدارنګه د نور محمد لاهو په لسګونو مقالې د افغانستان د یو شمیر ورځپاڼو او مجلو له لارې خپرې شوې او د دریو سوو په شاوخوا کې یې راډیويي ډرامې لیکلې، چې د سیمه ییزو راډیوګانو له لارې خپرې شوې دي.»

د همدې مقالې د موادو د راټولولو په ترڅ کې مې یو چېرې ولوستل چې د لاهو صاحب پر «بلال په وینو کې» شعري ټولګې باندې ښاغلو اسحق ننګیال او سید شاه سعود د مقدمې په دود څه لیکلي دي. د څېړنې د اصولو له مخې راته اړینه ښکاره شوه چې د لاهو او د ده د شعر په باب د یادو ښاغلو لیکنې هم وګورم، نو مې لاهو نه مرسته وغوښته، هغه هم د بلال په وینو کې لینک راته راولېږه چې همدلته مننه ورنه کوم. کله مې چې د کتاب پي‌دي‌اف ښه ولوستله، ډېر څه مې د خپلې مقالې لپاره ورنه ترلاسه کړل او د همدې کتاب په پای کې د لاهو صاحب بیوګرافي هم په مخه راغله چې د ښاغلي محمداسماعیل یون په قلم لیکل شوې ده، ما یې عکس واخیست او دلته یې تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:



«لاهـو» شاعر

له نن نه پنځه ویشت کاله د مخه لوی څښتن (ج) د کابل د للندر په سیمه کې د رڼا یو ستایونکی او پالونکی گل (نورمحمد) وټوکوه، ورو ورو یې په رنگونو او ښکلاوو کې داسې رنگ کړ چې یو وخت یې ځانته پام کېده نو بیا د مینې، عاطفې، ښایست او رنگونو په سیند کې «لاهو» شوی و. دی د مینې او یو دومره وړی و چې بیا ترې نه د ه خپله ځان را ایستلای شو او نه هم چا لاس ورکولای شو. «نورمحمد» د مینې او رڼاگانو، اهونو، اوسېلو، غمونو او دردونو په یو ځای شوي سیند کې دومره غوټې ووهلې چې د دې سیند له تله یې د ښکلو گړنیو مرغلرو «شعرونو» ټولگه را جوړه کړه.

اوس چې د نور په سیند کې د لاهو شوي «لاهو» شعرونه لولو، نو د همدې رڼا، ښکلا، اه، درد، فریاد او د خپل سوي لوي چاپېریال انځورونه مو په سترگو او ذهن کې را ټوکېږي. خدای (ج) پر لاهو ډېر مهربانه شوی، چې له نازک احساس او خوږمن زړه سره یې ورته د شعر ښاپېرۍ هم په نصیب کړې ده. که د یو بشیر عاطفي انسان (شاعر) د احساس غمونه د شعر الهه په خپلو وزرونو کم نه کړي نو خدای خبر چې د هغه زړه به څومره حرکت وکړای شي؟. «لاهو» د یوه عاطفي موجود په توگه د ټولنې هر درد او غم دومره ځورولی چې له ناچارۍ یې شعر ته پناه وروړې ده. د ټولنې هر درد وونکی او خوشالوونکی انځور چې د ده په شعرونو کې گورو نو هغه یو ځل د ده ذهن او زړه ته لاره کړې، هغه یې د خپل ذهن او زړه په پردو کې تاو کړی، د احساس په اوبنکو یې وینځلی او بیا یې موږ ته په انځوریزه ول وړاندې کړی دی.

«بلال په وینو» کې د ده د انځوریزې شاعرۍ لومړۍ ټوگه ده. دوه نورې شعرې ټولگې یې هم د چاپ انتظار باسي. زه د لوی خدای (ج) له دربار نه هیله لرم چې «نور محمد» دې نور هم د شعر او ښکلا وو په سمندر کې «لاهو» وي او د ښکلو مرغلرو د را ایستلو او ځلولو جوگه دې وي، خو داسې نه چې یو وخت د ژوند د مستۍ په سیند کې دومره ډوب شي چې د ټولنې غمونه هېر کړي او د خوښۍ په څپو کې یې هر څه له یاده ووځي.

د شاعر لاهو د لا بري په هیله

اسمعیل «یون»

لاهو د خپل فرهنگي ژوند په اوږدو کې، په څو لارو گودرونو کامیابه سفرونه کړي دي؛ د همدې په وجه حق لري چې د څو بعدي فرهنگي شخصیت خطاب ورته وشي:

**۱ ـ په هنري نثر (لنډه کیسه، ناول) کې د اثارو خاوند لیکوال لاهو،**

**۲ ـ شاعر لاهو.**

**۳ ـ ژونالست لاهو،**

**۴ ـ ډرامه لیکونکی لاهو،**

**۵ ـ انځورګر لاهو.**

لاهو د خپلو فرهنګي فعالیتونو په لړ کې ګڼشمېر اثار خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړي دي چې په میډیا کې یې د دغو اثارو نومونه ډېر یاد شوي دي:

ـ تکې سرې سترګې (لنډې کیسې)،

ـ بلال په وینو کې (شعرونه)،

ـ د شاتو سیند (شعرونه)،

ـ د غوادیګی (د ماشومانو لپاره نکلونه)،

ـ زروجانه (ناول)،

ـ د سنځلو د ګلونو فصل (ناول)،

ـ د غره د سر بادونه (ناول)،

ـ راشه کنه مرم درپسې (ناول)،

ـ اوښکه په لمبو کې (ناول)،

ـ شپې او ځراغونه (شعري ټولګه)،

اوس به د لاهو د څو بعدي فرهنګي شخصیت پر هر اړخ باندې خبرې وکړم او د توان په اندازه به یې بېلګې هم وړاندې کړم:

**۱ ـ په هنري نثر (لنډه کیسه، ناول) کې د اثارو خاوند لیکوال لاهو:**

لاهو په هنري نثر (لنډه ليسه او ناول) کې ښې تجربې لري، په دواړو برخو کې يې جلا ـ جلا خوندورې ببلګې خپلو لوستونکو ته وړاندې کړې دي، دا يې د څو ناولونو نومونه دي:

ـ زروجانه،

ـ د سنځلو د ګلونو فصل،

ـ د غره د سر بادونه،

ـ راشه کنه مرم درپسې،

ـ اوښکه په لمبو کې.



لاهو د لنډو کيسو په ليکلو کې هم خپل بخت ازميلی دی او ښې تجربې پکې لري چې «تکې سرې سترګې» نومې ټولګه يې ښه نمونه ګڼل کېدای شي.

## ۲ ـ شاعر لاهو:

نورمحمد لاهو د ښو شعري انځورونو او شعري ترکيبونو خزانه ده، دا چې کله او څنګه دی دا انځورونه او ښکلي ترکيبونه د خپلو مخاطبينود ننداري لپاره وړاندې کوي، دا يوازې په ده پورې اړه لري. اوسمهال يې چې په ميډيا کې د شعر کومې بېلګې خپرېږي، په خاصه مينه يې لولم. «بلال په وينو کې» شعری ټولګه يې زما له نظره تېره شوې چې ما ځينې بېلګې ورنه رااخيستې دي. پر دې ټولګه باندې د ننګيال صاحب له ليکلې مقدمې نه مې هم نقل قول رااخيستی دی. د «د شاتو سيند» يې بله شعري ټولګه ده چې ما نه ده ليدلې.

لاهو په ميډيا کې ژر ـ ژر د خپلو شعرونو بېلګې نه خپروي، په ځنډ سره يې وړاندې کوي؛ خو داسې څه د خپلو مخاطبينو مخې ته ږدي چې په رېښتيا سره نوي وي او له هره اړخه د حساب وړ.

**دا د نورمحمد لاهو د شعر د محبوبيت او قوت نښه ده چې کله ـ کله يې هېوادوال په خپلو ښکلو غږونو کې شعرونه زمزمه او ديکلمه کوي.**

دلته به يې د څو شعرونو بشپړ متن راواخلم او بيا به په دې شعرونو کې نوي شعري انځورونه او نوی ترکيبونه په نښه کړم:

## اې غاټوله اې ملګريه!

بيا يو لوی سيند راروان دی

په رنجو ککړې چيغې ورسره دي

له بارانه يې زموږه د کور پټه ده غلا کړې

اې غاټوله اې ملګريه!

د زړه داغ ته دې تک تور شم

يوه مرسته درنه غواړم که کوی شې

دغه سيند دې په سره جام کې ځايوی شې؟

له تورغږه يې رانجه راټولوی شې

*****

څه نرۍ ـ نرۍ ماشومې خنداګانې

لکه شرنګ د سرو لمنو په اتڼ کې

د حُباب په آيينو کې شوې بنديانې

اې ريديه!

په وړو ـ وړو سوکانو

د دې سيند دا بنيبنه يې او سپين قفس ورماتوی شې؟

دا معصوم ـ معصوم مرغان يې له څپو الوځوی شې؟

ما درونیسئ چې لوېږم

اخ - اخ - اخ!

د ړانده سیند تربهانده سینې لاندې

د ګلاب د تازه ملا د ماتیدلو نارو وسوم

*****

د سحر شیرین نیسمه

خوړ د یار د لمدو زلفو په ګبینه

ته کوای شې د ګلونو آدرسونه د دې اس له پوندو پټ کړې؟

غواړم ستا له پستې ژبې نن دروغجن کلمات واورم

*****

بیا یولوی سیند راروان دی

یوه ونه راته وایي: غواړم پښې دې خپلو پښو سره واوبم

له څپو به دې په دې پلمه را پټ کړم.

آ های! چا زموږه پښې خپلو موزو لپاره وړې؟

د سوسن په سپینو پاڼو تور تصویر زما د پښو دي

زما پښو لاندې ښایست د ځوان انار وینه کې ریږدي

او لاسو مې د غنمو جل وهلې ښاپیرۍ ته

لپې لپې لمبې ورکړې

زما ښېنې دې ړندې شوې

له لاسو مې عقل تللی

اې ډېرو! اې صابرو ايوبانو!

راشئ ـ راشئ سکوت مات کړئ

زما ښېنو ته سترګې ورکړئ

او د کهف سپينو تيارو کې

دا زما ويده لاسونه نور راويښ کړئ

په پاسني شعر کې مې څو داسې شعري انځورونه په نښه کړي دي چې تر اوسه ما د بل کوم شاعر په شعرونو کې نه دي ليدلي:

ــ د ښېنو اوبدل (يوه ونه راته وايي: غواړم ښېنې دې خپلو ښېنو سره واوبم)،

ــ ړوند سين (د ړانده سيند تربهانده سينې لاندې)،

ــ د اس پوندې (ته کوای شې د کلونو آدرسونه د دې اس له پوندو پېټ کړې؟)،

ــ د ګلاب د ماتېدلو غږ (د ګلاب د تازه ملا د ماتيدلو نارو وسوم)،

ــ درواغجن کلمات (غواړم ستا له پستې ژبې نن دروغجن کلمات واورم)،

ـ پښې له نورو پښو سره اودل (... غواړم پښې دې خپلو پښو سره واوبدم)،

ـ د غنمو جل وهلې ښاپېرۍ (او لاسو مې د غنمو جل وهلې ښاپیرۍ ته)،

ـ لمبې په لپو اندازه کول (لپې، لپې لمبې ورکړې)،

ـ د پښې ړندېدل (زما پښې دې ړندې شوې)،

ـ پښې بینا کول (زما پښو ته سترګې ورکړئ)،

ـ ویده لاسونه راویښول (دا زما ویده لاسونه نور راویښ کړئ)،

ـ غږ ته رنګ ورکول (له تورغږه یې رانجه راتولوی شي).

دا لاندې د نورمحمد لاهو د تخلیق بله داسې نوې بېلګه ده چې هرڅه په کې نوي دي، لاهو له کلماتو سره لوبې کوي، داسې یې کاروي چې لږ شاعران به یې کارولی شي:

## چې ته لاړې

چې ته لاړې

د هر بوټي له کمیسه لکه وړانګه شین رنګ والوت

ګلابونو غریبی نه ، خپل ښایست په یوه څاڅکي باران خرخ کړ

د کړکې پر آیینې مې ستا په ګوتو د سپرلي لیکلی نوم

راته د زخم په څیر درد کا

څوم کال شو

دې ګردجنې آیینې ته باران لاس ور وړی نه دی

*****

ها دردمنه شنه شپیلۍ، چې

ستایادونه یی سینه کې په نوا وو

زما جسم کې دننه، سره لمبه شوه

چې ته لاړې

ستا په تګ سره دنیا هم شوه بې رحمه

یوه سیند هم تر تا وروسته

خپل یوکب خپلې سینې ته بیا پرینښود

چې ته لاړې

دیوالونو نه کړکیو سفر وکړ

زما لیو نه، مرغیو سفر وکړ

له صحرا نه لکه شرم سور رنګ والوت

ترې مَیینو سرو ریدیو سفر وکړ

راشه، راشه

په پستو، پستو پاپیو

نوره ساه درپسې خيژي د هوسيو
دادي ډېر فصلونه وشول
هر ډنډر ښخه تصوير د خپل ګل هير دی
راشه، راشه!
چې له سره حافظه د بوټو بيرته را ژوندی شي
راشه، راشه
چې بې تا دا ټوله ځمکه زخمي ښکاري

د پاسني شعر څو نوي تصويرونه:

ـ د بوټې له کميسه د شنه رنګ الوتل،
ـ شپيلۍ دننه په بدن کې لمبه کېدل،
ـ له ديوالونو نه د کړکيو سفر کول،
ـ له ډنډر ښخه د ګل هېرېدل،
ـ د بوټو حافظه.

دا يې بله بېلګه:

## ارواح پوه نارې مې اورې؟

يو کارغه هروخت راګوري
زما خوب پورې سرې چيغې ګنډل شوي

تولـه شپه د کور  لـه چته له کوکارو ډکې خولې په ما راخاخي
هرسهار  مې له بالښته لپې، لپې ويني باسم
ارواح پوه ! زه څنګه وکړم؟
يورنګريز دی
تولـه شپه له تورو شپو  نه رنګ رالوشي
دخراغ سپينه رڼا مې راته تکه توره رنګ کړي

*****

ارواح پوه زه څنګه وکړم؟
چې خنجر چيرته د چا پرسينه خښ شي
د سرو وينو نرۍ ليکه يې زما له سترګو څاڅي
تولـه شپه د خوب پرده کې د يو ځوان په سور تابوت
د يوه پلار تناکه شوې اوره ژاړم

*****

په غلا شوي پيغلتوب پسې د پيغلې له شنو کريږو
په لويدليو سرو رنګونو
څنګه رسم کړم سندرې؟
د ښاه منځ ته د کوم ړوند اچول شوې سپينې چيغې څنګه
وځکم؟
او د خپلې معشوقې د چاودو شونډو
په سرو وينو ککړ قند
څنګه راواخلم له شيدو سره يې وخورم؟

*****

د يو ځوان د بوټ له چاکه
پرشيشې رابهيدلی تازه زخم چيرته يوسم؟

پرتندي يې د غُربت په ترخو ګوتو
کيندل شوې تيارې کرښې څنګه پريولم
د هجرت په طلايي او تنګ دوزخ کې
چې يې تبه لړ سړه شي
ورته ليو کې مې يخې شنې هواوې
او د مور د ګونځې مخ خوږې ښکلاوې
له وطنه څنګه راوړم؟

*****

ارواح پوه زه څنګه وکړم؟
لمر په خپله دايره کې بربنډ پروت دی
له تيارو څخه خيرات کې رڼا غواړي
او ګلان هم له سپرلي د ټکي رنګ
په تمه سپينه خوله زنګيږي
هلته ګورې؟
يوې پيغلې خپل ښايست دوکان ته يووړ
په قفس کې سوزيدلې چيغې اورې؟
ديوال ګورې د خپل يخ سيوري له درده لمبه شوی؟

*****

ارواح پوه نارې مې اورې؟
د غنمو له سره اوره مې د سترګو په کاسو کې
کنګل کوړ ته
څنګه راوړمه سکروټې؟
څنګه پوه شم چې تيارې دلته د لمرکميس کې ګرځي
او سپوږمۍ څنګه قانع کړم
چې د شپې پر ديواله راځړيدلی تصوير زه يم

دا ترمخه مې روان ورى ليوه دى

*****

ځنګه وکړم په یوه سترګه ویده شم
او په بله په ریدي
د ړانده تبر د ګوزار لوري ته ومرم
له زخمونو اوبدل شوې سرې بړستن کې
ځنګه جوړې د يار شوندې کړم پرهر نه
ځنګه حورې طبيبانې کړمه خيال کې؟
څو وحشي لمدې بازانې مهرباني کړمه خوب کې
ځنګه ځان ته جنت وپیيم د روح په سوي تار کې
لکه ګرد ککړ په وينو په هوا شم د هډوکوله قفسه
دې ډبرو ته له خپل وسپنيز پوښه
لکه چيغه راوتل ځنګه ورزده کړم
ارواح پویه!
ځنګه پوه کړم دا پسونه په دې راز چې
ترليوه ډيره له شپون ويره پکار ده

*****

ارواح پوه! نارې مې اورې؟
مودې وشوې چې يو چا زما تابوت دى
د ليوانو په بګى پورې ترلى
هلته ليرې دوياليې په لمده غاړه
یوې وچې ونې شاخ نه
يو کارغه هروخت راګوري

زما له نظره په پاسني شعر کې نوي انځورونه او ترکیبونه ښه په ماهرانه ډول راوړل شوي دي، بېلګې یې دا دي:

ــ زما خوب پورې سرې چیغې ګنډل شوي،

ــ ټوله شپه له تورو شپو نه رنګ رالوشي،

ــ د تڼاکې شوې اوربې ژړل،

ــ سپینې چیغې،

ــ پرشیشې رابهیدلی تازه زخم چیرته یوسم؟

ــ د غُربت ترخې ګوتې،

ــ د هجرت په طلایی او تنګ دوزخ کې،

ــ بربنډ لمر،

ــ له تیارو ښخه خیرات کې رڼا غواړي،

ــ هلته ګورې؟

یوې پیغلې خپل ښایست دوکان ته یووړ،

په قفس کې سوزیدلې چیغې اورې؟

دیوال ګورې د خپل یخ سیوري له درده لمبه شوی؟

ــ د غنمو سور اور،

ــ ښنګه پوه شم چې تیارې دلته د لمرکمیس کې ګرځي،
او سپوږمۍ ښنګه قانع کړم،
چې د شپې پر دیواله راځړیدلی تصویر زه یم

دا ترمخه مې روان وری لیوه دی،

ـ له زخمونو اوبدل شوې سرې بړستن کې،

ـ د روح په سوي تار کې د جنت پیبل،

ـ د هډوکو قفس،

ـ ارواح پویه!
ښنګه پوه کړم دا پسونه په دې راز چې
ترلیوه ډیره له شپون ویره پکار ده،

ـ د لیوانو بګی.

دا هم د نورمحمد لاهو یو بل له انځورونو ډک شعر:

## تباشیري ګلان

ستا د سترګو معلم ما ته

فقط دومره لیک لوست وښود

چې یوازې ښکلی نوم دې لکه ګُل په تباشیر

د ښار په تولو وچو ونو ولیکای شم

د هر ګل په بَکره پاڼه

ستا د شوندو شیریني او سره رڼا هم اوس لوستای شم

*****

بل مې دا هم درنه زده کړل

تا ته خنګه لکه ونه، په قدم، قدم راشين شم

لکه ډکه له منو شيرينه څانګه، د باد غېږ کې

په نڅا، له پاسه ځان در وشيندمه

*****

خدای دې ما ته

د ځنګله په شانې ډېر لاسونه راکړي

چې مارغان پرې راته تل ستا د مچکو په لَهجه

تودې سندرې زمزمه کړي

يولوی باغ هم راته راکړي د انارو

چې ته کله په خندا شې

لکه ستا پر نرۍ غاړې مرجانونه،

له سينو يې

لپې، لپې ياقوت باد شي

محبت دې زه د هغه ماشوم وير کړم

چې سوالګره زخمي مور يې وي روغتون کې

او دی غوارې په مبايل کې يې له غږه شيدې وڅښي

په پاسني شعر کې څو نوې انځورونه:

ـ د سترګو معلم،

ـ د ګل بَکره پاڼه،

ـ د ځنګله لاسونه،

په شاعرۍ کې د لاهو بل مهارت دا دی چې جامدو شیانو ته سا ورکوي او کاروي یې لکه په پاسني شعر دا لاندې بېلګې:

خدای دې ما ته

د ځنګله په شانې ډیر لاسونه راکړي
***
او دی غواړي په مبایل کې یې له غږه شیدې وځښي

د لاهو له بنکالوو ډک داسې بل کلام چې ساری به یې لږ لوستل شوی وي:

زخم چې زما د زړه په تاخ کې

لکه سور څراغ بلېږي

زړه مې بیا په هغه چا پسې خپه دی

چې شین غږ یې،

شنه سهار کې

د مرغیو د سندرو په څیر خوږ دی

پر تنکۍ او نارنجي لمن یې پاڼې د زعفرانو

لکه شنې ـ شنې رنا ګانې، راشنې کېږي

زړه مې بیا په هغه چا پسې خپه دی

چې د مینې د خندا په تازه کرَس یې

د غنم ماشومه ونه، پیغله کېږي

او سپوږمۍ یې تمام عُمر

په باران لامده کمیس لاندې اوسیږي

*****

ای په تور رنګ، اې تور شویه، سپین آسمانه!

زه خبرشوم چې ته هم له هغه زخمه په عذاب یې

چې زما د زړه په تاخ کې لکه سور څراغ بلیږي

لکه څنګه هغې ښکلې!

تا نه، لمر، لکه سِکه! په خپل ورغوي کې پټ کړی

همدغسې یې زما د ژوند غمی هم

خپل ټیکري کې غوټه کړی.

نو آسمانه!

مایې مخ لیدلی نه و پرې عاشق شوم

توتکیو یې په باب

ډېرې کيسې وې راته کړې

*****

نو اې سينده!

ته دې تولې دنګې چيغې ماته راکړه

نن شپه غواړم ستا په ځای زه کريږې وکړم

پريږده غم دې نن زما په زخمي ستوني

د چړې په څير په وينو باندې سور شي

نن يو بل شانې ماښام دی

نن يو بل شان مايوسي ده

نن يو چا يوه مرغۍ له تولو ونو ده، شړلې

زما له نظره د دې شعر نوي او ښکلي انځورونه دا دي:

ــ پر لمن باندې د رڼاګانو راشنه کېدل،

ــ د غنم ماشومه ونه، پيغله کېږي

ــ د سيند دنګې چيغې.

دا يې هم د شعر يوه بله بېلګه:

**ته خپه يې!**

لکه زړه د مساپرو د دې ښار تولې کوڅې دي تنکې شوي

سمندر مې وږه لپه کې ویده شو

غوارم ومرم

سږی ځنګه خپله لپه کې ځان ډوب کا؟

ځنګه شړکنده باران دی

یوځوک شته چې زما تخرګ کې

هیره شوې شنه چترۍ مې را په یاد کړي؟

کاشکی هروخت زما لاس کې

کنګل شوې پیالې غبر راته کولی

ته خپه یې

او یاران هم لکه زانې په سفر راخخه تللي

په پښو مې سرې سکروټې لکه زخم راختلي

په لوی پارک کې د دې ښار هم کار روان دی

سږی چیرته او د کومې ونې لاندې سترې جسم خپل هوار کړي؟

هلته ګوره!

ځراغ خپلو لوټل شویو رڼاګانو پسې لاړو

ته لا هم لکه ماشوم نه پخلا کیږې

غرقه شپه ده د شرابو میرات مړی دوکان کولپ دی

وه زما په تیاره ژوند خوشاله یاره!

وایه څومره تیارې وښتم چې نیشه شم؟

څومره درد زخم ته ورکړم چې ته خوښ شې زه ویده شم

اې چاکلیټه!

جواهرو!

اې ګلابه! غږ مې اورئ؟

تاسو خپله ورله ورشئ که پخلا شي!

ورته وایاست چې د باغ د ویالې غیږ کې

څو شیبو کې زړه شوې یوه دنګه ځوانه ونه هر وخت ژاړي

او خالي تشو لاسو ته

ستا له شنې خوړې لمنې بیرته خپلې شیرچایی شګوفې غواړي

د پاسني شعر ځینې نوي انځورونه:

ــ سمندر مې وړه لپه کې ویده شو،

ــ سرې ځنګه خپله لپه کې ځان ډوب کا؟

ــ او یاران هم لکه زانې په سفر راښخه تللي،

ــ سرې چیرته او د کومې ونې لاندې سترې جسم خپل هوار کړي؟

ـ څراغ خپلو لوتڼل شويو رڼاګانو پسې لاړو.

د شعر په باب يو اصل دا دی چې:

«نظم په لغت کې د مرغلرو پيلو ته وايي او په اصطلاح کې هغه کلام دی چې...»

او د لاهو شاعري چې زه ګورم او لولم چې دا حکم صدق وربانديې کوي. لاهو د خپلې شاعرۍ په زرين تار کې ډېره موده وروسته (ښايي هره يوه مياشت) يوه مرغلره وراضافه کوي، داسې مرغلره چې هغه د حساب وړ او قيمتي وي او د دې ارزښت ولري چې د لاهو د شاعرۍ په زرين تار کې وپيل شي. دا لاندې شعر يې د همدې قيمتي او حساب وړ مرغلرو يوه بېلګه ده:

## سپين آس

لکه د تالندې په چيغې

د څراغ ماته شيشه کې، رڼا ګانې، لکه پانې ورپيږې

دلته کلي کې لاهم زموږ کوترې

د سپين آس له شيشنهاري نه، ډارېږي

هغه آس نه،

چې د پښو له تنکي خرَپه يې يو وخت به

دُرخانيو، د آدم د رباب چيغې اوريدلې

هغه آس نه،

چې سپوږمی به يې ډولی کې، سروغونچو ته

تر زندانه پورې وړله

او قفس کې پروت ريدي ته يی له غره، ياغي هواوې راوستلې

چې به کلي کې رسوا دوه مينان شول

ده، په مينه به وزرې کولې.

*****

دا دي ډيرفصلونه وشول

چې موخنګه دغنمو لمدې ملاوې طلايی شي

د غاټولو شونډې سرې، پيغله ځواني شي

نسترن د ويالو غاړو کې، وحشي شي

په رڼا د چا د سترګو، هريو بوټی شرابي شی

يوناڅاپه په بمونو باندې بار يوټک سپين آس يې

شنو لوګيو کې ور ډوبه کرونده کړي

شيرچايی دوړې يې پورته په لمبه کړي

*****

دا دي ډير فصلونه وشول

چې سپین آس هم نه پوهیږي

چې یې ولې د ځوانی د خوږ موسم پرسپین بخمل یې

تور بمونه راشنه کیږي؟

چیرته شنه کرونده ګوري د نرګیسو او پیغلوټو رڼا ګانو

بې اختیاره یې په منځ کې لمبه کیږي

مودې وشوې د باچا پر ژبې کولپ دې زنګ وهلی

نه هم څوک کوي له چا دغه پوښتنه:

چې د کلي ښایسته کوترو ولې

د مارانو پر سینو دي، ځانته ځالې جوړې کړې؟

د لاهو د شعر یوه بله بیلګه او د هغه په باب د نورو فرهنګیانو نظریات:

د ګوتو قفس

نه غواړمه یوه شم

پرآسمان د لاجَوَردو غالۍ ځنګه اوبدل شوې؟

غواړم یوه شم

له رڼا دلاجوردو تا ته ځنګه کمیس جوړکړم؟

ستا د غاړې خوشبویي

د ګل له شونډو څخه څرنګه ښبنل کېږي

هلته ليرې د غاټولو د نازکې پردې شا ته

له ټوپکه پټه شوې رڼا ګورې؟

او په ځمکه راولېدلې د سپوږمۍ ماتې ټوټې ته

لږ آسمان څنګه په لپه کې راکوز کړم

*****

زما کار دې سره نشته چې ريدی ولې تک سور دی بنَفش
نه دی

زه يم سوچ کې

څنګه وکړم؟

د ريدي د بدن يخه تازه ګي دې د سروشونډو په وچ فصل

په زرغون رنګ نقاشي کړم

او له فکره داسې ساز لکه باران وڅڅوم

چې کرونده دې د زړه ټوله پرې غنم شي

او د شونډو خوږې کربنې دې له نازه

تکې سرې، سرې ونخيږي ؟

*****

لومړۍ ونه د نوزيړي کوشني شانتې په کوم ځای کې تولد شوه؟

او بيا ولې د ګلاب په خير ماشومه پاتې نشوه

سرکشي يې ولې وکړه؟

دې پوښتنو باندې نه غواړمه پوه شم

غواړم پوه شمه په دې

د اکاسي* د ګنې ونې د ګلونو دغه سپين او وحشي بوی ته

د لاس ګوتو نه قفس څنګه جوړيږي؟

آ های... زړګې!

د ډېرو ژبه څرنګه زده کيږي؟

او د تورو پردو شا نه ښايست څنګه لوستل کيږي

په خاموشه ګونګه ژبه

لکه پروت د يو ګل سيورۍ په اوبو کې

ښکلی حِس د محبت څنګه لمس کيږي

او په پای کې غواړم غږ کړم:

آ ... های غرونو!

د يار غيږ کې سرې څنګه تيره کيږي؟

---

* يوه ونه ده تک، سپين ګلان کوي.

په فیسبوک کې د همدې پاسني شعر له پاره په کامنت کې ښاغلي محمدالله مسعود داسي لیکلي وو:

«واه واه لاهو صیب ډېر اوچت او شهکار شعر دی . دومره ښکلا او خوارږه پکې راټول شوي دي ، چې سړی ورته حک پک ودرېږي...
زما د تنکي تخیل تنکی مرغی یې د دې حسینې جزیرې په رنګینیو کې خورې کړې...
بس دا نو داسې شعر دی ، چې قامت ته یې له سره د هنر پټکي ږنګېږي...
زموږ لاهو دې ژوندی وي.»

ما آصف بهاند په مسنجر او کامنت کې داسي ورته ولیکل:

«سلامونه!

مبارکي درته وایم،

په رېښتیا چې د تورو او کلماتو په شاعرانه جادو سره دې جهانونه د «ګوتو قفس» کې ځای کړي دي.»

ښاغلی لاهو کله، کله یو نیم غزل هم لیکي او ښه په تول تللی او سنجیده یې لیکي. دا یې یوه ببلګه ده:

## غـزل

لکه زخم په سینه کې زما اوسې
لکه درد هره شیبه کې زما اوسې

يوه يخه د اوبو خوړه چينه يې
بيابان کې په غرمه کې زما اوسي

لکه شين لوګی د عودو په هوا کې
لکه ژير رنګ په لمبه کې زما اوسي

ته يو ستورى د ميزان يې د خوندونو
د انګورو په خوشه کې زما اوسي

ته د ځان په خير يو خوږ طلايى رنګ يې
د غنمو کرونده کې زما اوسي

لکه وُړ وُړ باران په تږو للمو
لکه کريږې توله شپه کې زما اوسي

د نورمحمد لاهو نورو ځو نويو شعري ترکيبونو ته پام وکړئ:

ــ ځو پيرى شوې
زما کور کې ځراغ نه دى لګيدلى،

ــ ځو پيرى شوې،
چې سپوږمى هم خپلې تاندي دايرې کې
تولې پيغلې رنا ګانې بندي کړې

ــ هغه زوړ شرابي لمرهم ماشوم شوى،

ــ کوم ماشوم چې لکه سيند به توله شپه چيغې وهلې،

ــ د ونو حافظه (غواړم بيرته حافظه د زړو ونو راژوندى کړم)

ـ د زمان دا سپينې زلفې (د زمان دا سپينې زلفې تورې رنګ کړو)

ـ په يوه ساعت کې څو پيړۍ ژوند کول:

د ځوانۍ وروستۍ شيبې دي
زړه مې غواړي دې لنډ سات کې
څو پيړۍ زندګي وکړم
څو پيړۍ په کړَس وخاندم
څو پيړۍ ـ پيړۍ غمونه
لکه زهر له خولې تو کړم

د قرن ارزښتونه تو کول يا غورځول، د لاهو د بغاوت او سرکشۍ يوه ليونۍ ببلګه ګڼم:

«... راته ښکاري د ځوانۍ وروستۍ شيبې دي
زړه مې غواړي دې لنډ وخت کې
څو پيړۍ زندګي وکړم
څو پيړۍ په کړَس وخاندم
څو پيړۍ، پيړۍ غمونه
لکه زهر له خولې تو کړم
دا د قرن تپل شوي ارزښتونه لکه دروغ ټول مسخره کړم
ميخانې په بيه واخلم
د رَز پيغلو سره شپې ـ شپې وناځمه...»

همدې شعر ته ما (آصف بهاند) د فيسبوک په کامنت کې داسې وليکل:

«لاهو صاحب ډېره مننه، نوې ترکيبونه، نوې انځورونه او نوی بغاوت دې مبارک شه!

د قرن ارزښتونه توکول یا غورځول، د لاهو د بغاوت او سرکشۍ یوه لیونۍ بېلګه ګڼم.»
د لاهو د ټولې شاعرۍ تر لوستلو وروسته چیز فهمه لوستونکي پر دې پوهېږي چې د لاهو په ککره کې د لاهو په زړه کې او د لاهو په ټول وجود کې له خلکو سره مینه، له وطن سره مینه، له انسانیت سره مینه لکه وینه داسې ګډه ده او د دې ټولو ترڅنګ لیدل کېږي چې کومه ورکه مینه یې هم تخنوي او زوروي او دا هرڅه د ده د شعر په ایئنه کې په رانه ډول ښکارېږي.
لاهو له طبیعت او چاپېریال سره د خپلو اصولو له مخې چلند کوي، هر څه یې چې پکار وي، ورنه اخلي یې د خپل ذهن په لابراتوار کې یې لمبوي، د خپلو ځانګړو شاعرانه تصویرنو په خُم کې یې رنګوي، د خپل ځانګړي شاعرانه سبک جامې ور اغوندي او بیا یې د خپل شعر د ستیژ پر سر، د خپلو مخاطبینو ننداره ته راباسي.
اسحاق ننګیال له لاهو سره پر وطن باندې د خونړي سېلاب د راتګ په کال کې، په ځوانیمرګو شېبو کې معرفي شوی دی او یو بل ته یې د ځوانیمرګو شېبو شعرونه اورولي دي. اسحق ننګیال د لاهو د «بلال په وینو کې» شعري ټولګې په مقدمه کې د همدغې پېژندګلوۍ شېبې داسې انځور کړې دی:
«د ۱۳۷۳ ام کال لومړنۍ شپې ورځې وې او د نوي کال همدا تنګې شېبې، هره شېبه د ګولیو او راکټونو، د سرپو او اورونو پر لاسونو قتلېدې او د قتل په همدغه موسم کې مې له یو ځوان شاعر سره پېژندګلوي وشوه. هغه ورځ ټول کابل د ګولیو او لوګو له زوره ځنګېده او له دې سره ـ سره چې د راکټونو، بمونو او ټوپکو د ټوخیو او چیغو له زوره مو خپل غږ هم نه شو اورېدلی؛ د شعر چرګۍ ته کېناستو او له هغه

زلمي شاعر نه مو وغوښتل چې شعرونه راته واوروي، د وينې شعر، د مينې شعر او د مينو د قتل شعر او هغه ورځ مو د عغه شعرونه واورېدل او دا دی تر ننه شعرونه راته اوروي او هره ورځ شعرونه راته اوروي.»
(لاهو نورمحمد، بلال په وينو کې، خپرندوی: خوشحال فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۸ ل کال، د ننګيال د مقدمې لومړی مخ)
د ننګيال په قول لاهو په قصيده او مثنوي کې ښې تجربې کړې دي او ننګيال په خپلو خبرو کې ورنه غوښتي دي چې: د قصيدې او مثنوي پالنه وکړي. (لاهو نورمحمد، بلال په وينو کې، د ننګيال د مقدمې پنځم مخ)
د ننګيال له پاسنيو جملو نه لوستونکي داسې پوهېږي چې د لاهو شعر به همداسې په انځورونو سمبال او له ښکلاوو سره به دوام لري او دا دی دا دوام تر نن پورې، تر مونږ پورې را رسېدلی دی، نور هم غني شوی او د شعرو انځورونو نوي ګلان يې غوړولي دي چې خوشبو يې تر هر لوستونکي پورې رسېدلې ده.
د لاهو صاحب له همدې شعري ټولګې (بلال په وينو کې) نه مې د ده د کلام دغه بېلګه د نمونې په ډول غوره کړه:

## د غوښو صندوق

د غوښو له ټوټو نه ښځينه چيغې راځي:

وای ـ وای! چې د پرديو د لاس ګوتې مې پر سرو غوښو پرتې دي

د ايمان مانۍ مې وژغورئ نړېږي

*****

د غوښنو له ټوټو نه ښځينه چيغې راځي

له زړه نه مې لوګي د لوړ اسمان ښکلي خاوند ته په دُعا ځي

نو اې لوړه ستره خدايه!

زه به څنګه د دې غوښنو په صندوق کې د دې خوارې خورکۍ

غوښنې پېژنمه!؟؟؟

۱۳۷۵/۰۲/۰۱

(لاهو نورمحمد، بلال په وينو کې، خپرندوی: خوشحال فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۸ ل کال، ۳۳ ام مخ)

د لاهو شعرونه کله ـ کله انګليسي ژبې ته هم ژباړل شوي دي، زما له نظره تراوسه انګليسي ژبې ته د لاهو د ژباړل شوو شعرونو درې بېلګې تېرې شوې دي. دا لاندې يې دوې بېلګې دي چې ښاغلي همايون مسعود او حکمت الله مليار کاکړ انګليسي ژبې ته ژباړلي دي، ښايي دا يې يوازينۍ بېلګې نه وي او نورې بيلګې يې هم ژباړل شوې وي. زه يې په نيک فال نيسم او په بهرنيو ژبو د لاهو د اشعارو د ژباړې د ښه پيل په سترګه ورته ګورم:

**شرميدلی آسمان**
**ASHAMED SKY**

مودې وشوې

For a long time,

يو سړی دلته په لار کې

په خپل زوړ او په شليدلي سيوري پروت دی
A man has been laying on his old and torn shadow,
په لاسو کې يې چترۍ ده
In his hands, an umbrella,
ورسره هم څو ګلان
لکه له ميندو خپه شوي کوچنيان ناست دي
Beside him, a few melancholic flowers, like upset children with their mothers,
چې باران ورباندې وپاشي خپل څاڅکي
For the rain to splash some drops on them,
خو بارانورباندې نه شي ځان شيندلی
پيړۍ وشوې چې آسمان له شرمه شين دی
تا پلو کې ورنه ټولې وريځې وړې
But the rain can't splash itself on them,
It's centeries that the sky is blue because of shame,
Since, within your scarf you took all it's clouds from under him.
نور محمد لاهو
Noor Mohammed Laho

## زړه تاخچه
## The Old Niche

ځه چې بيرته هغو تيرو زمانو ته ورستانه شو
Let's return to those times gone by,
د ا چراغ به داسې بَل همدلته پريږدو

We'll leave the lamp lit here,

هغو تيرو زمانو ته به خپل ځان دومره نژدې کړو

We will get so close to the olden days,

چې خندا د ماشومتوب مو بيرته واورو

That we hear our childhood laughter again.

++++++++++++++

ځه چې بيرته هغه وخت ته مهاجر شو

Let's migrate to that time again,

چې لا ستا سپينو کاليو باندې نيل نه و لويدلی

When your white clothes hadn't blued yet,

شنو بنګړيو دې شرنګ خندا وې نه وې لا زده کړې

Still your green bangles hadn't learned joyous laughter,

په سلام به شرميدلې

You had been ashamed to greet me,

او خبرې دې په ژبې لکه قند اوبه کيدلې

And the words had melted on your tongue like sugar loaf.

++++++++++

ځه چې بيرته هغه وخت ته ورستانه شو

Let's return to that time,

ها چې تا نه پيژندلم !ماته نه به دې کتلې

When you didn't know me! You wouldn't look at me,

زما لاس کې به ګلان و راشنه شوي

The flowers were grown in my hands,

خوشبو یانې به دې نه احساسولې

You didn't feel their essence,

ځه چې لاړ شو

Let's go,

لکه عطر د سنځلو هغو ښانګو باندې بیا بیرته تازه شو
چې ګلان یې پیړۍ وشوې خاورې شوي

and become refreshed like the scent of oleaster on those branches which's blossoms had dried centuries ago,

ځه چې لاړ شو

Let's go,

ځه چې لاړ شو

Let's go,

دا لکړه !
دا عینکې !
دا پرهیز او دا په ملا کاږه عمرونه
د زمان زړه تاخچه کې چیرته هیر کړو

Let's forget this cane!
These glasses,
This abstinence and these old age-bent backs,
Somewhere in the old niche of time.

نور محمد لاهو

Noor Mohammed Noormohamad Lahoo

## ۳ ـ ژونالست لاهو:

لاهو د ژورنالیزم په ډګر کې هم وخت تېر کړی دی، ښې تجربې او کارنامې ورنه پاتې دي. په ویکیپیډیا کې د لاهو د ژورنالیستي فعالیت په برخه کې دا معلوات خپور شوی دی:

| نور محمد لاهو |
| --- |
| |
| د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د باختر آژانس پښتو څانګه |
| د واکمنۍ دوران<br>د ۱۹۹٦ز. کال څخه تر – ۱۹۹۹ ز. پورې |
| د سرې میاشتې د اخبار مسؤل مدیر |
| د واکمنۍ دوران<br>1999زېږدیز کال – ۲۰۰۱ زېږدیز کال |
| ازادي راډیو، د تاندې څانګې تعلیمي خپرونه |
| د واکمنۍ دوران<br>2001 |

خو لاهو ما (آصف بهاند) ته په خپله ویلي دي چې په ملي راډیو تلویزیون، د هنراوادبیاتو په اداره کې یې هم ژورنالیستي فعالیت کړی دی او هلته یې د بالمقطع لیکوال په توګه ژورنالیستي فعالیت ترسره کړی دی.

## ۴ ـ ډرامه لیکونکی لاهو:

نورمحمد لاهو د ډرامه لیکلو تجربه هم کړې ده. ده د ۲۰۲۳ ام کال د سپتمبر په شپږمه نېټه یې د تیلیفون له لارې د خپلو لیکلو ډرامو په باب داسې راته وویل:

«څلور سوه رادیویي ډرامې مې «نوا رادیو» ته لیکلې دي، دا رادیو له کابل نه خپرېده، ممثلینو به زما ډرامې په غږیزه بڼه ثبتولې، بیا به محلي رادیوګانو ته لېږل کېدې او له هغې لارې به خپرېدلې. د ډرامو ډېره برخه د مخدره موادو پر ستونزه باندې لیکل شوې دي.

### ۵ ـ انځورګر لاهو:

لاهو انځورګري هم کړې ده او ښه په مینه یې کړې ده، خو هر څه یې تباه شوې دي، له ده سره د خپلو رسم کړو تابلوګانو څو عکسونه او ورسره څو داغونه پاتې دي او بس.

د لاهو صاحب د انځورګرۍ په باب مې معلومات نه درلودل، د لاهو د دې هنر په باب مې د همدې مقالې لهپاره د موادو د راټولولو په ترڅ کې، د نورو فرهنګیانو په لیکنو ترسترګو شو:
«ښه رسام هم دی.»،

بیا مې سودا شوه چې د لاهو د ترسره کړو فرهنګي کارونو په سلسله کې که د ده د دې هنر په باب څه ونه ویل شي، نو کار به نیمګړی پاتې شي؛ نو هماغه و چې بیا مې لاهو صاحب ته داسې ولیکل:

سلامونه!

د بیوګرافۍ ستونزه به زه حل کړم.

له یو بل هنر نه خو دې زه اوس خبر شوم، ستا انځورګري.

ته به لطف وکړې او د خپلې رسامۍ او نقاشۍ په باب به معلومات راته ولیکې:

ـ څه وخت مو د رسامۍ او نقاشۍ هنر ته مخه کړه؟

ـ څومره اثار مو د دې هنر په دایره کې پنځولي دي؟

ـ ایا اوس هم انځورګري کوئ؟

لاهو صاحب بېرته داسې راته ولیکل:

«سلامونه قدرمن استاده!

انځورګري مې له ماشومتوبه خوښیده، له ځانه سره مې نقاشي کوله. بیانو وروسته یو چا مشوره راکړه له یوه انځورګر سره چې سیدشفیع نومیده شاګرد شوم او د اوبو او روغنی رنګ نقاشي مې ترې زده کړه، بیانو د حالاتو د ګډوډیدو په وجه رانه پاتې شوه، ډېرې تابلوګانې او نقاشۍ مې کله چې دارلمان کی مو کور و، د وحدت تنظیم د جنګیالیو د جګړو په وخت کې له منځه لاړې.

بیانو کله چې سویس ته راغلم، بیرته می نقاشي شروع کړه، دلته یی هم بازار سوړ و؛ بیا مې نو بیخي پریښوده. درې څلور کاله کیږي چې نقاشي می پری ایښې ده.»

کله مې چې د ده د انځورګرۍ یوه بېلګه ورنه وِوښته، ده په ډېرې مربانۍ سره خپلې دوې رسامۍ راته راولیږلې چې زه دزړه له تل نه مننه ترې کوم.

دا هم د نورمحمد لاهو د انځورګرۍ یوه بېلګه:




په دې ډول د انځورگر لاهو د يوه هنر لمن ټوله‌شوې ده. که په وطن کې حالات ښه وای او لاهو په هماغې مينه سره چې انځورگري يې پيل کړې وه، خپل کار ته دوام ورکړی وای؛ تر اوسه به يې د انځورگرۍ د هنر په دايره ځومره اثار پنځولی وای

## د لاهو په باب د ده فرهنگي دوستانو د نظرياتو بېلگې:

ما آصف بهاند د لاهو په باب تر دې مقالې مخکې دوه مطلبه خپاره کړي دي:

ـ يو شعر، يوه خاطره:

په دې مقاله کې ما د ده د دې جملې: «يوځوک شته چې ما ته مينه په پور راکړي؟» د شعر په ژبه
يو خواب وليکه چې هماغه وخت په ميديا کې خپور شو،

ـ د نعمان دوست له نظره د نور محمد لاهو د شاعرۍ يو اړخ:

د لاهو صاحب په باب زما دا مقاله هم هماغه وخت په میدیا خپره شوه.

نذیراحمد نذیر لاهو صاحب په باب خپل نظر داسې لیکلی دی:

«دا نورمحمد لاهو دی
کابل کې زیږدلی دی، همدلته یې پښتو ادبیات لوستي دي. دوه کتابونه بلال په وینو کې او د شاتو سین یې چاپ شوي دي.
ویل یې په شپیلۍ کې دعاګانې مې هم چاپیږي خو دا یې د کلونو مخکې ژمنه وه تر اوسه نه دی چاپ شوی .
ښه رسام هم دی.»

د لاهو په باب د نعمان دوست د نظر یوه برخه:

«خبره دا ده چې دنیا ته هر څوک د یوه خاص ماموریت لپاره راځي. زموږ لاهو شاید دې خاکي ګُرې ته د دې لپاره راغلی وي چې د، اغیارو په اصطلاح، په دې دوزخي ژبه د جنتونو په څیر ښایسته شاعري وکړي، داسې شاعري چې شعرونه یې په یو ځل لوستلو زړونو کې حک شي. لاهو، عجیبه او بې تکلفه شاعري کوي. د رنګینو خیالاتو لپاره یې الفاظ دومره په کنټرول کې دي چې دا (حیض الرجال) هیڅ تکلیف نه ورکوي او د اعوذ (ذال) ترې په (دال) نه بدلیږي .سختو ترکیباتو پسې ځان نه ستړی کوي. د هغه هره کلمه ساده، عام فهمه او رڼه وي، خو په همدې سادګۍ کې ترې رنګیني ځاځي .ممکن یو علت یې دا وي چې هغه د رنګونو په امتزاج

ښه پوهيږي، ځکه چې نقاش هم دی .نن مې دا خوږ او له اوو غرونو پناه ملګری پر زړه راوه وريده...»

دغه راز نعمان دوست نورمحمد لاهو يو کاريزماتيک شاعر ګڼي، دی د لاهو د شاعرۍ په باب د يوې مقالې په ترڅ کې داسې وايي:

«کاريزما، يوازې د قوارې او ظاهري بڼې نه وي؛ د ځينو خلکو خبرې هم دا خاصيت لري او چې څنګه مجلس کې خوله پرانيزي؛ نو غوږونه ورته داسې څک شي لکه پوخ ربابي چې نوې نغمه سُر کړي.
تاسو به ډير وخت له داسې حالت سره مخ شوي يئ چې د يو چا خبرې، درته خوند درکوي. دا خبرې کله په ژوندۍ او شفاهي بڼه وي او کله په ليکلې بڼه. کله د شعر په ژبه وي او کله د نثر؛ خو پر تاسو د تاثير جال را خوروي.
يو له دغه شان شاعرانو زموږ پخوانی يار ښاغلی نور محمد لاهو دی. د لاهو شعر چې شروع کړې؛ نو پکې لاهو شې او هغه وخت ترې ساحل ته وځې چې شعر خلاص شي. شعر يې خلاص شي خو اثرات يې تر ډيره پاتې وي. لکه په توده هوا کې چې سړو اوبو کې له لمبا خلاص شې؛ خو بدن دې

ورسره تر ډيره د تازه ګۍ احساس کوي.
د لاهو شعر کله داسې وي چې سړی نپوهيږي د ده اصلي مقصد څه دی؛ خو بيا هم خوږ لګيږي. عيناً لکه د مارغانو ژبه چې هره زمزمه يې ذهن ته طراوت او نشاط بخښي.
د ده شعر تلوسه لري. دا تلوسه د کيسې په شکل نه ده چې اوس به څه کيږي، دا تلوسه د الفاظو خوږلني ده. چې هر لفظ

لولې، زړه دې وي چې نور کلمات او جملې هم خوله کې وزبیښي او په لا ډیرو خوږو حلق شیرین کړې.
زه، د لاهو له شعرونو سره آن د ( بلال په وینو کې ) له چاپ مخکې اشنا وم. د دې ټولګې چاپ یې بیخي معتاد کړم. بار بار مې ولوسته، بار بار مې ترې خوند واخیست او بار بار یې وژړولم. دې شعرونو کې دومره زور و چې زما کمزورې حافظې هم تر ډیره وساتل او اوس هم یو نیم پکې خوندي دی.
د لاهو تازه شاعري لا پسې خوندوره کیږي، لکه څومره چې رباب زړیږي او ربابي زړیږي هومره یې نغمې پخیږي او هومره یې اغیز زیاتیږي. نه پوهیږم، د لاهو د شاعرۍ د اغیز تر شا به څه پټ وي؟ خو خبره دا ده چې دا سړی له شاعرۍ پرته نقاش هم دی، د رنګونو په امتزاج واقف دی، د رنګونو په اسرارو خبر دی. دې مهارت یې شاعرۍ ته هم لاره کړې، د رنګونو په څیر یې په الفاظو کې هم ورته نقاشي اسانه کړې ده.
لاهو، ساده غږیږي؛ داسې لکه د ژمي پیتاوي کې چې له کلیوالو سره باندار کوي؛ خو هره خبره یې نیغه زړه ته ښکته کیږي.
بله خبره دا ده چې دی په وچ زور خیالونه نه پنځوي، اول یې ذهن کې ښه پاخه کړي او بیا د الفاظو داسې کالي ور واغوندي چې د خیاطانو په اصطلاح په ناف برابرې وي.
د لاهو، شعرونه لکه د بریالیو کیسو پلاټ (خاکه) تر ډیره په ذهن کې پاتې کیږي، که الفاظ او کلمات یې پاتې نشي؛ نو یو پټ اثر یې خامخا تر ډېره پر ذهن خور وي...»

د امریکا غږ په «بله ډیوه» نومي پروګرام کې د نورمحمد لاهو پر شاعرۍ بحث شوی دی او په پیل کې بارکوال میاخیل داسې لیکلي دي:

«نور محمد لاهو د پښتو په اوسنیو شاعرانو کې یو له هغو ګوتو په شمېر شاعرانو دی چې شعر یې له نورو شاعرانو جلا رنګ او د شعر ټول خواږه لري. دی تر ډېره نثري او ازاد نظمونه لیکي او تر اوسه یې درې شعري ټولګې چاپ دي...»

استاد رحماني لاهو ته داسې ښکلی شعر ډالۍ کړی دی:

**نور محمد لاهو ته!**

لاهو شعر دې د خیالونو زرین تال دی
د ښکلا د شنو غونډیو په سر زانګې
چې سهار شي د یوه خوږ نسیم کوربه وي
چې ماښام شي ښاپېرۍ ورته را دانګي

*****

لاهو شعر دې د رنګونو سرچینه ده
تصویرونه او خوبونه ترې بهېږي
د وړو وړو شیبو ناز یې اخیستی
له خپل زړه له خپلې خاورې زرغونېږي

*****

لاهو شعر دې د رازونو نندارتون دی
سل یې ورونه څه کم زر یې دریڅې دي
طبیعت په کې له هرې خوا موسکی دی
خاطرې دي، اندېښنې دي او کیسې دي

*****

لاهو شعر دي د ارواوو په صحرا کې
د انسان د سرګردانه وجدان خوب دی
مبلغ د پاکې مینې دی، فرمايي:
محبت خو يو سپېڅلی لېونتوب دی

*****

لاهو شعر دي لکه ځل د سپينو ستورو
د پښتو د دنګ قامت شور او ښکلا ده
په لمن کې يې"د شاتو سيند"*روان دی
د لتون او رياضت بېله دنيا ده

۱۴۰۰، د ليندی ۷ مه. کابل

---

*د لاهو صاحب شعري ټولګه

ښاغلي حميدالله هميم د لاهو صاحب په شعر کې يو شو ترکيبونه په نښه کړي دي، په لاندې ډول:

«خوږ استاذ نورمحمد لاهو او پښتو ترکيب:

په دې نه غږېږم چې ترکيب څه؟ څنګه او څو ډوله دی تنها د قدرمن استاذ په خوږو شعرونو کې ترکيبونه راسره ولولئ:

۱-پيغله نڅا
۲-لمدې چيغې
۳-دبادسوړ موزيک
۴-داور تودې ګوتې

۵-دایرو حافظه
۶-ژوبله تنې
۷-داوبو لمبې
۸-بې حسه رڼا
۹-سپینه تودوخه
۱۰-تنکې چیغې
۱۱-بې سیوري ساړه
۱۲-دمینې څادر
۱۳-په رنجو ککړې چیغې
۱۴-ماشومه خندا
۱۵-تور غږ
۱۶-واړه سوکان
۱۷-دسیند ښیښه یې قفس
۱۸-معصوم مرغه
۱۹-ړوند سیند
۲۰-بهانده سینه
۲۱-دګلاب تازه ملا
۲۲-دلمدو زلفو ګبین
۲۳-کنګل اورونه
۲۴-جل وهلې ښاپیرې
۲۵-لپې لپې لمبې
۲۶-شیرچایې سیورې
۲۷-ړندې پښې
۲۸-خوږه تودوخه
۲۹-وحشي اوبه
۳۰-ویده لاس»

په پای کې د نورمحمد لاهد د شعر دوې نورې بېلګې:

# د عسکر خوب

عسکر سر د خپل ټوپک په شپیلۍ ایښی
بیا د خوب په کرونده کې یې
پاخه غنم شنه شوي
عسکر بیا د خپل کاله د بام د پاسه
دا ځو ورځې د کارغانو دورې شمیري
هلته لیرې یوکس ناست دی
خپل لستوني یې شکولي
خړوي لګیا دی ډنډ زموږ د وینو
طلایي کبان یې ډیردي نبنه کړي

*****

عسکر سر د خپل ټوپک په شپلۍ ایښی
د خپل زوی د ناکامۍ پارچه یې سترګو کې تاویږي
د میرمنې د دوا نسخه یې باد ترې پټه کړې؟
باد په خپلو سویو کریغو یې
د مور زګیروي ورژباړي

موريې بيا په جاى نماز ده

په دعا، دعا خوب وړې

*****

عسکرخوب کې

جنازه بيا د کوترو ولمانځله

يوغټ څاڅکې يې له سترګو نه راورغړېد او مات شو

د ټوپک تورې شپيلۍ باندې دمه شو

شيبه نه وه لا وتلې عسکر ورو په ښنګ راورغښت

له ټټره يې د وينو لارې، لارې ليکې راغلې

يوځو کرښې يې پر ځمکه ليکه، ليکه راوکښلې

تورې شپې يې له حيا په خپل ټيکرې کې

دغه کرښې کړې راټولې.

*****

دادى ډيرکلونه تير شول

يوې دنګې ښايسته لوړې ماڼۍ کې

چې لاهم د دې عسکر په نوم جامونه پورته کېږي

هيچا هم له بله ونه کړه پوښتنه:

## چې هغه شپه عسکر څه پر زمکه وکښل؟

دا د نورمحمد لاهو د کلام هغه وروستۍ بېلګه ده چې د ۲۰۲۳ ام کال د سپټمبر پر لسمه نېټه خپور شو او ما هم د ده د کلام د وروستۍ نمونې په ډول دلته راواخیست:

## د ځپو وحشي ویر

بیرۍ!
زه نور ستړی شوی یم سفر نه
لکه وچه، ژیړه پاڼه د یو باد ترخه لمن کې.
نن مې ته بوځه کوم ځای ته چې دې زړه وي
زه نن نه غواړمه لار درته وښایم

*****

بیرۍ!
غواړم د دې تور توپان د سویو چیغو منځ کې
لکه بوره د مړه زوی سرته له ډیرې ژړا وروسته شم
بیهوشه
د ځپو له دې تک سپین او له وحشي ویر سره یو ځای
همدا هسې بې پروا په مخه درومه
نن له مانه د چا پته
او د کور لاره مه غواړه!

*****

اې د سیند د غاړې بوټیه!

زموږ دواړو تقدير يو دی
زما سترې ـ سترې متې
ستا د شنو لاسو په خير
د اوبو وړيو په چيغارو زخمي کيږي
زه او ته د مرستې نه يو
غبرګ لاسونه مو ماتيږي
که له مينې ښخه تښتو
ژندګي بې مانا کيږي
نو بيږی!
دا د سيند د غاړې بوټی هم راواخله

*****

نو بيږی!
سترې شوی يم سفر نه
غواړم خپل جسم ته ستون شم
تياره راوله اې خدايه
لمر مې ګوتو کې د زخم غوندې درد کا
رڼاګانې مې پښو لاندې ماتيږي

# ډاکتر بادام شفق

## د کار او زيار نه ستړې کېدونکې بېلګه



Dr.B.Shafaq

ما (آصف بهاند) تل هڅه کې ده چې د نوي نسل د سالمې روزنې په خاطر مقالې او کتابونه ولیکم. زما د دې مقالو یوه

لړۍ «ژوندي یادونه نومېږي. د دې مقالو په ترڅ کې ما له پیل نه تر اوسه پورې هڅه کړې چې د داسې فرهنګي علمي څېرو پر ژوند او اثارو باندې څه ولیکم چې د هغوی اثار او افکار د نوي نسل لهپاره د یوې ښې او نمونه تجربې بڼه ولري، څو د نوي نسل له پاره د یو ښه سرمشق په توګه وځلول شي. په دې مقاله کې، د داخله ناروغیو متخصص ډاکتر بادام شفق د ژوند پرځینو اړخونو څو خبرې لرم چې له تاسو درنو لوستونکو سره یې شریکوم.

ډاکتر بادام شفق د افغانستان د تاریخ هغه علمي فرهنګي څېره ده چې د افغانستان او اروپا له ډېرو سختو شرایطو او ازموینو نه بریالی راوتلی دی.

د افغانستان د یوې لرې سیمې اوسېدونکی بادام شفق د خپلې تولنې په ډېرو سختو شرایطو کې له سختو ازمویونو بریالی راووت او د هجرت په دومره ستونزو او کړاوجنو حالاتو کې د خپل لیاقت او تجربې په کارولو سره وتوانید چې په ډنمارک کې د خپل مسلک (طب) سره سم ځانته کار او سم کاري چاپېریال پیدا کړي. په دې لاره کې یې، د خپلې کاري دورې په ترڅ کې دومره بریالي ګامونه واخیستل چې حتی ترقانوني تقاعد وروسته هم په کاري ځای کې د ده کار ته اړتیا محسوسه وه، د همدې اړتیا له مخې ډاکتر شفق یو څه نوره موده هم په کار کې پاتې شو.

## اوس د همداسې یو زیارکښ ډاکتر بادام شفق پېژندنې ته پام وکړئ:

د ډاکتر بادام شفق بیوګرافي مې په بل ځای کې پیدا نه کړه، نو مې له ده غوښتنه وکړه چې په دې برخه کې مرسته راسره

وکړي، ده هم خپله مفصله بيوگرافي راولېږله چې ځينې برخې يې دا دي:

«ډاکتر بادام شفق د غلام حسن ساپي ځوی دی چې په ۱۳۳۲هجري لمريز (۱۹۵۳ ميلادي) کال کې د افغانستان د کونړ ولايت د نرنګ ولسوالۍ اړوند، د باډېل درې د غازي خان غونډۍ په کلي کې زيږېدلی دی.

ده خپلې لومړنۍ ديني زده کړې د خپل پلار او د خپل کلي د ملا نه شروع کړې، ځوپډي هيله چې ښونځي او د عصري علومو زده کړو ته لار ومومي. په ۱۳۴۱ ل (۱۹۶۲ ع ) کال د څوکۍ په ولسوالۍ کې، د مسعودوکلي ته لاړ او هلته يې د استاد رحمت‌الله خان (ساپي) څخه ديني او عصري زده کړې پيل کړې. يوکال وروسته ئې د دريم ټولگي د سوئې (سامع) ازموينه ورکړه او په ۱۳۴۲ ل ( ۱۹۶۳م) کال کې د څوکۍ ولسوالۍ د لومړني ښوونځي په څلورم ټولگي کې شامل شو، يوکال وروسته ئې د نرنګ ولسوالۍ (چې هغه وخت علاقداري وه)، لومړني ښونځي ته ځان تبديل کړ. نوموړي دوه کاله په ډير زحمت د خپل کلي څخه تر مکتب پوري هره ورځ ډيره اوږده فاصله پياده تګ راتګ کاوه.

بادام شفق په ۱۳۴۵ ل (۱۹۶۶م) کال کې د ننګرهار په دارالمعلمين کي د داخليدوپه ازموينه کې چې ډيرزيات شمير شاګردانو پکې ګډون کړی وو، ترټولو شاګردانو لوړې نومري واخيستې او د دغه دارالمعلمين په اوم‌ټولگي کې شامل شو. نوموړی دننګرهاردښوونکو دروزني په عالي موسسه (دارالمعلمين) کې د تحصيل په دوره کې هميشه ممتاززده کوونکی او د خپل ټولگي اول نومره شاګرد و.

هغه د ننګرهار په دارالمعلمین کې د زده کړو په وخت کې په کلتوري فعالیتونو، لکه ډرامو، مشاعرو اومیټینګونو کې فعاله ونډه آخیسته.

شفق د ۱۳۴۹ ل (۱۹۷۰م ) کال د اوړي په دري میاشتنۍ رخصتۍ کې د یولسم ټولګي د مضامینو ټول کتابونه د ځانه سره بیله ښوونکي او بل چا له مرستي ولوستل او د اوړي د رخصتۍ په اخر کې ئي د یولسم تولګي د سوئي ازموینه په بریالیتوب سره تیره کړه او د ښونمرو په اخیستو راساً دولسم ټولګي ته شامل شو، د ۱۳۵۰ لمریز(۱۹۷۱م) کال د جوزا په میاشت کې د ننګرهار د ښونکو د روزني د عالي موسسي (عالي دارالمعلمین ) د دولسم ټولګې څخه عمومي اول نومره فارغ شو.

بادام شفق د۱۳۵۰ ل(۱۹۷۱ م) کال د پوهنتون د کانکور په ازموینه کې خپل لومړنی انتخاب یعني د ننګرهار طب پوهنځي ته په ډیرو ښو نومروبریالی شو.

بادام شفق د ډیرو اقتصادي مشکلاتو سره ـ سره خپل عالي تحصیلات سرته ورسول او د خپلې منطقي د نوروځوانانو د تشویق او ترغیب سبب شو، چې ښوونځي ته لاړ شي او وروسته عالي تحصیلاتو ته مخه کړي.

بادام شفق د ننګرهار له طب پوهنځی څخه د ۱۳۵۷ لمریز (۱۹۷۸ م) کال د غبرګولي (جوزا) په میاشت کې اول نومره فارغ شو او تر فراغت وروسته سمدستي د همدغه پوهنځي د داخلي ناروغیو په څانګه کې د علمي کدر د غړي په توګه ومنل شو.

د ۱۳۵۸ ل (۱۹۷۹م) کال په وروستیو کې د کابل طب پوهنځي د داخلې په څانگه د علمي کدر د امتیاز په ساتلوسره د علي آباد روغتون د داخله ناروغیو په څانګه کې مقرر شو.

په ۱۳۵۹ ل(۱۹۸۰ م) کال کې د افغانستان د وسله‌والوځواکونود طبي علومو د اکاډمۍ (چې اوس محال د سردارمحمدداوخان روغتون په نامه یادیږي) د داخله ناروغیو په څانګه کې په دنده وګمارل شو.

له ۱۳۶۱ ل (۱۹۸۲م) څخه تر ۱۳۶۳ ل (۱۹۸۴ م) کال پورې بې د کورنیو چارود وزارت د روغتیایي چارو د ریاست د مرستیال په توګه دنده درلوده.

د۱۳۶۳ ل (۱۹۸۴ م) کال په پای کې د فاریاب ولایت د څارندوی (پولیسو) د روغتیایي چارو د آمر په توګه په دنده وګمارل شو.

په ۱۳۶۸ ل (۱۹۸۹ م) کال کې د کورنیو چارو وزارت د دوه سوه بسترهیز مرکزي روغتون د قوماندان (رئیس) په توګه مقرر شو.

ډاکتر شفق د ۱۳۷۱ ل (۱۹۹۲م) کال په کورنیو جنګونو کې د رسمي دولتي دندي پرېښودو ته اړ شو.

له ۱۳۷۱ ل ( ۱۹۹۲ م) څخه تر ۱۳۷۸ ل (۱۹۹۹م) کال پورې یې په خپل شخصي کلینیک کې کار کاوه او د ۱۳۷۸ ل (۱۹۹۹ م) کال په اواخرو کې ډنمارك هیواد ته مهاجر شو.

د ډنمارک هیواد د قوانینو له مخي ټول هغه ډاکټران چې د غربي اروپا د هیوادو او د امریکا د متحده ایالاتو څخه پرته د نورو هیوادو څخه ډنمارک راځي، هغه وخت په ډنمارک کې د ډاکټر په حیث د کار اجازه ورکول کیږي، چې تحصیلی اسنادئي د ډنمارک د دولت روغتیائي اداره (Sundhedsstyrrelsen) تائید کړي، د ډنمارک د روغتونونو په مختلفو څانګوکي شپږمیاشتنۍ آزمایښتي دوره تیره کړي اولاربنود متخصصین او د سرویسومشران ئي د ډاکتر په حیث مسلکي وړتیا تثبیت او تصدیق کړي. د طب د ټولو کلینیکي مضامینو په تحریري او شفاهي ازموینو کې کامیاب او د ډنمارکي ژبي په تحریري او تقریري آزموینو کې په ښو نمرو بریالی شي.

ډاکترشفق د ټولو پورتنیو مرحلو تر تیرولووروسته په ۱۳۸۳ل (۲۰۰۴ م) کال کې په ډنمارك هیواد کې د ډاکتر پهحیث قبول او د کار اجازه ئي تر لاسه کړه. له هغي نیټې وروسته یې د ډنمارک هیواد په دولتي روغتونونو کې رسمي دنده درلوده.

ډاکتر شفق د طبابت په مقدس مسلک کې د۴۶ کلونو خدمت کولووروسته، د۷۰ کلواوشپږمیاشتو په عمر، د ۱۴۰۳ لمریز کال د جوزا د میاشتې په۱۲ نیټه (۱۹۲۴م، دجون اول) په رسمي ډول خپل تقاعد واخست.

ډاکتر بادام شفق د داخله ناروغیو متخصص دی او د افغانستان په ملي پښتو ژبې یې په لاندي نومونو مسلکي کتابونه او زیات شمیر تحقیقي طبي مقالې لیکلي او نشرکړیدي:

۱- مزاجي ناروغی (خفگان او مست ليونتوب)، دانش مطبعه، ۱۳۹۰ ل کال / ۲۰۱۱ م،

۲- دماغي سکتي، د افغانستان د ملي تحريک فرهنگي ځانگه،۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م،

۳- خپگان، مست ليونتوب او بيخوبي، د افغانستان د ملي تحريک فرهنگي ځانگه،۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م،

۴ـ د تنفسي ناروغۍ او توبرکلوز په نوم، د پوهاند محمدناصر (شينواري) پر اثرباندي نوی نظر، له نوو زياتونو او سمونوسره، څلورم چاپ او نشر ته تيارول، ۱۴۰۲ ل کال/۲۰۲۳،

۵ـ ځما د ژوند رښتيني قصه، ناچاپه اثر.



ډاکتر شفق د طبابت په څنګ کې، مدني ـ اجتماعي فعا ل هم دی، له خپل وطن او خلکو سره زیاته مینه او خواخوږي لري. هغه د مهاجرت په شرایطو کې هیڅکله خپل ګران هیواد او خپل بې وزلی ولس له یاده ندی ایستلی.

هغه پخپل وطن کې داخلي جنګونو، دسیاسیونوپه منځ کې دچوکیو اومقامونو په سر شخړو اوسیالیو، دبیت المال د پیسواودارائي غلا اوچور، د دولتي ځمکو، معادنو او ځنګلونو غصب او چوروچپاول، اداري فساد، د افغانستان د ورونو قومونو ترمنځ بې اتفاقیو ته لمن وهلو، خارجي مداخلو، د نجونو او ښځو په تعلیم، تحصیل، کار او اجتماعي ژوند کې په خنډونو او بندیزونو او د وطن وروسته پاتې والي باندي خورا ډیرزوریږي.

هغه د ډنمارک هیواد د اغوس په ښارکې د افغانانو د یووالي او فرهنګي خدمتونو لپاره (د افغانانو د یووالي او پیوستون فرهنګي مرکز) په نامه یوه ټولنه جوړه کړیده او غواړي چې د مهاجرت په شرایطو کې له یوي خوا له دې لاري خپلي ژبې او خپل اصیل افغاني کلتور او فرهنګ ته خدمت وکړي، خپل ملي افتخارات ژوندي وساتي، نوي افغان نسل ته یې معرفي او ورانتقال کړي او له بلې خوا ډنمارکیانو او نورو خارجیانو ته خپل اصیل افغاني فرهنګ ورو پیژني.

ډاکتر شفق یوځوي او پنځه لوڼې لري. چې ټولو اولادنو ئی په ډنمارک هیواد کې لوړي زده کړې تر سره کړئې دي او ټول ئي په ډنمارک هیوادکې رسمي دندې لري. ځوی ئي د زړه د ناروغیو متخصص دی، دوې لوڼې ئي د داخله ناروغیو متخصصې ډاکترانې دي، دوې لوڼې ئي په ښونځیو

کې ښوونکې دي او یوه لور ئي د اجتماعي امورو مشاوره ده. ټولو اولادونو یې ودونه کړي او خپل مستقل ژوند، کورنۍ او وظایف لري.»

اوس به د ډاکتر بادام شفق د ژوند او فعالیتونو پر بېلابېلو برخو باندې تم شو او وبه ګورو چې ده کوم او څه ډول کارونه ترسره کړي دي:

### ۱ـ طبیب بادام شفق:

کله چې بادام شفق د ننګرهار له طب‌پوهنځی څخه فارغ شو، د وطن په بېلابېلو ځایونو کې یې د طبیب په توګه د خپلو هېوادوالو درملنه وکړه:

ـ د ننګرهار پوهنتون د روغتون د داخلی په څانګه کې،

ـ د کابل د علي‌اباد روغتون په داخله سرویس کې،

ـ د سردارمحمدداوخان روغتون د داخله ناروغیو په څانګه کې،

ـ د فاریاب ولایت د ځارندوی (پولیسو) د روغتیايي چارو د امر په توګه،

ـ د کورنیو چارو وزارت د دوه سوه بستره یز مرکزي روغتون رئیس په توګه،

ـ د تنظیمي واکدارۍ په موده کې یې له ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۹م پورې د خپل شخصي کلنیک په چوکاټ کې د خلکو درملنه او خدمت وکړ.

ـ له ۲۰۰۴ ام کال څخه تر ۲۰۲۴ ام کال پورې دډنمارک هېواد په دولتي روغتونونو کې په درملنه بوخت و.

د طبابت په ډګر کې، ډاکتر بادام شفق له خپل مسلک او انسانیت ته له خدمت سره دومره مینه درلوده چې په ډنمارک، د خپل خدمت په دوره کې پرته له رخصتۍ په متواتر ډول په روغتون کې پاتې شو او پرته له ستړیا یې کار وکړ.

## ۲ ـ د بادام شفق ټولنیز او فرهنګي کارونه:

د ډاکتر بادام شفق په بیوګرافۍ کې راغلي دي چې: «هغه د ډنمارک هیواد د آغوس په ښار کې د افغانانو د یووالي او فرهنګي خدمتونو لپاره (د افغانانو د یووالي او پیوستون فرهنګي مرکز) په نامه یوه ټولنه جوړه کړیده او غواړي چې د مهاجرت په شرایطوکې له یوې خوا له دې لارې خپلې ژبې او خپل اصیل افغاني کلتور او فرهنګ ته خدمت وکړي، خپل ملي افتخارات ژوندي وساتي، نوي افغان نسل ته یې معرفي او ورانتقال کړي او له بلې خوا ډنمارکیانو اونوروخارجیانو ته خپل اصیل افغاني فرهنګ وروپیژني.»

د دې ټولنې مسؤلین وایي چې دوی دا لاندې فرهنګي فعالیتونه ترسره کړي دی:

«... باید وویل شي چې مونږ د فرهنګی مرکز لخوا په لسګونو فرهنګی غونډې، او مشاعري جوړې کړي، د ملي او بین‌المللی ورځو لکه د استقلال د جشن، نوروز او د ښځو د ورځو لمانځنه مو کړي، او د لوړو زده کړو او پوهنتونو څخه د فارغ شوو افغان محصلینو لپاره مو د نورو ځوانانو د تشویق په خاطر تشویقی غونډی جوړې کړي دی.

همدارنګه مو د یوشمیر لیکوالانو د تشویق په خاطر د هغوی د چاپ شوو اثارو لپار د مخکتنې غونډې جوړې کړیدی.
د پورته فرهنګي فعالیتونو ترڅنګ مو په افغانستان کې د طبیعي پیښوقربانیانو او تاواني شوو وطنوالو لپاره نقدی مرستې راټولې کړې او لیږلې دي.»

ډاکتر بادام شفق د یادې فرهنګي ټولنې (د افغانانو د یووالي او پیوستون فرهنګي مرکز) لومړنی انتخابي رئس و چې تراوسه هم د همدې ټولنې په چوکاټ کې خپل فرهنګي فعالیتونه پر مخ بیایي.

ښاغلي احسان‌الله وفا په خپل کتاب «د کونړ غمي» کې د ډاکتر بادام شفق د علمي ـ فرهنګي شخصیت په باب داسې لیکلي دي:

«ډاکتر بادام شفق» د پښتوژبې یوورک خادم، د پښتني فرهنګ د بډاینې او دودونې یو ارمانجن چې د ادبي او فرهنګي شخصیت ورهاخوا زموږ د افغاني طبي اسمان یوه پخه ستن هم بلل کېږي، د افغانستان د یودردمند او خواخوږي بچي په توګه یې له پخوا راهیسې د خپلې ژبې او ادب د ځلونې له‌پاره مټې رابډوهلې دي او کار کوي...

بادام شفق که څه هم د طب ډاکتر دی، خو په فرهنګي برخه کې هم فعال دی، ادبي او تاریخي لیکنې هم کوي...»

(وفا احسان الله، د کونړ غمي، خپرندوی: د افغانستان د مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۲ ام کال، ۲۶ ـ ۲۸ مخونه)

## ۳ ـ ښوونکی او مدرس بادام شفق:

ډاکتر بادام شفق د ۱۹۷۸ م کال د ننګرهار د طب پوهنځي څخه ترفراغت وروسته، د همغه پوهنځي د داخلي ناروغيو په څانګه کې د علمي کدر د غړي په توګه ومنل شو. د ۱۳۵۸ ل (۱۹۷۹م) کال په وروستيو کې د کابل د طب پوهنځي د داخلي څانګې په علمي کدر کې خپل تدريسي علمي کار پيل کړ.

ډاکتر بادام شفق په دواړو پوهنتونونو (ننګرهار پوهنتون او کابل پوهنتون) کې د خپل تدريسي ماموريت په ترڅ کې د وطن د اولادونو په روزلو کې، د وطني او انساني مينې له مخې په سلګونه شاګردان وروزل.

## ۴ ـ بادام شفق د سياست په ډګر کې:

بادام شفق له تاندي ځوانۍ څخه سياست په دې هيله راپيل کړ چې ښايي وکولای شي د افغانستان د خوارو او بيوزلو خلکو له پاره د داسې ټولنې په جوړولو کې مرسته وکړي چې د خلکو ژوند په انساني بڼه او له ارامتيا سره مل وي، خو دا هر څه د ناروغو سياسيونو او د ناروغې ټولنې د ستونزو داسې قرباني شول چې نه يوازې د ډاکتر بادام شفق هيلې ترسره نه شوې، بلکې د ده سياسي کارونو د ده پر مسلکې، علمي، اداري او شخصي ژوند باندې هم منفي سيوری وغوړاوه، دی يې متضرره او له ګڼو ستونزو سره مخ کړ.

ډاکتر بادام شفق د يوه انساني مرام په چوکاټ کې د افغانستان د رنځېدلو خلکو نيکمرغي غوښتله، خو له بده شامته چې د ځان غوښتونکو سياسي رهبرانو د تېروتنو او پرليپسې سياسي

ـ نظامي بدلونو په پایله یې ټولې انساني او وطنی هیلې خاورې ایرې شوې.

په سیاسي مسایلو کې ښاغلی بادام شفق د یوه منځلاري فکر پیرو او د عدم تشدد فلسفې پلوی دی. دی په خپلو سیاسي پیامونو او ویناو کې تل د اتحاد او اتفاق خبره کوي او غواړي خپلو مخاطبینو ته د لرنوني یونان د استادانو دا خبره ووایي چې:

«نه افراط، نه تفریط: طلایي منځلاره!»

د ده دا لاندې پیام د پاسنی پالیسۍ یوه ښه بېلگه کېدای شي:

«په یورژیم، گوند او قوم کې «مطلق ښه والی» یا «مطلق بدوالی» نشته. موږ عادت شوې یو چې یا یورژیم، گوند یا قوم ته یا «مطلق ښه» وایو یا «مطلق بد».

زموږ همدغه غلط فکر دی چې د «مطلق حُب» یا «مطلق بُغض» ترتاثیر لاندې، یا هررژیم، گوند یا قوم یا مطلق تایدوو او یوه بدې ئي هم نه وینو، او یا ئي مطلق ردوو او یوه ښیگڼه ئي هم نه وینو. همدغه مشکل دی چې موږ ئي په ټوټو ویشلې یو.

موږ باید په خپل قضاوت کې «منصف اوعادل» واوسو. ښه ته ښه او بد ته بد ووایو. کیدایشې له «مطلق حُب» او «مطلق بُغض» سره خداي په امانې، موږ «اتفاق» ته ورسوي.»

ډاکتر بادام شفق په خپله سیاسي لاره کې د یو ډاډمن او روښانه ملي دریځ په درلودلو سره نه له خپله هوډه تېر شو

او نه يې د مقام او شهرت له پاره خپله لاره بدله کړه، بلکې خلکو او وطن ته د خدمت له پاره پر خپله ژمنه ترپایه ودرېد.

### ۵ ـ لیکوال بادام شفق:




ډاکتر بادام شفق د خپل قلم په څوکه، د خپلو علمي زدکړو، کار او علمي فرهنګي تجربو په پایله کې د خپل مسلک یعنې طبابت او ټولنیز ـ سیاسي ژوند په ډګر کې څو کتابونه لیکلي دي چې نومونه يې دا دي:

۱- مزاجي ناروغی ( خفگان اومست لیونتوب): ددانش مطبعه ، ۱۳۹۰ ل کال / ۲۰۱۱ م

۲- دماغي سکتې، د افغانستان د ملي تحریک فرهنګي ځانګه، ۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م

۳- خپګان ـ مست لیونتوب او بیخوبي، د افغانستان دملي تحریک فرهنګي ځانګه،۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م

۴- د «تنفسي ناروغۍ او توبرکلوز» په نوم، د پوهاند محمدناصر شینواري پر اثر باندې د نوو زیاتونو او سمونو سره، نوی نظر او نشر ته د کتاب تیارول، ۱۴۰۲ ل کال/۲۰۲۳م

۵- څما د ژوند ربښتینې قیصه، ناچاپه اثر.

دغه راز بادام شفق په افغانستان کې د وخت له غوښتونو سره سم یو شمېر مسلکي طبي مضامین لیکلي دي چې د وخت په ځینو موقوتو نشریو خپاره شوي دي.

د ډاکتر بادام شفق زدکړې، علمي ـ فرهنګي کارونه په لومړي ګام کې د خپلې کورنۍ له پاره سرمشق شوې، بیا یې د کلي او ټولې ولسوالۍ لهپاره د ډیوې بڼه غوره کړه. ښه بېلګه یې د ده کشر ورور ډاکتر صاحب شیرحسن دی. شیرحسن هم د مشر ورو (ډاکتر بادام شفق) پر لاره روان او یو دانشمند شخصت ورنه جوړ شو.

ډاکتر شیرحسن د خپل مشر ورو ډاکتر بادام شفق د سیاسي، علمي، فرهنګي شخصیت په باب داسې لیکلي دي:

«مشر ورور مې ډاکتر بادام شفق د طبابت په سپېڅلي مسلک کې له ۴۷ کاله خدمت وروسته د مې میاشتې په دریمه نېټه په ډنمارک هېواد کې له رسمي کاره تقاعد واخیست.

د ورور د شخصي او کاري ځانګړتیاو په باب څه لیکل ګران وي، هر څه چې ولیکل شي، لوستونکي یې د ورور لپاره لیکنه بولی او په هره خبره کې د ورور عواطفویني.

مګرمعروف قول دی چې وایي: «توره د ورور لپاره وهه او خبره د خدای لپاره کوه»، دلته د تورې میدان نه دی، نو خبره د خدای لپاره کوم، چې ډاکتر شفق بې حده زیارکښ انسان دی. زموږ د کورنۍ په ډېره غریبۍ او تنګ لاسی کې زموږ له سیمې او ولسوالۍ څخه چې هغه وخت علاقه داری وه، لومړنی کس و چې د زده کړو له پیله تر پایه اول نمره و، هغه وخت د طب پوهنځي ته بریالی شو او اول نمره فارغ شو. دا خبره ښایي اوس د ځوان نسل لپاره بابیزه معلومه شي، خو هغه د بادام شفق د ټولو همزولو لپاره شاهکار و.

ډاکتر شفق په هماغه اندازه چې په مسلکي زده کړو کې مخکښ و، په مدني ، ټولنیزو چارو او سیاست کې یې هم پراخ لاس او فعالیت درلود. په سیاسي سیالیو او مقابلو کې ډېر کړاوونه ورته پیښ شول، خو له هرې ستونزې سرلوړی راوتلی او زه یې د کشر ورور او شاګرد په توګه هیڅ وخت کې د ماتې او ناهیلۍ شاهد نه یم.

وروستي ۲۵ کاله چې په ډنمارک اوسیږي، له هر ډول رخصتۍ او تفریح پرته په مسلسل ډول په روغتونو کې په رسمي کار بوخت و، د دې تر څنګ د ډنمارک په اغوس ښار کې، د افغانانو د پېوستون فرهنګي ټولنې مسؤلیت هم لري. د افغانستان په اوږده سیاسي کشاله کې تل د یو ډاډمن او روښانه ملي دریځ خاوند دی. تل مې په نفس حاکم، په ځان ډاډمن او ابرومند لیدلی دی.

مشر ورور، زموږ د کورنۍ د لومړي لوستي، مخکښ او زما د لاربښود په توګه ډاکتر بادام شفق ته د هغه د رسمي کار د بريالي پای ته رسېدو مبارکي وايم، ژوند يې لکه د تېر په څېر ابرومند، نېکمرغه او له بوختياو ډک غواړم!»

په اوسني وخت کې که د ډاکتر بادام شفق نظرياتو ته تم شو، ليدل کېږي چې دی د يو متعهد او بامسؤليته فرهنګي په توګه د خپلو خلکو او ټولنې پر ستونزو باندې پوهېږي او د رامنځته شوو ستونزو له پاره خپل نظر څرګندوي او د حللارو وړانديز هم کوي.

د ۲۰۲۱ ام په اګست کې په افغانستان کې د سياسي نظامي بدلون په اثر زموږ په ټولنه کې د مثبتو بدلونونو ترڅنګ منفي بدلونونه هم رامنځته شول چې يو يې تر ټولو شپږم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځيو تړل و. له دې ستونزې سره بادام شفق د يوه ريښتني روڼاند په توګه له هماغه پيل نه خپل دريځ څرګند کړ. د نجونو ښوونځيو د تړلو پرضد ودريد. په خپله فيسبوکپاڼه کې يې په متواتر ډول خپله مبارزه جاري وساتله او په ښکاره ډول يې د نجونو د تعلم پلوي وکړه، ترشپږم پورته يې د نجونو د تړلو ښوونځيو د پرانستلو غوښتنه وکړه، دا يې د يادو پوستونو يوه بېلګه ده:

«ټوله دنيا او حتی اکثريت طالبان وايي چې دمکتبونو دروازې دې د نجونو په مخ خلاصې شي، کنه څوک مو امارت ممارت په رسميت نه پيژني. خوکوم سرتمبه څوک موك شته چې د اخرې فيصلې واک ورسره دی، دا خبره نه مني.

 څه دنيا به ورانه شي چې دا نجونې مکتب ته لاړې شي او تعليم او تحصيل وکړي او په راتلونکی کی ډاکترانی، معلمانی، نرسانې، پوليسانې او.. او... شی، خپل وطن ته خدمت وکړی؟ زه خو پدي نپوهيږم که تاسې پوهيږئ، پوه می کړئ!»

ډاکتر بادام شفق د خپل وطن له فرهنګ او فرهنګيانو سره بېساري مينه لري، د خپل وطن د قلموالو له ژوند، اثار او افکارو سره پوره اشنايي لري. په اکثرو فرهنګي محافلو کې ګډون کوي او تر خپلې وسې پورې خپله وطني او فرهنګي دنده ترسره کوي، د فرهنګيانو په خوښي خوشخاله کېږي او په غم او مړينه يې خواشيني څرګندوي. دا لاندې د استاد بختاني خدمتګار د مړينې په پار د ډاکتر بادام د تسليت پيام دی:

«د پوهې او ادب له اسمانه يوبل ستوری پريوت:

خدايبښلی عبدالله بختانی ستر اديب، شاعراو په وطن مين سياست پوه و.

د ده دخوږ.واوزړه راښکونکو اشعارو، ادبې ليکنو او د ده د سنګينې ځيرې او خواږه زړه راښکونکې غږ سره ان څه کم دوه پنځوس کاله مخکې، هغه وخت چې لا تنکی ځوان او د ننګرهار په دارالمعلمين کې شاګرد وم، بلد شوم.

د ده اشعار او ليکنې به مې د ننګرهار په ورځپانه کې لوستلې او خوند مې ترې اخيست. دی مې لومړی ځل د۱۳٤٥ کال په پسرلنی مشاعره کې وليده او د ده پخپل ښکلې اواز کې مې د ده خپل د پنده او خونده ډک شعر واوريد. له هغه وخته مې

بختياني صيب په زړه کې ځاې ونيوه. زمونږ ښوونکو هغه وخت ويل چې بختيانی صيب د (ويښوزلميانو) پخوانی غړی او ډير په وطن مين او پاک انسان دی. دې خبرو هم زما په زړه کې د ده او د ده د اشعارو او ليکنو سره مينه لا زياته کړه.

دې هوښيار، درانه ليکوال او د پښتو ادب ځلانده ستوري د وطن د بچيانو په بيداریَ کې دومره خدمت کړی او دومره اثار ورڅخه په ميراث پاتې شويدي چې په رښتيا سره ئي د پښتو ادب ځلانده ستوری وبولو او يادئي هميشه ژوندی وساتو.

خداې دې بختياني صيب ته جنتونه ورکړې او ټولې کورنیَ او دوستانوته ئي تسليت عرض کوم.
د بختياني صيب ياد دې تلپاتې او روح دې ښاد وي.»

د دې مقالې د ليکلو په وخت کې ما ته د ډاکتر بادام د ژوند، علمي او فرهنگي ـ سياسي کارونو د لاروښانولو له پاره، يوشمېر پوښتنې په ذهن کې پيدا شوې، بشپړ متن يې دا دی:

ډاکتر بادام شفق ته سلامونه او درناوی!

هيله ده هرڅه ښه وي.

ما هوډ کړی دی چې ستاسو د علمي فرهنگي ـ سياسي فعاليتونو په باب د يوې مقالې په چوکاټ کې څه وليکم. د علمي فرهنگي مهربانیَ له مخې دا پوښتنې په لنډ ډول راځواب کړئ:

ــ که کېدای شي د خپلو سیاسي فعالیتونو په باب یوڅه راته ولیکئ،

ــ په افغانستان کې او په ډنمارک کې مو څومره او څه ډول فرهنګي کارونه ترسره کړي دي؟

ــ له بیوګرافۍ نه مو ښکاري چې تاسو د افغانستان په دوو پوهنتونونو کې د علمي کدر غړیتوب درلود، تاسو تر کومې علمي درجې پورې رسېدلي وئ؟ او کوم مضامین مو تدریسول؟

ــ ستاسو یوشمېر علمي اثار چې په بیوګرافۍ کې یاد شوي دي، ایا له هغو پرته مو نور اثار او علمي ــ فرهنګي مقالې لیکلي دي که نه؟ که هو، نومونه او د خپرېدو کال او ځای یې کوم دي؟

له مرستې نه مو همدا اوس مننه!

آصف بهاند

د ۲۰۲۴ ام کال د مې میاشت اولسمه نېټه

هیدرسلیف

ډنمارک

پاسنۍ پوښتنې مې له ډاکتر بادام سره شریکې کړې او هغوی هم په عالمانه او دوستانه مهربانۍ سره زما پوښتنې په تفصیل سره راځواب کړې چې زه همدلته مننه ورنه کوم. ما د ده له رالېږلو معلوماتو څخه د مقالې په مناسبو ځایونو کې استفاده کړېده.

ډاکتر بادام شفق د خپل ژوند له پیل نه تراوسه د عجیبو ستونزو په دایره کې رالوی شو، زدهکړې یې کړي دي، سیاسي اړودوړ لارې ورته تتې کړې دي او د پرمختګ لارې یې ورته تړلي دی او... خو حقیقت دا دی چې ده همت نه دی بایللی، تل یې هڅه کړې او د ژوند په ډېرو کړاوجنو حالاتو کې یې هم د زدهکړې او پوهې ډیوه له لاسه نه ده غورځولې.

دا د ډاکتر بادام شفق د خولې خبره ده چې ما ته یې ویلي دي: «زه په ډېرو ستونزو د ښوونځی په دروازه ورننوتلم، له خپل کوره لرې د خپلوانو په کور کې، ښونځی ته د تګ په خاطر دېره شوم او د ډېرو بدو شرایطو په دایره کې مې خپل سبقونه پرمخ وړل.»

بادام شفق د همداسې شرایطو په منلو سره بیا هم د خپلو همځولو په ډله کې په پرلپسې ډول اول نومرهګي ترلاسه کړه، ترڅو چې د پوهنتون په دروازو ورننوت او هلته یې هم خپله اول نومرهګي وساتله، ترڅو چې ځان یې د علمي کادر حلقې ته هم ورساوه.

ډاکتر شفق په دې ډول د تعلیم ډېوه لومړی خپل کور، بیا خپل کلي او بیا خپلې درې ته وروړسوله او دا ډیوه یې په خپلو لارو کې بله وساتله او تر نن پورې د همدې ډیوې په رڼا کې ژوند کوي.

# د فرهنګ د بڼ بورا

## عمر بورا زماني

## (شاعر، لیکوال او سیاسي شننونکی)





**یو افغان**

اې وختــه بیـرتــه راشــه یــوافـغـان وزیـږوه
یــا خو احــمـدخــان یــا مـیـروس خان وزیـږوه

چې ننګ په وطن وکړي داسې ځوان وزیـږوه
یــا خــو خوشحال خـان یــا پـاچـاجان وزیـږوه

چې بیرغ د ازادۍ کړي زموږ پورته
داسې یو بادشاه لکه امان وزیرووه

جوړه چې انګریز ته کړي غزا د ارنوی
داسې لوی غازي میرزمان خان وزیرووه

چې سر و مال قربان کړي له وطنه
مینه د وطن کې افغانان وزیرووه

تېپې د ازادۍ کړه بورا ته په خیالونو
راشه په شعرنو کې طوفان وزیرووه

عمر بورا زماني

بورا زماني ظاهراً یوساده پښتون ته ورته ښوک ښکاري، خو که لږ له نږدې وپېژندل شي، خبرې ورسره وشي او ژوندلیک یې ولوستل شي، نوښکاره به شي چې بورا زماني یو مهذب، د لوړو زدکړو خاوند، د خو ډیپلومونو لرونکی، په افغاني ادب سمبال د مشرانو او کشرانو د شفقت او درناوي پېژندونکی او یو دانشمند شخصیت دی. په فرهنګي کارونو کې د لویې حوصلې لرونکی او لوړ استعداد خاوند شاعر او لیکوال دی.

مخکې له دې چې د بورا زماني پر فرهنګي، ټولنیزو او سیاسي فعالیتونو خبرې وکړم، درنو لوستونکو ته د بورا زماني د هغې بیوګرافۍ متن وړاندې کوم چې ده په خپله ما ته رالېږلې ده:

**د افغان لیکوال او شاعر عمر بورا زماني لنډه پېژندنه:**

«ښاغلی عمر بورا زماني د نیک محمد خان زماني زوی، د شېر محمد خان زماني لمسی. د افغانستان د یوه ملي اتل او د خپلواکۍ د محاذ د نامتو قومندان او د ارنوۍ سوبمن (فاتح) غازي میرزمان خان کونړي کړوسی دی. ښاغلی بورا زماني د افغانستان د کونړ ولایت په وټه پور کیمهګام کلي کې پر ۱۹۷۵م کال دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي.

نوموړی د ډېرو نورو افغانانو په څېر پر ۱۹۸۲م کال د کوزې پښتونخوا د پېښور ښار شاهین ټاون ته کډوال شو. په کوزه پښتونخوا کې یې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه او په سیاسي علومو کې یې د ماسترۍ تر کچې خپلې زده کړې سرته ورسولې. په پېښور کې یې تر زده کړو بشپړولو وروسته پر ۱۹۹۷م کال ډنمارک هېواد ته مسافر شو، هلته یې هم له زده کړو سره ملګرتیا پرېښوده، د نورو زده کړو ترڅنګ یې د «ای ټي» برخې په «سافټویر» جوړونه کې یو ډیپلوم ترلاسه کړ.

نوموړي د خپلو زده کړو ترڅنګ کار هم کاوه، چې تر یو څه مودې کار وروسته یې بل ډیپلوم په «لوجستیک منجمینټ» کې ترلاسه کړ، چې تر اوسه هم په همدې برخه کې کار کوي.

عمر بورا زماني په خپله مورنۍ ژبه زده کړې نه دي کړي او زده کړې یې په نورو پردیو ژبو (اردو او انګلیسي) کې په کوزه پښتونخوا کې ترسره کړي دي، خو له خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره د بې کچې مینې له امله یې په کوزه پښتونخوا کې د «بورا» په نوم د یوې پښتو مجلې بنسټ کې کېښود او ورسره یې د «بورا» په نوم یو پښتو وېبپاڼه هم جوړه کړه، چې د همدې وېبپاڼې له لارې بورا مجله هم په انلاین بڼه ټولو

افغانانو ترلاسه کوله، ورسره یې د بورا مجلې ۲۰۰ ګڼې په وړیا ډول د افغانانو په منځ کې په اروپا کې وېشلې او ۷۰۰ ګڼې به یې افغانستان ته لېږلې.

سربېره پر دې په اروپا کې د «پیلوزې» مجلې مسوول مدیر په توګه پاتې شوی. د پیلوزې مجلې بېلابېلې ګڼې به هم د نورو لیکوالانو له لیکنو سره د «بورا» وېبپاڼې له لارې خپرېدې.

د خپل ذوق او مینې پر بنسټ یې د شعر نړۍ ته هم مخه کړې ده او د هېواد د مشهورو سندغاړو په غږونو یې د شعر زمزمې د هېوادوالو غوږونو ته رسېدلې دي. د بورا زماني صیب په شعرونو، ځینو سندرغاړو له ځینو افغاني ټلوېزیونونو څخه د کال لومړي مقامونه او جایزې هم ترلاسه کړي دي.

ښاغلي بورا زماني په پښتو ژبه دوې شعري ټولګې لري چې یوه یې «د سپوږمۍ ځلا» او بله شعري ټولګه یې «دا نعره د هر افغان یو افغان» په نامه سره یادېږي، چاپ شوې دي.

دغه راز بورا «د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ» او «د افغانستان نن او سبا» په نامه یې د مقالو دوې ټولګې چې د ملي تحریک له خوا د دوو بېلابېلو جوړو شویو سیمینارونو لیکنې دي، ده راټولې کړي او په یادو نومونو د ملي تحریک له خوا پر ۲۰۱۸م کال چاپ شوي دي.

ښاغلی بورا زماني د شعر لیکنې ترڅنګ سیاسي او ټولنیزې لیکنې هم کوي. «لر او بر پښتانه او پښتو ژبه» کتاب یې

چاپ ته چمتو دی، چې ډېر ژر به ان شاالله په افغانستان کې چاپ شي.
عمر بورا زماني په ډنمارک کې د افغان- ډنمارک کلتوري ټولنې جوړوونکی او لومړی مرستیال، په ډنمارک کې د ملي تحریک څانګې لومړی مرستیال او اوس د مشرتابه جرګې غړی، په ډنمارک کې د لوی افغانستان غورځنګ مسوول، په ډنمارک کې د کډوالۍ شورا د مشورتي بورډ غړی هم دی او د دغو بنسټونو له لارې یې هېوادوالو ته ګڼ شمېر کلتوري او ټولنیز خدمات وړاندې کړي دي.»
بورا زماني په پښتونخوا او اروپا کې د څو ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې ورټکولي دي او له هر ادرسه دیپلوم په لاس بریالی او سرلوړی راوتلی دی:

ـ په سیاسي علومو کې ماسټري، پېښور - پښتونخوا،

ـ د «ای ټي» برخې په «سافټویر» جوړونه کې ډیپلوم، ډنمارک،

ـ په «لوجستیک منجمینټ» کې دیپلوم، ډنمارک.

د بورا صاحب د بیوګرافۍ په باب ډېر فعال فرهنګي شخصیت ښاغلي ډاکتر لطیف یاد په خپله فیسبوکپانه کې دا لاندې معلومات د ۲۰۲۰ ام کال د جون پر درویشتمې نېټې خپور کړی دی:
«زما دفیسبوک په فرهنګي ملګرو کې داخل تاسو ته یو بل فرهنګي شخصیت درپیژنم چې هم دپښتو ژبې تکړه شاعر دی او هم لیکوال او هم دافغانستان دیوه ملي اتل او دخپلواکۍ دمحاذ دنامتو قوماندان اودارنوي سوبمن ( فا تح )غازي میرزمان خان کونړي کړوسی دی.

دغه فرهنګي شخصيت ښاغلی عمر بورا زماني د ی . ښاغلی عمر بورا زما ني دنیک محمد خان زماني زوی د شیر محمدخان زماني لمسی او د لوی خان غازی میر زمان خان کړوسی دی .ښاغلی بورا زماني د افغانستان د کونړ ولایت په وټه پور کې دې نړۍ ته سترګې پرانېستي دي. نومو ړي د ډیرو نورو افغانانو په څیر له هیواد نه بهر د د دنمارک په هیواد کې ژوند کوي.ښاغلي عمر بورا زماني په سیاسي علومو (پولیټیکل ساینس) کې د ماسټرۍ تر کچې زده کړی په کوزه پښتونخوا کې تر سره کړی او تر زده کړو روسته دډنمارک هیواد ته تللی دی.په دنمار ک کې هم د زده کړو لړۍ پرې نه کړه او د نورو زد ه کړو تر څنګ یې یود یپلوم د ای، ټې په څانګه سافټ ویر کې تر لاسه کړاو تر یوې مودې کار و روسته یې بیا بل دیپلوم په (لوجیسټیک منیجمینټ )کې تر لاسه کړ چې لا تر اوسه په همدې برخه کې کار کوي د خپل ذوق او مینې پر بنسټ یې د شعر نړۍ ته هم مخه کړې ده او د هیواد د مشهورو سندرغاړو په غږونو یې د شعر زمزمې د هېوادوالو غوږونو ته رسېدلي دي.

ښاغلي بورا زماني په پښتو ژبه دوه شعري ټولګې لري چې یوه د (سپوږمۍ څلا) په نا مه چاپ شوې او بله شعري ټولګه به یې چې (دبورا د زړه ارمان یو افغان یوافغان)په نامه سره یادیږي ددې کال تر پایه خپره شي. ښا غلی بورا زماني دشعر لیکنې تر څنګ سیاسي او غیر سیاسي لیکنې هم کوي.

ښاغلی بورا زماني دڅلورو کلونو راهیسې زما دفیسبوک ملګری دي . دیو ه فرهنګي شخصیت او شاعر په توګه زه پر ده ویاړم او له لویه خدایه ورته دزیاتوبریاوو اوخوشالیو هیله کوم.»

عمربورا زماني د فرهنګ او پوهې په ډګرونو کې د خپلو زدکړو او تجربو په دایره ګڼ وياړمن کارونه ترسره کړي دي چې دلته يې د ترسره کړو کارنو بېلابېلې برخو باندې په لنډ ډول معلومات وړاندې کېږي:

**ـ شاعر بورا:**

بورا زماني د فرهنګ په ډګر کې د ده د نورو فعالیتونو په پرتله، په لومړي ګام کې د یو شاعر په نامه پېژندل شوی دی، ځکه چې د شعر بېلګې يې سندرغاړو ډېرې ښې زمزمه کړې دي او د ملي رنګ لرونکي شعرونه خويې ډېر مشهور دی. ښاغلي بورا زماني تر اوسه دوې شعري ټولګې چاپ کړې دي چې دا يې نومونه دي:

ـ د سپوږمۍ ځلا،

ـ ده نعره د هر افغان: يو افغان.



د بورا د شعر و شاعرۍ په باب د ده په بیوګرافي کې راغلي دي چې: «د خپل ذوق او مینې پر بنسټ یې د شعر نړۍ ته هم مخه کړې ده او د هېواد د مشهورو سندغاړو په غږونو یې د شعر زمزمې د هېوادوالو غوږونو ته رسېدلې دي. د بورا زماني صیب په شعرونو، ځینو سندرغاړو له ځینو افغاني ټلوېزیونونو څخه د کال لومړي مقامونه او جایزې هم ترلاسه کړي دي.»

بورا زماني اوس هم د شعر د تخلیق په برخه کې فعاله دی.

**ـ ژونالست بورا:**

بورا زماني د فرهنګ او پوهې په ډګرونو کې د قدرونړ فعالیتونه ترسره کړي دي. د ژونالیزم په ډګر کې یې د «بورا» مجلې په خپرولو سره قدم کېښود او په دې برخه کې یې بریالۍ تجربې وکړې.

د ژورنالیزم په ډګر کې بورا زماني په لومړي ګام کې د «بورا» په نامه د یوې پښتو مجلې بنسټ کې کېښود او ورسره یې د «بورا» په نوم یوه پښتو وېبپاڼه هم جوړه کړه. د بورا په یادداښتونو کې راغلي دي چې د همدې وېبپاڼې له لارې بورا مجله هم په انلاین بڼه ټولو افغانانو ترلاسه کوله، ورسره یې د بورا مجلې ۲۰۰ ګڼې په وړیا ډول د افغانانو په منځ کې په اروپا کې وېشلې او ۷۰۰ ګڼې به یې افغانستان ته لېږلې.




سربېره پر دې په اروپا کې د «پیلوزې» مجلې مسؤل مدیر په توګه پاتې شوی. د پیلوزې مجلې بېلابېلې ګڼې به هم د نورو لیکوالانو له لیکنو سره د «بورا» وېبپاڼې له لارې خپرېدې.


Pelwazy
Lndeependent respectful
Social publication
2011

دښامار په خوله کې

بیا په لاس کې د اغیار دی د چاسر
زړولی یې په دار دی دچاسر
بیا یې کومه مور په کوم بچي کړه بوره
پروت په دغه لویه لار دی د چاسر
بیا یې کوم حسین شهید کړ کربلا کې
بیا یزید لره پکار دی دچاسر
د دښمن په ضد کړې ټولو ګوتې پورته
چې دې جنګ لره تیار دی دچاسر
ښایي دا زمونږ د اهل خلک نه وي
چې له نورو سره شمار دی د چاسر
دا نظیره په دې کلي اموخته شول
بیا په خوله کې د ښامار دی د چاسر

نظیر الحق قریشي

د همدې مقالې د لیکلو لهپاره ښاغلي بورا زماني د خپلې فرهنګي او دوستانه مهربانۍ له مخې ما ته د خپلو بېلابېلو فعالیتونو په برخه کې ښایسته ډېر مواد راولېږل. د دې غنیمت او قدر وړ موادو په منځ کې د بورا مجلې یوه پيډياف شوې ګڼه («بورا» مجلې د دویم کال (۱۳۹۰) دریمه ګڼه.) هم وه، په یاده ګڼې کې د دغو قلمي همکارانو مطالب خپاره شوي وو:

اللهیار تلاش، عمر بورا زماني، خاکسار وقار، شهزاده شیرین زوی، محمدحسین میاخیل، سید عبیدالله نادر، منتظر افریدی، سحر ګل سحر، محمد اسحاق، محمد بلال جلالي، محمد عزیز تحریک، مینه فریادي ملکزی...

د بورا زماني په قول، د «بورا» مجلې شپږ ګڼې خپرې شوې او پېلوزه بیا تر دیارلسمې ګڼې پورې خپره شوه، وروسته بیا د دواړو مجلو چاپ او خپرېدل ودرېدل. بورا زماني یې د نه خپرېدو دوه دلایل وړاندې کوي:

۱ ـ میډیا مدرنه شوه،

۲ ـ اقتصادي ستونزې.

دغه راز د «بورا» ویبپاڼې د نه انلاین کېدو دلایل تخنیکي ستونزې یادوي.

## ـ بورا زماني او سیاسي مسایل:

بورا زماني د خپلو سیاسي هلوځلو په ترڅ کې په مدرنه بڼه له میډیا نه په استفادې سره خپل سیاسي نظریات خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړې دي. ده په خپلو ویډیو ګانو کې په ژوندیو سیاسي مسایلو باندې خبرې کړې دي، داسې مسایل چې هره ورځ افغانان ورسره مخ دي.

بورا زماني سیاسي او ټولنیزې لیکنې هم کړې دي او د «لر او بر پښتانه او پښتو ژبه» په نامه یې یو کتاب چاپ ته چمتو دی.

بورا زماني په خپلو ویدیوګانو کې د تل‌دوښمن ګاونډي پاکستان له دوه مخي سیاست نه پرده پورته کوي. څنګه چې پاکستاني مقاماتو د افغانانو له مجبوریتونو نه په استفادې سره کلونه ـ کلونه د دوی په وینو او ژوند باندې تجارت کړی دی، پاکستان تل دوکې کړې دي او اوس هم هماغه پالیسي پرمخ بیایي، خو له پخوا سره یې توپیر دا دی چې اوس په خپلو دروغو او دوکو کې راګیر دی. د بورا زماني په قول، د ده د سیاسي ویدیوګانو اصلي موخه د پښتونخوا پښتنو ذهنیت بدلول دي او دوی ته د لوی افغانستان د جوړېدو فکر او ایدیا ورکول دي.

پاکستانیانو د افغان طالبانو د یو پلوي قوت په توګه تل ویلي چې هغوی برحقه دي او باید په افغانستان کې طالبان حاکم شي. کله چې طالبانو د ۲۰۲۱ ام میلادي کال په اګست کې د دویم‌ځل له‌پاره واک ترلاسه کړ، هغسې ونه شول چې پاکستاني مقاماتو غوښتل، افغان طالبانو د پاکستاني حاکمانو پروګرام تطبیق نه کړ او د هغوی له اوامرو څخه یې نټه وکړه.

سیاسي نظامي حالات داسې راغلل چې پاکستاني طالبانو هم د افغان طالبانو په پیروۍ بیرغ پورته کړ او وې ویل چې: پاکستاني لوړپوړو مقاماتو کلونه ـ کلونه په افغانستان کې د طالبي رژیم د رامنځ‌ته کېدو له پاره د افغان طالبانو ملاتړ وکړ، که د دوی له نظره دا سم کار وي، نو موږ هم په پاکستان کې طالبي رژیم او شرعي نظام غواړو. په دې ډول یې پاکستاني مقاماتو ته لویې ستونزې رامنځ‌ته کړې دي.

دغه راز بورا زماني په خپلو ویدیو ګانو کې په افغانستان کې د ټوپکي رژیم د چورواکو، زورواکو او هغو مفسدینو له

کارونو هم پرده پورته کړې ده چې دا مفسدين به هم د دولت په اداره کې له دولت نه شکونې کولې او هم به يې په ښکاره او پټه د نظام پرضد عملونه کول او په هره برخه کې يې اصلي موخه د خپلو جيبونو ډکول او د عامه شتهمنۍ لوټل و.

عمر بورا زماني په خپلو ويديو ګانو کې د ايراني او پاکستاني مقاماتو د ځوګونو غولونکو سياستونو نه پرده پورته کوي او په افغانستان کې د تنظيمي واکدارۍ د زورواکو کارونو باندې هم تندې نيوکې کوي او له اسنادو سره خپل سياسي استدلال وړاندې کوي. دا يې د څو ويديوګانو لينکونه دي:

https://www.facebook.com/omarbowra.zamani/videos/1969749716527382

https://www.facebook.com/omarbowra.zamani/videos/526455508628654

https://www.facebook.com/omarbowra.zamani/videos/263756802261906

د بورا زماني د سياسي بحثونو او ويديويي پروګرامونو په کامنټونو کې په ليکلې بڼه داسې ليکنې او جملې هم ترسترشوي دي چې ځينې خلک کېداې شي فکر وکړي دا پروګرامونه د پاکستاني طالبانو په تاييد او د هغوی په پلوي خپرېږي لکه دا لاندې کرښې:

پاکستان کې اسلامي نظام راتلل ضرور دی ځکه چې مونږ نه غواړو چې دوی په اور کې اوسوځي ده دوی د اور
نه د بچ کېدو لاره همدا ده چې طالبان په کې اسلامي نظام راولي. ژوندي دې وي تحریک طالبان پاکستان

مگر دا حقیقت نه ده، بورا زماني د ملي فکر خاوند او خپلو خلکو او وطن ته وفادار افغان دی چې تل د خپل وطن د ملي گټو په کرښه کې روان دی، د فرهنگي او سیاسي کارونو اصلي محور یې د افغانستان پرمختگ، ابادي او د ملي گټو تامین دی.

### لیکوال بورا:

بورا زماني د خپل فرهنگي ــ سیاسي فعالیت په ترڅ کې گڼې لیکنې هم کړې دي چې د انلاین میډیا له لارې خپرې شوې دي او د هغو ترڅنگ یې دغه اثار هم چاپ شوي دي؛

ــ د سپوږمۍ ځلا (شعري ټولگه)،

ــ ده نعره د هر افغان: یو افغان (شعري ټولگه)،

ــ لر او بر پښتانه او پښتو ژبه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه)،

ــ د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ (د مقالو ټولگه، تدوین)،

ــ د افغانستان نن او سبا (د مقالو ټولگه، تدوین).

د بورا زماني گڼې لیکنې په چاپي او انلاین خپرونو کې هم خپرې شوې دي چې د ځینو نومونه یې دا دي:

ــ له پېښور نه خپرېدونکي «وحدت» ورځپاڼه،

ــ پښتونخوا دات کام: ــ مورنۍ ژبه

ــ دعوت میډیا په دې ویبپاڼه کې یې د ځينو خپرو شوو مقالو سرلیکونه دا دي:

الف ــ مورنۍ ژبه، کلتور، پښتونولي او د پښتنو مورنۍ ژبه پښتو

ب ــ پاکستان کې ټول ټاکنې د پنجابي پوځي نظام دوام او د ځېرو بدلون دی نور څه نه

**https://dawatmedia24.com/?p=144486**

ج ــ سیاسي، ژبني او د رسنیو خپلواکي https://dawatmedia24.com/?p=110666

بورا زماني خپل قلم تل په مسؤلانه ډول کارولی دی او د خپلو خلکو غوښتنې يې منعکسې کړې دي. بورا د مورنۍ ژبې په باب د یوې مقالې په ترڅ کې د دې مهمې موضوع په باب داسې لیکلي دي:

«تر اويا ميلونه زيات پښتانه او زموږ مورنۍ ژبه پښتو

په لر او بر کې تر اويا ميلونو زيات پښتانه ژوند کوي خود مرکزی اسیا د دې ستر ملت مورنۍ ژبه پښتو د پښتنو په خاوره حاکمه او د ضرورت ژبه نه ده . دا چې د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ لمانځوله همدې ورځې له تاريخ او اهميت څخه

يې پيل کوم، ورپسې د پښتنو واکدارنو مورنۍ ژبه پښتود لوی افغانستان د جوړښت د مخه او روسته او د پښتو ژبې د ودې ، پالنې او حاکميت لارې چارې زما د ليکنې موضوع جوړوي.»

## ـ بورا زماني د يو فرهنګي او ټولنيز فعال په توګه:

بورا زماني د ګڼو نورو ټولنيزو او فرهنګي خدمتونو وړاندې کونکی هم دی چې ځينې بېلګې په لاندې ډول ښودل شوې دي:

«عمر بورا زماني په ډنمارک کې د افغان- ډنمارک کلتوري ټولنې جوړوونکی او لومړی مرستيال، په ډنمارک کې د ملي تحريک څانګې لومړی مرستيال او اوس د مشرتابه جرګې غړی، په ډنمارک کې د لوی افغانستان غورځنګ مسوول، په ډنمارک کې د کډوالۍ شورا د مشورتي بورډ غړی هم دی او د دغو بنسټونو له لارې يې هېوادوالو ته ګڼ شمېر کلتوري او ټولنيز خدمات وړاندې کړي دي.»

بورا زماني د شعر و شاعري په څنګ کې کله کله سياسي او ټولنيزې ليکنې هم کړې دي چې په انلاين ميډيا کې خپرې شوې دي.

بورا زماني د يو متعهد قلموال په توګه تل د افغانانو د تعليم پلوی پاتې شوی دی او هرکله په دې هڅه کې و او دی چې افغان نوی نسل ځنګه وروزل شي. تل يې په خپلو خبرو او

اشعارو کې د پوهې او تعلیم د ترلاسه کولو لهپاره کار کړی دی. دا لاندې شعر یې یوه ښه بېلګه کېدالای شي:

## علم

راځئ په ژوند کې دغه هم راواخلو
چې د ټوپک پر ځای قلم راواخلو

غم د وطن د ابادۍ چې وکړو
نه چې ورانې پسې یې بم راواخلو

کاروان د پوهې سره مخکې یوسو
بیا به جنډه موږ د عالم راواخلو

دا چې تدبیر او علم موږ سره وي
هم خلافت به د ادم راوخلو

راځئ وطن د احمدخان وګټو
چې اتفاق سره قدم راواخلو

موږ به ویاړ د ازادۍ وګټو
بورا که علم او قلم راواخلو

بورا زمانې د خپلو فرهنګي فعالیتونه په پار په اروپا کې په ځو ستاینلیکونو هم نازول شوی دی، څو بېلګې یې دا دي:

ـ د افغان ډنمارکي د دوستۍ ټولنه،

ـ په ډنمارک کې د کونړ کولتوري ټولنه،

ـ انجمن فرهنګي ګلخوشه های هنر.


2018.03.24
لوح تقدیر
جناب بورا عمر زمانی شاعر و فرهنگی وارسته!
انجمن فرهنگی گلخوشه های هنر افتخار دارد که با استفاده از تجلیل باشکوه سال نو ۱۳۹۷ هجری شمسی و جشن نوروز باستان
تلاش های ثمر بخش شما را در سال که گذشت بدیده ی قدر نگریسته و از آن با اهدای این لوح تقدیر از حکذاری مینماید.
موفقیت های چشمگیر و مزید شما را در همه ی امور زندگی تمنا مند است.
موفق و بهروز باشید
موسس انجمن فرهنگی گلخوشه های هنر
بلال شریف
مدیر انجمن فرهنگی گلخوشه های هنر
فوزیه میترا


Rasa
د کونړ کولتوري ټولنه
ستاینلیک
ښاغلی عمر بورا زماني
په ښنمارک کې دکونړ کولتوري ټولنه دغه ستاینلیک
ستاسو د اغېزمن کولتوري اوټولنیز چوپړله امله
ستا سو دلا ز یاتوبریاوو په هیله تاسوته دالی کوي .
دکونړدکولتوري ټولنې دمشرتابه جرګه کې
په استازیتوب ګلمنشاه ودیرسابی

دغه راز د بورا زماني د فرهنګي خدمتونو په پار په کابل کې د ملي تحریک لخ خوا هم د ۲۰۲۲ ام کال په مى میاشت کې یو شانداره محفل جوړ شوی و.



د دې شاندرې غونډې د جوړېدو په رپوټ کې داسې راغلي دي:

«د خپل وطن یو سندربول بورا
د ثور میاشتې پر (۲۹) مه نېټه د پنجشنبې پر ورځ له ژمنې سره سم د افغانستان ملي تحریک له خوا د ژوندون راډیو ټلوېزیون د غونډو په تالارکې د هېواد د تکړه شاعر ، لیکوال، ټولنیز او مدني فعال؛ ښاغلي عمر بورا زماني د فرهنګي خدمتونو او کارونو د نمانځنې په پار یوه درنه علمي غونډه وشوه.
دا درنه غونډه د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه ، ورپسې پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون ، ضیاالرحمن ضیا ، ارزو سادات ، ایوبي ، فرید لطیفي ، عبدالهادي بېلوال او نورو د ښاغلي بورا زماني د ژوند ، مبارزو ، اثارو ، افکارو ، سیاسي ، ټولنیزو او فرهنګي خدمتونو په باب هر اړخیزې خبرې وکړې او هغه یې د هېواد یو نه ستړی کېدونکی خدمتکار وباله، په غونډه کې د محمد بن موسی ښوونځي د ترانې ټیم د غړو له خوا د ښاغلي بورا زماني شعرونه هم زمزنه شول ، غونډه د هېواد د سوکالۍ او فرهنګي ښېرازۍ په هیله پایته ورسېده.»

د همدې پاسني پوست په کامنت کې آصف بهاند داسې ورته ولیکل:

«بورا صاحب پر وطن او خلکو یو مین فرهنګي شخصیت دی او دا کار یې عملاً د خپلو فرهنګي کارونو په ترسره کولو، ثابت کړی دی.
ستاسو دې کور ودان وي چې د داسې فعالو فرهنګي شخصیتونو لمانځنه کوئ.»

د دې کرښو په پای کې د بورا زماني د شعر ښکلې ښوونه ورکوم:

## ځوان بوډا

هلته کږي ځواني ګډا
دلته دبوډا ژړا
هلته ټول خومار ،خومار
دلته ده ژړا دوا
هلته دا مستي د ژوند
دلته مايوسي سزا
هلته رنګينه ژوندون
دلته ده مستي فنا
ستا ځواني ګناه ، ګناه
ستا پيري دعا، دعا
هلته د شهوت لمبې
دلته ده سړه هوا
هلته ولولې دژوند

دلته ځنګدن دچا

اوس چې دا ځواني لرې

نه لري بقا بورا

دا شعر سندره شوی دی او حشمت سحر په نامه سندرغاړي زمزمه کړی دی، دا يې لينک دی:

https://www.facebook.com/watch?v=985818576619249

## غــزل

يو ځل بيا مې د الهام څوکې تخنيږي
چې خيالو کې ښاپيرۍ راته خنديږي

بيا وختونه اورني د ځوانۍ راغلل
بيا ګلونه د سپرلي راته پسخيږي

د ښکلا صفت يې نه کيږي لفظو کې
چې سپوږمۍ پاس په اسمان کې ترې شرميږي

چې د زړه په منارو کې دې انځور کړم
دغه زړه زما له زړه کله بېليږي

چې د ساه په هر يو کش کې يې نوم اخلې
ستا په مينه دا بورا څکه نازيږي.

*****

# غــزل

چې مې نظر په يو نظر کې بند شو
داسې مې زړه په يو بشر کې بند شو

ای د ازاد نظر ازاد پر وازه
ځنګه وزر دې په سفر کې بندشو

اوس مې نظرپه نورو لارو نه ځي
چې مې نظر په يو ټکرکې بند شو

چې مې نظر په هر لور ښکار کولو
څنګه دعشق په يو چکر کې بند شو

دا کوم نظر داسې اسير کړو بورا
د غاړې هار شو په هنر کې بند شو

*****

# مريض

اوس مريض يم نا توان يم
په ژوندون تېر پښيمان يم
که کارونه د ثواب وای
ښه حاصل به يې جواب وای
روح او نفس به مطمعين وای
که په يو الله مين وای
ښه خوشحال به له دونيا تلې

په رضا که د الله تلې
په بستر به پروت خوشحال وای
مطمعین به په تېر حال وای
نه به وېره نه به ډار وای
مایوسۍ به نه ګوزار وای
نه له مرګه به نفرت وای
څومره پروت به په راحت وای
ارماني چې د تېر حال یم
پښیمانه په بد حال یم
تش لاسونه چې روان یم
ورخطا یم په سوران  یم
په ائینه کې څنګ ښکارېږم
له خپل ځانه اوس ډارېږم
یوه بلا توره ښکاره شي
په کتو کې په غصه شي
په لاسونو کې یې اور وي
مخ یې تور لکه د سکور وي
چې د تبر پرې ګوزار کړم
لکه سیند په لاس حصار کړم
که هر څو کړمه وارونه
اوس بې وخته دي زورونه
نه پرې خوږه دا بلا شي
زړه مایوسه په ژړا شي
راراوانه سا مې اخلي
وېره ډار  مې بدن واخلي
خپل الله ته په زارو شم
په دعا کې په سلګو شم

په ګنا خپل پښیمان شم
د تېر ژوند بیا په ارمان شم
د خوندونو لوی دریاب کې
وخت ؤ تیر لوهو لباب کې
کړی ظلم مې په ځان ؤ
چې ملګری مې شیطان ؤ
بلا وګوره قران ته
لوی د دغه کتاب شان ته
په کتو ترې جوړ انسان شي
ښکلی یو دم دا زمان شي
بیا زما لورې ته راشي
ښه په مینه په مسکا شي
پوی که چا ځان په قران کړو
که عمل پرې کوم انسان کړو
هر مشکل به یې اسان شي
دقران په لار روان شي
ثواب پاتې که وخت تېر شي
ګنا پاتې خوند هېر شي
دا دونیا د امتحان ده
چې بدې کړی په تاوان ده
هر سا کښ لره مرګی دی
پس له مرګه بیا ژوندی دی
په مرګي به مرګی راشي
زندګي به په خندا شي
نه به جنګ نه به جدل وي
نه به مړینه نه اجل وي
ټول به مینه محبت وي

نه به زړونو کې نفرت وي
نه به ولړه وي نه تنده
نه روزي پسې به منډه
نه ارمان به دې تېر حال وي
هر سړي به ښه خوشحال وي
څوک چې هره تمنا کړي
ور پوره به یې الله کړي
تل تر تله به ځواني وي
نه مرض نه به سستي وي
نه به غم نه به ژړا وي
ښه د ښکلو به خندا وي
په هر لور به وی ګلونه
په هوا کې سرودونه
د مرغو خواږه غږونه
د مستي ډک شمالونه
ښه کارونه په دنیا کړه
د جنت دغه سودا کړه
که د الله کړی بندګي
بورا کامیاب ده زندګي

پای

# د ګودر ځاځي نوې سندره (چېرتهیې)

## او ورسره تړلې هیلې

**«چېرته يې؟ ما لمس کړه چې مسره، مسره سرود شمه**
**چېرته يې؟ را وګرځـه چې سترګـو تـه دې دود شمه»**




زما د خوښې وړ سندرغاړي، کمپوزيتور او شاعر ښاغلي ګودر ځاځي په غږ کې یوه نوې سندره (چېرته یې؟) ښايي د پښتو موسيقۍ د هر مينهوال لهپاره دا هيلې پيدا کړي چې د پښتو موسيقۍ پر لاره باندې د غرونو ـ غرونو پرتو ستونزو باوجود، په پښتو موسيقۍ کې داسې سندرې هم زمزمه کېږي چې د شهکار بنه لري.

د سوځېدلي رُباب ـ ارمونیم لوګي، د ماتي تبلې چیغې او د سریندې ـ دلربا پټ زګېروي لکه چې د خدایتعالی دربار ته ورسېدل او ویرلړلو پرموزیکمینو او د ټوپک له غږ او د جګړې له دودو او بوی سترو سازیانو د لمدو سترګو او روانو اوښکو هردم شهیدګۍ ته خدای وکتل چې داسې یو هنري اثر (چېرته یې؟) یې پردوی باندې ولوراوه.

په پیل کې به د ګودر ځاځي او بشیر باران په باب هغه معلومات درنو لوستونکو ته وړاندې کړم چې ما د خپل ګران فرهنګي دوست ارشاد رغاند په مرسته ترلاسه کړی دی:

## د ګودر ځاځي لنډه پېژندنه:

«محمدخلیل چې هنري نوم یې ګودر ځاځی دی، د ډاکټر عبدالرحیم دلسوز زوی، په ۱۹۸۹ زیږدیز کال کې د پکتیا ولایت ځاځي اریوب ولسوالۍ د شګې کلي په یوې لویې کورنۍ کې زیږېدلی، خو له ښوونځي څخه تر پوهنتونه پورې یې د ژوند ټوله برخه په کابل کې تېره کړې ده.

ګودر ځاځي لوړ تحصیلات د اقتصاد برخه کې سر ته رسولي دي. په بېلابېلو دفترونو کې یې رسمي دندې ترسره کړې دي. یوڅه موده یې ازادي راډیو سره د پروډیوسر په توګه او ملي ټلویزیون سره د چلوونکې (مجري) په توګه رسمي دندې لرلې دي. د هنري او مدني فعالیتونو سربېره، د عامې روغتیا وزارت د ایڈز/ایچ ای وي کنټرول ملي پروګرام لخوا د حسن نیت سفیر هم و.

ګودر ځاځی ۱۲ کلن و چې وتوانیدو پښتو شاعري وکړي او ۱۶ کلنۍ کې یې دری شاعري هم ورسره پیل کړه او همدا

شاعري یی د دي لامل شوه تر څو په ۲۰۱۰ کال کې د موسیقۍ ډګر ته هم راودانګي چی تر اوسه پورې د یو نوي او ځانګړي سبک په لرلو سره ټولې سندرې له خپلو شعرونو برابروي.

د نوموړي په وینا ، موسیقي ورته د یوې ټولنې لوی او مهم ارزښت ګڼل کیږي چی له دې لارې د سیمې او نړۍ په سطحه د هنري ، فکري لویو فعالیتونو کلک هوډ لري او د ده په وینا د هنر په لاره کی صبور دی او باور لري چې خپلو هنري لویو موخو ته به په همدې ورو مزل رسیږي.»

## د بشیر باران لنډه پېژندګلوي:

«بشیر باران د پکتیکا د اُرګون ولسوالۍ د سیدانو مانده کلي د کلي دی، چې له نن شاوخوا پنځه ویشت کاله مخکې د محکوم افغانستان په وزیرستان کې زیږېدلی.

ابتدایي زده کړې یې هماغلته کړي، چې وروسته ۲۰۰۷ کال کې خپل پلرني ټاټوبي پکتیکا اُرګون ته راغلی. تر لیسې یې زده کړي په اُرګون کې سر ته رسولي او لوړې زده کړې یې د کابل پولتخنیک پوهنتون کې د لیسانس تر کچې کړې دي.

شاوخوا یوه لسیزه کیږي له هنر او ادب سره بلد پاتې شوی او تر دې دمه دوه شعري اثار لري چې یو یې «داو» او بل یې «داغ» نومیږي.

اوسمهال بیرته له هیواده د مهاجرت په تکل وتی دی.»

همدا مقاله لا نه وه بشپړه نه وه چې د بشیر باران په باب د ارشاد رغاند له یوه نوي نظر سره مخ شوم. ښاغلي رغاند د

۲۰۲۴ ام کال د فبرورۍ میاشتې په دولسمه نېټه په خپله فیسبوک‌پاڼه کې د باران په باب داسې لیکلي دي:

«باران صاحب مې د فیسبوک په لومړني اکونټ کې ډېر کلونه مخکې ملګری و، د یوه ښه شاعر مې پېژنده، ګډ ملګري مو لرل، خو ډېرې اړیکې مو نه وې.

پر وطن له وروستي توپان سره، چې زه هم لکه مات وزرۍ مارغه د یوه ګاونډي تر اسارت لاندې سیمو ته کډوال شوم، سره پیدا مو کړل او د بې کسۍ او بې وسۍ په هغه مرګوني چاپېریال کې مو ډېرې زړه خوالې سره وشوې.

هغه مې د خپلو هم نسلو له هغو څېرو وموند، چې بې موسمه او بې ریا، پرېکنده او روښانه ارزښت پالونکی دی.

یوه خبره چې مې لا هېره وه ورته وکړم؛ دا ده چې څه موده مخکې بې د یوې اوږدې تبصرې له لوستو پوه شوم چې باران یوازې د مرحوم لایق د انقلابي او ځانګړې شاعرۍ ځوان ځای ناستی نه؛ بلکې د نثر ځای ناستی کېدای هم شي.
باران صاحب دې هوسا او سرلوړی وي!»
له دې نه ښکاري چې باران په نثر کې هم تخلیق لري او یا د څه په لیکلو لګیا دی.
د بشیر باران هغه شعر چې ګودر ځاځي په خپل خواږه غږ سره زمزمه کړی دی، ما د ۲۰۲۴ ام میلادي کال د جنورۍ په ۶مه نېټه ولوست او په سبا (۲۰۲۴/۰۱/۰۶) مې په افغان جرمن پورتال کې خپور کړ، دا یې زمزمه شوی متن دی:

چېرته يې؟ ما لمس کړه چې مسره، مسره سرود شمه
چېرته يې؟ را وګرځه چې سترګو تـه دې دود شمه

وینې مې؟ له هر زیارت مې سترګې اړولې دي
وینې مې؟ لمنې مې په سوال درغوړولې دي
چېرته یې؟ په هر نظم سلګۍ کومه – وینې مې؟
چېرته یې؟ ماتم په دوراهۍ کومه – وینې مې؟

چېرته یې؟ تمام په تا لوخړه شم – نابود شمه
چېرته یې؟ را وګرځه – چې سترګو ته دې دود شمه

بومېځه! دا ستا په لور – په کومه سیاره کې یې
بومېځه! که سیند کې که د اور په کناره کې یې
چېرته یې د باغ په زېړو ګلو ګډې – بومېځه!
چېرته یې لمبې مې په منګولو ګډې – بومېځه!

چېرته یې؟ خیرات دې شم – مانیو درته په عود شمه
چېرته یې؟ را وګرځه – چې سترګو ته دې دود شمه




یو شهکار بشیر باران تخلیق کړ چې د یادې سندرې شعر دی، بل شهکار د ګودر ځاځي دی چې دا شعر یې په خپل

سحرګرغړ سره زمزمه کړ او دواړو په ګډه سره داسې یو هنري اثر رامنځته کړ چې د افغانستان په دې کړکیچن حالت کې چې د موسیقي جنازه هره ورځ له دروازو رااېستل کېږي او رُباب په ژړا ـ ژړا ځان ورته ایرې کوي؛ خو بشیر باران او ګودر ځاځي داسې شهکار هنري اثر تخلق کړ چې د هنرمندانو او هنرخوښو د ټپي زړونو او د خاموشۍ دایرې ته تلونکو زړونو ته د مرهم او نوشدارو حیثیت لري. د دې هنري اثر په لوستلو او اورېدلو سړي ته تمه پیدا شي چې شعر لا ژوندی دی او موسیقي به هېڅکله خاموشه نه شي.



دا هنري اثر د موسیقي د سوځول شوو الاتو تر ایرو لاندې د پاتې انګار د تازه شوي او بیا بل شوي اور د لمبې رڼا او د سپځنکو د ځانګړي موزیک یوه دایمي میلودي ده چې د افغانستان خاموشې او خواشینې موسیقۍ ته بېرته سا ورکوي او په خوځېدا یې راولي.

ګودر ځاځی څه موده پخوا د پښتو موسیقۍ په بڼ کې ټوکېدلی او د ځانګړي سبک په چوکاټ کې یې داسې رنګینی خپلو اورېدونکو ته ډالۍ کړې دي چې هریو ځان‌ته جلا بحث او

جلا مقالې غواړي. بشیر باران هم په پښتو شاعرۍ کې نوی ټوکېدلی ګل دی او دا تخلیق یې چې ګودر زمزمه کړی دی، د باران پل یې د پښتو شاعرۍ ترلوړ پوړیو ورجګ کړی دی.

د ښاغلي بشیر باران په دې شعر کې زما له نظره نوی انځورونه او نوي ترکیبونه دا دي:

ـ معنوي لمسکول چې په کتلو سره هم کېدای شي،

ـ په سرود باندې بدلېدل،

ـ د نظر د ماتېدو لهپاره د چا له سترګو دود کېدل،

ـ په شعر کې سلګۍ،

ـ په دوه لاره کې ماتم کول،

ـ ټولځان لوخړه کول،

ـ د یار د وصلت لهپاره د اور او اوبو بلاوې منل،

د ګودر ځاځی د سندرو ویلو او شاعرۍ پر اړخونو باندې باید جلا، جلا خبرې وشي، چې دلته په دې لنډ بحث کې داکار ناشونی دی.
شعر چې له موسیقي سره مل شي او په ښه غږ سره زمزمه شي، بیا داسې هنري اثر ورنه جوړ شي چې نه یوازې دا چې خلک خوند ورنه اخلي، د هغه ترڅنګ د مورنۍ ژبې په زدکړه او ژوندي پاتې کېدو کې هم ترډېرو مقالو ـ کتابونو ګټور ثابتېدای شي او ګودر ځاځي په درېواړو برخو (شعر، موسیقي او سندرو ویلو) کې یو کامیاب هنرمند راوتلی دی.

ګودر ځاځی د زړه خبرې د شعر په ژبه وايي، د موسيقي جامې وراغوندي او د خپل غږ په وزرونو يې الوزوي. ګودر د خپل وطن په دوو ژبو پښتو او دري باندې سندرې ويلې دي، «عشق‌من زيباست» يې د يوې دري سندرې نوم دی چې شعر او کمپوز يې هم خپله ګودر ځاځي ورته جوړ کړې دي:

عشق‌من زيباست ای مردم،
بې‌جوره و يک‌تاست ای مردم

وقتی به چشمش می‌بينم
ترانه و غزل می‌شُم

د ګودر ځاځي بله ډېره مشهوره سندره چې شعر او کمپوز يې دواړه خپل دي، هغه د «مور» سندره ده. څو بيتونه يې دا دي:

**«تا ته چې درګورمه، سترګې مې رڼا، رڼا، رڼا شي**
**تا چې څنګ کې وينمه، ټول جهان زما، زما، زما شي**

**مورې، مورې، مورې ته زما هرڅه په خره ځمکه يې**
**ته زما ادې يې، ته زما ببو، زما ادکه يې**

**عمر دې ډېر شه، تا نه دې قربان ټوله دونيا شي**
**تا ته چې درګورمه، سترګې مې رڼا، رڼا، رڼا شي**

**تا لرم هرڅه لرم دونيا لرم، ژوند لرم، اميد لرم عقبا لرم**
**څه لرمه بې‌له‌تا څه نه لرم، لوی د خدای نعمت يوازې تا لرم**

**مورې، مورې، مورې ګرانه له هرچانه نه راته ځکه يې**
**ته زما ادې يې، ته زما ببو، زما ادکه يې**

**عمر دې ډېر شه، تا نه دې قربان ټوله دونيا شي...»**

د پښتو موسيقۍ په دې خزان وهلي بڼ کې د دې سندرې (چېرته يې؟) ځيې د پښتو موسيقۍ لهپاره نوې هيلې راټوکوي او داسې ښکاري چې د بشير باران او ګودر ځاځي غوندې ځوانانو په نوبت به بيا د پښتو موسيقۍ بڼ تاند شي او نوي تازه ګلان به په کې وغوړېږي.

**د همداسې ورځې په هيله!**

## «خټ مې زنځيري»

خټ مې زنځيري، کاشکې ـ کاشکې تا ليدلای وای
تــه دې نــهراتلې اختــره، يار مې دې راغلی وای




دا ځل بيا ګودر ځاځي يوه کليوالي سندره رااخيستې ده او د خپل هنر په ګاڼو يې پسوللې ده، د خپل ځانګړي سبک په خُم کې يې رنګولې ده او د خپل سحرګر غږ د جادو په وزرو يې

د افغانستان د موزیک په خزان وهلي بڼ کې د تلپاتې طراوت په نیت، د یوې همیشه بهار ګل په څېر ډالۍ کړې ده.

«خت مې زنځیري» د نوښتګر او خوږغږي سندرغاړي ګودر ځاځي نوې سندره ده. په سندره کې یو «سر» او د شعر څو بندونه راغلي دي سندره او «سر» کلیوالي دی، خو شعر ګودر ځاځي د یوې ځانګړې موخې لهپاره تخلیق کړی دی.

دا سندره پخوا هم په لږ څه بدلون ما اورېدلې وه. لومړی مې په یوه واده کې د کلي له نجونو او ښځو نه واورېده او بیا مې له رادیو ښځه په غږیزه او بیا په تصویري بڼه واورېده او ولیده، وروسته بیا نوو سندرغاړو له مسؤلیت پرته په یوڅه ناسمه بڼه هم زمزمه کړې او ویډیو یې هم ورنه جوړه کړې ده. ناسمه بڼه یې په لاندې لینک کې لیدلای شئ:

https://www.youtube.com/watch?v=BBEWQ6FUxoY

د ګودر ځاځي په غږ کې د «خت مې زنځیري» سندره په لاندې لینک کې کتلای شئ:

https://www.youtube.com/watch?v=24T4ZxOCefM

د ګودر په غږ کې د سندرې د شعر بشپړ متن دا دی:

خت مې زنځیري، کاشکې ـ کاشکې تا لیدلای وای
تــه دې نــه‌راتلې اختــره، یــار مې دې راغلی وای

خت مې زنځیري، په خواریو مې ګنډلی دی
جونې راته وایي، چې دا بېدرکه ښکلی دی
ستا راکړی ګل مې، لونګین کې راتومبلی دی
څه به شوي وای چې ستا په شتون مې اوغوستلی وای
خت مې زنځیري، کاشکې ـ کاشکې تا لیدلای وای
ته دې نهراتلې اختره، یار مې دې راغلی وای

*****

خت مې زنځیري، د وطن خوندونه نهشته دي
مینه وژل شوې، د دیدن خوندونه نهشته دي
ستا د هغې ښکلي ګلبدن، خوندونه نهشته دي
سم به شي هرڅه، خو چې وطن دې راګټلی وای
خت مې زنځیري، کاشکې ـ کاشکې تا لیدلای وای
ته دې نهراتلې اختره، یار مې دې راغلی وای

*****

خت مې زنځیري، زه له کوره هم وتی نهشم
ستا سندرې اورم، خو نامه دې اخیستی نهشم
زه بدمرغه پېغله یم، ګودره چېرې تلی نهشم
نه دې دا نران وای، نه دې دغه زما کلی وای
خت مې زنځیري، کاشکې ـ کاشکې تا لیدلای وای
ته دې نهراتلې اختره، یار مې دې راغلی وای

د سندرې په پخواني متن کې تر «سر» وروسته لنډۍ اچول شوې دي، خو د ګودر ځاځي نوښت دا دی چې تر «سر» وروسته یې د شعر په بڼه د وخت له غوښتنو سره سم خپلې

خبرې او په وطن کې رواني ستونزې مطرح کړې دي او د شعر تر هر بند وروسته «سر» بیا تکرار شوی دی.

وطني پېغلې خو خت جوړ کړی دی، خو د ستونزو او ناخوالو په توپانونو کې به یې بې یاره ځنګه او چا ته واغوندي؟

د ګودر ځاځي دا شعر د یوې وطني پېغلې د ارمانونو او دردونو غږ دی، د داسې پېغلې غږ دی چې پر زړه او بدن باندې یې د وخت د ناخوالو پولۍ ولاړې دي

پښتنه پېغله په ډېرې لویې حوصلې او خوشبینۍ سره وایي چې د ژوندانه په هېڅ شي کې خوند نه دی پاتې، خو بیاهم که دې وطن راته وګاټه، نوهرڅه به سم شي.

وطني پېغله وایي چې زه د بندیزونو او سانسورونو په دایره کې تر دې بریده ایساره یم چې له کوره هم وتی نهشم، پر زړه باندې مې لکه باران رااوري، سندرې دې اورم، خو نوم دې هم پر ژبه نه شم راوړی، تر ګودره پورې تلای نهشم...

او بیا د بغاوت په دود وایي چې نه دې نران وای او نه دې دا کلی وای چې د دوی په شتو کې پر خلکو، پېغلو او ښځو باندې دومره نادودې ولې حاکمې شوې دي؟

ما څه موده مخکې د ګودر ځاځي پر یوې بلې سندرې (د ګودر ځاځي نوې سندره (چېرتهیې او ورسره تړلي هیلې) ترسرلیک لاندې یوه مقاله لیکلې وه، هلته د ګودر ځاځي کومه بیوګرافي چې ما رااخیستې وه، د هغې په ترڅ کې، د ده د شعر او شاعرۍ په باب داسې لیکل شوي دي:

گودر ځائې په خپله نوې سندره (خت مې زنځيري) کې د شعر، موسيقی، غږ په اوډلو سره بيا هم نوښت کړی دی، ده د يو پښتو «سر» لهپاره داسې شعر جوړ کړی دی چې يو يې سندرې ته نوې بڼه ورکړې ده او بل بې د يوه «سر» لهپاره داسې څو بندونه شعر تخليق کړي دي چې د افغان نجونو او مېرمنو اوسنی محکوم حالت او د دوی د زړه خبرې په کې مطرح کړې دي.

ما د گودر د نوې سندرې (خت مې زنځيري) په باب له ده څو پوښتنې کړې دي، د پوښتنو او ځوابونو بشپړ متن دا دی:

گودر گله بيا سلامونه او بيا يوځو دوستانه خبرې او پوښتنې:

په پيل کې د نوې سندرې (خت مې زنځيري) مبارکي درته وايم!

مننه چې زه دې بيا د خپل غږ پر زرينو وزرونو باندې خپل کلي ته بوتلم، ستا د غږ يو جام، د خپل کلي تراسمانه پورې ورسولم او له هماغه ځايه مې د خپل کلي ننداره وکړه، د خپل کلي د پېغلې غږ او شکايتونه مې واورېدل او بغاوتونو ته يې غوږ شومه او...

ستاسو د نوې سندرې (خت مې زنځيري) په باب مې د يوې مقالې د ليکلو نيت کړی دی، د دې مقالې د لارنگينۍ لهپاره به دغه پوښتنې راځواب کړئ:

ــ د «خت مې زنځيري» سندرې د شعر په باب راته ووايست چې په دې شعر کې مو خپله ونډه څومره ده او څه ډول مو تصرف په کړی دی.

د دې سندرې یوه پښوانۍ زمزمه ما اورېدلې وه، هلته د سندرې سر داسې ویل کېده:

خت مې زنځیري، زنځیري ده وړای یې نهشمه
وه مورې درنیسه بل قدم اخیستی نه شمه

هلته تر دې سر وروسته لنډۍ وراچول کېږي.

ــ ایا پښوانۍ زمزمه تاسو اورېدلې ده که نه؟

ــ ایا د سندرې سر چې تاسو ویلی دی اصل دی، که هغه پښوانی اصل ګڼۍ؟

ــ د سندرې د موزیک په برخه کې ځومره بدلون راوړل شوی دی؟

له ځوابونو او مرستو نه مو همدا اوس مننه او خوښنه څرګندوم.

ګودر ځائې په دېرې مهربانۍ سره زما د پوښتنو ځوابونه راولېږل، دا یې متن دی:

«قدرمن بهاند صیب، تاسې ته هم سلامونه. خدای دې جوړ لره. دا خو ستاسې همیشنی لطف دی. زه به په سترګو دا پوښتنې ځواب کړم، البته نن شپه یې درته لیکم.

مخکې له مخکې دې منندوی یم.

۱: د «خت مې زنځیري» سندرې د شعر په باب راته وواياست چې په دې شعر کې مو خپله ونډه ځومره ده او څه ډول مو تصرف په کړی دی.

په دې باور یم چې د وخت سره سم کولای شو د فلکلوریکو سندرو د شعرونو مضامین هم بدل کړو او پر هغه اړتیاوو یې وڅرخاوو چې افغانستان یې راڅخه غواړي، کوم څه کې چې افغانستان ته لږ خیر هم وینم نو کوم یې، لیکم یې، سندره کوم یې او خلکو ته رسوم یې. په همدې اساس د (خت مې زنځیري) شعر مې خپله ولیکه او دا چې ولې مې خپله ولیکه؟ په دې اړه اوږدې خبرې باید وشي.

۲: د دې سندرې یوه پخوانۍ زمزمه ما اورېدلې وه، هلته د سندرې سر داسې ویل کېده:

خت مې زنځیري، زنځیري ده وړای یې نهشمه
وه مورې در نیسه بل قدم اخیستی نه شمه

هلته تر دې سر وروسته لنډۍ وراچول کېږي.

ـ ایا پخوانۍ زمزمه تاسو اورېدلې ده که نه؟

هو! خت مې زنځیري یو ډیر پخوانی پښتو سروکی دی چې پښتو مصرۍ به پکې ویل کیدې او تر اوسه پورې یې پښتنې ښځې په ښادیو کې زمزمه کوي. نه یوازې دا چې دا سروکی مې ډیر اورېدلای دی، بلکې پر دې مې هم فکر کړی، چې که زه یې وایم نو د افغانې ښځې ننۍ خبره به پکې کوم او د هغې په نوم به یې خپروم، چې همداسې وشول.

۳: ایا د سندرې سر چې تاسو ویلی دی اصل دی، که هغه پخوانی اصل ګڼۍ؟

ماته پښتو موسیقي اصیله ده. که پخوانی سروکی د پښتو موسیقۍ تولید نه وای نو نن به زما نوې خبره هم په دې کمپوز

کې نه وه. مانا دا چې زه د یو نوي سندریز مضمون په لیکلو او ویلو د پښتواني سروکی څخه د هغه قدامت او امتیاز اخیستی نه شم، زه فقط فلکلوریکه موسیقی کې غواړم د نن ورځې خبره له پښتواني جوړښت سره په سلا کې وکړم او بس.

۴: د سندرې د موزیک په برخه کې څومره بدلون راوړل شوی دی؟
د خت مې زنځیري سندرې موسیقي او ویډیو په یو وخت او کمه موده کې په ژوندۍ بڼه ثبت شوي دي، کټ مټ لکه د تنګ ټکور یو ساده محفل. ما غوښتل همدا ډول یې وکړم. کوښښ کې یم ژوندۍ موسیقي له نویو خبرو سره خلکو ته وړاندې کړم.

ژوند ژوند بهاند صیب محترم!
څه چې مې زړه وو په څوابونو کې مې لنډ لنډ ستاسې حضور ته ولیکل. هر هغه څه چې د نور تفصیل اړتیا یې وي، لطفا ماسره به یې شریکوې، زه مو هم خدمت کې یم او هم ستاسې له زحمتونو همیشنی مننډوی.

کور مو ودان،
ګودر»

د ګودر د نوې سندرې (خت مې زنځیري) د اورېدو له پیل نه ترپایه په خپل کلي کې وم او داسې مې انګېرله چې د وطن یوه په کور بندي پېغله ما مخاطبوي او دا هرڅه ما ته وایي حتی په سندره کې راغلی پېغور:

خت مې زنځیري، زه له کوره هم وتی نه‌شم
ستا سندرې اورم، خو نامه دې اخیستی نه‌شم
زه بدمرغه پېغله یم، ګودره چېرې تلی نه‌شم
نه دې دا نران وای، نه دې دغه زما کلی وای

هم زه ځان‌ته ګنم او داسې يې انګېرم چې ما تراوسه عملاً د حالاتو په بنديخانه کې د وطن د بندي پېغلې او مېرمنې له‌پاره څه نه دي کړي. هيله مې دا ده چې ټول قلموال د افغان نجونو او مېرمنو د حقونو د ترلاسه کولو، د ټولو ښوونځيو د پرانستل کېدو او ازادۍ له پاره په يوه خوله او ګډ عمل سره کار او مبارزه وکړي.

# «ډېوې، ډېوې ماښام»

## یو ښه نوښت، یوه ښه لار




په دې ورستیو کې د یو نوښتگر ځوان (محمدالله همیم) له خوا د «ډېوې، ډېوې ماښام» په نوم، په انلاین بڼه یو پروگرام پیل شوی دی. څنگه چې لېدل کېږي، په دې پروگرام کې هره ورځ د یوه حقداره شاعر د مثبتو کارونو، اثارو او ښېگڼو یادونه کېږي او ښه یې لا دا ده چې نور قلموال او د تربحث لاندې شخص اشنایان او پر مثبتو کارونو یې خبر اشخاص په کامنتونو او خپلو فیسبوکپاڼو کې خپل خاطرات او نظریات لیکي.

ما د همیم صاحب او د ده د فرهنګي هڅو په باب پخوا هم بوه مفصله مقاله لیکلې وه چې د ۲۰۲۳ ام کال په مارچ کې مې خپره کړه، د هغې مقالې ډېر بحث د ده دیو نوي چاپ شوي کتاب «بوډۍ ټال» په باب و، د هغې مقالې په یوه ځای کې مې لیکلي وو:

«همیم د لنډیو د دې ټولګې (بوډۍ ټال) د راټولولو لپاره د لنډیو د خیر کچکول په غاړه په ډېرو کلو، کوڅو، کورونو، دېرو، مجلسونو کې د ډېرو سپینسرو ښځو او سپینږیرو خولو ته ناست دی او په ډېر ادب یې د لنډیو د راپیداکولو خیر غوښتی دی تر څو یې دا څه د پاسه دوه زره لنډۍ را پیدا او په دې ټولګه کې یې تاسو درنو لوستونکو ته د یوې ډالۍ په ډول وړاندې کړې دي.»

اوس همیم د «ډېوې، ډېوې مابنام» پروګرام نوښت هم کړی دی چې بیسارې او نوې خبره ګڼل کېږي. دی په دې پروګرام کې نوی خلک، نوي فرهنګیان او نوي شاعران معرفي کوي او بل نوښت یې دا دی چې هرڅوک حق لري چې د معرفي شوو په باب خپل نظر او خاطرات ووایي او له ټولو سره یې شریک کړي.

محمدالله همیم د ۲۰۲۴ ام کال د مارچ په شپاړسمه په خپله فیسبوک‌پاڼه کې داسې وړاندیز خپور کړ:

«سر لهٔ سبا تر اختره ماښامونه، د شاعرانو پهٔ نومونو کوو. هرماښام د یو شاعر پهٔ نوم. شاعران پهٔ ګډه ټاکو.

سهي؟»

بیا یې د دې مطلب د لاروښانتیا له پاره یې بیا داسې ولیکل:

«مثلاً: نن مابنام د پلانکي په نوم.
ملګري به د دوی شعرونه را لیکي، خاطرې به ئې شریکوي، او په دوی به خبرې کوي. ملګري کولای شي، خپل فسبوک‌والونه پرې رنګین کړي. هم به عالي شاعران را مخته کړو، هم به یې وستایو او هم به د شعر تږو ته بهانده چینه شي.»

د پاسنیو توزیحاتو تر خپرېدو وروسته ځینو مینه‌والو د ځینو شاعرانو نومونه د وړاندیز په توګه په نښه کړی چې باید ولمانځل شي، د ځینو نومونه یې دا دي:

Ismail Nigar
محمدالله همیم سمده کاروان صیب انتخاب اول،

Wakeel Ahmad Naimi
د کاروان مابنام به ډیره په زړه پورې وي،

Mahir Ihsas
ښه کوئ

مانو اوربنت
ستوری عبدالرحیم زی
پردیس شینواری
کړاو منګل
رحمان الله ریحان
سعید شینواری
ملنګ چراغ
افسر ملاجان

دلګير شراب

Imran Sadat
لومړی ډيوه د شهنواز باقر،

Jalal Jarir
لومړی ډيوه د ثناءالله همدرد په نوم بله کړئ!،

انجنير امين
لومړی باید دا سری Saeed Shinwarai را مخکې کړی.

د دي وړانديزونو په پای کې ښاغلي محمدالله هميم داسي وليکل:

«ډيوې، ډيوې ماښام سر لهٔ ننه پيل دی. لهٔ پنځلسو تر شلو ماښامونه بهٔ د همدومره شمير شاعرانو پهٔ نومونو کوو.

ځانګړی هشتاګ بهٔ لري. شاعران بهٔ ستاسي ټولو پهٔ خوښه انتخابوو. پهٔ هر ماښام بهٔ د هغهٔ شاعر ځانګړی عکس خپروو، ملګري بهٔ يي شعرونه ليکي، خاطرې او کيسې بهٔ يې کوي. او پرې غړيړي بهٔ. د پښتو شعر دا ډوبه خاموشي بهٔ ماتوو، د دې کار کرېډيټ نهٔ احمد اخيستی شي او نهٔ محمود.
ګډ کار دی، او اثر بهٔ کوو. نيت مو يوازې د ښو شاعرانو ستايل دي. ترو ـ ترو ذوقونو ته بهٔ د بهاندو چينو پته ورکوو.»

زه (آصف بهاند) د «ډيوې، ډيوې ماښام» پروګرام يو نوښت ګڼم او زما له پاره له خو اړخونو د تاييد وړ دی:

۱ ـ «ډيوې، ډيوې ماښام» د حقداره فرهنګيانو د لمانځلو هغه لاره ده چې هيڅ ډول مصرف نه لري، پرته له دې چې څوک په عذاب شي، له خپل کور او ځای‌ځايګي نه خپل نظر خپروي،

۲ ـ دا پروګرام د ټولو، په تېره د ځوانانو له پاره داسې مثبته بوختـتيا ده چې يو خوا يې د پوهې او معلوماتو کچه لوړېـږي او له بل پلوه د ځوانانو د ځينو منفي کارونو مخنيوی هم کوي،

۳ ـ لوستونکي په تېره ځوان نسل د قلموالو له ترسره کړو مثبتو کارونو او تجاربو خبروي،

۴ ـ د دوښمنۍ، جګړې او وژنو د کلتور پرځای د دوستۍ او مدارا کلتور عاموي،

۵ ـ د دې پروګرام په لړ کې به ډېر ناغوړېدلي او نوموړکي استعدادونه وغوړېـږي، پېژندنه به يې عامه شي او د هنر او شعر فيض به يې ترټولو پورې ورسېـږي،

۶ ـ د نظرياتو او کامنتونو په وړاندې کولو کې هم هرڅوک کولای شي خپل تاثرات او برداشتونه په ازادنه ډول څرګند کړي، په دې شرط چې د چا خصوصي حريم باندې تېری ونه‌شي او د بيان ازادۍ اصول په کې مراعات شي،

۷ ـ د نوی نسل تخليقاتو او نظرياتو ته په کتو سره ما دا پايله ترلاسه کړه چې د ځينو هغو قلموالو هڅو او ليکنو نتيجه ورکړه چې هغوی د نوي نسل د روزلو په چوکاټ کې د سواد، مطالعې او زدکړو د عامېدو له‌پاره د کتابونو او مقالو په ليکلو سره تبليغ کاوه، د پايلو ښېلګې يې د همدې نوي نسل

تخلیقات او هغه سویه ده چې د همدې لړلۍ (ډیوې، ډیوې ماښام) د نظریاتو او کامنتونو په برخه کې راڅرګندیږي،

۸ ـ زه په دې کار کې د یو لوی یووالي نښې وینم.

ځکه دې نه یوازې ښاغلي همیم ته مبارک وي، بلکې ټولو فرهنګیانو ته او د افغانانو د یووالي او پرمختګ ټولو پلویانو ته مبارک وي. هیله کوم چې دا او دې ته ورته پروګرامونه دې وغځول شي.

تراوسه (۲۰۲۴/۰۲/۰۱) پورې د دغو شاعرانو په نامه د لمانځلو ډیوې بلې شوې دي:

۱ ـ نصیراحمد شهاب،

۲ ـ دلګیر شراب،

۳ ـ نقیب احمد عزیزي،

۴ ـ سعید شینواري،

۵ ـ مرزا عنایت الله دیدار،

۶ ـ عبدالمجید پل،

۷ ـ ملاله کلیواله،

۸ ـ عیسی مشعل،

۹ ـ حنیف حیران،

۱۰ ـ ممتاز اورکزي،

۱۱ ـ اجل او هنر،

۱۲ ـ احسان‌الله درمل،

۱۳ ـ رضوان الله اوبرنګ،

۱۴ ـ مانو اوربښت،

۱۵ ـ حيات همت،

۱۶ ـ کاملي او معصومي...

## د لمانځل شوو په باب نظريات:

د «ډيوي، ډيوي ماښام» د هر شاعر د لمانځلو په پار ښاغلي محمدالله هميم ډېرې لنډې، خو ماهرانه ـ هنرمندان او استادانه مقدمه‌ګۍ ليکلې دي چې په ريښتيا سره د ستايلو وړ دي. دلته به يې د نمونې له پاره درې بېلګې راواخلم:

ـ شپاړسم ماښام د "کاملي" او "معصومي" په نومونو ډيوي بلې شوې دی او هميم دا وړه هنرمندانه مقدمه ورته ليکلې ده:

«نن ماښام د "کاملي" او "معصومي" عزيزيانو پۀ نوم ډيوي بلوو.

دوه خويندې شاعرانې، دوه نغمې دوه زمزمې. د سرودونو بلبلانې. همغه چې ويل يې، د کور دې يو يا د ګور خو:

«ګور د خپل وطن دې وي، يا کور د خپل لالي دې وي.»

هغه چې پر زړهٔ يې د سکوت کانې کېښول، او تربته ساه يې فقط او فقط "شعر" کېدای شوه. همغه د محروميت چيغې چې ويل يې:

«مورې کم نصيبو ته د درو بنو سرې دی وطن.»

ـ ديارلسم ماښام د رضوان‌الله اوبرنګ په نامه چې هميم د مينې او هنر په رنګ، رنګولی. دا

د هميم جملې دي:

«نن ماښام د رضوان الله "اوبرنګ" پهٔ نوم ډيوې بلوو.

د اوبو رنګ، بې رنګه سړی! خو رنګين شاعر، بويه خپل ټول رنګ يې شعر کې واچاوهٔ. کټ ـ مټ يې د ځان پهٔ څېر شعر وليکهٔ. هغه شاعر کهٔ څوک يې پهٔ ژوند پوی شي؛ لهٔ شعر بهٔ يې لا خوند واخلي.

يو بې کسه بنده، چې ماښام کې د خلکو ننداره کوي هر سړی خپل کور او اور ته ځي، دا تماشه يې پهٔ نا اميده سترګو ليده لکه: «د سهار ستوري چې رپي.» دی وايي:

زهٔ چرته لاړ شم. «څهٔ پهٔ نه خبره زړهٔ د سړي وران شي.»

همغه اوبرنګ چې نه د چا ياد مړ کړ او نه پهٔ ژړېدو مړ شو، بيا يې لهٔ ډېر اذيته وويل:

«زهر پهٔ څو دي دوکانداره، زهٔ پهٔ څو مرمه؟»

همغه اوبرنګ چې زنده ګي يې د ترخو اوبو پيالهوه او د چا پهٔ نوم يې لاسونو کې چپه شوه. همغه اوبرنګ چې له سختو

پراوونو نه راوتی مست ژوند یې دوه لفظونو «خدای په امان.» ختم کړ...»

ـ اتم ماښام د عیسی مشعل په نامه غونډه شوی او همیم داسي توري ورته امیل کړي دي:

«نن ماښام د عیسی مشعل په نوم ډیوې بلوو.

د پښتو معاصر ادب ډېر کشر لاروی، همغه مشعل چې سترګې یې د ښکلا په لید وتلې. همغه مشعل چې کم مزل یې کړی، خو ډېرې تماشې. همغه مشعل چې په خپل هنر یې ډېرو عمیقو او رنګینو تماشو ته ودرولو، ګوته په غاښ! زموږ د ذوقونو دعا یې واخیسته. همغه مشعل چې په شپو کې بل شو، د کار شو، د ذوق توري مېنې یې رڼا کړې. همغه چې وړې ـ وړې کیسې یې لټ په لټ کړې، لویې کیسې یې پکې پیدا کړې...»

همغه خویندې چې په وچه ځانګه اخري پاڼې وې، خو باد ستړی شو، راویې نه غورځولې. همغسې یې د ژوند سرودونه ویل، د پسرلي زیري یې وړل.»

په دې مقاله کې د «ډیوې، ډیوې ماښام» پروګرام د ټولو لمانځل شوو په باب د نظریاتو راوړل او ورباندې خبرې کول لږڅه ستونزمن کار دی. ما داسې وکړل چې تراوسه پورې د لمانځل شوو ښاغلو او اغلو له ډلې نه مې دري تنه انتخاب کړل: نصیراحمد شهاب، حنیف حیران او احسان‌الله درمل. د هر یوه په باب نظریات او کامنتونه مې ولوستل او ځینې نظریات مې د بېلګې په توګه رانقل کړل.

د ټولو نظرياتو تر لوستلو وروسته سړي ته امید پیدا کېږي چي خلک له خپلو فرهنګیانو او شاعرانو سره ځومره مینه لري او د مثالونو او خاطراتو په یادولو سره یې په عملي ډول په لمانځه کي برخه اخلي. بله د امید خبره دا ده چي د نظریاتو او کامنټونو د لیکونو ادبي ذوق، سویه او د سواد او معلوماتو کچه هم لوړه او د خورا ستاینې او درناوي وړ ده.

اوس به په ترتیب سره د هغو دريو شاعرانو په باب نظريات راواخلم چي ما انتخاب کړي دي:

**ـ نصيراحمد شهاب:**

**چي لېونی زړۀ مي پسخېږي د ماتم لپاره**
**نـوې ياري خو به کـوم د نـوي غم لپاره**




**په پيل کي د نصيراحمد شهاب بيوګرافي:**

مخکي له دې چي د شهاب صاحب بيوګرافي راواخلم، له فعال او ګران فرهنګي دوست ارشاد رغاد نه بيا ـ بيا مننه کوم

چې د تېرو مرستو په دوام کې یې د ښاغلو احسان‌الله درمل او نصیراحمد شهاب د بیوګرافۍ په برخه کې هم مرسته راسره وکړه.

«نوم: نصیراحمد شهاب،

د پلار نوم: سید محمد،

د زیږېدو ورځ: ۱۹۹۶,٦,٦

ولایت: کابل ولسوالۍ: سروبي،

د اوسېدو ځای: د کوتګۍ کلی چې د ولسوالۍ له مرکز څخه شاوخوا څلوېښت کیلومتره لرې پروت دی. د مور او پلار د لسو بچیو له منځه یواځنی کس چې په ډېرو سختو شرایطو کې تر لسانسه زده کړې کړې.

لکه څنګه چې زموږ کلی له ښاره لرې او هلته ښوونځی نه و، تر نهم ټولګي د سروبي ولسوالۍ (د سرچینو عالی لېسه) وروسته د کابل له (خوشحال خان لېسه چې لیلیه هم لري) څخه فارغ او د خوست ولایت د شېخ زاید پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی د اردو څانګې ته بریالی او له یاد پوهنتونه په ۲۰۲۱ م کال فارغ شوم. د پوهنتون لوستو ترڅنګه مې د ښوونکي دنده درلوده، تر څو د ځان لومړنۍ اړتیاوې پوره کړای شم.

کله چې وطن د تالبانو لاس ته ولوېد او نور ځان راته په خپله خاوره پردی برېښېده ورسره د خلکو نامناسب چلند د وطن پرېښودو ته اړ کړم او نن سبا د جرمني هېواد په هامبورګ ښار کې اوسم.»

نصيراحمد شهاب ته د «ډيوې، ډيوې ماښام» کوربه محمدالله همیم داسې ليکلي دي:

«نن ماښام د " نصيراحمد شهاب " پهٔ نوم ډيوې بلوو.

همغه شهاب چې د ژندهګۍ لهٔ درانهٔ پېټي سره پهٔ يولټون ښکته پورته ونښېد. د دې لټون هر ګام يې، هر درد يې او هر پرهر يې شعر کړ. همغه شهاب چې فقط او فقط خپل ذوق پرې شعر ليکلی، همغه شهاب!!
نن پهٔ شهاب غږېږو، راځئ شاعري يې را ولېکئ، خاطرې او کيسې يې وکړئ. دا ماښام د شهاب دی.»

**دا هم د نصير شهاب د شاعرۍ او شخصيت په باب نظريات:**

Lalmohamad Jamal
ښه خبره دا ده چې شاعران، ليکوالان او نور شخصيتونه په ژوندون وستايل شي.

Paghman Nigar
«سپرلی دی او زه دومره لرې وړی يمه جبر
اقلًا چې يو ګل خو مې نيولی درته وای

نصير احمد شهاب مې په لومړي ځل په افغان ادبي بهير کې وليدو له هغې وروسته مې بيا شهاب صاحب او ذبيح الله بيان صاحب چې دوی دواړه په شيخ ذايد پوهنتون کې محصلان وو ورسره مې وليدل او بنډار مو سره وکړ او ورپسې مې بيا ځو ځو ځله ناسته ورسره وشوه او خواږهٔ خواږهٔ شعرونه مې ترې واوريدل.
واقعًا چې شهاب د ادب د اسمان ځلانده ستوری دی چې د شعر لپاره د خوږو لفظونو د راټولو يو ځانګړی هنر لري

زه يې د خوندورې او نوښتګرې شاعرۍ يو ځانګړی مینوال يم د شهاب سيورى د تر ډېره د شعر په ځمکه راخور وي.»

فرهاد شيون

«تږی، چې اوبه ويني تنده يې سيوا کېږي، روژه دار، چې ډېر تږی شي يوازې دا خبره کوي، چې هيڅ نۀ خورم، مازې اوبۀ څښم..

شهاب د تندې شاعر دی، هغه داسې شاعر، چې که يو غړپ اوبۀ څوک وڅښي، نو تنده پرې اپله بېله ماته کېږي، که يې لا وڅښي؛ نو خقيقت دی، چې يوازې بۀ څښل کوي او خوراک بۀ پرېږدي.

شهاب، پۀ صحرا کې هغه لار ده، چې پۀ ډېر بريک ځای کې يې لار کړې، همداسې د شهاب شاعرې، چې پدې بې ذوقه اؤ ميډيايي شاعرۍ کې يې خپل حيثيت ساتلى، پۀ شهاب خبرې ډېرې دي، (ګوره چې لۀ هرې ډډې وڅکې خوارہ وي.)

موږ چېرې هم د ستورې ځلا قياس کولای نۀ شو، ځکه هغه لايتناهي دی.

شهاب، پۀ مسافرۍ کې خپلې شپې ورځې سبا کؤي، د اروپا ګرميو ته لۀ سيورې څخه بل ته پناْ وړې، د دې عظيم انسان پۀ ژوند برکت عمر يې درازه!

شهاب دې وځلېږي، وځلېږي، اؤ لا دې وځلېږي.»

مولانا هوډمن

«خاورې ايرې اچوو په سترګو د ارمان کې
حد د بې وسۍ دی په ناراضه ژوند رضا يو

شهاب داسې ليکل کوي لکه ما چې کړي وي يو نيم دومره عجيبه بيت وليکي چې کتابونه خبرې پکې وي»

**دا هم د ښاغلي شهاب د کلام بېلګې:**

ساقي! تادي مه کوه دومره مې ناکام نه دی
زما هوس د چا ليده دي ستا د جام نه دی

هغه دبل کېږي! زه نه مرم! دنيا نه ورانېږي!
نه، نه فالي! زما د مينې دا انجام نه دی

دار مې قبول دی خو په دې ګنا چې وخ! مات شوم؟
قتل قدم وهي قاضي ستا ورته پام نه دی

چې هر سهار پاڅم، له قهره په ځان خولې لګوم
په دې خپه يمه چې لا مې ژوند تمام نه دی

نه ستا د مخ ډېوه شوه بله، نه ياران راغلل
هسې تياره شوه، ستوري وختل، ماښام نه دی

ياره جنت کې مې ښې ډېرې منظرې وکړې
خو لا مې فکر نه وتلی ستاسو بام نه دی

زما او ستا نه کېږي څه پرېږده موټروانه ياره!
زما سفر د کوم سرک تر اختتام نه دی

چې ورته خو کرته مړ نشي مات، مات نشي
مړه نڅا خو د سندرو احترام نه دی.

## غزل

چې لېونی زړۀ مې پسخېږي د ماتم لپاره
نوې یاري خو به کوم د نوي غم لپاره

پۀ زړۀ مې سل دنیا جنجال دی ستا پۀ ضد مې قسم
نور د باور څۀ پاتې نۀ دي د قسم لپاره

وجوده! نن خو دې لالي ته خامخا ګرموم
چې بهانه ورته پیدا شي د ستم لپاره

فرض کړه چې نن سبا کې ناست یو پۀ تېغ دحساب
ځواب دې څۀ دی د ناهیلي بنیادم لپاره؟

عجب ریشخند شومه فرهاده! تماشې ته راشه
د خپل غرور غر مې مات کړی د صنم لپاره

وخ سرابي منزله! مرم لۀ ارماني مزله
خدایکه لرمه حوصوله د یو قدم لپاره

## غزل

ته یې د ځان کړې ستا د مینې تور یې ماته راکه
له خدایه ویوبنته! چې څومره زور یې ماته راکه

نتیجه ګورې! د انصاف د دعوه دارې دنیا
ته یې رقیب ته ورکړې، ستا پېغور یې ماته راکه

سودایي نه، خو په مذهب د لټون واوښتمه
چې مخ یې پټ کړ نیمایي انځور یې ماته راکه

لکه بنګړي د رسوایئ په مقام ودرېدمه
ما دومره نه غوښته چې څومره شور یې ماته راکه

هغه ياربازه په عشق نده خو ما ساتي زړه کې
د کرايې دا لندمهالی کور يې ماته راکه

ته بختوره يې د عشق له هوا وساتلې
دغه تېره د ځان رېبلو لور يې ماته راکه

## غزل

د خپلو هيلو قتل عام ته لښکر شوی يمه
له تانه پس! په ځان بېخي زورور شوی يمه

نن به نو لوېږي تندرونه ستا د سترګو د غم
بېګاه مې خوب ليده ،چې زه سمندر شوی يمه

اختيار او خوښه لکه پلونه چېرته پاتي رانه
لکه غلام د ژوند په کار مقرر شوی يمه

شم پښه نيولی په هرچا پسې کېدونکي غږ ته
کلونه وړاندې له يو چا مرور شوی يمه

د وسعتونو پر بيان دې بازار ګرم اوسه
خو زه له دغو دايرو نه بهر شوی يمه

د يوې چټې مينتوب يې و ختلی سرته
زه چې اخير ځلې له ځانه خبر شوی يمه

شهاب

## ـ حنيف حيران:

له باچا نه به څوک وپوښتي حيرانه
د مکتب د تـالی زنګ ولې ولاړ ده




## په پيل کې د حنيف حيران بيوګرافي:

ښنګه چې ما په فيسبوک کې د ښاغلي ډاکټر حنيف حيران د ملګرتيا وياړ درلود، نو خپله مې د مسجر له لارې د ده بيوګرافي ورنه وغوښته. دا زما د غوښتنې متن دی:

«حيران صاحب سلامونه!

هيله ده هرڅه ښه وي.

ستاسو يوه لنډه بيوګرافي مې د يوې څېړنيزې مقالې د بشپړتيا لهپاره پهکار ده، د علمي او فرهنګي مهربانۍ په خاطر يې راته راولېږئ.»

حيران صاحب په مهربنۍ او لورينې سره خپله دا بيوګرافي مل ته رالوېږله:

## ژوندليک

«ډاکټر محمدحنيف حيران مې نوم دی، په ۱۳۵۵ز کال کې د پکتيا ولايت د سپډکرم ولسوالۍ د مش په کلي کې زېږېدلی يم. نه مې ياديږي خو مور مې ويل چې د روسي يرغل څخه دوه کاله وړاندې په روژه کې وزيږېدې، په دريم کال پاکستان ته کډوال شوو.

لومړنۍ زده کړې مې په کوزه پښتونخوا کې د ټل دوآبه نومې سيمې په يوه ښوونځي کې وکړې، په کال ۱۹۹۹م کال کې له حضرت بلال عالي لېسې څخه فارغ شوم. وروسته د لوړو زده کړو لپاره پېښور ته لاړم او په ۲۰۰۸م کال کې له طب پوهنځي فارغ شوم. څو کاله مې د پېښور په شمشتو کمپ کې په خپل روغتون کې بوخت وم، په ۲۰۱۱م کال کې کابل ته وکوچېدم. کابل کې هم له خپل مسلک سره نږدې پاتې شوم، په وروستيو کلونو کې مې له ځينو موسساتو سره په بېلابېلو برخو کې کار وکړ.

په ۲۰۱۶م کال کې د پکتيا په پوهنتون کې شامل او په ۲۰۱۹م کال کې د همدې پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوم. اوس مهال د ۲۰۲۴م کال د کاتب پوهنتون د ټولنپوهنې په پوهنځي کې د ماسټرۍ په برخه کې زده کړيال يم.

له کوچنيوالي د پښتو ادب شعر او نثر لوستونکی او مینه وال وم. په ښوونځي کې وم، کله کله به سیمه‌ییزې مېلې ته لاړم، کومې پیسې به مې چې مور یا پلار د ښوونځي لپاره راکړې، هغه به مې ټولې کړې او د شعرونو یا د لنډو کیسو کتابونه به مې پېټ پرې راونیول، پېټ ځکه چې هغه مهال چاپېریال دې ته جوړ نه و چې ځوک دې په کم عمر کې شاعري ولولي یا دې خپله شعر ولیکي.

لږ چې راستر شوم ادبي بهیرونو ته مې مخه کړه، د ټل ادبي چمن او مشال ادبي ټولنې غړی شوم، رودادونه او ادبي راپورونه به مې لیکل. لا محصل وم چې «د پکتیا په ډاګ کې» شعري ټولګه مې چاپ شوه. وروسته مې په وار نورې شعري ټولګې او په نورو برخو کې کتابونه خپاره شول، چې په لاندې ډول یې نومونه لیکم:

۱ ـ د پکتیا په ډاګ کې (شعري ټولګه)،

۲ ـ لکه غر مې زړه کې پروت یې (شعري ټولګه)،

۳ ـ یو ځلې بیا په دې لار راشه (ټپیزې)،

۴ ـ د طبي لابراتوار ازمايښتونه (طبي اثر)،

۵ ـ نهیلي ولې؟ (ارواپوهنه)،

۶ ـ اروايي خوښي او بدني ځواک (ارواپوهنه)،

۷ ـ کږنې او انګېرنې (فولکلوريک اثر)،

۸ ـ د ځوان او خوښ اوسېدو هنر (اروا‌پوهنه)،

۹ ـ ملاله (ناول)،

۱۰ ـ د ارام لپاره چرته سرې لاړ شي؟ (شعري ټولګه)،

۱۱ ـ کړنې او انګېرنې، دویم ټوک (فولکلوریک اثر، تر چاپ لاندې).

له دې پرته مې له بېلابېلو مجلو او جریدو سره د مسوول مدیر په صفت کار کړی دی. د سلیمان غر او پکتیانا مجلو مسوول چلوونکي هم پاتې شوی یم. په بېلابېلو انټرنیټي سایټونو او مجلو کې مې سلګونه علمي او ټولنیزې لیکنې خپرې شوې دي. اوس مهال په کابل کې ژوند کوم؛ ګورو به چې د وخت ګرداب به مې له دې وروسته همدلته پرېږدي او که به مو بل لوري ته بیايي.

درنښت
ډاکټر محمدحنیف حیران، کابل، افغانستان
۱۳ حمل ۱۴۰۳ز کال»

د ډاکټر حنیف حیران ژوند لیک او فرهنګي ـ علمي اثارو ته په کتو سره په زړه‌ورتیا سره باید ووایم چې: حنیف حیران ځو اړخیز شخصیت لري، اصلي رشته یې طب دی، خو په ادبیاتو کې یې هم زدکړې کړې دي او اوس هم په زکړو بوخت دی. د شعر او هنري‌نثر په دنیا کې یې ځانته ځانګړی بڼ جوړ کړی دی. د فولکلور په برخه کې هم د ډېر ښه ذوق خاوند دی، له نورو فولکلوریکو اثارو نه وراخوا، د لنډیو په خپرولو او نورو ته رسولو په کار کې هم ماهر دی او ما ته ځکه ځانګړی دی چې دی تل په خپله پاڼه کې داسې لنډۍ انلاین کوي چې اتیا سلنه نوې لنډۍ دي. څنګه چې زه له ډېر پخوا نه د نویو لنډیو د راټولو په کار بوخت یم، چې څنګه یې

نوې لنډۍ په پانه کې سر راښکاره کړي، زه يې د نورو نوو لنډيو په ډله کې خوندي کوم.
حنيف حيران ته د «ډيوې، ډيوې ماښام» کوربه محمدالله هميم داسي ليکلي دي:

«نن ماښام د "حنيف حيران" پۀ نوم ډيوې بلوو.

لکه رود؛ طبيعي بهاند شاعر. چې ويلي يې وو: «کۀ ړاندۀ ام واى ښکلا مو پيژانده، ځکه ښکلا د فطرت د منظرې غږ دى.
» همغه حساس حيران چې ځان کې ووسېدۀ، لۀ ځانه ووت خو زړۀ يې همغسې اوتر و، بيا يې وويل: «د آرام لۀ پاره چرته سرى لاړ شي؟» همغه حيران چې سترګې يې اوترې اړولې، همدا نظر يې شعر شو، چا چې واورېد؛ همدا پۀ خپل زړۀ کې پټ انسان يې ولټاوۀ...
همغه حيران چې پۀ اور يې سوزېدۀ، مګر لۀ وطنه، مينې، او ژونده يې زړۀ مات نه شو. د غمونو طوفانونه راغلل پرې؛ خو د زړۀ ونه يې ولاړه وه، پۀ خپل مقام!!
راځئ د دۀ دا ماښام د دۀ پۀ شاعرى، کيسو او خاطروو پيلوو!!»

**دا هم د حنيف حيران د شاعرۍ او شخصيت په باب نظريات:**

عابد ملا
حيران صاحب د ښې شاعرى تر څنګ د عالي اخلاقو څښتن دى.

Muhammad Nazir Muslimyar
«سيخه دې په سترګو سلېمان غر ته تللې لاره ده
خداى ته تللې لاره پيغمبر ته تللې لاره ده

باک نشته حیرانه که اغزي دې لمن ونیسي
درومه پدې توره شپه سهر ته تللې لاره ده

حیران صاحب یو لوی انسان دی، ما شاوخوا شل کاله پخوا په لره پښتونخوا کې لیدلی دی خو لکه دا تېره ورځ مې چې لیدلی وي، د شاعرۍ تر څنګ ښه ډاکټر هم دی، حیران د خپلو خیالونو په رنګینه نړۍ کې حیران او لاس تر زنې ناست دی، حیران صاحب ډېر مینه ناک سړی دی، اوږد عمر او د شعر رنګینه نړۍ ورته غواړم.
درنښت
مسلم یار»

عبدالمجید یل
«ډاکټر صیب ته دې هر ماښام ډیوې بلې شي عمر یې اوږد شه
ماته یې په اول ماښام مبارکي داد او مینه را میسج کړه په لویو شاعرانو کې حیران صیب وو چې زیاته خوشحالي یې را وبخله دغه بیتونه یې مینوالو ته ډالۍ کوم:

کښت مې د نظر ګوندې راشین کړي خدای
سترګې مې په لار درته کرلې وې

ستا له انتظاره هیڅ کار ګران نه و
شګې د صحرا به مې شمېرلې وې

تمه د وصال ده چې ژوندی یمه
اوس خو به مې زر ساوې ختلې وې
حیران»

Abasin Bahir

د ډاکټر صاحب د ادب چینه دې تانده وي او قلم یې پیاوړی اوسه!

پیر محمد ریحان

«که د ډاکټر صاحب حیران د اعزاز په پار او د هغه د شعر د ستایلو لپاره هر مابنام ډیوې بلې شي بیا هم کمې دي ډاکتر صاحب دې د اوږد او خوښ ژوند ښتن شي!

د بایللې مینې یاد مې زړه ته راغی
د ملګري په واده کې غلی ناست یم»

**د ښاغلي حیران د کلام بېلګې:**

ښکلې ورته وګورمه، سترګې زما لمر وهي
سپینې کیسې نشم کړی، جلاد مې رانه سر وهي

ولې مو د نجونو د تعلیم مخه نیولې ده؟
بده ده چې ښځه باندې لاس پردی ډاکتر وهي

دا خلک که نن د رڼاګانو لښکر جوړ نه کړي
چا باندې سبا ته بیا د تورو شپو لښکر وهي

حنیف حیران

*****

ځان ته راشي که بهر ته سړی لاړ شي
د ارام لپاره چرته سړی لاړ شي؟

*****

تکبر یې په لېمو کې شي دوه چنده
هر څه مات شي، کبرجنه نه ماتیږي

که څه هم چې یې د جنګ په اور کې سوځم
مګر زړه مې له وطنه نه ماتیږي

*****

هېروم دې، خو په زړهٔ کې را پهٔ یاد شې
ګنهګار نشم، مانځهٔ کې راپهٔ یاد شې

د همزولو له اتنه غلی ووځم
د همزولو په وادهٔ کې راپهٔ یاد شې

لکه لمر په راختلو کې دې ګورم
لکه لمر په پرېواتهٔ کې راپهٔ یاد شې

*****

ژوند په غاړه د ګړنګ ولې ولاړ دی؟
زبون وهلی غوندې ګونګ ولې ولاړ دی؟

سُر او لی مې له سندرو نه روان دي
ستا د شنو بنګړیو شرنګ ولې ولاړ دی؟

پښتنو کې اتفاق راغی که څنګه
د خلورو سترګو جنګ ولې ولاړ دی؟

ښه پوهیږي چې کچکول به بیا رامات کړي
دروازې ته بیا ملنګ ولې ولاړ دی؟

د ښمن په خواخوږي فکر پکار دی
چې دې سخته کې تر ځنګ ولې ولاړ دی؟

زمکې ولې هوار کړی دی ځان پښو ته؟
او اسمان له کبره دنګ ولې ولاړ دی؟

له پاچا نه به ځوک وپوښتي حیرانه!
د مکتب د تالی زنګ ولې ولاړ دی؟

**ـ احسان‌الله درمل:**

**د روح سکون، د زړهٔ ټوټه، د سترګو تور دی وطن**
**شرم دی مه يې خرڅوئ، ټيکرى د مور دی وطن**




**په پیل کې د احسان‌الله درمل بیوګرافي:**

ښنګه چې مخکې هم وویل شول ما د رغاند صاحب په مرسته، د ښاغلي درمل بیوګرافي د یوه لینک له لارې ترلاسه کړه. په

ویکیپیدیا کې د درمل صاحب بیوګرافي د یاد ویبسایت په ستایل اېښودل شوې ده چې زه یې ځینې اړینې برخې رااخلم:

«ډاکټر درمل په ( ۱۳۶۷ل) کال کې د جان وکیل کره زېږېدلی دی. ډاکټر درمل قبایلي سیمې کورمې ایجنسۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې. د نومړي کورنۍ د پکتیا ولایت له ځاځي اریوب ولسوالۍ نه کورمې ته کډوال شوي وو.

ډاکټر درمل لومړۍ زده کړې په کورمه کې د مهاجرو په یوه ابتدایي ښوونځي کې کړي دي او همځنه یې لیسه هم لوستې ده.

په ۱۳۸۲ل کال کې د کانکور له لارې د کندهار پوهنتون د طب پوهنځي ته بریالی شوی او په ۱۳۸۹ل کال کې ترې فارغ شوی.

په ۱۳۹۰ ل کې له طب پوهنځي او په ۱۳۹۴ ل د عمومي داخله ناروغیو په برخه کې د تخصص له پروګرامه فارغ شو. په ۱۳۹۵ ل کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د طبي علومو د مرکز غړی شو.

ډاکټر احسان الله درمل Dr.Ihsanullah darmal د طبي زده کړو تر څنګ په پښتو ادبیاتو کې یوه پېژندل شوې څېره ده، چې د شعر کره کتنې په برخه کې یې ځینې اثار لیکلي دي.

ښاغلي درمل د طبي کتابونو او مقالو تر څنګ ګڼ شعرونه، مقالې، څېړنیز اثار هم لیکلي دي. ،د ۱۳۹۵ کال په لیندۍ کې یې د شعرستان په نامه یو ۷۰۰ مخیز کتاب خپور شوی، چې

د شعر پر مهمو تخنیکونو او هنري میکانیزمونو بحثونه پکې شوي دي.»

زه ډاډه یم چې پاسنۍ بیوګرافي د ښاغلي درمل د پېژندنې لهپاره کافي نه ده. خامخا د احسان‌الله درمل د علمي ـ فرهنګي شخصیت ټول اړخونه به په دې بیوګرافۍ کې نه وي راغلي یا وروسته له دې چې د ده دا بیوګرافي په ویکیپیډیا کې انلاین شوې ده، درمل صاحب به په علمي ـ فرهنګي ډګر کې نورفعالیتونه هم کړي وي چې دلته نه دي یاد شوي، که د درمل صاحب په باب معلومات نیمګړي وي، زه له خپله اړخه بښنه غواړم.

احسان‌الله درمل ته د «ډیوې، ډیوې ماښام» کوربه محمدالله همیم داسې لیکلي دي:

«نن ماښام د احسان الله "درمل" پهٔ نوم ډیوې بلوو.»

د شعرستان درمل، چې شعر لولې دریادیږي، چې د شعر نوم اورې سترګو ته دې ولاړ وي. لکه پروته څانګې وانګې تللی پهٔ زړونو ړنګ دی. هغه مسیحا چې د زړهٔ بیماران هم پهٔ شعر او هم پهٔ طب رغوي.

همغه درمل چې ښایست او مینه دواړه ورسره ولاړ دي، چې د عشق کړو وړ سمې ور وښودې، چا ورته ووې رښتیا؟ دهٔ ورته فقط همدا وویل: «پهٔ کړو څانګو د انګور مې قسم.» هغه چې پرهر یې پهٔ ګلابي لاسونه لګیدلی و اوس ګلابونه ټوکوي. همغه درمل چې د سندرو، سرودونو او ژوند پهٔ طرف دی. چې زړهٔ یې هم شاعر دی، سبانی غم نن حسوي. همغه درمل چې د خپل وطن پهٔ مینه یې مست او مستغني

کړو. راته ویې ویل: «ور بهٔ یې نه کړو یوه لوېشت ځمکه پهٔ باغ د عدن.»

دا ماښام، او دا سرې. راځئ نن پهٔ دې ښکلي انسان د خبرو پلمه جوړه ده. د زړهٔ خبرې ورته وکړئ، دا ماښام د دهٔ دی...»

**دا هم د احسان‌الله درمل د شاعرۍ او شخصیت په باب نظریات:**

محـــــمود بـــاقـــر
«هر ماښام ښکلی وو خو نن ماښام بیا بل رقم ښکلی دی
ډاکټر صیب ته زهٔ خپله د زړونو درمل وایم که څهٔ هم ډاکټرصیب د زړونو متخصص دی
زهٔ ډېره پوهه نهٔ لرم ګني نن به ما ډاکټر صیب باندې یو څهٔ ویلي وای
خو بس خیر نن ماښام دې زما د زړهٔ درمل ته مبارک وي»

Muhammad Nazir Muslimyar
«ځــــومره چې یاران خاورې زما په نامــــــه اړوي
دومره به د خلکو راته پام کړي، نور به څه وکړي؟

ښکلی که هردم زړه ماتوي زما، پر ما یې څه
کم به د خپل حُسن یو غلام کړي، نور به څه وکړي

ډاکټر احسان الله درمل د زړونو درمل دی، ښه نثر او عالي شاعري کوي، زمایې شاعري ډېره خوښېږي، د پښتو ادب یو ځلانده ستوری دی، لا دې ځلانده وي.»

Ahmad Kaliwal
«درمل یو موتی سړی دی خو د علمیت، سنجیدګي، ژور لید، نوښت، او... بحر دی.
درمل پخپله لوی #هنر دی.»

· Abdul Basir Sahaak
«د نن ماښام ډیر ښکلی ماښام دی، ځکه زما د خوښې شاعر او ډاکټر احسان الله درمل صیب ډیوي پکې بلې دي. د ده ډیوې دې تل زمونږ په زړونو کې بلې وي.»

محمد رفیق ریحان
«ګران ډاکټر احسان الله درمل صیب ته لوی خدای هغه وړتیا ورکړې ده چې زما په څیر ډیر ترې عاجز دي درمل صیب د خوږې ګوړې سکنی ورور دی د حمزه بابا په قول له هرې ډډې یې چې څکې خوږ دی هغه که شعر لیکل دي که نثر دی یه نقادي دی زه عاجز به څه په دې درباره ژبه د درمل صیب توصیف یه ستایل وکړم خو دومره به ووا یم چې عمریې ډیر صحت یې روغ خوشالی یې ملګرې یوه بله هغه دا چې دسې ډیرې ډیوې اوډیر مښامونه دې دا درمل په ژوند او درمل په ستایلو رڼا رڼا شي»

M Anwar Tabasum
«ډاکټر صیب درمل په ځوان کهول کې په لر او بر وطن کې بې جوړې انسان دی، نوموړی په یوه وخت کې شاعر، لیکوال، کره کتونکی، نقاد د زړونو متخصص ډاکټر، په سیمه او نړی ژور نظر ساتونکی... لنډه دا که نابعه یې وبلو مبالغه به نه وي، دا خبره زه په اثبات سره کوم.

په درمل صيب باندې خبرې کول اسان کار نه دی او نه په دا لنډ وخت کې راټولیدلی شي، مونږ ورته د اوږد عمر دعاګانې کوو او د لوی خدای نه ورته نور توفیق غواړو.»

Borjan Hamraz

«څومره چې یاران خاورې زمـــــــــا په نامه اړوي
دومره به د خلکو راته پام کړي، نور به څۀ وکړي؟

درمل نۀ یوازې زموږ د تن درملنه کوي او د روغتیا طبیب دی؛ بلکې زموږ د زړونو طبابت هم کوي. دی پر ادبیاتو دومره برلاسی دی، چې هیڅ پېژندنې ته اړتیا نۀلري. خوږ او روان نثر لیکي. د شعر ژبه یې پخه ده. نن یې پر ژوندون ستایو. د دۀ پۀ نوم د نن ماښام ډېوې بلوو. درمل دې خدای زموږ لۀ څنګه نۀبېلوي.»

قلمیار اشنا

«درمل د زړونو علاج
درمل د زړونو سکون
درمل د روح پر واز
درمل د خوږ من زړه تکور
درمل د لفظونو جادوګر
درمل د زړونو شاعر
درمل د اوسنې عصر د شعر بادشاه
درمل مینه ناک
درمل نرم دل
درمل د ګودرونو شاعر
درمل زموږ لپاره یو روڼ څراغ
زړه ارام سې زړه خوښې وکړي ملګرو
د درمل په غزلونو کې سکون دی

قلم یار اشنا»

زاهد سعيدي

«زهٔ ایله دومره ویلی شم، چې یؤ وخت مې ورسره د څهٔ مؤضوع اړؤند مشؤره کؤله، ډېر نرم ژبی سړی دی او پهٔ نهٔ پېژندګلو یې سارهٔ ځوابونه راکؤل.
پهٔشعر غږېدل خو یې زما لهٔ وسه نهٔ کیږي او شعرستان ته یې سلام!»

د همدې کرښو د لیکلو په ورځو کې مې د درمل صاحب په باب د ښاغلي م: ځاځی (MazharZaza) دا لیکنه هم له نظره تېره شوه. زه یې اړینه ګڼم چې دلته یې هم راواخلم:

«رب وکړه چې د پیژندګلورۍ دا توري یې حق ادا کړي،
ځکه چې په دومره لوی بشر فني او علمي بحث د شعر پوهنې تېزې عینکې او د معنا پوهنې ژور لبد غواړي.
د سندریز اریوب له طبیعته یو روښانه او شاعرانه هستي
چې شعر یې د زړونو پرتخت پاچاهي کوي، دغزل تورو څخه یې مینه څاخي، پیغام یې ډیر لوړ او ټولنیز دی، دسخاوتمندانه او پراخ نیت څښتن استاد احسان الله درمل دی.
ښاغلی درمل دشعر له جوړښته تر نوښته
له انسانیته تر محبته
له وطنپالنې تر میلمه پالنې
له ګلابه تر کتابه
په دې ټولو برخو کې خورا پیاوړی او بریالی دی.
دا شاعر خپل جنت په خپلو ملګرو تقسیموي، له ډیرې خواخوږۍ څخه درد ته وررور وایي، دا ادبي څېره دنورو برعکس دسپینو پرځای دتورو بلا اخلي، همېشه یې خپل وجدان مخاطب کړی دی او توبې غږوي.

د خپل وجدان عاطفه يې له دې بيتونو معلومېږي 👇
اوښکي مو جار شم له توپانه را ستنو مرغيو!
راځئ راځئ چې باغ مو خپل دی میلمنو مرغيو!
زموږ د زړونو خړې پرې آشيانې ستاسو دي
زموږ ليمو کې د رڼو اوښکو دانې ستاسو دي
ځئ له اېرو کړو د ققنوس غوندې وزرې پيدا
شي به د زهرو کټوريو کې شکرې پيدا
لنډه يې وايم
د پښتو په معاصره شاعرۍ کې د هغو شاعرانو له ډلې چې د کلمې په حقيقي مانا سره لوی شاعران دي، يو پکې بې له شکه چې پير صيب درمل هم ده.
ډاکټر صيب د ژبې په محور باندې په بر لاسی کې له مور يو دی. د شعر ساختمان او ترکيب يې عالی دی، د لوړ تخيل او ژور فکر څخه مال امال دی، د شعر موسيقۍ او اهنګ برخې يې په بيتونو کې عطرين وږم لري، مباحثې او مناقشې يې هم ځان يو څه بولي. زه يې د ادبي فنونو حافظ بولم.
نثرې جوړښتونه يې هم جلا هنري ارزښتونه لري.
درمل صيب د ژبې او قلم هر توری د کانې کرښه ده، له دې پورته يې د ستايلو توان په ځان کې نه وينم. سخته ځکه وه چې په هغه چا مې ليکل وکړل چې نيمه نړۍ يې پيژني.
دا لوی بخت بولم چې پښتو شاعري د درمل په څېر ستې لري. په ډاډ يې وايم چې د راتلوونکو نسلونو په ذوقونو، احساساتو او عواطفو به هم حکمراني کوي.
دا بيتونه او کلېواله سندره يې که چاته ياد وي رانه يې مه سپموئ! 👇
د هندارو زړونه تنګ دي د ډبرو په لباس
يو شاهين رانه زړه يوړو د کوترو په لباس.

تل لړي په زړونو، دوړوي مالګې
په زړه ناسورو پرهرونو ستا بانه.
م: ځاځی»
۱۰/۱/۱۴۰۳

په هماغې ورځې چې د احسان‌الله درمل له‌پاره ډیوې بلې شوې، ډاکتر محب زغم هم د درمل صاحب په باب خپله یوه پخوا نشر شوې مقاله (د شعرستان نثر) بیا خپره کړه، دا ډېره اړینه مقاله ده، ځکه یې دلته رانقلوم:

«د ډاکتر احسان‌الله درمل «شعرستان» چې پر شعرپوهنه سیستماتیک بحث کوي، د علمي او هنري نثر غوره بېلګه ګڼلی شو. مانا دا چې د کتاب ژبه له محتوا سره سم اړخ لګوي. بحث علمي دی نو درمل صاحب هم په علمي نثر لیکلی دی، له بلې خوا د بحث موضوع شعر (د هنر یو ډول) دی نو باید چې نثر یې هم وچ کلک نه وای ځکه خو لیکوال هنري نثر کارولی دی.

علمي (اکاډمیک) نثر باید واضح، صریح، دقیق، له مبالغې پاک، او له احساساتو خوندي وي. همدارنګه د علمي نثر لیکوال که خپل نظر بیانوي یا پر یو څه قضاوت کوي، مطلق حکمونه نه‌کوي؛ بلکې خپله نظریه او خپلې موندنې د وړاندیز په بڼه مطرح کوي. البته په ساینس کې خبره یوڅه متفاوته وي، هلته که چېرې موندنې د پراخو تجربو او مشاهدو په نتیجه کې ترلاسه شوې وي، ورسره متناسب قضاوت یا حکم کولای شو خو دا چې هنر لابراتوار نه‌لري نو باید په اړه یې په احتیاط سره خبرې وکړو.

اوس به لومړی د شعرستان د نثر علمي ځانګړنې وګورو. ښاغلی درمل د مدعا مثل په اړه داسې پرېکړه کوي: «هغه کار چې مولینای روم او شیخ عطار یې د خپلو کیسهییزو تمثیلونو په مرسته کوي، صایب، بېدل، او استاد پسرلی یې په یوه مسره کې کوي، په دې توګه موږ کولای شو چې تمثیلي تشبیه یا مدعا مثل د تشبیهاتو په ډله کې هغه تشبیه وګڼو چې هنري ارزښت یې د ځینو نورو په پرتله زیات دی.»

دی نهوایي چې د مدعا مثل هنري ارزښت تر ټولو نورو تشبیهاتو زیات دی، بلکې وایي «د ځینو نورو په پرتله» زیات دی او ان دغه حکم هم په احتیاط سره کوي «موږ کولای شو چې ...».

د اسطورې په بحث کې لولو چې: «د نذیر احمد نذیر په لاندې شعر کې وګورئ چې د ستورو، لمر او سپوږمۍ متناوب تګ و راتګ او د شپې او ورځې د راتلو تکراري پېښه د خیال په مټ له خپل طبیعي او ساینسي هویته اساطیري فضا ته نږدې شوي دي.» لیکوال چې تر دې مخکې یې د اسطورې تعریف راته کړی دی، د ښاغلي نذیر پر شعر مطلق د اسطورې حکم نهکوي، بلکې وایي «اساطیري فضا ته نږدې شوي دي».

درمل صاحب د سېمبول په اړه د ځینو نظر یادوي چې ادعا کوي سېمبول د اختناقي او استبدادي شرایطو په عکسالعمل کې زیږېدلی دی ځکه په داسې شرایطو کې سړی نېغه خبره نهشي کولای نو د سېمبول تر بوسو لاندې د مطلب اوبه تېروي. بیا د دې نظریې د ردولو دلایل وړاندې کوي، وروسته وایي: «اوس به ښایي دا پایله اخیستل زموږ حق وي چې سېمبول همېشه د اختناق په تیاره کې بل شوی څراغ نه دی؛ بلکې هغه ستوری دی چې تر شا یې د پېچلو افکارو او

ناآشنا رواني کیفیتونو روڼ سهار ولاړ وي.» دلته وینو چې لیکوال بیا هم په احتیاط سره وايي «اوس به ښایي دا پایله اخیستل زموږ حق وي ...» دی خپله خبره پر چا نهتحمیلوي، نور خپلې خوښې ته پرېږدي.

د هنر او ساینسي واقعیت په پهزړهپورې بحث کې درمل صاحب وايي: «د انسان په اړه د بیولوژۍ علم وايي چې دا فقاریه او تيلرونکی ژوندی موجود دی ... د انسان په اړه د بیولوژۍ پورته یاد شوي فکر (زما په فکر) د یوه شعر زېږېدو ته هم زمینه نه ده برابره کړې او یا به زما له نظره نه وي تېر شوی.» دی په زغرده نه وايي چې له دغه ساینسي واقعیت څخه چا شعر نهدی جوړ کړی؛ ځکه چې ده د دنیا ټوله شاعري نهده لوستې، خو په هغو شعرونو کې چې ده لوستي دي، دا شی نشته.

په دې بل مورد کې هم د لیکوال خبره د علمي نثر له غوښتنو سره برابره ده چې: «دا اصطلاح (شفاف او کدر وزنونه) فکر کوم لومړی ځل د پارسي ژبې لوی کرمکتونکي او شاعر ډاکتر شفیعي کدکني په خپل بېساري اثر (موسیقي شعر) کې کارولې ده؛ تر هغه وروسته هم یو نیم ځای راغلې (لکه د کاظم کاظمي په «روزنه» نومي کتاب کې) خو بل ځای په ادبي اثارو کې زما له نظره نه تېره شوې.»

درمل صاحب د خج د موقعیت او د ریدم د چستوالي په اړه داسې خبره کوي چې زما لپاره نوې ده: «ما ته داسې ښکاري چې د مسرو په رکنونو کې د خج یا اکسنټ موقعیت د وزن پر ځپاندوالي یا ټکنیتوب اغېز لري؛ څومره چې خج له لومړۍ څپې څخه د څلورمې خوا ته ځي، هماغومره وزن ټکنی کېږي او برعکس.» څنګه چې دا د لیکوال موندنه یا

کشف دی نو وار له واره قطعي حکم نهکوي؛ بلکې علمي چلند ورسره کوي، دی خپله خبره د یوې فرضیې په توګه وړاندې کوي او انتظار ورته کوي چې لا پخه شي او نور هم وربادندې بحث وکړي. البته که دا خبره ثابته شي، له شاعرانو سره به مرسته وکړي چې د خپل شعر آهنګ او موسیقي، د شعر له محتوا سره سم کړي.

د شعر د داخلي شکل په اړه لیکوال داسې وایي: «زه خپلې خبرې په دوو بېلګو پای ته رسوم، په یوه شعر کې داخلي شکل ښکلی دی خو په دویم کې یا نشته او یا دومره مبهم دی چې زه نه پرې پوهېږم. زه پخپله له هغه یوه خوند اخلم چې داخلي شکل لري، تاسو ته هم دواړه شعرونه پرېږدم او هم ستاسې ذوقونه او قضاوتونه.» دلته ښاغلی درمل بیا علمي لاره خپلوي. ځکه چې انسان کامل نهدی او هرڅوک ممکن تېر ووځي نو دی هم په دویم شعر کې د داخلي شکل د نشتوالي په اړه داسې حکم نهکوي چې د ده تر واک او امکاناتو دې پورته وي.

البته د درمل صاحب په خبرو کې یو دوه ځایه ما ته یوڅه مبالغه ښکاره شوه. دی وایي: «له دې تعریفونو او نظریو څخه چې موږ له سینده د منګي په اندازه راواخیستې، دومره معلومېږي چې تصویر پراخه لمن او پېچلی هویت لري.» فکر نهکوم چې د تصویر په اړه دې دومره ډېر تعریفونه وړاندې شوي وي چې موږ یې سیند هومره وبولو.

بل ځای وایي: «ځکه نو د حمزه بابا دویم بیت د هرچا پر ژبه ګرځي.» دا سمه ده چې د حمزه بابا هغه بیت به نسبتاً زیاتو شعرلوستونکو په یادو زده وي او دا هم منم چې «هرچا» په ولسي ژبه کې د «زیات کسان» مانا لري خو دا

چې شعرستان علمي اثر دی نو په کار وه چې د نورو موردونو په ځېر دې، له دې مورد سره هم علمي چلند شوی وای.

ومې‌ویل چې د شعرستان نثر علمي او هنري دی. د علمیتوب دلیلونه یې وړاندې یاد شول، اوس به راشو هنریتوب ته یې. درمل صاحب د ښکلو، مناسبو او ځای ځای نویو تشبیهاتو او ترکیبونو په مرسته له یوې خوا پر معلوماتو پوهېدا راته اسانوي او له بلې خوا وچه تیوري د شاعرانه جملو په منځ کې داسې حل کوي لکه د درمل جوړولو کمپنۍ چې له انټي‌بایوټیک سره د مېوو خوند ګډوي او خوندور شربت ځنې جوړوي.

دی تکرار د هنرمند کمزوري او د هنر زوال بولي نو چې دا خبره کوي همداسې جمله ورته جوړوي چې تکرار په کې نه وي: «د ادبي ژبې د ښکلا مناره د تکرار په نري باد هم ړنګېږي.»

او په دې پراګراف کې بیا د تکراري تشبیهاتو لپاره د هغه ګني مثال راوړي چې په زرګونو ځله ژوول وي: «که اوس هم څوک د بښو غشي، د قد سروه، د سترګو نرګس، د زلفو ماران، ... په دې نیت راوړي چې لوستونکي یا اورېدونکي ته د تعجب او هنري لذت په نوم یو څه ورکړي، تېروتی دی؛ ځکه چې په زرګونو ځله ژوول شوي ګني به نور څومره خواږه ولري چې موږ یې بیا وژویو؟»

لیکوال د سېبمول د راپېژندلو لپاره له داسې تشبیه‌ګانو او هنري نثره کار اخلي چې د دقیقو معلوماتو تر څنګ د خوند خواږه هم راکوي: «- سېمبول د دریاب غوندې دی چې هر

لوستونکی د خپل ذهني ظرف په اندازه ترې د معنا اوبه اخیستلای شي. - د سېمبول په مرسته د شاعر د افکارو د شمسي نظام ګڼې سیارې مونلای شو چې د سېمبول له لمره چاپېره څرخي. - رویا او تخیلات چې پوزیټویزیم او ریالیزم له ادبي او هنري حوزې څخه تبعید کړي ول، سېمبولیستانو بېرته راپخلا کړل. - سېمبول هغه سلواغه ده چې هر لوستونکی پرې د خپل روح له ژورې څاه څخه د خپلو دروني کیفیتونو اوبه راوباسي.»

د اسطورې او تخیل په بحث کې د درمل صاحب دغه شاعرانه جملې وګورئ: «فلسفې هم د انسان د ځینو پوښتنو ځواب نه درلود او انسان مجبورېده چې د خیال د خضر لمنه ونیسي او له هغه سره یوځای د ابهام په تیارو کې د حقیقت په اوبو پسې پل واخلي. - ماشوم، شاعر او بدوي انسان د تخیل په غېږه کې ژوند کوي؛ ماشوم د ځوانۍ او بدوي انسان د ساینس په لاس له دې خوږې غېږې څخه رابېلېږي؛ خو لوی او اصیل شاعران د ژوند تر پایه له رویا او تخیل سره اوسي. - د شاعر خیال او عواطف د جبراییل دم دی چې د وچ طبیعت د مریمې په لستوڼي کې پوکل کېږي او د شعر د مسیحا ډوله موجود تولد ته زمینه جوړوي.»

درمل صاحب د قافیې د اهمیت په باب یو مثال راوړي او د قافیې موقعیت د پاچاهۍ له تخت سره تشبیه کوي: «ګورو چې دلته د بیت د دویمې مسرې قافیې د ټول بیت د معنا بار پر اوږو اخیستی دی او له همدې امله شاعر دومره مهمه کلمه د قافیې پر تخت کېنولې ده.»

او بېکاره ردیفونه هغه دسمالونه ګڼي چې خلک یې د خپل ارمان د پوره کېدو په هیله د زیارتونو پر متو تړي خو خدای

خبر چې به خپل مراد حاصلوي که نه: «ځومره ډېر شعرونه شته چې ردیفونه ورپورې لکه د زيارتونو رنګين دسمالونه زانګي، خو د شعر له معنايي او موسیقايي برخې سره هېڅ مرسته نهکوي.»

## د درمل صاحب د کلام ځوبېلګې:

مړ دې یم پاک په زنګېدلي اواز
په ایتونو د زبور مې قسم

جوړ به له خپل پټکي ملا ته وي دار
په خورو ځنو د منصور مې قسم

*****

نه د ښار په زړه ځايېږو نه د غره شوو
موږ ځانونه ځه ګڼلي وو او ځه شوو

نه شوو پوی چې مرګ او ژوند ځه وو درمله
افسانه مو اورېده ورو ورو ویده شوو

ا. درمل

*****

د روح سکون، د زړهٔ ټوټه، د سترګو تور دی وطن
شرم دی مه یې خرڅوئ، ټیکری د مور دی وطن

تت خو یې مه شه د جلال او د جمال رنګونه
شرنګ دی زما د ځنځیر ستا د بنګړو شور دی وطن

پرواز به وکړي د ققنوس غونډې له خپلو ايرو
خيردی اخيستی که له خپلو بنو اور دی وطن

ور به يې نکړم يوه لوېشت ځمکه په باغ د عدن
که سوی لوی دی، که وران، که سپېره سپور دی وطن

څوک يې کوهي ته غورځوي څوک د وحشت زندان ته
لکه يوسف د خپل او بل په تهمت تور دی وطن

وچ کړنګونه يې له تاندې موملايی نه ډک دي
چېرته يئ؟ راشئ پرهرژليو! چې تکور دی وطن

احسان الله درمل

*****

خوله پرانيزه ستا د خاموشی له شوره مړ نشم
مه راګوره مه راګوره داسې ګوره مړ نشم

تورو بلا سترګو ته دې مخامخ ولاړ يمه
سترګې په ما تورې شوې د سترګو توره مړ نشم

پروت دې يم تر پښو لاندې د عشق د سره انکار په څير
لاس چې رانه وانخلې د حسن اوره مړ نشم

*****

رندي مې جبر که اختيار دی ملا؟!
د خدای په کار کې دې هم کار دی ملا!

ته د مینا قُل قُل ته غوږ شه ساقي!
پرېبږده لګیا دې وي وزګار دی ملا

سترګې کړه پټې کفن کش کړه پر سر
جهان چې ستا په خوله غبار دی ملا!

په میکده کې هم پردی حق؟ توبه
ګوټ په شمار بویه، جام په وار دی ملا!

په مړه خراغ پسې ړانده روان دي
د عام بهیر کاروان سالار دی ملا

وینه روانه، مینه کنګل غواړې
دا نو انصاف شو؟ د خدای پار دی ملا!

سر نه دی، درد او عشق چې نه پېژني
تاو له دبرې نه دستار دی ملا!

جدي خبره د درمل مه اخله
مست دی، شاعر دی، ګنهګار دی، ملا!

*****

څه پښتون؟ څه یې غیرت؟ څه یې ننګونه؟
خو خپل غولې ته راوړې پردي جنګونه

د وطن د مور تیکری یې دی بایللی
خو ګټي پردی چلتار، پردي لنګونه

په یوه خوله دي روان په سلو لارو
په یوه لار سل خپلونه، سل رنګونه

د نيکونو تورې ساتي ځلبلاندې
او فکرونو يې نيولي دي زنګونه

غبرګوي د خپل دښمن د خولې خبره
ډېرمغزي لکه خپل وچ ګړنګونه

له خپل وروره سترګې باسي چې پاچا شي
ښخ يې زړو کې د وريندارو پالنګونه

په کونجکو، په ګوجيو پسې غواړي
د تاريخ د خړ سيلاو پاتې منګونه

د قبرونو په کيندو يې لاس تناکې
په متونو يې ببلچې او کولنګونه

په خپل ښنګ کې سيورى نه پرېږدي د مينې
خو توپکو يې خوړلي دي ښنګونه

د تربور د بورې مور سوې ناري يې
د نغمو غوندې په زړو وهي چنګونه

څه فايده؟ که شي لښکر، لښکر سرونه
پاتې ډېر دي پرې د تورو قلنګونه

*****

هره ورځ يو غر نړېدلى وي يو دنګ مړ وي
داسې سهار به دلته را نه شي چې جنګ مړ وي؟

د زمانې د ستم طرز دى دو چندان ستم
بلبل يې سوى وي، په کنګل يې پتنګ مړ وي

روزي رسان دی رب، خير وي دې درمندونه تش
لرې هغه ساعت لرې چې غنمرنګ مړ وي

ستا په اوربل پسې به زړه د کشمالي وي چاود
ستا په سينه پسې به واورې چې لونګ مړ وي

د بورو، کونډو تيکري نه کړئ پرې جنډې عار دی
چې په پردي چلتار ژوندی، په پردي لنګ مړ وي

له سکندر سره مې بويه چې مړستون يو شي
های دومره بخت چې ستا کوڅه کې ستا ملنګ مړ وي؟

خوره حلوا دې د ملا په پاتا وېشه شي
خوند کا مين چې د بنګړي غوندې په شرنګ مړ وي

چې شي يې حشر له منصور او له فرهاد سره
درمل چې مړ وي عشقه کاش چې ستا په ننګ مړ وي

**د «ډيوې، ډيوې ماښام» مسؤلينو او چلونکو ته خووږاندېزونه:**

ــ ډېر مثبت پروګرام مو پيل کړی دی، وېغځوئ،

ــ د هنري ادبياتو د نورو برخو تخليقونکي (هنري نثر) هم ياد او ونازوئ،

ــ د ښېړونکو او ښونکو يادونه هم مه هېروئ،

ــ د ډيوو په بلولو کې يوه يا دوې ورځې وقفه راولئ، ځينې کسان به يې دومره ژر تعقيب نه شي کړای،

ـ هرچا ته چې ډيوې بلوئ، که يې لنډه بیوګرافي هم خپره کړئ، ښه به وي؛

ـ تاسو خپل ټول خپرېدونکي مواد په منظم ډول خوندي کړئ چې وروسته د کتابونو په بڼه خپاره شي؛

ـ د «ډيوې، ډيوې مابښام» ډيوې دې د ټول افغانستان د شاعران لهپاره بلې شي او په يوې سيمې پورې دې و نهتړل شي؛

ـ له شک پرته د شعر هنر او شاعرانو په تشويق کې به ستاسو اوسنۍ هلېځلې يو ځای ونيسي او د شاعرۍ بازار به نور هم تود شي؛ داسې نه شي چې ټول نوی نسل شاعرۍ ته مخه کړي او شاعرستان ورنه جوړ شي. نو که تاسو د علم او هنرونو د نورو برخو له پاره هم تشويقي ـ تبليغاتي او عملي کار پيل کړئ، بده به نه وي ځکه چې ټولنه او خلک د شاعرانو ترڅنګ ډاکترانو، انجنيرانو، ښوونکو او د پوهې ـ فرهنګ د نورو برخو تحصيل کړو او متخصصينو ته هم اړتيا لري.

په پای کې د دې مقالې د ښه اختتام په نيت، به د کاروان هغه غزل راواخلم چې د «ډيوې، ډيوې مابښام» لهپاره يې ليکلی دی:

## غزل

ډيوې ـ ډيوې مابښام دی، کۀ مابښام ډيوې ـ ډيوې
سپوږمۍ ناسته د پورې غرۀ پر بام ډيوې ـ ډيوې

پۀ دې وطن بۀ چرته راځي راج د ترووږمۍ
اغلي او ښاغلي مې د قام ډيوې ـ ډيوې

دا نن دې روښوي ياران لهٔ ستورو سره شپه
سبا به وني ګوري د بادام ډيوې - ډيوې

دا ژني او دا پيغلې روهيلى د روهستان
کابل ډيوې - ډيوې دى او باګرام ډيوې - ډيوې

دې ستورې ماشومان ورته لهٔ نازه پهٔ نڅا
بهير د غزلبولو ګام پهٔ ګام ډيوې - ډيوې

رندان مو د عرفان د ميکدې د نور شراب
د زړونو پهٔ تاخونو کې بړدي جام ډيوې - ډيوې

ډيوې - ډيوې ماښام کې لهٔ هميم سره شه مل
کاروانه ترې نه وابهٔ خلې الهام ډيوې - ډيوې

پيرمحمد کاروان



## «بوډی ټال»

## د لنډیو نوې ټولګه
## او
## محمدالله همیم




پر لنډیو باندې زما د کار له پیل نه، زما د کار یوه برخه د لنډیو د چاپ شوو او خپرو شوو ټولګو پیدا کول او درنو لوستونکو ته د هغو ټولګو په باب معلومات وړاندې کول وو، ما د خپل کار په ترڅ کې د لنډیو یوشمېر ټولګې درنولوستونکو ته وروپېژندلې وې چې دلته یې له بیاځلي راوړلو نه تېرېږم.

او دا لړلۍ اوس هم روانه ده، څو ورځې مخکې مې د چشمهٔ شبنم، (له موزونې دري ژباړې سره، د لنډيو نوې ټولګه) ټولګه په مفصل ډول معرفي کړه او دا دی اوس د «بوډۍ ټال» ټولګه او د دې ټولګې د راټولونکي محمدالله همیم په باب معلومات وړاندې کوم.

ما باید د کار په پیل کې د «بوډۍ ټال» د ټولګې راټولونکی، ښاغلی محمدالله همیم معرفي کړی وای، خو تر ډېر لټون وروسته هم و نه توانېدم چې بیوګرافي یې پیدا کړم، له ده نه مې هم د نورو پوښتنو او غوښتنو په ترڅ، د ده بیوګرافي غوښتې وه، خو د ده په رالیږلي ځواب کې د بیوګرافۍ په باب څه نه و. د دې مقالې د لیکلو لپاره مې ښاغلي همیم ته داسې لیکلي وو:

همیم صاحب سلامونه!

له پخوانۍ وعدې سره سم غواړم ستاسو له خوا د راټولو شوو لنډیو ټولګې (بوډۍ ټال) باندې یوه مقاله ولیکم. د مقالې د لیکلو له پاره ستاسو مرستې ته اړتیا لرم، هیله کوم د دغو موادو په رالېږلو کې مرسته وکړئ:

ــ د محمدالله همیم لنډه بیوګرافي،

ــ د کتاب پېژندنه، یو عکس ورنه واخله او راووېلېږه،

ــ کتاب کې څو مقدمې دي که د هغو ورد بڼه راولېږې ښه به وي، که نه هغه هم د عکس په بڼه راولېږه،

ــ کتاب کې په څه شمېر لنډۍ راټولې شوې دي، څومره یې نوې دي او څومره به یې تکراري وي؟

ـ په کتاب کې د راوړل شوو لنډيو راټولولو څومره وخت ونيو او د راټولولو او ثبتولو طريقه څه ډول وه؟

ـ د کتاب له متن څخه څو لنډۍ د بېلګې په ډول راوليږم، که مو د ورد په بڼه نه شواى رالېږلی، کېداى شي د څو مخونو عکسونه واخلئ او راوېلېږئ.

**له مرستې نه مو همدا اوس مننه!**

آصف بهاند

زما د پاسنيو پوښتنو په ځواب کې ښاغلي هميم د يوه غږيز پيام په ترڅ کې داسې معلومات راکړل:«

ـ «په «بودۍ ټال» ټولګه کې دوه زره لنډۍ راټولې شوې دي،

ـ يوزرو پنځه سوه (۱۵۰۰) لنډۍ پخوانۍ کلاسيکې لنډۍ دي، نوې لنډۍ په ټولګه کې کمې دي،

ـ د دې ټولګې د لنډيو راټولول له دريو تر څلورو کلونو وخت ونيوه،

په اول کې مې د لنډيو د ټولګې فکر نه و کړی، هسې مې د خپل ذوق له مخې راټولولې،

ـ ځينې لنډۍ مې له پخوانيو سندرو نه راليکلې دي، ځينې مې له سپينسرو ښځو نه اورېدلې او بيا مې ليکلې دي، ډېره لږه برخه مې له فيسبوک څخه هم راليکلې دي او ځينې مې له پخوانيو کتابونو نه راليکلې دي.»

خو تر یو څه خبرو اترو وروسته یې د «بودۍ ټال» بشپړ متن په پې ډي اف بڼه راته راولېږه چې همدلته د زړه له تل نه مننه ورنه کوم.

همیم د لنډیو د دې ټولګې (بوډۍ ټال) د راټولولو لپاره د لنډیو د خیر کچکول په غاړه په ډېرو کلو، کوڅو ، کورونو، دېرو، مجلسونو کې د ډېرو سپینسرو ښځو او سپینږیرو خولو ته ناست دی او په ډېر ادب یې د لنډیو د راپیداکولو خیر غوښتی دی تر څو یې دا څه د پاسه دوه زره لنډۍ را پیدا او په دې ټولګه کې یې تاسو درنو لوستونکو ته د یوې ډالۍ په ډول وړاندې کړې دي.

د ښاغلي محمدالله همیم له خوا د راټولو شوو لنډیو (بوډۍ ټال) لنډه پېژندنه داسې ده:

د کتاب نوم: بوډۍ ټال،

راټولونه او کمپوز: محمدالله همیم ۰۷۶۵۱۷۷۰۸۳،

پښتۍ ډیزاین: محمدالله مسعود/خالد یاسین،

خپرندوی: ذهنیت جوړونه خپرندویه ټولنه،

چاپ وار: لومړی،

چاپ شمېر: یو زر ټوکه ۱۰۰۰،

چاپ کال: ۲۰۲۲ز.




محمدالله همیم د راټولو کړو لنډیو دا ټولگه (بوډۍ تال) خپل یو دوست په

دې ډول اهدأ کړې ده:

«د کتاب اهدا: ځوانیمرگ ثناءالله همدرد ته!

همدرد صاحب د لنډیو لیونی عاشق و، هغه د لنډیو په روح پوی سړی و، د لنډیو د ویلو ځانگړی انداز یې لاره، خدای دې ورته هغه دونیا ښکلې کړي، خدای وکه چې زما دا وړه ډالۍ یې ارواح خوشحاله کړي.»

د «بوډۍ تال» ترچاپ وروسته، د ښاغلي محمدالله همیم ځینو فرهنگي دوستانو، د لنډیو د دې ټولگې د چاپ او خپرېدو په مناسبت د مبارکۍ او خوښۍ مراتب څرگند کړي دي چې ځینې بېلگې یې دلته رااخلم:

احمدالله فطرت:

«ښه شوه، د پښتو د شفاهي ادب یو کنډو بیا را ونیول شو.
له ملګري محمدالله همیم صاحب څخه زښته زیاته مننه چې د
شفاهي ادب خواره واره ګلونه یې ګیډۍ کړل.
فطرت»

روح الامین وصیل:

«ښــنګه نرۍ خندا دې وکړه
ښنګه په ډک زړه مې در وژړل مینه
بوډۍټال
د بوډۍ ټال سره د نویو ټپو په زمزمه کې وزنګېږ؟!!
نوی پښتو چاپ شوی کتاب چې د نوښتګر شاعر او لیکوال
محمدالله همیم د هڅو فیض او پایله ده؛ بوډۍ ټال چې همیم
صیب پکې دوه زرو کلاسیکو او نویو لنډیو ته چې په زړونو
کې لارې کوي ځای ورکړی او د چاپ تر مرحلې یې په خپلو
کاغذي ګوتو رسولی.
بوډۍ ټال چې د نویو او کلاسیکو لنډیو ټولګه ده، په خپله غیږ
او محتوا کې د ټولنې ډول ډول په زړهٔ پورې او شهکاره لنډۍ
لري.
کتاب ذهن جوړوي، که مو وس وي نو مه په تمه کېږئ، د
ټپو زمزمې سره مو د ژوند هره شیبه رنګینه کړئ...
مبااارک شه یااره»

د «بوډۍ ټال» په ټولګه کې دوې مقدمې راغلي دي چې یوه
د مدون او بله د ښاغلي محمد علیم بسمل په قلم لیکل شوې
ده. زه دواړه مقدمې څکه کت مټ دلته رااخلم چې په دواړو

مقدمو کې هم د محمدالله هميم او هم د «بوډۍ ټال» په باب د حساب وړ خبرې شوې دي:

د ښاغلي محمد عليم بسمل:

«بې پيغمبره معجزه
کۀ زه پوهېدلای چې ملګری محمدالله هميم له مانه د واټساپ شمېره په دې خاطر غواړي چې زه دهغه په کتاب سريزه وليکم او د واټساپ له لارې دا غوښتنه کوي ممکن پلمه مې ورته کړې وای . ځکه چې د ټپې حق ادا کول د هرچا کارنه دی . زه چې له ټپې نه څومره متاثر يم او پ ه کومه سترګه ورته ګورم زما له دې بيته يې معلومولای شئ :

بسمله پاک الله نازله کړې له آسمانه
ټپه دپښتنو بې پغمبره معجزه ده

ټپې ته پ ه معجزه ويلو کې مبالغه او مجاز نشته زه د ټپې پ ه اعجاز کې هيڅ شک نلرم . چې له هره اړخه ورته وګورې اعجاز دی فزيکي جوړښت يې اعجاز دی، معنوي اړخ يې اعجازدی، کومه شاعري چې پکې شوې هغه هم اعجازدی . ټپه دوه بنده ده لومړی بند يې نه ۹ او دويم بند يې ۳۱ سېلابه ده، دويم بند ل ه لومړي بنده څلور سېلابه زيات دی، خو بيايې هم وزن برابر دی ک ه پ ه دويم بند يو سيلاب هم زيات شې وزن يې پ ه سېلاب لاهو کيږي .

په ټپه کې چې کومه شاعري شوې هغه هم ل ه اعجازه کمه نه ده . په نورو ژبوکې دلارو او کوڅو شاعري ډېره د ټيټې سطحې شاعري ده . د ټپې پ ه صنف کې ډيره شاعري عوامو اوبې سوادو پښتنو کړې په ټپه کې هغو نجونو شاعري

کړې چې له کوره نه دي وتلي ، خوبياهم دعربو او عجمو افکار او خيالات پکي بيان شوي اوشاعرانه شويدي . ابو المعلی معری عرب فلسفي دی هغه وايي چې:

**ثلاثة ايام هی الدهر کله**
**وماهن الآن والامس والغد**
**ومالقمر الا واحدغير انه**
**يغيب وياتی بالضيا ء المجدد**

دا شعر ديوو فلسفي شعردی، په لومړي بيت کې چې څه وايي بالکل همداسې خبره پ ه يوه ټپه کې هم شته.

د دنيا درې شپې ورځې عمر
پرون راغلی نن دلې سبا به ځمه

حسن منتو وايي : ژوند يې دسپي راکړی، خو سوال او جواب به دسړي رانه کوي، داخبره مې دمنتو په حواله دوه ورځې مخکې واوريده، خوپ ه ټپه کې مې پ ه ماشومتوب کې اورېدلې وه :

عمر دسپي راباندې تېرشو
سوال او جواب به د سړي رانه کوينه

دټپې کنايات، تشبيهات استعارې ن ه پورې صنفونو کې شته اونه پ ه بل صنف کې دغسې خوند کوي

د نجلۍ مړاوې مړاوې سترګې
لکه ګلاب چې د درې نيمو ورځو وينه

مړاوي سترګې ل ه ګلاب سره ن ه بلکې د درې نيمو ورزو له ګلاب سره ډېر کاپره تشبي ده، نه به چا په بل صنف اوربدلې وي او نه به به دغه مضمون پ ه بل صنف داسې کيف وکړي .

په زړ ه کې مې وه چې پ ه ټپه باندې يوه په زړه پورې ليکنه وکړم، خو هميم ټولې لارې راباندې بندې کړې ويل يې چې دکتاب دچاپ ټول کارونه خلاص دي ستا ليکنې ته ايسار دی . دقسمت خبره وه پرون زه ويد ه پاتې شوی وم د مازيګر جمه رانه تېره وه ترجمه هم پاتې شوه، ځکه چې زه ترجمه د مازيګر له مانځه وروسته کوم . نن ماسپښين مې د ترجمې او دتفسير لپاره دمطالعې ضرو رت هم نه وه . داهم په زړه پورې اتفاق شو چې دتفسير دمطالعې پ ه وخت کې مې پ ه ټپې باندې ليکنه وکړه

طالب العلم محمد عليم بسمل»

(بوډۍ ټال، د لنډيو ټولګه، راټولونه او کمپوز: محمدالله هميم، خپرندوی: ذهنيت جوړونه خپرندوی ټولنه/کابل، چاپ کال: ۲۰۲۲ ز، ۳ ـ ۵ مخونه)

د مدون ښاغلي محمدالله هميم خبرې:

«خپلې خبرې

يو وخت مې د کور په شيانو کې يو زوړ او له کاره لوېدلی ځراغ وموند. راپورته مې که، يو رقم ښه احساس راکې غځونې وکړې. په دې زنګ وهلي ځراغ کې نوره خوبي نه وه خو يوازې د تېر وخت کيسه يې کوله. زما زړه سل نورې خبرې ورسره غوټه کړې مثلاً: دا به کومو خړو مېلو او

ورانو دېوالونو ته بل و. په دې ځراغ به څومره زاړه واړه را پنډ وو. تېل به یې ورته څه وړ راوړل. دا به څومره لاسونو لمس کړی وي. له تېرو بمباریو او جګړو چې د وطن هر رګ یې وسوځاوه دا خوړکی ځنګه روغ را وتلی. هغه څوک چې یو وخت یې ددې ځراغ رڼا ته تاریکۍ رڼا لیدې ډېر یې اوس مړه دي. ځراغ ژوندی دی خو له هر چا هېر دی.

نه پوهېږم دې ځراغ کې دا خبرې یوازې ما ولوستې، که نه تاسې هم دداسې شیانو په لیدو همداسې فکرونه اخلي؟ له همغې ورځې وروسته مې د زړو شیانو له لیدو سره عاطفي تړون شوی. او لیدو یې خوند اخلم. ډېر نور داسې شیان شته مثلاً:

پخواني خاورین لوښي، پخوانۍ کوزې، پخواني کمیسونه، پخواني عکسونه... یا تېر فلکلوریک نقلونه، ولسي کیسې، متلونه، په کلیوالي سیمو کې ځینې پخوانۍ قلعاوې، بُرجونه، منارونه یا غونډۍ... هر څه چې پخواني وي یوه تېره کیسه لري، یو تېر یاد دی. سړی پکې ښه شېبه ورک کېږي دداسې شیانو لیدب روح تېرو ته الوځوي، د انسان فطرت دداسې څه سره عاطفي تړون لري. پښتو لنډۍ هم پ ورته شیانو ته یو ورته نوم دی. چې زموږ د ارواګانو همزولې یادې شوي، زموږ د فلکلور یو ژوندی بیان دی. زموږ تېر ژوند د لنډیو په زانګو کې پروت دی. د لنډۍ په هر رګ کې د پښتنو وینه ګرځي. لکه پښتانه اصیلې او فطري دي. لنډۍ د تېرو شیانو سربېره زموږ د ټول تېر ژوند یو روڼ او ربښتینی انځور دی. زموږ نیکونو له جګړو، له لرغونو کیسو او نقلونو، د پښتنو د اصلیت او د ژوند له لوړو، زموږ له رواجونو او د پښتني

ميرو او دښتو څخه يې کلک لاسونه تاو کړي ورسره نوک او ورئ دي. د پښتنو هر قدم يې بيان کړی، زموږ احساسات يې پکښاوسي. پښتني ښځې د ژوند له جبر سره تر بل هرچا ډېرې مخ دي. په پښتنو د غره هومره درانه غمونه تيريږي. دوي د هر څه قيمت له نورو جلا پرې کړ. د ښځو د احساساتو په باره کې چې لنډئ څومره رښتيني غږېدلي حتی تاريخ يې وس نه لري. او د نړئ په شعر کې کمسارې دي. د لنډئ چې شاعر نه دی مالوم بس لنډئ « : پښتني ښځو هم پکې په خلاص زړه خپل بيان کړی. استاد شپون به ويل ماته زما ناموس ښکاري، لکه ويل شوې چې نه وي لکه زما د وطن په دښتو او که موږ له دې ځمکې محوه هم شو خو چې لنډئ ». ميرو چې شنې شوې وي وي موږ به بيا راټوکيږو، بيا به خپله پښتو پيدا کوو. زموږ پر مخونو به د زمانې دوړې ناستې وي د نورو په حواله کې به زموږ تصوير دروغجن پروت وي خو لنډئ به زموږ رښتينی مخ ښکاره کوي، زموږ اصلي پيژندګلوي به وي. موږ چې ترڅو لنډئ پالو نه ورکيږو خو چې د خدای ج په دې لوی نعمت شکر ونه وايو، د وخت په بړبوکيو او غبار کې لکه د مور لوپټه له لنډيو کلک لاسونه تاو نه کړو، رانه ورکيږي، موږ ورسره ورکيږو، موږ ورسره سپکيږو. زه په لنډيو مين يم، دا لنډئ مې دا څو کاله ټولولې. په ډېرو بنډارونو او محفلونو کې مې د لنډئ ياده په دې خاطر کړې چې ګواکې له چا به لنډئ واورم. که مېلمه هم راغلی له جوړ تازه وروسته مې ترې د لنډيو پوښتنه کړې، هر وخت مې هيله وي چې وايې ورم.

دې کتاب کې مې شاوخوا ۰۲۲۲ لنډۍ راټولې کړې. ځینې لنډۍ مې پخوانیو سندرو څخه اورېدلې، ځینې نورې مې زړو ښځو څخه زده کړې. ملګرو او دوستانو راته ویلې، ګڼې نورې مې له ټولنیزو شبکو را ټولې کړې. که وو، وو. که نه وو، نه به وو. خو لنډۍ دې نه مرې. موږ به په رښتیا هلې مرو چې خدای مه کړه لنډۍ رانه ومرې. موږ به ددې مقدس نوم ساتنه مسولیت اخلو، هر یو به خپله برخه کار ورته کوو، د زړه په وینو به یې پالو. هیله مې وه چې په پاڼو کې یې پټې کړم، رانه ورکې نه شي. نور یې هم ولولې. له خدای مننه دادی زما بل ارمان یې هم را پوره که، زړه مې تسکین شو. )بوډۍ ټال( چې ځینې یې شنه زرغونه بولي، څوک ورته )رنګین کمان( وایي، په انګلیسي کې RAIN BOW باله شي. په ماشومتوب کې مو ډېربوډۍ ټاله ته ځکه « : نقلونه اورېدلي وو، موږ چې واړه وو دا عقیده مو وه چې که سړی له شنې زرغ ونې «: دا مو هم ویل ». بوډۍ ټاله وایي چې بوډۍ پکې زانګي لاندې تېر شي؛ ښځه کیږي او که ښځه ترې لاندې تېره شي؛ سړی ترې زه ددې افسانو په اړه چې له حقیقته لرې دي نه غږېږم، زما موخه داده ». جوړېږي چې بوډۍ ټال یو کلیوالي او ولسي نوم دی. ولسي ادب ته باید همداسې یو نوم ټاکل شوي وای.

ددې کتاب په چاپ کې زما څو دوستان هېر مه شه. محمد علیم بسمل صاحب راته په کتاب لیکنه وکړه، زړه یې د مینې ځاله اوسه، نوم او ژوند یې برکتي. محمدالله مسعود راته د پښتنې رسم وکړ. خالد یاسین راته دو تنه ډیزاین کړه د دواړو احسان راباندې. د ذهنیت جوړونې خپرندویه ټولنې مسول ډاکټر منصور مجاب صاحب له مینې جوړ سړی دی. دا مې

دوهم اثر دی چې په موسکا یې د چاپ لپاره ومانه. زه ورته د ښه ژوند دُعا کوم.له تاسې غېږ.

مننه! ستاسې درک، شخصیت، احساس او وخت راته ارزښتمن او د قدر وړ دی. ماته ویاړ دی چې دا کتاب لولئ!

زه رخصتېږم؛ ورځې په دې ټال کې وزانګئ، که په یو بل بدل نه شئ؛ لږ تر لږه د یو بل احساس خو به درک کړئ.

محمدالله همیم
پکتیا/ ګردېز، لوړ پوړېزې ودانۍ
2022/1/16 یکشنبه»

(بودی ټال، د لنډیو ټولګه، راټولونه او کمپوز: محمدالله همیم، خپرندوی: ذهنیت جوړونه خپرندوی ټولنه/کابل، چاپ کال: ۲۰۲۲ ز، ۶ ـ ۸ مخونه)

محمدالله همیم د ځینو نورو فرهنګي کارونو ترڅنګ شاعري او ژباړې هم کړې دي. زه یې دلته د کلام دوې بېلګې رااخلم او یوه یې هم د ژباړې بېلګه د نمونې په ډول یادوم.

د ښاغلي محمدالله همیم شاعري کړېده او د کلام بېلګې یې په همدې نامه (محمدالله همیم) خپرې شوېدي، خو د ۲۰۲۳ کال د مارچ په شپاړسمه نېټه مې د ده په فیسبوکپاڼه کې ولوستل چې دی به په بل نامه (همیم نیهام) خپل شعرونه خپروي، د دې تصمیم په باب د ده په پاڼه کې دا متن خپور شوی دی:

«دې تصمیم لږ وخت ونیوه.

حتی کهٔ کالونه وخت يې هم اخيسته غوارم نور پهٔ شاعرانه کړی کې هميم نيهام شم. زهٔ بهٔ نوې شاعرۍ پهٔ نيهام وکړم، او زړه بهٔ هم واړوم.

دا د ډېرو مشرانو شاعرانو هيله وه چې شاعري مې پهٔ يو بدل نوم خپره شي، لهٔ ټولو مننه چې راته ويلې يې دي».

د ښاغلي هميم د کلام بېلګې په ګڼو ځايونو کې خپرې شوې دي، دا لاندې بېلګه يې ما له يوه ويډيو کلپ څخه راليکلې ده:

نيت مې دی ژوند ته د پای ټکی کېږدم
نيت مې دی لرې له خپل ځانه لاړ شم
په چاړه خپل رګونه غوڅ کړمه
نيت مې دی لرې له جهانه لاړ شم
فون کې مې ټولې شمارې ډيليټ کړم
تمام ليکونه بايد وسوځوم
او ټول عکسونه د هغې ډيليټ کړم
نيت مې دی ستا ټول پيغامونه پاک کړم
په پرفايل توره پرده راکش کړم
له ژوند سره مې حسابونه پاک کړم
خو له مرګ مخکې ميکدې ته ځمه
هلته بايد د ساقي پور ادا کړم
له هغې وروسته هديرې ته ځمه

د ښاغلي محمدالله هميم لاندې غزل مې د ده له فيسبوکپاڼې څخه راکاپي کړی دی:

## غزل

زما په زړهٔ څومره ډېر زور ګرځوي
چې هر غروب سترګو کې اور ګرځوي

تهٔ څومره ډېره وخت بدله کړې چې
لېچې خالي په زړهٔ کې شور ګرځوي

چا پښتانهٔ ته توپک ورکړو وې یې:
واخله بچیه دا بهٔ سپور ګرځوي

عقله پهٔ زړهٔ دا کیسه ومنه نو
لهٔ هغهٔ لوري بهٔ یې نور ګرځوي

همیمه یاره د عشق زر سترګې دي
اوس کومه سترګه له کوم لور ګرځوي

محمدالله همیم

د ښاغلي محمدالله همیم د ژباړې کومه بېلګه چې چاپ شوې هم ده، د «چه ګوارا ژوند، فکر، مبارزه» ترسرلیک لاندې یو کتاب دی. محمدالله همیم یو ملګري د ده د یاد کتاب په باب داسې لیکلي دي:

«محمدالله همیم د چه ګوارا ژوند، فکر، مبارزه په نوم ژباړه او راټولونه کړې، زه یې پر دې عمر حوارۍ ته درناوی کوم او په راتلونکې کې ورته د نورو بریاوو هیله کوم.
ریښتیا هم چه ګوارا یو داسې نړیوال مبارز شخصیت و، چې د ټولې نړۍ لپاره د مبارزې الګو ګرځېدلی دی.

د دریمې نړۍ او تر استبداد لاندې هېوادونو ټولو ځوانانو ته په کار ده، چې د ظلم پر وړاندې مبارزې لپاره د چه ګوارا شخصیت، فکر او مبارزه مطالعه او هضم کړي.
د نوموړي کتاب چاپ چارې روانې دي، کله هم چې چاپ شو له ملګرو او ځوانانو څخه مې هیله ده، چې د انساني مبارزې لپاره دا کتاب مطالعه کړي.

ملګري همیم ته مبارکي او لا بریاوې.
#انصاري»




زه ښاغلي محمدالله همیم ته د ده د ټولو فرهنګي بریاوو په پار مبارکي وړاندې کوم او هیله څرګندوم چې دی خپلو همداسې فرهنګي کارونه نورهم پسې غځوي څو وتوانیږي چې خپلو خلکو، وطن او ژبې ته نور خدمتونه هم وکړي.

*****

یو چېرې مې د لنډیو په باب دا ځو نوي توري ولوستل:

«لنډۍ، د پښتو ادب بېمثاله مرغلرې دي. لنډۍ، د مینې او عاشقۍ، خوارۀ جامونه دي، چې معشوقه یې، خپل یار ته ډالۍ کوي. لنډۍ د ګمنامو او بېنامو شاعرانو د زړونو څراغونه دي، چې د پښتو ادب ته نوی رنګ او نوی ترنګ ورکوي...

ژوند دې وي، مینه دې وي او پښتو لنډیو ناتمامه نغمه دې د مینو زړونو له سپین سمندره په څپو وي!»

# سرگردان برخلیک لرونکی شاعر صدیق ننگ



ثاني جنت کې اوسېدلم، خوزه نه پوهیدم
د یار مالت کې اوسېدلم خوزه نه پوهیدم

بې تاج و تخته شهریار وم، بې پروا گرزیدم
د عشق دولت کې اوسېدلم، خو زه نه پوهیدم

نه مې سزا د عمر قید، نه مې بیلتون پیژنده
ستا محبت کې اوسېدلم، خو زه نه پوهیدم

وړکی ماشوم وم چې به پلار سره جومات ته تلمه
د خدای رحمت کې اوسېدلم خوزه نه پوهیدم

د زړه سلګۍ مې خولې ته راغلې چې له تا بېلېدم
د مرګ ساعت کې اوسېدلم، خوزه نه پوهیدم

زړګې مې چور لکه کابل شو د پنجاب په فتوا
په غنیمت کې اوسېدلم خو زه نه پوهیدم

زه ئې په خیال کې د دیرو وم، هدیرو ته لاړم
چې کوم زیارت کې اوسېدلم خو زه نه پوهیدم

چې مې پیغور د یار د مینې افتخار ګڼلو
ښه په عزت کې اوسېدلم خوزه نه پوهیدم

دار مې په غاړه ګرزوه، په سجدو رو‌ږدی نه وم
تل بغاوت کې اوسېدلم خوزه نه پوهیدم

ما وې دوزخ به وي همدا چې عذابونه دي ډېر
ننګ په هجرت کې اوسېدلم خوزه نه پوهیدم

(صدیق ننګ)

محمدصدیق ننګ د افغانستان په معاصر فرهنګي بهیر کې یو مطرح قلموال او ویناوال دی. د ده له خبرو، چلن، شعرونو او لیکنو نه په ښکاره معلومېږي چې دی پر وطن او خلکو باندې مین شاعر او د یو کاریزماتیک شخصیت لرونکی دی، محمدصدیق ننګ د ملي کرکتر خاوند هغه قلموال دی چې تل د خلکو او وطن د ګټو او پرمختګ په واټ باندې په مېړانې سره روان دی. د ده د ژوند او فعالیتونو پر بېلابېلو برخو باندې به زه لنډه رڼا واچوم، خو لومړی یې بیوګرافي:

## د صدیق ننګ پېژندنه:

ما د محمدصدیق ننګ بیوګرافي په میډیا کې پیدا نه کړه، په امتحاني بنه مې چت جي‌پي‌ټي وپوښته، خو لومړني معلومات يې ناسم وو او له محمدآصف ننګ او صدیق افغان سره يې مغالطه کړی و او د هغوی په باب يې معلومات راته ولیکه. ما بیا بېرته ورته ولیکل چې:

ستاسو معلومات ناسم دی، زما هدف شاعر صدیق ننګ دی. بیا يې دا معلومات ولیکه:

«صدیق ننګ د افغانستان یو شاعر دی چې د خپل نوښتګر او ژورې شعرونو له امله شهرت لري. هغه په خپلو اشعارو کې د افغان ټولنې ستونزې، د جګړې اغېزې، او د مینې او سولې په اړه خپل احساسات بیانوي.

په افغانستان کې شاعري د یوې ژورې فرهنګي ارزښت لرونکې ده، او صدیق ننګ هم په دې فرهنګي میراث کې یو ځانګړی ځای لري. د هغه شعرونه نه یوازې د افغانانو ترمنځ محبوبیت لري، بلکې په نړیواله کچه هم د ادب مینه‌وال يې ستاینه کوي.

صدیق ننګ په خپلو اشعارو کې د خلکو دردونه، غمونه او امیدونه بیانوي او د هغه اشعار د افغانانو د ژوند مختلف اړخونه رانغاړي. د هغه اشعار په ساده او روانه ژبه لیکل شوي دي چې د هر عمر او پوړ خلکو ته د پوهاوي وړ دي.

د محمدصدیق ننګ د شعرونو د لا زیات معلوماتو لپاره تاسو کولای شئ د هغه شعرونه او د افغان شاعرانو په اړه منابع وګورئ»

زه د محمدصدیق ننګ د بیوګرافۍ په باب پر دې معلوماتو قانع نه شوم، نومې د ۲۰۲۴ ام کال د جولای پر څلورمه له صدیق ننګ سره د وتساپ پرمټ یوساعت او دېرش دقیقې خبرې وکړې او هغه پوښتنې چې تر همدې نېټې پورې د ده د زدکړو، رسمي کارونو او فرهنګي فعالیتونو په باب له ماسره پیدا شوې وې، ما ورسره مطرح کړې او په ډېره دوستانه فضا کې یې ما ته ځواوبونه راکړل. د همدې معلوماتو له مخې یې ما دا لاندې لنډه پېژندنه برابره کړې ده:

د محمدصدیق ننګ لنډه پېژندنه:

نوم او تخلص: محمد صدیق ننګ،

د پلارنوم: حاجي محمد اسحق خان ساپي،

زوکړه: ۱۳۳۴ ل ل جوزا میاشت، لغمان ولایت مهترلام ښار پورې اړوند د عمرزیو سیمه (ادوخیلو) کلي،

زدکړې: د مهترلام ښار د روښان لیسې له دولسم ټولګی څخه په ۱۳۵۳ هـ ل فارغ شو،

په ۱۳۵۶ ل ل کې یې د ننګرهار د ښوونکو روزنې عالي مؤسسه په بریالیتوب پایته ورسوله،

د ۱۳۵۷ هـ ل کال د حوت په شلمه د څرخي پله لويې کلا ته ورميله کړای شو، دا ميلمستيا د ۱۳۵۸ کال د جدي ترشپږمې پورې وغځېده،

یووخت په افغانستان کې حالات داسې راغلل چې ځينې ملکي فرهنگي چارو کې بوخت کسان د يوې اړتيا له مخې نظامي کارونه ته ولېږل شول او هلته په کارونو وگمارل شول. صديق ننگ هم د همدې اړتيا له مخې نظامي زدکړو ته مخه کړه. لومړی يې په حربي پوهنتون کې نظامي زدکړې پيل کړې، په سامع ډول يې د حربي پوهنتون اوه پنځوسمه دوره پايته ورسوله او په اعلی درجه يې د ياد پوهنتون له سياسي پوهنځي څخه د فراغت سند ترلاسه کړ. له حربي پوهنتون نه مخکې يې د يوې لنډې مودې (شپږمياشتنی کورس) لهپاره د اوکراين د لفوف عالي سياسي نظامي پوهنتون ته هم سر ورښکاره کړی و.

دندې: د کابل په چهاراسياب ليسه کې او د قلعه کاشف په منځني ښوونځي کې د ښوونکي په توگه او د يوڅه مودې لهپاره د د قلعه کاشف په منځني ښوونځي کې د سرښونکي په توگه هم دنده ترسره کړې ده.
په نظامي برخو کې يې دا دندې ترسره کړې دي:

ــ د ملي گارد د ارگ د لوا د افسر په توگه،

ــ د کابل په بالاحصار کې د خاص گارد د قوا د افسر په توگه،

ــ د ۱۰۱ ساتونکي غونډ د افسر په توگه.

وروستۍ دنده يې په اريانا افغان هوايي شرکت کې ماموريت و چې د توپکي رژيم تر راتگ پورې په همدې دنده کې پاتې شو.

پر افغانستان باندې د ټوپکيانو له حاکمېدو سره سم، حالات خراب شول، لکه د نورو روڼاندو په څېر صديق ننگ هم د وطن پرېښودو ته اړ شو، په ۱۹۹۲ م ماسکو ته لاړ او د ۱۹۹۶ ام کال په دسمبر کې له ماسکو څخه د اروپا په لوري وخوځېد. او دا دی کلونه کېږي چې د اروپا په ډنمارک هېواد کې ژوند کوي.

## فرهنگي فعاليت:

محمدصديق ننگ له تاندې ځوانۍ څخه قلم چلول پيل کړي دي. شاعري يې کړې ده او تر نن پورې هم د شعر تخليق ته لگيا دی. د شاعرۍ ترڅنگ يې د پاملرنې وړ ټولنيزې او سياسي ليکنې هم کړې دي.

محمدصديق ننگ له اوږدې مودې راپه دېخوا په ډنمارک هېواد کې ژوند کوي، په فرهنگي چاروه کې ښه فعال دی او د د پانوس پتنگان (سويدن ـ دنمارک ادبي هنري کاروان) په چوکاټ کې فعاليت لري، په فرهنگي محافلو کې د پاملرنې وړ او فعاله رول لري.

د ننگ صاحب کوم مستقل اثر تراوسه نه دی چاپ شوی، خو د ملنگ جان د ژوند او شاعرۍ په باب يې يو څېړنيز اثر او څو شعري ټولگې د چاپ لهپاره چمتو دي.

## ښوونکی صدیق ننگ:

د محمدصديق ننگ اصلي او لومړنی مسلک معلمي و، ده د خپل مسلک په دايره کې د وطن اولاد په روزلو کې په عملي ډول برخه اخيستې ده او په عملي ډول يې د خپل علمي ـ فرهنگي ژوند په اوږدو کې د ښوونکي مقدسه دنده هم پر مخ وړې ده.

ښاغلی محمدصديق ننگ په کابل ولايت پورې اړوند د چهاراسياب په ليسه کې او د قلعه کاشف د منځني ښوونځي د ښوونکي او سرښونکي په توگه دنده ترسره کړې ده او په دې ډول يې د افغانستان د نوي نسل په روزلو کې خپله ونډه په صداقت سره اجرا کړې ده، خو له بده شامته چې ده د خپل مسلک په حريم کې څه د پاسه يوکال تېر کړ او له خپلې اصلي دندې لرې او بل کار ته وگمارل شو.

محمدصديق ننگ يوځل هڅه کړې وه چې د خپلو زدکړو د بشپړلو لپاره د کابل‌پوهنتون په ادبياتو پوهنځي کې پيل کړي، خو د حالاتو او زمان غوښتنه بل ډول وه. که دی په خپل مسلک کې پاتې وای او خپلې زدکړې يې هم په خپل مسلک کې بشپړې کړې وای، ښايي د ده د فرهنگي او تخليقي برخليک لوری هم بل ډول وای، لا غني او لامسلکي وای.

## په نظامي چارو کې بوخت صدیق ننگ:

تر نظامي زدکړو وروسته يې، په نظامي برخو کې دا لاندې دندې ترسره کړې دي:

ـ د ملي گارد د ارگ د لوا د افسر په توگه،

ــ د کابل په بالاحصار کې د خاص گارد د قوا د افسر په توگه،

ــ د ۱۰۱ ساتونکي غونډ د افسر په توگه.

کله داسې هم شوي چې ښېرته يې ملکي ماموريت ته هم مخه کړې او بيا يې په اريانا افغان هوايي شرکت کې دنده پيل کړه او د توپکيانو تر راتگ پورې په همدې دنده کې پاتې شو.

## ليکوال او شاعر صديق ننگ:

محمدصديق ننگ ډېری فرهنگيان د يوه ځانگړي سبک لرونکي شاعر په ډول پېژني. زما له نظره د صديق ننگ د شاعرۍ د پاملرنې وړ او د حساب وړ برخه د مهاجرت چاپېريال، په ځانگړي ډول ډنمارک کې تخليق شوې ده.

په افغانستان کې دننه يې شعرونه او ليکنې د هغه وخت په مجلو او اخبارونو کې چاپ او خپاره شوي دي چې په ځانگړي ډول د دغو خپرونو نومونه يادولای شو:

ــ هيواد (ورځپاڼه)،

ــ انيس (ورځپاڼه)،

ــ حقيقت سرباز (ورځپاڼه)،

ــ اردو (مجله)،

ــ هيله (مجله).

د ننګ صاحب کوم مستقل اثر تراوسه نه دی چاپ شوی، خو د ملنګ جان د ژوند او شاعرۍ په باب یو څېړنیز اثر او ځو شعري ټولګې یې د چاپ لهپاره چمتو دي.

**د صدیق ننګ شعرونه سندرغاړو هم زمزمه کړي دي:**

د ننګ صاحب شعرونه کله ـ کله د افغان مشهورو سندرغاړو په خوږو غږونو کې زمزمه شوي دي چې دا درې ښاغلي په کې د یادوني وړ دي:

ـ بریالی صمدي،
https://www.facebook.com/iamhewad/videos/262424917976178/

ـ هارون باچا،
**https://www.facebook.com/share/p/fwaKzgh85a8uupwP/**

ـ ګلزارعالم.
https://www.youtube.com/watch?v=8YA3AOWvqSs

هغه غزله یې چې هارون پاچا په خواږه غږ کې زمزمه شوې ده، د شعر متن یې دا دی:

## ژوند

ته لکه اوریې، دې وې نه، زه د هواغوندې یم
ښه نو اوبه یې، دې وې نه، زه لکه سا غوندې یم

د سپوږمۍ خور يې، که زهره يا ثريا يې ګلې
تر ټولو بره یم، زه ستر‌ګه د سبا غوندې یم

زه چې آينه کې کله ګورم يو آواز اورمه
ښکلا په غوږ کې راته وايي چې زه تا غوندې يم

ته رومانۍ شه زه به خوله په سپينه ورځ درکړمه
کووم خبره تکه سپينه، زه ريښتيا غوندې يم

د «ديجيتال» د عصر مينه لېونتوب نه مني
نه «ننګ» مجنون غواړم، نه زه لکه ليلا غوندې يم

دغه راز د ننګ صاحب شعرونه په «نارنج ګل» او «سمسور» ویبپاڼو کې هم خپاره شوي دي.
صدیق ننګ له اوږدې مودې راپه دېخوا په ډنمارک هېواد کې ژوند کوي، په فرهنګي چارو کې ښه فعال دی او د د پانوس پتنګان (سویدن ـ دنمارک ادبي هنري کاروان) په چوکاټ کې فعالیت لري، په فرهنګي محافلو کې د پاملرنې وړ او فعاله رول لري.

دا هم د صدیق ننګ د شعرونو څو بېلګې:

## غزل

په زړه مې اوري بيا د ګل او ګلغټو ښکلا
ياني چې ستا د ښکلي مخ او اننګو ښکلا

په يو نظر چې د يو بل د زړه تر تله رسي
مينان پېژني د غلا د اشارو ښکلا

چې د جفا اورونه مړه شي محبت را شین شي
خدایه نازله کړې په موږه په شپېو ښکلا

له لوړو غرو راځي سیندونه او ښکلا وېشي
د سپینو واورو نه جوړیږي د څپو ښکلا

چنار چینه ګوره ګودر او مازیګر د کلي
ورته به څه وي د عدن د منظرو ښکلا

چې د ښکلا او عاطفې نمانځنه ډېره کوي
ربه ښه ډېره په نصیب کړې د هغو ښکلا

یورپ کې ډېره ښکلا شته خو یو ګودر نشته
چا ته تعریف کړم د پیغلوټو د منګو ښکلا

شیدې شکرې سره ګډې کړه او خوند واخله
همداسې بوله د پارسي او د پښتو ښکلا

ننګ یې په خیال د پنجه کشو خپله ژبه چیچم
له تناره چې پورته وینم د لوګو ښکلا.

مى میاشت ۲۰۲٤ م کال ډنمارک

# غزل

اسمانه لوړ شه ځمکې ارته شه چې زړه مې تنګ دی
خیاله د لوړو غرونو سر ته شه چې زړه مې تنګ دی

د زړه بلبل ته مې په ډکه خوله خندا خو و کړه
پسرلنی غوټی ته ورته شه چې زړه مې تنګ دی

په کمکي زړه کې ځايوم د جانان لوی غمونه
د دنيا غمه لړ بهر ته شه چې زړه مې تنګ دی

چې يې په شور د ترنم ځرخ او خروار وناځي
مطربه جوړ ساز د لوګر ته شه چې زړه مې تنګ دی

بې له ټکی بې له برګی په تا کې نور څه نشته
بوډۍ دنيا مخ دې محشر ته شه چې زړه مې تنګ دی

د هوسونو په ډنډوکو کې صفا نشته ده
راشه د مينې سمندر ته شه چې زړه مې تنګ دی

شپو پسې شپې زغملی نشم ستا په روڼ اسمان کې
د لمر وطنه زياتي لمر ته شه چې زړه مې تنګ دی

عقل پنجرو د فلسفو کې رانه سا و باسي
جنونه زور مې مات وزر ته شه چې زړه مې تنګ دی

ګنج دې د فن ګوره افلاس سره آشنا چې نکړې
ابتذال پرېږده څه هنر ته شه چې زړه مې تنګ دی

چې په شمشاد قامت يې نشي دعوه ګير څوک پيدا
ننګه څه لار نيسه خيبر ته شه چې زړه مې تنګ دی.

اکتوبر ۲۰۰۵ م کال

# غزل

يو خيال و رانه بر ته او زه لاندې غورځېدم
د پښو لاندې مې غر ته او زه لاندې غورځېدم

منزل د ژوند په غاړه د کمره وم درولی
زه نه تلمه کمر ته او زه لاندې غورځېدم

د هيلو ښانګې ډکې د میوو وې لکه سترګې
خو لاس نه مې ثمر ته او زه لاندې غورځېدم

بېګا هسې مدهوش وم چې مې نشو تېنګولی
زه تلمه؟که ساغر ته او زه لاندې غورځېدم

زېږی مازيګری و او زه تږی د رڼا
دغرونو شا ته لمر ته او زه لاندې غورځېدم

وطن او یا کفن منصوري چغه ریښتیا وه
زمونږ د سلو سر ته او زه لاندې غورځېدم

تاريخ زلزلې وکړې قافلې شوې را په شا
تر ټولو مخکې خر ته او زه لاندې غورځېدم

توبه،توبه سیاست شو مسخره د خاص او عام
کاواکه چې رهبر ته او زه لاندې غورځېدم

والله ننګه شرمېږم نور په نسل د قابیل
چې نوم پرې د بشر ته او زه لاندې غورځېدم.

ننګ، لونګبي، ډنمارک

# د افغانستان په لوی‌قاموس کې د

## محمدصديق ننګ بيوګرافي

**افغان جرمن انلاين پورټال ژمنه کړې ده چې «د افغانستان لو ی قاموس» په پاڼو کې د هېواد ځينې خدمتګاران خپلولوستونکو ته وروپېژني .**

**«د افغانستان لوی قاموس» په خپله لمن کې د ګڼو علمي، هنري، ژبنيو (مجمع اللغات، تاريخ، جغراف يه، کرنه، اقتصاد او...) لغاتو د راټولولو او خوندي کولو سربېره، پټيلې ده چې د «شاعرانو، ليکوالو، هنرمندانو او خدمتګارانو» په کټګوری کې چې د اثارو، مقالو شعرونو او يا په نورو برخو کې د لاسته راوړنو څښتنان اوسي، په لنډ ډول معرفي او خپلو لوستونکو ته يې په انلاين بڼه وروپېژني**

**افغان جرمن انلاين پورټال خپله دنده ګڼي چې له توپير او شخصي حُب او بُغض پرته په ياده برخه کې هغه ښاغلي او اغلې معرفي کړي چې افغان، افغانستان او افغان ټولنې ته يې خدمت کړی وي.**

نوم او تخلص: محمد صديق ننګ،

د پلارنوم: حاجي محمد اسحق خان ساپي،

د پلارنوم: حاجي محمد اسحق خان ساپي،

زوکړه: ۱۳۳۴ ل ل جوزا میاشت، لغمان ولایت مهترلام ښار پورې اړوند د عمرزیو سیمه (ادوخیلو) کلي،

زدکړې: د مهترلام ښار د روښان لیسې له دولسم ټولګی څخه په ۱۳۵۳ هـ ل فارغ شو،

په ۱۳۵۶ ل ل کې یې د ننګرهار د ښوونکو روزنې عالي مؤسسه په بریالیتوب پایته ورسوله،

د ۱۳۵۷ هـ ل کال د حوت په شلمه د څرخي پله لویې کلا ته ورمیله کړای شو، دا میلمستیا د ۱۳۵۸ کال د جدي ترشپېږمې پورې وغځېده،

یووخت په افغانستان کې حالات داسې راغلل چې ځینې ملکي فرهنګي چارو کې بوخت کسان د یوې اړتیا له مخې نظامي کارونه ته ولیږل شول او هلته په کارونو وګمارل شول. صدیق ننګ هم د همدې اړتیا له مخې نظامي زدکړو ته مخه کړه. لومړی یې په حربي پوهنتون کې نظامي زدکړې پیل کړې، په سامع ډول یې د حربي پوهنتون اوه پنځوسمه دوره پایته ورسوله او په اعلی درجه یې د یاد پوهنتون له سیاسی پوهنځي څخه د فراغت سند ترلاسه کړ. له حربي پوهنتون نه مخکې یې د یوې لنډې مودې (شپږمیاشتنی کورس) لهپاره د اوکراین د لفوف عالي سیاسي نظامي پوهنتون ته هم سر ورښکاره کړی و.

دندې: د کابل په چهاراسیاب لیسه کې او د قلعه کاشف په منځني ښوونځي کې د ښوونکي په توګه او د یوڅه مودې

لهپاره د  د قلعه کاشف په منځني ښوونځي کې د سرښونکي په توګه هم دنده ترسره کړې ده.
په نظامي برخو کې يې دا دندې ترسره کړې دي:

ـ د ملي ګارد د ارګ د لوا د افسر په توګه،

ـ د کابل په بالاحصار کې د خاص ګارد د قوا د افسر په توګه،

ـ د ۱۰۱ ساتونکي غونډ د افسر په توګه.

وروستۍ دنده يې په اريانا افغان هوايي شرکت کې ماموريت و چې د توپکي رژيم تر راتګ پورې په همدې دنده کې پاتې شو.

پر افغانستان باندې د ټوپکيانو له حاکمېدو سره سم، حالات خراب شول، لکه د نورو روڼاندو په څېر صديق ننګ هم د وطن پرېښودو ته اړ شو، په ۱۹۹۲ م ماسکو ته لاړ او د ۱۹۹۶ ام کال په دسمبر کې له ماسکو څخه د اروپا په لوري وخوځېد. او دا دی کلونه کېږي چې د اروپا په ډنمارک هېواد کې ژوند کوي.

محمدصديق ننګ د افغانستان په معاصر فرهنګي بهير کې يو مطرح قلموال او ويناوال دی. د ده له خبرو، چلن، شعرونو او ليکنو نه په ښکاره معلومېږي چې دی پر وطن او خلکو باندې مين شاعر او د يو کاريزماتيک شخصيت لرونکی دی، محمدصديق ننګ د ملي کرکټر خاوند هغه قلموال دی چې تل د خلکو او وطن د ګټو او پرمختګ په واټ باندې په مېړانې سره روان دی.

# احمدولي اڅکزی او د پښتو ژبې ژوندي ساتلو هڅې

## (د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ)

## (۲۰۲۵)




ما د مورنۍ ژبې په خپلو تېرو لیکل شوو مقالو کې څوځلې دا خبرې تکرار کړې دي چې ژبه په غورو او لافو نه غني

کېږي او نه ژوندۍ پاتې کېدای شي، د دې له پاره چې مورنۍ ژبه ژوندۍ پاتې شي، باید علمي او عملي کار ورته وشي.

دا دی بیا د فبروري میاشت ده او بیا د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ ده، زه به د همدې ورځې په مناسبت د مورنۍ ژبې پښتو د ژوندۍ پاتې کېدو له پاره د یوه ریښتیني خدمتګار د ځینو هغو هڅو لنډه یادونه وکړم چې ده تر اوسه د خپلې مورنۍ ژبې پښتو له پاره کړې دي.

علمي څېړنو او تجربو ثابته کړې ده چې یوه ژبه هله ژوندۍ پاتې کېدای شي چې عملاً علمي شي، سیاسي شي، اقتصادي شي او ویونکي یې په مینه داسې کار ورته وکړي چې له نوې تکناوژۍ سره ګام پر ګام د پرمختګ او غني کېدو پر لوري د مزل جوګه شي.

اصلي او د کار خبره دا ده چې په نړۍ کې د تکنالوژۍ نوي بچیان هره ورځ دونیا ته راځي او په چټکۍ سره منډې وهي او د خپلو منډو په ترڅ کې د تکنالوژۍ کاروانه په ډېرې چټکۍ سره وړاندې او وړاندې پورې وهي، او بشریت د پرمختګ نویو پړانو ته ورننباسی؛ موږ که غواړو چې ژبه مو او د ژبې ویونکي مو ژوندي پاتې شي، نو موږ سره ښایي چې ځان د نوې نړۍ د پرمختګ سره مل کړو او هغه څه وکړو چې د تمدن له دې نوي کاروانه وروسته پاتې نه شو او دا کار هله شونی دی چې په ځانګړو برخو کې پښتانه ځانګړي تعلیمونه کړي وي، د موضوع په ارزښت پوه او د کار کولو لپاره تعلیمي وړتیا ولري.

احمدولي اڅکزی یو له هغو ځوانانو څخه دی چې تل يې کارونه له نوښت سره مل وو او دي. اوس ډېره هڅه کوي چې پښتو ژبه له نوې تکنالوژۍ سره اشنا، او مل کړي.

د احمدولي اڅکزي د علمي ــ فرهنګي کارونو په باب ما پخوا دغه مقالې خپرې کړې دي:

ــ احمد ولي اڅکزی او د کوچنیانو ادب،

ــ کوچنی ټکی کام د کوچنیانو ادبیاتو له پاره یوه بله پته،

ــ د احمد ولي اڅکزي کوچنی ټکی کام او د کوچنیانو له پاره دوه سوه نکلونه،

د انلاین قاموسونو پاچاګی، د کوچنیان دات کام ویبپاڼې چلونکی او په دې ویبپاڼه کې داسې مواد راټولونکی ــ انلاین کونکی او افغانانو ته وړاندې کونکی احمدولي اڅکزي د خپلو فرهنګي ــ علمي کارونو او تخلیقاتو په ترڅ کې، د نوي نسل په مدرنه روزنه کې خورا ارزښتمن رول لرلای دی.

او اوس غواړي داسې څه وکړي چې پښتو ژبه له نوې تکنالوژۍ سره داسې مل او ملګرې کړي چې د ژوندي پاتې‌کېدو له پاره يې بنسټيز کار بلل کېږي.

احمد ولي اڅکزی هغه ځوان او هڅاند افغان دی چې د پښتو ژبې د غني کېدو، علمي کېدو او ژوندۍ پاتې کېدو له پاره يې تر ټولو نور خلکو ډېر علمي او عملي کار کړی دی.

دا احمدولي اڅکزی و چې په مدرنه او علمي بڼه يې دا مسأله مطرح کړه چې پښتو ژبه به هله ژوندۍ پاتې شي او له نورو ژبو سره به سیاله شي چې د ډیجتلایزشن دایرې ته ورننوزي

او په دې برخه کې يې د نورو هغو کسانو له پاره يو لړ لاربښودې مقالې وليکلې چې د هغو مقالو د موادو په رڼا کې کولای شي د پښتو ژبې د ديجيټلايزين پروسه کې مرسته او عملي کار وکړي. د احمد ولي اخکزی د ځينو يادو مقالو سرليکونه او لينکونه دا دي:

لومړی مقاله:
ــ د پښتنو د تاريخ پرېکړنده مبارزه ولې نن ده،

دويمه مقاله:
ــ د پښتو ژبې د ليکدودي اتحاد څنګ رامنځته کېدای شي؟

دريمه مقاله:
ــ ژبې او ولسونه ولې بايد په ديټا کې خودکفا وي؟

څلورمه مقاله:
ــ د پښتو دېجيټلايز کول به کوم پړاونه ولري؟

پنځمه مقاله:
ــ د پښتو ژبې ژوند او نوې ټکنالوژي،

شپږمه مقاله:
ــ د «هممو‌قعيته لغتونو» د قاموس تشه،

اوومه مقاله:
ــ پښتو لاتين ليکدود، اړتيا که انتخاب؟

احمدولي اڅکزي د پښتو ژبې د ساتلو، پاللو او پرمختګ له پاره چې کوم کارونه کړي دي، په حقيقت کې يې د ټولو خلکو په تېره نوي نسل له پاره د څېړنو او علمي کار یونوی باب پرانستلی دی. د ده د وروستيو هڅو ډېره سلنه د مورنۍ ژبې د ژوندي پاتې کېدو، علمي کېدو او سیالېدو له‌پاره ترسره شوې دی چې پښتانه کوچنيان وکولای شي په هرځای کې په خپله مورنۍ ژبه زدکړې وکولای شي. په مورنۍ ژبه د زدکړو پر مهموالي باندې د فرانسې مشهور ليکوال ژان پل سارتر خپل نظر داسې څرګند کړی دی:

«... د ژان سارتر په اند پردۍ ژبه کې زدکړې کول داسې دي لکه په شګو او خټو کې آس ځغلول.
سارتر وايي، پردۍ ژبه تاسو په تنهايي کې هم ازاد فکر کولو ته نه پرېږدي، او تل به ستا د اظهار پر وړاندې خنډ پيښوي.

ژان پال سارتر د افريقايي ژبو په باب په خپله ليکنه کې وايي، چې دغه ولس د اوږدې غلامۍ له کبله د فرانسې ژبې ويلو ته اړ کړل شوی دی چې د دې له کبله دغه ولس پراخ بشري علمي استعدادونه بايللي دي.

دی ليکي، کله چې يو ولس په پردۍ ژبې زدکړې کوي نو د وخت له تېرېدو سره يې اندونه، چوړتونه، سوچونه او فکرونه د پردۍ ژبې په ټکيو کې داسې ورک شي لکه په شګو کې وینه. غلام ولس د اظهار ژبه وبايلي، د الفاظو چوکاټ يې دومره راتنګ شي چې په خپله ژبه کې د نثر ليکلو وړ پاتې نشي او بيا له مجبورۍ خپل اظهار په شاعرۍ کې کوي...»

د احمدولي او ده ته ورته نورو قلموالو برکت دی چې اوس پښتو ژبه د نړۍ د نورو ژبو په څنګ کې یوه ژوندۍ ژبه ده

او ځانته مقام او ځای لري. دا چې پښتو ژبه اوس د نړۍ د نورو ژبو په ډله کې ځويم مقام لري، د دې په باب هم احمدولي اڅکزي د هغه تقريض په ترڅ کې معلومات وړاندې کړي دي چې، ده د ښاغلي پروفيسر ډاکټر صاحب عبدالرؤف رفيقي پر يو اثر (درياب په کوزه کې) باندې ليکلی دی. د هغو معلوماتو يوه برخه دا ده:

«دمګړی په نړۍ کې ۷۱۱۷ ژبې ويل کيږي چې ورڅخه تقريبا ۴۰ فيصده يې هغه ژبې دي چې د ويونکو شمير يې تر ۱۰۰۰ کسانو کم دی [ايتنولوګ راپور ۲۰۲۱ عيسوي کال]. دا هغه ژبې دي چې د له منځه تلو د ګواښ سره مخامخ دي. له بل اړخه بيا له يادو تر ۷ زرو څخه زياتو ژونديو ژبو څخه صرف ۲۳ يې داسې دي چې د نړۍ تقريبا نيمه برخه انسانان ورباندې خبرې کوي. په دغو ۲۳ ژبو کې تر ټولو زيات ويونکي لاندنی څلور ژبې لري: (په شمول د هغو کسانو چې د خپلې مورنۍ يا لومړۍ ژبې تر څنګ په دغو ژبو هم خبري کوي)

انګريزي (۱۱۳۲مليون) لومړی مقام، مندارين/چينايي (۱۱۱۶مليون) دويم مقام، هندي (۶۱۵ مليون) دريم مقام او هسپانوي (۵۳۴ مليون) پر څلورم مقام.

که د نړۍ د تر ټولو زياتو ويونکو د شمير پر اساس د ژبو ليست جوړ کړو نو به پکښې له ګاونډيو ژبو څخه اردو (۲۳۰ مليون ويونکي) پر ۱۰ مقام، ختيځه او لوېديځه پنجابي (۱۱۲ مليون) پر ۱۳ مقام او فارسي (۷۴ مليون ويونکي) پر ۲۴ مقام وي. پښتو چې د ويونکو شمير يې تر ۶۰ مليونو څخه زيات اټکل کولای سو، په دې ترتيب تقريبا پر ۳۰مقام راځي. که يې حتی هغه تر ټولو محتاط او غير منطقي کم شمير يعني

۴۰ ملیونه ویونکي اټکل کړو نو بیا هم پښتو د نړۍ په لومړي ۵۰ سترو ژبو کې راځي.»

خو موږ باید په دې هم قانع او خوشحاله نه شو. موږ باید هڅه وکړو چې پښتو ژبه تل له نوې تکنالوژۍ سره مل شي او د نوي نسل روزلو ته داسې پام وکړو چې د خپلې ژبې د ژوندي ساتلو په پاره تل د علم او نوې تکنالوژۍ لمن ونیسي.

په اوسنۍ زمانه کې د پښتو ژبې د دیجیټلایزېشن کېدل یوه اړتیا ده. د دې اړتیا د پوره کېدو لهپاره اوس ډېر ښه شرایط برابر شوي دی او دا موږ ته یو طلايي چانس دی. احمدولي اڅکزی د پښتو ژبې د دیجیټلایزېشن کېدل د اړتیا په باب داسې ویلي دي:

«... د ولسونو په ژوند کې بعضې داسې مواقع او حالات راځي چې هغوی له آسمان څخه مځکې ته راپرځولي او یا هم له تاترین څخه آسمان ته پورته کولی شي. زه شخصا په دې نظر یم چې د ولس په توګه د پښتنو لپاره نن په یاد شان یوه ډېره مهمه موقع برابره شوې ده. هغه دا چې دغه ولس کولی شي چې د خپلو زیاتو ناخوالو او محرومیتونو باوجود، د نوې ټیکنالوژۍ په مټ خپل ځان ته پخپله یو روښان سباوون تضمین کړي.

دیجیټلایزېشن که د سیال کېدلو بهترین چانس؟
نوې ټینکالوژي او مصنوعي ځیرکتیا د نړۍ د نورو ټولو ځپل شوو او شاته پاته ولسونو تر څنګ د پښتنو لپاره هم یو ښه چانس دی چې ورته د علم، پوهې، تعلیم او معلوماتو او په دې توګه هر اړخیز واک، پرمختګ او ودې لاره هواره کړي.

که پښتانهٔ وتوانیږي چې پر سم وخت او په کافي اندازه د رضاکارانه مرستو له لارې پښتو ژبه ډیجیټل کړي، نو دا به یې د بهتر راتلونکي لپاره یوه تر ټولو مهمه پانګه اچونه وي. که دوی پر وخت دا کار وکړي نو به د نورو ژبو د زدکړې له لارې و پوهې او معلوماتو ته د لاسرسي پیدا کولو د اوږدې او لانجمنې لارې پر ځای به په لنډه او آسانه لاره او په خپله مورنۍ ژبه ټولو هغو معلوماتو او پوهې ته لاسرسی پیدا کړي لکه نور پرمختللي ولسونه چې یې لري.

د پښتو د دیجتلایزېشن نړیواله مرکه
د دې لپاره چې د پښتو ژبې د دیجیتلایزېشن د پروسې اړین او مهم ګامونه تشخیص، تنظیم او د لومړیتوب پر اساس په تدریجي توګه عملي شي، ورته د کارپوهانو یوه نړیواله مرکه جوړول پکار ده. په دغه مرکه کې باید هغه کسان سره راغونډ شي چې د دیجیتلایزېشن سره مربوطو او اړینو دسپلینونو کارپوهان او تجربه لرونکي وي. هغوی باید یوه داسې تګلاره جوړه کړي چې په مرسته یې د دیجیتلایزېشن پر لور حرکتونه همږغي او منسجم شي. په دې ترڅ کې باید چې د اړینو وړتیاوو یوه زېرمه تشکیل شي او د شته پروژو تر څنګ نوې پروژې طرحه او عملي شي.

د امریکا په متحده ایالاتو کې یو ځوان کمپوټر پوه فواد باچا هڅه روانه کړې ده چې پښتانه مور او پلار دې ته وهڅوي چې په خپلو اولادونو د سایبري امنیت تحصیلونه وکړي. په بریتانیا کې حنیف الرحمن خان صاحب، د امریکا په متحده ایالاتو کې فیروز محبوبي او همداسي د نړۍ په بیلو برخو کې نور پښتانهٔ ځوانان په مصنوعي ځیرکتیا کې د پښتو ژبې لپاره ځای پیدا کولو ته هلې ځلې کوي.

په‌کاره ده چې پر انټرنټ یو داسې پلټفارم جوړ کړل شي چې د دیجیټلایزېشن سره تړلو پروژو پر مخ بېوونکې پښتانه ځوانان پکښې راغونډې شي او په سلامشورې سره خپلې پروژې همغږه او د نورو کارپوهانو او رضاکارانو د جلب لپاره مشترکې هلې ځلې وکړي.

اوپن سورس تر ټولو غوره لاره ده
د نوې ټیکنالوژۍ لمنه ډېره پراخه ده او پکښې هره ژبه او هره لهجه خپل ځا پیدا کولی شي. له دې کبله پکښې پخوانیو، بې ثمره او سترې کوونکو بحثونو، بدنیتیو او لانجو ته اړتیا نشته چې کومه لهجه به لومړیتوب لري او که به یې نه لري. بلکه د عمل په دغه ډګر کې که هر څومره زیاتې لهجې هم په اړین مقدار او لا زیات معلوماتي مواد یا ډېټا وړاندې کړي، د ټیکنالوژۍ لمنه به ورته نه تنګیږي، بلکه ټولې به پکښې خپل خپل ځای مومي. په دې توګه به نو ځیرک مرستندویه پروګرامونه نه یوازې په ننګرهارۍ لهجه خبرې واورېدلی او وکولای شي، بلکه په کندهارۍ، وزیرۍ او نورو تولو لهجه به هم پوهیږي او هم به وربانددې خبرې کوي. البته شرط یې دا دی چې په کافي اندازه ډېټا به راغونډیږي.

په تاریکو او نمجنو الماریو، په کتابخانو، په اکاډمیو او یا قلف شوو بکسونو کې د نادره او نایابو کتابونو او په دې توګه د خزانو پټ ساتل پخوا و. اوس د اوپن سورس یا هغو زېرمو عصر او پېر دی چې هر څوک په وړیا او بېله قید او شرط څخه معلوماتو ته لاسرسی لري. د دې لپاره چې د کامن وایس، ګوګل ټرانسلېټر، اوپن اې آی او ورته اوسنیو او راتلوکو پروژو لپاره په اړینه اندازه پښتو متون، ږغونه، ژباړې او ورته ډېټا موجوده وي، پکار ده چې د کراوډ

سورسینګ یا رضاکارو کسانو د هم زمان ونډه اخیستنې له لارې اړینه ډېټا رامنځته کړله شي. هغه هم داسې چې هر څوک یې ډاونلوډ، استعمال او پراخه کړلی شي.

د پښتو ژبې او په دې توګه د پښتنو د ژوندي پاته کېدو او سیال کېدو او یا هم له منځه تلو لپاره اوسنی پېر د تیرو نورو ټولو تاریخونو په پرتله ډېر مهم او پرېکړنده دی. له دې کبله پکار ده چې سبا ته انتظار ونکړو بلکه نن لا سره راغونډ شو او د پښتو دیجیټلایزېشن ته منظم او مشترک کار پیل کړو.»

د مورنۍ ژبې د ژوندي ساتلو په برخه کې احمد ولي اڅکزي یوې بلې ډېر مهمې موضوع (باید چې د پردیو لپاره د دغې ژبې د زدکړې آسانتیاوې هم موجودې او په آسانه توګه د لاسرسي وړ وي) ته هم اشاره کړې ده چې تر اوسه پورې د ډېرو خلکو یا ورته پام نه و او یا یې پر ارزښت باندې نه پوهېدل. اڅکزی صاحب په ټینګار سره وایي چې د نورو ژبو د ویونکو له پاره باید داسې اسانتیاوې برابرې کړای شي چې هغوی په اسانۍ او مینې سره پښتو ژبه زده کړي.

احمدولي اڅکزي د ۲۰۲۳ ام کال د سپتمبر په ۲۵مه «د «هم موقعیته لغتونو» د قاموس تشه» ترسرلیک لاندې مقاله خپره کړه. د هغې مقالې په ترڅ کې د نورو ژبو د ویونکو لهپاره د پښتو ژبې د زدکړې پر اسانتیاو او مهموالي باندې داسې رڼا اچولې ده:

«د یوې ژبې د ژوندۍ پاته کېدو او ودې لپاره نه یوازې دا اړینه وي چې ورباندې یو یا زیات ولسونه خبرې، لیکنې، درس و تدریس او کار و ژوند وکړي، بلکه باید چې د پردیو لپاره د دغې ژبې د زدکړې آسانتیاوې هم موجودې او په آسانه

توګه د لاسرسي وړ وي. د پردۍ ژبې په توګه د پښتو ژبې د زدکړې د معياري موادو اړتيا د مثال په توګه راوړلای شو چې د دغې ژبې د ژوندۍ پاته کېدو او ودې لپاره ډېر مهم او اړين دي. خو د پښتو د زدکړې لپاره په دغه ساحه کې نه يوازې دا چې په کافي اندازه کار نه دی شوی، بلکه د دغه تشې د جديت او ممکنه عواقبو په هکله آن پوهاوی د نشت تر پولې کم دی...»

احمدولي اڅکزي د خپلو علمي ـ فرهنګي کارونو په لړ کې له ټول کار او خوشبينيو سره سره يوځل داسې اخطار هم صادر کې چې که سم علمي کار ونه‌شي او د علم او تکنالوژۍ له کاروان سره مل حرکت ونه شي، پښتو ورکه وګڼئ. دا يې د اخطار متن دی:

«پښتو سل په سل کې ورکه بوله...
که په اړينه چټکۍ د ديجيټلايزېشن د بهير سره يوځای نشوه. د ديجيټلايزېشن ډېر هغه انقلاب دی چې د نړۍ شکل به وربدل کړي. لکه څنګه چې په زرونو ژبې په تيرو زريزو کې له منځه تللي دي، همداسې به د ديجيټلايزېشن څخه ليرې پاته ژبې يو په بل پسې مړې او هېرې شي. که د کندهاريانو، ننګرهاريانو، پېښوريانو، کوټې والو او نورو پښتني سيمو اوسېدونکو همداسې پر وړو او بې معنا «اختلافاتو» د هر ډول يووالي مخه نيوله، پر ځای د دې چې د عصر اړتياو ته پام وکړي، نو پښتو هم په مړو کې حساب کړئ. بيا به کندهار، ننګرهار، پېښور، کوټه او نورې ټولې پښتنې سيمې د ګاونډيو يا د نړيوالو په ژبه يو د بل سره پستې پستې او خوږې خبرې کوي... اختلاف به نه وي، البته پښتو به هم نه وي.»

زه ښاغلی احمدولي اڅکزی د افغانستان لهپاره، د خپل نويځنسل لهپاره او د خپلې مورنۍ ژبې لهپاره یوداسې غنیمت عالم ګڼم چې په یوازې ځان سره یې د خپلې مورنۍ ژبې لهپاره داسې کارونه کړي دي چې په افغانستان کې د دې کارونو اصلي مراجعو او مسؤلو موسسو (د افغانستان د علومو اکاډیمۍ او ګڼو پوهنتونو) هم نه دي کړي.

ده ته د اوږده عمر ترڅنګ د ښې روغتیا هیله کوم، څو وکولای شي د بشریت، خپلو خلکو ـ وطن او خپلې مورنۍ ژبې پښتو له پاره نور خدمتونه او علمي کارونه هم ترسره کړي.

تېرکال مې چې د مورنۍ ژبې په باب کومه مقاله لیکلې او خپره کړې وه، د هغې مقالې د پای کرښې دلته بیا رااخلم:

مورنۍ ژبه یوه داسې ونه ده چې بېلابېلې څانګې او په زرګونو، لکونو او لا میلیونونه پاڼې یا لغتونه لري، دا ونه که اوبه نه شي، که ونه پالل شي، که شتمنه نه شي او له تکنالوژۍ سره اشنا او مل نه شي؛ نو څنګه هیله کولای شئ چې د دې ونې پاڼې به زېړې نه شي، وبه نه رژېږي او دا ونه به زړه او پوده نه شي.

# قیس کبیر

## د علمي ـ فرهنګي کار، زيار او وطندوستۍ

## یوه غوره بېلګه



قيس كبير د افغانستان په اوسني علمي فرهنګي بهير كې يو پېژندل شوى او مطرح شخصيت دى چې علمي ـ فرهنګي كارونه او لاسته راوړنې يې د اوسني وخت غوښتنو ـ پوښتنو ته ښه ځواب ويلى شي.

د افغانستان په اوسني علمي ـ فرهنگي بهير کې د قيس کبير ليکنې د دې لهپاره مهمې دي چې د ده ډيری ليکنې له نوې تکنالوژۍ سره د افغانانو اشنا کول دي او قيس کبير غواړي چې افغانان له نوې تکنالوژۍ او علمي مسايلو سره گام په گام وړاندې ولاړ شي.

## په بېلابېلو منابعو کې د انجنير قيس کبير په باب معلومات:

د قيس کبير د عمر ډېره برخه په ميډيا کې تېره شوې ده، خو د ده بيوگرافي په تفصيل سره نه ده خپره شوې. کله چې د ده په بيوگرافي پسې ما خپله پلټنه پيل کړه، يوازې په دوو پتو کې مې ډېر لږ څه د ده په باب وموندل.

د افغان جرمن پورټال د ليکوالو په ارشيف کې يې د بيوگرافۍ په نامه دا کرښې اېښودل شوې دي:

«د دې ليکنې ليکوال د KIT - پوهنتون «د کارلسرو انستيتوت د تکنالوژۍ لپاره» د الکتروتخنيک په رشتې کې زده کړه کړې او اوس د ډيپلوم انجنير په توگه د زيمنس په کمپنۍ Siemens AG کښې د سيستمونو د آتوميشن Automation Systems د چارو په برخې کښې کار کوي او ورسره جوخت د مايکروسافت د سيستمونو انجنير MCSE هم دی چې «د ودې د شبکې MSDN غړيتوب» لري. همدا رنگه ليکوال د افغان جرمن آنلاين د متصديانو د ډلې غړيتوب هم لري.»

بله پته چې ما د انجنير قيس کبير بيوگرافي په کې پيدا کړه، هغه قاموس کبير افغانستان دی، دا بيوگرافي هم ډېره لنډه ده. دا يې متن دی:

«محترم قیس کبیر بنیان گذار پورتال افغان جرمن آنلاین (رسانه معتبر ملی افغانی در آلمان) و نیز اساسگذار قاموس کبیر افغانستان، نویسنده و تجربه کار تکنالوژی مدرن میباشد، نامبرده از پوهنتون انستیتوت تکنالوژئ کارلسروهه (کا آی تی) در رشته الکترو تخنیک دیپلوم دارد. هم اکنون منحیث دیپلوم انجنیر دریکی از شعبات کمپنی زیمنس دربخش اتوماتیشن سیستم ها، مشغول کار است. اضافه بر آن انجنیر سیستم های میکرسافت نیز میباشد. این شخص از تجربیات علمی اش برای کشور اش افغانستان خدمات شایانی دارد.»

وروسته تر دې مې د قیس کبیر بیوګرافي له چت جيپيټي (ChatGPT) نه وغوښته، په لاندې ډول:

سلامونه!

د انجنیر قیس کبیر بیوګرافي راته ولیکه.

چت جيپيټي (ChatGPT) داسې راته ولیکل:

«متأسفانه، معلومات دقیق او بشپړ د انجنیر قیس کبیر په اړه په لاس کې نشته. خو د موجوده معلوماتو له مخې، ښاغلی قیس کبیر د قاموس کبیر افغانستان په تخنیکي او سافټویر پروګرامینګ برخو کې مهم رول لوبولی دی. د هغه د هڅو په نتیجه کې، د دې قاموس په چوکاټ کې د داخلي او خارجي تجارت برخه فعاله شوې ده، چې دا د افغانستان د تجارت په اړه جامع معلومات وړاندې کوي.»

په همدې نږدې تېروڅو ورځو کې د انجنیر قیس کبیر په باب ښاغلي حفیظالله خالد یوه مهمه لیکنه کړې ده، یوه‌برخه دلته رااخلم:

«یکی از خدمت گذاران جامعه ما که دور از وطن و درغربت لحظهٔ نیز مسؤلیت خویشرا نسبت به وطن و مردم خویش فراموش نه نموده، محترم انجینر قیس کبیر است که از سه دهه بدینسو، وقت، انرژی و دانش خویشرا درخدمت وطن و مردم خویش قرارداده است.

انجینر صاحب کبیر از قریب چهاردهه بدینسو با خانواده خویش درالمان اقامت داشته، ایشان بعد از پایان تحصیل خویش دربخش آی تی در پهلوی وظیفه رسمی در کمپنی زیمنس، همراه با تعداد دیگری از وطن دوستان مقیم اروپا، ویب سایت افغان جرمن را در سال ۱۹۹۷ ایجاد نمود، در ابتدا این ویب سایت صرف به زبان آلمانی نشرات داشته ولی به مرور زمان و فراهم گردیدن امکانات تخنیکی، بخش دری و پشتو نیز به آن اضافه و به نشریه مهم قابل اعتمادی برای تعدادی زیادی از قلم بدستان کشور ما به مرکزتبادل افکار و تحلیل اوضاع کشور و جهان مبدل گردید.

پورتال افغان جرمن درجریان قریب سه دهه راه پرخم و پیچ درازی را طی و درمسیر راه تعدادی از همکاران از آن جدا ولی این پورتال فخیم با قدم های متین و استوار به راه خود ادامه داده با گذشت هر روز اعتبار آن در بین افغان های مقیم خارج و قلم بدستان عزیزکشور بیشتر و به مدافع راستین هؤیت ملی و تاریخی کشورمبدل گردید.

امروز پورتال وزین افغان جرمن در پهلوی تحلیل حوادث و رویداد های کشور بوسیله قلم بدستان و نویسندگان مجرب، با نشر موضوعات تاریخی، فرهنگی و ادبی به یک مرکز نشراتی معتبر در دنیای مجازی برای هزاران هموطن ما در داخل و خارج کشور مبدل گردیده است.

یکی از ابتکارات مهم انجینر صاحب کبیر و تعداد دیگری از قلم بدستان عزیز کشور ما ایجاد قاموس کبیر افغانستان در جنب این ویب سایت بوده که بمثابه گنجینه بزرگ معلوماتی و دیتابیس در ساحات مختلف سیاسی فرهنگی، اقتصادی، و اجتماعی کشور ما تبدیل و این گنجینه بزرگ معلوماتی امروز منبع و مأخذ قابل اعتمادی به صد ها محصل، محقق، و پژوهشگر در داخل و خارج کشور محسوب میگردد، در این قاموس میتوان با دو سه کلیک به هرگونه مطالب دلخواه خویش در ساحات مختلف تاریخی، فرهنگی، حقوقی زراعتی اداری و غیره دسترسی پیدا نمود.

جمع آوری آثار علمی و تحقیقی حبیبیه کار و خدمت بزرگ و باارزش دیگر انجینر صاحب کبیر بوده ، درکتابخانه دیجیتالی حبیبیه آثار باارزش نویسندگان، مؤرخین و دانشمندان نامور کشور جمع آوری گردیده و به هموطنان ما در سراسر جهان این فرصت میسر شده که بطوردیجیتال ومجازی از داشته های این کتابخانه استفاده نماید.

میگویند درخت مثمر بیشتر مورد سنگ اندازی ها قرار می گیرد، انجینر صاحب کبیر نیزمانند بقیه خدمت گذاران وطن درآشفته بازار رسانه های اجتماعی بعضاً از اتهامات و برچسب های ناروا درامان نبوده ولی ایشان با صبر و

استقامت در برابر سنگ اندازی های دوست و دشمن چون کوه ایستاده و هرگز از راه دفاع از هؤیت ملی و تاریخی وطن عزیز ما عقب نه نشسته است.

برای انجینر صاحب کبیر آرزوی صحت کامل، طول عمر، همراه با خوشی و موفقیت های بیشتر در زندگی آرزو می نمایم.»

له افغان جرمن پورټال سره زما (اصف بهاند) د قلمي همکارۍ مخینه ۲۰۱۱ ام کال ته ورګرځي، د همدې مودې په اوږدو کې ما قیس کبیر داسې پېژندلی دی:

## د انجنیر قیس کبیر پېژندنه:

علمي ـ فرهنګي شخصیت انجنیر قیس کبیر د ۱۹۶۱ ام میلادي کال د جون پر ۲۵مه، په کابل ښار کې زېږېدلی دی، د پلار نوم یې محمد کبیر دی. نیکونه یې د افغانستان د لغمان ولایت اوسېدونکي وو او د کاري بوختتیاوو په وجه د افغانستان نورو ښارونو او له هغې ډلې کابل ته کډه شوي دي.

قیس کبیر وروسته تر دې چې د کابل له غازي لیسې څخه فارغ شو، په ۱۳۵۷ کال کې د پوهنتون ته د شاملېدو له ازموینې څخه بریالی راووت او په ننګرهار پوهنتون طب پوهنځی کې خپلې زدکړې پیل کړې.

وروسته له څه مودې نه د ناامنیو په ډېرېدو سره پوهنتوني زدکړې ترې پاتې او پېښور ته له نورو محصلینو سره جبراً کډه شو او هلته یې په بېبرخهلیک ډول شپېورځې تېرولې چې وروسته د خپلې کورنۍ په مرسته جرمني هېواد ته مهاجر شو او تر اوسه همدلته ژوند کوي.

د هغې ځانګړې مينې له مخې چې قيس کبير يې له زدکړو سره لري، په جرمني کې يې هم د ژبې تر زدکړې وروسته بيا «د کارلسرو انستيتوت تکنالوژی» (KIT) ـ پوهنتون) د الکتروتخنيک په څانګه کې لوړې زدکړې پيل کړې او اوس د ډيپلوم انجنير په توګه د زيمنس په کمپنۍ کې د سيستمونو د آتوميشن (Automation Systems) د چارو په برخه کې کار کوي او ورسره جوخت د مايکروسافت د سيستمونو انجنير (MCSE) هم دی.

د مهاجرت د چاپيريال له ستونزو سره ـ سره قيس کبير د خپلې رسمي دندې ترڅنګ له وطن او علمي فرهنګي کارونو سره د بېپايه مينې له مخې په ۱۹۹۷ ميلادي کال کې د يوه بل افغان (انجنير محمدفريد) سره په ګډه د افغان جرمن پورټال بنسټ کېښود. په پيل کې د دې پورټال اصلي موخه دا وه چې جرمنانو ته د افغانستان په باب معلومات وړاندې کړي او افغانستان له يوه مثبت اړخه جرمنانو ته وروپېژندل شي؛ خو په ۲۰۰۱ ميلادي کال کې يې د ځينو نورو باتجربه افغانانو (ولیاحمد نوري او انجنير کريم عطايي) په مرسته د افغان جرمن انلاين افغاني (پښتو ـ دري) ورژن رامنځته کړ چې څه موده وروسته انجينير خليلالله معروفي هم له دې ټيم سره مرسته پيل کړه. افغان جرمن انلاين اوس د يو علمي ـ فرهنګي پورټال بڼه غوره کړې ده چې د افغانانو لهپاره د يوې بااعتباره علمي ـ فرهنګي ادرس حيثيت لري.

انجنير قيس کبير د خپلو نورو رسمی، علمي ـ فرهنګي فعاليتونو ترڅنګ د «قاموس کبير افغانستان» (د افغانستان لوی قاموس) کارونه هم پيل کړل او داسې مسلکي او تجربه لرونکي کادرونه يې راټول کړل چې د يوه قاموس د ليکلو او

بشپړلو اړتیاوې یې ایجابوي. قاموس کبیر افغانستان په ۲۰۱۵ ام میلادي کال کې، د افغان جرمن پورتال په لمن کې وزېږېد، خو اوس یې د یوه جلا علمي ـ فرهنګي ارګان بڼه خپله کړې ده اوس د دې قاموس په چوکاټ کې نورې ګڼې مسلکي څانګې هم پرانستل شوې دي او د یوې لویې انسایکلوپیدیا بڼه یې غوره کړې ده.

په میډیا کې د قیس کبیر علمي، سیاسي، معلوماتي او فرهنګي مقالې خپرې شوې دي چې تر ټولو ډېره برخه یې د افغان جرمن د لیکوالو په ارشیف کې خوندي دي چې اوس یې شمېر ۱۸۵ مقالو ته رسیږي. د دې مقالو غوښنه برخه د علمي مسایلو توزیح او تحلیل ته ځانګړې شوې ده. دلته به د ځینو مقالو سرلیکونه او لینکونه راواخیستل شي:

ـ توضیحات پیرامون تکنالوجی و کانسپت «قاموس کبیر افغانستان» بر اساس « Bigdata»،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/kabir_q_sharhe_tachniki_qka.pdf

ـ تشریح کوتاه از «تئوری نسبیت» در قاموس کبیر افغانستان،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/kabir_q_tashrehe_loghat_in_qka_17.pdf

ـ تشریح تعدادی از لغات و کلمات مانند (هوش مصنوعی، آرکیالوجی یا آرکیالوژی و هیپنوتیزم) با ریشه های آنها در قاموس کبیر افغانستان،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/kabir_q_tashrehe_loghat_in_qka_14.pdf

ـ تشریح تعدادی از لغات و کلمات علمی، تخنیکی با ریشه های آنها در قاموس کبیر افغانستان،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/kabir_q_tashrehe_loghat_siasi_eqtesadi_takhniki_in_qka_3.pdf

ـ چرا لسان عربی یکی از مهمترین زبان های جهان محسوب می شود؟

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/kabir_q_chara_lessan_arabi.pdf

ـ دیوار های اصلی و دیوار های مجازی - تشریح تخنیکی پراکسی سرور،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/q_kabir_proxy_server_in_pakistan_2.pdf

ـ تکنالوجی « speech to Text » نوشتار به گفتار،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/q_kabir_technology_text_for_speech.pdf

ـ اگر امروز اقدام نکنیم فردا دیر خواهد بود، اهمیت زبان ها درتکنولوژی جدید و آینده و منافع ملی کشورهای مربوط به آن.

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/q_kabir_ahmiat_zabanha_in_new_technology_1.pdf

پاسنۍ مقالي د قيس کبير د هغو علمي ـ فرهنګي کارونو څو ببلګې دي چې هره ورځ لا هر ساعت د نوې نسل لارښونو لهپاره اړينې دي.

د قيس کبير د علمي ـ فرهنګي هڅو ډېره سلنه د نوي نسل د روزلو په موخه د ځوانانو په منځ کې د نويو علمي اصولو په رڼا کې د نوې تکنالوژۍ عامول دي.

انجنير قيس کبير واده کړی دی، د دوو اولادنو (يوهلور، يوزوی) پلار دی او له خپلې کورنۍ سره د جرمني په «کالسترو» ښار کې ژوند کوي.

## د قيس کبير علمي ـ فرهنګي هڅې:

ځومره چې ما د قيس کبير مقالې له نظره تېرېکړي دي، هغو ته په پام سره، زه د قيس کبير علمي ـ فرهنګي هڅې په لاندې دريو برخو ويشم:

**ـ د افغان جرمن پورټال د خپرونو پيل او په هغه کې د قيس کبير رول،**

**ـ د افغانستان لوی قاموس او د دې قاموس په علمي ـ تخنيکي چارو کې د قيس کبير ونډه،**

**ـ د قيس کبير ليکوالي.**

### ـ د افغان جرمن پورټال د خپرونو پيل او په هغه کې د قيس کبير رول:

انجنير قيس کبير له يوه افغان تلويزيون (وطن‌راديوتلويزيون) سره په خورا اوږده مرکه کې دا موضوع روښانه کړه چې: افغان جرمن انلاين او قاموس کبير دوې جلا علمي فرهنګي پټې دي چې د هريوه د کار او موخو لاره سره بېله ده. افغان جرمن په ۱۹۹۷ کال کې فعاليت پيل کړ او په هغه وخت کې يې اصلي موخه دا وه چې افغانستان له يوه مثبت اړخه جرمنانو ته وروپېژندل شي.

قيس کبير د ځينو نورو افغانانو (ولی‌احمد نوري او انجنير کريم عطايي) په مرسته د افغان جرمن افغاني انلاين ورژن رامنځته کړ چې څه موده وروسته انجينير خليل‌الله معروفي هم له دې ټيم سره مرسته پيل کوي.

دغه راز ښاغلي قيس کبير د يوې مقالې په ترڅ کې د افغان جرمن پورتال د خپرونو او اوسني حالت په باب داسې ليکلي دي:

«افغان جرمن آنلاین» اولین وبسایت افغانی بود که در سالهای ۱۹۹۷ به زبان جرمنی در انستیتوت
Karlsruher Institut für Technologie KIT
به راه افتاد بعداً به کمک یک تعداد از افغانهای ملیگرا به لسان های دری و پشتو آغاز به نشرات کرد. پالیسی این وبسایت تا به امروز ملیگرایی غیرقومی و روشنگرانه و دفاعی میباشد، هیچکس اجازه ي تبلیغ به کدام سازمانی و گروپی و توهین به عفت کسی را ندارد.

.فعلاً مسؤولیت «افغان جرمن آنلاین» به دوش من نیست و گروپ دیگری آنرا تهیه و ترتیب می نمایند . من فعلاً مسؤولیت اصلی «قاموس کبیر افغانستان» را با تعدادی از افغانهای که در رشته های خود وارد و مسلکی اند، دارم. پالیسی ما آماده کردند معلومات در هر ساحه یی که مربوط افغانستان است میباشد و آنهم بدون قضاوت... قضاوت را باید خود استفاده کنندگان کنند.»

افغان جرمن پورتال اوس هم په انلاين بڼه خپل فعاليت ته دوام ورکوي او د افغانانو له پاره د يوه بااعتباره علمي فرهنګي پتې حيثيت لري.

**ــ د افغانستان لوی قاموس او په دې قاموس په علمي ـ تخنيکي چارو کې د قيس کبير ونډه:**

قاموس کبیر افغانستان د افغان جرمن پورټال په لمن کې وزیږېد، خو اوس یې د یوه جلا علمي ـ فرهنګي ارګان بڼه خپله کړې ده.

څنګه چې مخکې هم اشاره ورته وشوه چې افغان جرمن انلاین او قاموس کبیر دوې جلا علمي فرهنګي پتې دي چې د هریوه د کار او موخو لاره سره بېله ده. اوس قاموس کبیر افغانستان د یوه پوهنغونډ یا انسایکلوپیدیا بڼه خپله کړې ده.

کله چې د دې قاموس چارې پیل شوې د قیس کبیر تر نوې سلنې ډېر وخت د دې قاموس د علمي او تخنیکي چارو د سمون له پاره وقف شو.

د قاموس کبیر افغانستان په باب ښاغلي قیس کبیر داسې لیکلي دي:

«گرچه «قاموس کبیر افغانستان» در سالهای ۲۰۱۵ زادۀ پورتال افغان جرمن بود و در همین دنیا مجازی مفکورۀ ایجاد و انکشاف بعدی آن سر و سامان یافت و از همین طریق دانشمندان، خبره گان، زبان شناسان و هموطنان ما همکاری خویش را با قاموس کبیر افغانستان آغاز کردند و آنرا تا به امروز با محتوی کنونی انکشاف دادند. ولی اکنون قاموس کبیر افغانستان از نظر متن، محتوی و شکل به یک قاموس بزرگ زبان دری با ابعاد وسیع عرصه های متنوع علوم تبدیل گردیده است و ایجاب میکند تا از این ببعد قاموس کبیر افغانستان نه منحیث الحاقیۀ وبسایت افغان جرمن آنلاین بلکه منحیث ارگان مستقل علمی – فرهنگی فعالیت خویش را به پیش برده و دارای تشکیلات مستقل منحصر به خویش باشد. قاموس کبیر افغانستان یک ارگان علمی – فرهنگی بوده

وبدون هرنوع تعلقات سیاسی و سازمانی به همهٔ مردم افغانستان تعلق دارد.

خلاصه دوستان مسؤولیت زیربنای تخنیکی آنرا به دوش من گذاشتند. امروز این قاموس با ۱۰دیتابیس مختلف که ۸ اِن به لسان های افغانی و ۲ دیتابیس دیگر آن به لسان انگلیسی که بخش علمی اقتصاد و زمین شناسی را دربرمیگیرد. بخش زبانی این دیکشنری «مجمع اللغات» به سوی ۳۰۰۰۰ سی هزار لغات، کلمه و اصطلاحات در حرکت است. به راه اندازی یک قاموس با معیار های امروزی، بخش های مختلف را احتواء میکند. بخش اول آن، آماده ساختن زیربنای تخنیکی میباشد که آماده سازی هاردویر و سافتویر است. سرور، اوپریتینگ سیستم و دیتابیس ها که با هم یکجا دیزاین و تقسیمبندی میشوند...»

د قیس کبیر د علمي ـ فرهنګي هڅو ډېره سلنه د نوي نسل د روزلو په موخه د ځوانانو په منځ کې د نویو علمي اصولو په رڼا کې د نوې تکنالوژۍ عامول دي.

څه باندې څوارلس کاله کېږي چې له افغان جرمن او د افغانستان لوی قاموس سره د خپلو مسلکي زدکړو په کارولو سره همکار یم، خو ما قیس کبیر له نږدې نه دی لیدلی. د یادې اوږدې مودې همکارۍ په ترڅ کې په وار ـ وار داسې راته ثابته شوې ده چې قیس کبیر د لوی حوصلې خاوند دی.

داسې هم شوي چې زه د یوې مقالې د خپرېدو یا نه خپرېدو په وجه قهرېدلی یم، خودی راته لکه د حوصلې لوی غر ګونګ او خاموشه پاتې وي او زه وروسته پوه شوی یم چې

دی له یوې خوا حق په جانبه وي او له بل لوري يې په خپلې خاموشۍ سره ما ته لوی درس راکړی دی.

له افغان جرمن سره زما له قلمي او عملي مرستو نه څهموده وروسته د یو قلمي همکار په توگه د قیس کبیر په ادرس یو وړاندز ولېږه چې متن يې په لاندې ډول دی:

«د افغان جرمن آنلاین پورتال درنوچلوونکو!

هڅاند او زړه سواند دانشمند قیس کبیر!

زما درناوی او نیکې هیلې ومنئ.

تاسو ته په علمي ـ فرهنګي او شخصي ژوند کې بریالیتوبونه غواړم.

د یوه ښوونکي په ډول زما زړه او ماغزه له خبرو او ویلو ډک دي، خو د اوس له پاره دا غوټې په دې لیک کې نه خلاصوم.

ښاغلي قیس کبیر د خپــلو ډیــرو علمي او په اوسني وخت کې د افغانانو له پاره د ډیرو اړینو مــقالــو (اگرامروز اقدام نه کنیم، فردا دیرخواهد بود) د ژباړې غوښتنه کړې وه، که تراوسه پورې پښتو ته چا نه وي اړولې او د ژباړې وعده يې هم نه وي کړې؛ ما ته ژر بیرته ولیکئ چې پر پښتو باندې يې د کومو برخو اړل غواړئ، زه به يې په ویاړ سره له دري نه پښتو ته واړوم، بیرته به يې د چاپ له پاره تاسو ته درولېږم او په دې ډول به ستاسو له برکته د دغه علمي ـ فرهنګي خدمت په دایره کې ځان ورګډ کړم.

ستاسو یو قلمي همــکار

پوهندوی آصف بهاند

د ۲۰۱۲ کال د اګست څوارلسم
هېدرسليف
ډنمارک»

دا مرسته و نه‌شوه، خو ما بیا هم خپله قلمي همکاري ورسره وغځوله. څه موده وروسته د دې پورټال د یو همکار ښاغلي سید رحمن غوربندي له لوري له ما نه هیله وشوه چې زه له دوی سره د نشراتي بورډ په چوکاټ کې مرسته وکړم، ما هم دا وړاندیز ومانه او خپله همکاري مې پیل کړه چې دا دی ترنن پورې دا همکاري د متقابل درناوي په چوکاټ کې روانه ده.

## ـ د قیس کبیر لیکوالي:

په مخکینیو کرښو کې هم یادونه وشوه چې په میډیا کې د قیس کبیر علمي، سیاسي، معلوماتي او فرهنګي مقالې خپرې شوې دي چې تر ټولو ډېره برخه یې د افغان جرمن د لیکوالو په ارشیف کې خوندي دي، اوس یې شمېر ۱۸۵ مقالو ته رسیږي. د دې مقالو غوښنه برخه د علمي مسایلو توزیح او تحلیل ته ځانګړې شوې ده.

## د قیس کبیر د علمي فرهنګي شخصیت په باب د نورو قلموالو نظریات:

قیس کبیر ته په دې وروستیو کې څه صحي ستونزې پېښې شوې چې خبره یې روغتون او عملیاتو ته ورسېده. په افغان میډیا کې د قیس کبیر په نامه ګڼشمېر پیامونه خپاره شول، له دې پیامونو هم د ده د علمي ـ فرهنګي کارونو وزن ښه معلومېدای شي.

د ده د ناروغۍ او بیا رغېدو په پار، ګڼو قلموالو د ده د فرهنګي ـ علمي کارونو د ستایلو ترڅنګ، ده ته د ښې روغتیا او ارامه ژوند او خپلو خلکو او وطن ته د نورو خدمتونو د کولو هیلې څرګندې شوې دي. دا یې څو بېلګې دي:

حسیب الله:

«پس از تقدیم سلام و احترامات قلبی خدمت همه،
از آنجائیکه دوست عزیز و محترم ام انجنیر قیس جان کبیر برای جامعه ای جنگنده ای افغانی ما هیچگاه از خدمات شبانه روزی اش در راه های آگاهی رسانی به مردم عزیز ما دریغ ننموده است، در عین حال با سعی و تلاش شبانه روزی اش یک پل ارتباطی علمی را در بین مردم عزیز ما ایجاد نموده است، در کنار آنکه از خداوند متعال برایش شفا و صحت کامل، طول عمر و خوشی های فراوان استدعا میدارم...

با تقدیم احترامات فائقه
حسیب الله»

عبدالباري جهاني:

«ګران او محترم قیس کبیر سلامونه او احترامات مي ومنه. له حق متعال څخه عاجله روغتیا درته غواړم. خدای دي مه خوروه. ستا غوندي باسوادو او فرهنګپالو ناروغي، په داسی حال کي چي وطن په قحط السواد اخته دی، باید د ټولو وطنوالو لپاره د خواشینی وړ وي او ټول باید د عاجلی روغتیا دعا درته وکړي. په وطني مینه.»

*****

رشید:

«ګران اوخواخوږي انجنیرصاحب قیس کبیرته له پاک الله څخه د بیړنۍ روغتیا هیله کوم، په دې هیله چې زرترزره یی د رغنده او فعالوهلوځلو شاهدان واوسو. ستاسې هر دم اوقدم زموږد ژبواوفرهنګ اوتاریخي ملي میراثونوپه برخه کې په تیره بیا په اوسنیوسختواوستونزمنو شرایطوکې دیوه بسیا ډاډ وملاتړ پیغام دی.
په درنښت
رشید - نوی ډیلی»

*****

شیر ساپی:

ازحدیث فرحآور و باصفا صحت و شفابخشی یکی از تیزترین حربه های خوش دست و در آستین عیان و برملا پشتیبان حقوق فرهنگی و ملی ما؛ مستحضر شدم.

انجنیر صاحب "قیس کبیر" نازنین مشتاقان حقیقت طلب افغان تا قیامت به شما بدهکارند.
مسرور و شادمانم که عافیتخواه جناب عالی هستم.

*****

احمد فواد ارسلا:

«برای محترم قیس کبیر ، افغان وطندوست ، زحمتکش و فداکار آرزوی صحت و سلامتی داریم.»

*****

**د قیس کبیر د علمي ـ فرهنګي شخصیت د لمانځلو لهپاره د یوې لمانځغوندې وړاندیز:**

د قیس کبیر د ناروغۍلهرامنځته کېدو سره سم، ځینو فرهنګي دوستانو د کبیر صاحب علمي فرهنګي کارونو ته په کتو سره، د ده د شخصیت قدردانۍله پاره د یوې لمانځغوندې وړاندیز وکړ. تر ټولو مخکې ښاغلي ایاز نورې د یوې مقالې په ترڅ کې دا وړاندیز داسې مطرح کړ:

پس له سلام او احترام ښخه،
د لوړ مقام استاذ کاظم صاحب ښخه مننه کوم، چې د محترم مدیر صاحب قیس کبیر د روغتیایي حال په باب یې اړینه توضیح ورکړه،، دا چې اوس مدیر صاحب شه ده، زمونږ د خوشالي سبب سو.

د محترم لیکوال او محقق حفیظ الله خالد لیکنه «معرفی یک افغان ، افغانستان دوست، ۱۱ د مارچ» مې ولوستله. زه د خالد صاحب سره موافق یم، چې مونږ افغان نسل د خپلو فعالو او ملت پاله خذمتګارانو په قدر کولو کې فعاله نه یو او انسجام ورته نلرو. له هغه کتاره د محترم مدیر صاحب قیس کبیر د ملی خدماتو پالنه د یوې مشهورې او موثرې نشرې (افغان-جرمن ان لاین) په تاسیس او بیا ۲۵ کاله چلولو کې هم پس پاته یو.د کبیر صاحب او د هغه د زیار کش اداري ټیم د هلو ځلو برکت ده، چې نن نوموړې نشریه د خارج په کچه «عالي» مقام او شهرت لري، داسې هم واقع سوي، چې یوه ورځ کې (۱۷) مقالې د افغان غیر عادي فرهنګیانو له خوا، دغه نشریې ته د نشر لپاره را استول سوي دي، د پورتال آرشیف داسې یوه کتابتون ته ورته دهو چې زمونږ د ګران افغانستان د ماضی او حال وضعیت او ملي افتخاراتو او د افغان علماوو مهم مهم قلمي آثار او نظریات په کې خوندي دي او هر افغان کولای سي، ورنه مستفید سي... . ویاړ پر تاسو مدیریتي ټیم باندې...!

در همینجا منحیث یک عضو پورتال پیشنهاد می نمایم که در ماه می و دوام آن که هم صحت مدیر صاحب کبیر بهتر ای بهتر شود و هم هوا اروپا گرم تر شود، یک محفل «بزرگداشت و قدردانی» از خدمات ملت خواهانه مدیر صاحب و تیم اداری ایشان در محل مناسب برگذار شود، تا باشد قدر آن افغان خویش را تا حدې کرده باشیم، که منحیث خدایي خدمتگار بر علاوه مسوولیت رسمی ایشان وقت و انرژی خویش را برای روشنگری و کار های فرهنگی مردم و کشور خویش درین محل غربت به مصرف رسانده اند.

مصارف این مجلس افغانی را باید هر عضو پورتال تادیه کند. از مدیر صاحب نبیل عزیزی خواهش می کنم تا یک حساب بانکی را معرفی کرده و اعضاء پورتال پول خویش را آنجا ارسال بدارند.
چه مقبول می شود که استاد والا مقام داکتر صاحب کاظم از امریکا با قبول رنج سفر مشترک مجلس شوند، استادان سیستانی صاحب و دودیال صاحب و سایر نویسندگان محترم هم حضور یابند و با هم از نزدیک ببینیم.

په درنښت
ایاز نوری

وبه لیدل شي چې په څو راتلونکو ورځو کې نور فرهنګي دوستان د دې وړاندیز په باب څه وایي.

د قیس کبیر علمي فرهنګي شخصیت ته له هره اړخه چې وکتل شي، باید مثبت ارزیابي شي. دی هېڅکله خپل وخت بېځایه نه مصرفوي او په هره بڼه چې وي د نوي نسل روزلو او پوهولو له پاره کار کوي. هیله ده چې خدای بشپړه روغتیا ورپه برخه کړي، څو د خپلو خلکو، وطن او په تېره د نوي نسل د لارښونې لهپاره نور علمي ـ فرهنګي فعالیتونه وکړي.

**د ده د ښې روغتیا او اوږده با ثمره عمر په هیله!**

# افغان فزیکپوه

# ډاکتر محمد تنها د رڼا او خلا پر لور

د افغانستان د تیارو له پاره یوه بله ډیوه

د محمد تنها پي اِچ ډي «PH.D»

زما په قهرمانانو کې یو محمد تنها دی



زما له پاره قهرمان هغه څوک نه دی چې د خدای مخلوق په عذابوي او د ژوند له نعمت څخه يې محروموي، زما له پاره قهرمان هغه څوک دی چې د خدای مخلوق ته د ښه ژوند کولو او د وطن د آبادولو علمي لارې چارې ښيي او د ښه ژوند کولو، پرمختګ آسانتياوې ورته برابروي او...
زما په دغو قهرمانانو کې یو محمد تنها دی.

(آصف بهاند)

ډاکتر محمد تنها یو متخصص، په کار مېئن او نه ستړیکېدونکی شخص دی. د خپلو هڅو او زیار په پایله کې یې ګڼې بریاوې ترلاسه کړې دي. لیسانس په کابل پوهنتون کې، ماستري او ډوکتورا په جرمني کې، په خپل وطن کې یې هرڅه بېارزښته وارزول شول، بېرته جرمني ته ستون شو او د خپلوزده‌کړو او لیاقت له مخې یې، په خپل مسلک کې کار پیل کړ او دا دی له ډېر کار او خواریو څخه وروسته یوه بله ستره بریا هم ورپه‌برخه شوه چې افغانستان ته، افغانانو ته، خپلې کورنۍ ته او پوهنتوني لویې کورنۍ ته یې بل ویاړ هم وګاټه. ډاکتر محمد تنها په جرمني کې د اتومي انرژۍ د تخنیکي لارښوونو رئیس ګمارل شوی دی.

د ډاکتر تنها د علمي شخصیت او بریاوو په باب باید ګڼې مقالې او کتابونه ولیکل شي، ما لا پخوا د ده تر دې بریا مخکې دوې مقالې ورته لیکلې دي:

ــ د افغانستان د تیارو له پاره یوه بله ډیوه، د محمد تنها پي اِچ ډي «PH.D»،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_de_tyarolapara_rana.pdf

ــ د کوچنیانو ادبیات د یوه ساینسپوه له نظره.

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_de_tanha_nazar.pdf

ځوورځې کېږي چې په میډیا کې د محمد تنها د نوي بريا په باب نظريات راډېر شوي دي. په همدې مناسبت به زه لومړی د افغان فزيکپوه ډاکتر محمد تنها بيوګرافي يوځل بيا د دې له پاره راواخلم چې هغو کسانو ته يوځواب وي چې وايي: «نو خپل هيواد او خپل ولس ته يې څه ګټه رسيږي چې ستا اتل دی!» او بيا به د ده د نوې بريا په مناسبت د ځينو قلموالو نظريات هم راواخلم.

کله چې محمد تنها د ۲۰۱۷ کال په ورستيو کې د خپلې ډوکتورا بريالی دفاع ترسره کړه، ما د يوې مقالې په ترڅ کې داسې ورته ليکلي وو:

«محمد تنها درې کاله  او اته مياشتې مخکې له خپل وطن افغانستان څخه، د اميدونو له يو کاروان سره د جرمني هنوور پوهنتون ته د لوړو زدکړو او نويو تجربو د تر لاسه کولو په پار راغلی و او دا دی اوس په هسکه غاړه او د خپلو خلکو او وطن له پاره لا نورو هيلو سره ډک لاس د خدمت له پاره چمتو شو.

محمد تنها نه يوازې د ځان او خپلې کورنۍ له پاره د وياړ يوه شمله شوه، بلکې د ټولو افغانانو او ټول وطن له پاره وياړ شو او له ټولو نه وړاندې د افغانستان د پوهنتوني کورنۍ او علمي کورنۍ او د هغوي د اصلي ټاټوبي کابل پوهنتون له پاره، چې په افغانستان کې د پوهنتونونو مور ګڼل کيږي؛ د وياړ داسې هسکه څوکه ګڼل کيږي لکه د پامير او شمشاد هسکې څوکې په څېر.

« PH.D» ډګري محمد تنها دفاع کړه، خوشاله زه يم ورته او داسې ورته خوشاله يم، لکه خپله مې چې دفاع کړې وي.

له تاندي ځواني نه را په دیخوا مې، د ژوند په لومړیتوبونو کې یو لومړیتوب د لوړو زدکړو سر ته رسول و، هغه هم د «PH.D» تر کچې. تر ام اې (M.A) پورې ورجګ شوم، په بریالیتوب سره مې هغه هم دفاع کړ، کوردننه هغه وخت د «PH.D» د زدکړو له پاره آسانتیاوې نه وې. بیا وروسته چې پټنګان؟ را ورسیدل هر څه سره ګډ وډ شول، د روزګار ناخوالو وچ کړل، د جفا ګانو بادونو په هوا کړل او...

اوس پوهنتوني او علمي کړیو ته ګران او ما ته ګران محمد تنها زما ارمان پوره کړ. نن (۲۰۱۷/۱۲/۰۱) سهار مې د ده د بریالۍ دفاع پر خبر سترګې خوږې شوې. کوم بل دوست لیکلې و، خو ما د ده فیسبوک پاڼې ته سر ورښکاره کړ، هلته مې د ده په قلم دا متن له څو عکسونو سره تر سترګو شو:

«پرون مې د آلمان هانوور پوهنتون د هستوي او وړانګو فزیک له څانګې څخه له پوره درې کاله او اته میاشتو څېړنیز او تدریسي کار وروسته، په اعلی درجه خپله دوکتورا دفاع کړه. د دوکتورا موضوع مې «د کابل او هغه ته څېرمه سیمو په تیږو، اوبو، خاوره او هوا کې د یورانیمو، توریمو، پوتاسیمو او رادون اندازې مالومول» وو.

په دې څانګه کې وروستۍ دوکتورا له نن څخه پوره ۴۳ کاله دمخه، پوهاند داکتر عبدالحی نظیفي د پخوانۍ یوګوسلاویا د بلګراد له ښار څخه اخیستې وه. په دې تړاو یو بل نامي خبر هم سته خو د دیسمبر په ۱۲ به یې د پوهنتون له رسمي اعلان څخه وروسته درته ووایم. د کورنۍ، خپلوانو، خاصو نږدې ملګرو او مخلصو آشنایانو له مینې او اخلاص څخه جار سم چې په مادي او معنوي هڅو یې تر دې ځایه را ورسولم.

خدای مو په عزتونو لره. توبیت مې زښته برابر ده، ورکړې زړونه چې ډوکتوراوې ډېرې سي!»

څنګه چې مخکې هم وویل شول د ډاکتر محمد تنها د نوي بریا لهپاره په سوشیلمیډیا کې ګڼشمېر نظریات او د مبارکیو پیامونه وړاندې شوې دي، دلته به د بېلګې په ډول ځوپیامونه راواخلک:

وفا سمندر:

«له دومره سر پرېکېدو او (سر) ورکېدو او هېرېدو سره سره، افغانستان بیا هم سخت په ساه ډک دی.

ډاکتر محمد تنها یو داسې (سر) دی.

که د زوړکړې او خاپوړو له مېنې لېرې شوی، خو هوښیاره دنیا (دی) ویني او ښه یې پېژني، چې څه د ابادولو (سر) دی.

(د جرمني اتوميانرجۍ اداري تخنیکي چارو ریاست) یو نوی پیل دی، تاسو به یې ګورئ، چې نورې څومره رڼاګانې راوړي لخیره سره!

د وطن او ولس آزادخیاله بچیه! له مخې دې رڼا اوسه!

ډاډه یو، چې دنیا کې به د خپل ولس د نوی شعور او ژوندی عقل، سېمبول وې، او لا به ځېلېږې!»

آصف بهاند:

«څهکم اته کاله مخکې مې د ډاکتر محمد تنها د لوړو زدهکړو (phd) د پایته رسېدو او ښې بریا په خاطر د «د افغانستان

د تیارو له پاره یوه بله ډیوه، د محمد تنها پي اِچ ډي ترسرلیک لاندې یوه مفصله مقاله لیکلې وه.

د یادې مقالې په پیل کې ما لیکلي وو:

«زما په قهرمانانو کې یو محمد تنها دی.»

او دا دی زما قهرمان یوه بله قهرماني وکړه چې افغانستان، افغانانو، خپلې کورنۍ او پوهنتوني لویې کورنۍ ته یې بل ویاړ هم وګاټه.
ډاکتر محمد تنها په جرمني کې د اتومي انرژۍ د تخنیکي لارښوونو رئیس ګمارل شوی دی.

دا بریا دې لومړی ده ته او بیا ټولو علم دوسته افغانانو ته مبارک وي! 💖❤️»

د ډاکتر محمد تنها د نوې بریا او نوي ویاړ زما د پاسني پوست له پاره د تائیدي کامنتونو په لړ کې یو چا د شک او تردید په څپو کې داسې کامنت هم لیکلی دی:

زما د پاسني پیام په کامنت کې ښاغلي ډاکتر محمد نذیر

احمدزی داسي لیکلي دي:

«نو خپل هیواد او خپل ولس ته یې څه ګټه رسیږي چې ستا اتل دی!
د افغانستان لپاره به یې د اتومي انرژی د استفادې یوه کوچني عملي پروژه کار کړې وه ترڅو اتل بلل شوی وی»

ما د ښاغلي احمدزي شک ته په لنډ ډول داسې ځواب ولیکه:

ښاغلی ډاکټر محمدنذیر احمدزی تاسو ته په ډېردرناوي باید عرض وکړم چې ډاکټر تنها تر فراغت وروسته په منډه او په بېړه بېرته خپل وطن افغانستان ته ځکه ستون شو چې د خپلو زدکړو او تجربو په دایره کې خپل وطن ته خدمت وکړي، خو اړوندو ځایونو کې نه یوازې ده ته د کار زمینه مساعده نه‌شوه، بلکې ګڼ‌شمېر خنډونه هم ورته په مخ کې کېښودل شول. حتی په اتومي فزیک کې یې ترټولو لوړه ډګري، مسؤل شخص د ډیپلومونو د ثبتولو په دفتر کې ثبت هم نه کړ.

ځکه ډاکټر صاحب تنها مجبوراً بېرته جرمني ته راغی، دلته یې کار پیل کړ او اوس د خپل کار او لیاقت له برکته دا نوی منصب ورکړل شوی دی. دا د فخر وړ خبره ده چې محمد تنها په علمي ډګر کې د افغانستان او افغانانو له‌پاره یو بل ویاړ وګاټه: د دغو علمي دلایلو له مخې یې زه خپل قهرمان ګڼم.»

رحمت اریا:

«استاد بهاند صاحب! ځیني زیري داسې وي چې د پښتنو د عامو خبرو پر بنسټ ورته وایي چې دداسې خبر په اوریدلو مې من من غوښې واخیستې. دا په رښتیا د ډېر ویاړ ځای دئ زه ډاکټر تنها ته ستاسو له لارې د زړه له تله مبارکي وایم او د هغوی د نورو بریاوو او ویاړونو هیله کوم. ټولو ته دې مبارک وي.»

ډاکټر نوزادي احمد جان:

«مننه کوم ډاکټر صاحب، دا ستره بریا دی، ډاکټر، او اتل محمد تنها ته، دده و محترمی کورنی په ځانګړی ډول مور

او پلار ته، ټول افغانستان ته او په ځانګړی ډول د قلم او کتاب د لاری و لارویانو ته ډیره ډیره مبارک وی، لار دی روښانه وی، بریا دی د بدو سترګو په امان وی او لا دی ډیر نور هم د علم او تکنولوژی د ستورو په ډک اسمان کی و ځلیږی. ستا سو ځخه هم مننه چی په زړه پوری مضمون مو وربااندی لیکلی دی، قلم دی تاند اوسه.»

ډاکتر محمد تنها یو هیوادپال او د نوي نسل روزلو ته یو متعهد استاد و او اوس هم عملاً دا کار پرمخبیایي. ډاکتر تنها له خپلې رسمې دندې وراخوا د خپل وطن ځوانانو ته له یوې خوا د ښو کارونو یوه عملي بېلګه ده، له بلې خوا پرته له دې چې څه ماديات ترلاسه کړي، په خپلفارغ وخت کې د وطن ځوانانو ته د لوړو زدکړ قوانین تشريح کوي، د لوړو زدکړو لارې او ګودرونه ورښيي او ګڼشمېر نورې ښېګڼې د ده له علمي شخصيت سره ضميمه دي.

دغسې مثبتو علمي خبرو د ډاکتر محمد تنها د طلايي شخصيت خښتې جوړې کړې دي، ځکه ما د خپل قهرمان خطاب ورته کړی دی.

# شفیع‌الله صافی

## نوی‌غږ، نوی استعداد

### د کونړ د هنرپروره درو د غرونو په لمنو کې راټوکېدلی ګل





شفیع‌الله صافی مشهور د کونړ د هنرپروره درو د غرونو په لمنو کې داسې راټوکېدلی ګل دی چې هم په استادانه ډول رباب غږوي او هم خدای داسې خوږ غږ ورکړی دی چې په اورېدوسره یې هراورېدونکی خپله ستړیا هېروي.

شفیع‌الله صافی خپل دواړه هنرونه (رباب غږول او سندرې ویل) داسې په سوریله ډول خپلو لیدونکو او اورېدونکو ته وړاندې کوي، لکه په کلونو ـ کلونو یې چې په یادو دواړو هنرونو کې لوړې زدکړې کړې وي. د ده له ستوني راوتونکی غږ او له هنرمندوګوتو زېږېدونکې نغمې، د هر اورېدونکي ذهن او روح ارامويي او قوت و خوند وربښي.

شفیع‌الله صافی پر خپلو دواړو هنرونو باندې داسې برلاسی دی چې د استادۍ پوړۍ ته یې ځان رسولی دی. زه چې د ده هنري فعالیتونو ته ګورم، دې پایلې رسېږم چې شفیع‌الله صافی د افغانستان د هنرونو نړۍ ته د خدای یوه لورینه چې داسې هنرمند یې پر افغانو باندې لورولی دی، افغانان باید د دې ډالۍ په قدر او ارزښت باندې پوه شي او درنای یې وکړي.

## د شفیع‌الله صافي پېژندنه:

زه له شفیع‌الله صافی سره داسې اشنا شوم:

د لنډیو ټولولو د پروژې د کارونو په ترڅ کې د ورځې په اوږدو کې چې وخت پیدا کړم، نو په ټولنیزه میډیا کې په نویو لنډیو پسې ګرځم. نن (۲۰۲۵/۱۰/۱۶) مې د فیسبوک په لنډو ویدیوګانو کې داسې ویدیو وموندله چې ما ته یې د لنډیو خزانه په لاس راکړه، د «زما هنر – zama honar» نومی ویدیو چینل له ارشیف څخه یوه ویدیو په مخه راغله چې هلته

یوځوان د ادمخان په څېر رباب غږوي او یو تن منګي ورته وهي او ښي له سوزه ډکي لنډۍ زمزمه کوي. دا رباب غږونکی او سندرغاړی همدا شفیع‌الله صافی دی.

په یاد ویدیو چینل پسې مې لټه پیل کړه، ځو مې پیدا کړ او د موسیقۍ، شعرونو او لنډیو یوه ښکلي بڼ سره مخ شوم او ورسره داسي له سوزه ډک غږونه چې ما غوښتل.

په ویدیوګانو کې د شفیع‌جان رباب غږول او سندرې ویل دواړه له نوي او ښکلي هنریت سره مل او له خوندونو ډک دي.

زما تلوسه، د رباب غږونکي سندرو او رباب غږولو نوره هم زیاته کړه، د ده په باب ما هېڅ‌ډول معلومات نه درلودل، نو مې سمدلاسه چټجي‌پي‌تي سره خبرې پیل کړې، هغه له خپلې شته‌منې خورجینې نه معلومات راسره شریک کړل، خبرې مو داسې پیل شوې:

آصف بهاند:

«سلامونه! یویوتیوب چینل دی «زما هنر» نومېږي، که د دې په باب معلومات راکړې.

:ChatGPT

وعلیکم سلامونه!

زه په ژوره توګه نه پوهېږم چې ستاسو د “هنر” نومې یوټیوب چینل په ځانګړي توګه کوم چینل دی — که چېرې نوم دقیق وي، ممکن وموهم — خو کولای شم تا سره مرسته وکړم چې څنګه معلومات پیداکړې او...

آصف بهاند:

په دې چينل کې يوتن رباب غږوي او ورسره سندرې وايي، بل تن دوګړې يا منګی غږوي د چينل نوم داسې دی: zama honar

:ChatGPT

«ما يو څه معلومات پيدا کړل چې ښايي د "zama honar / زما هنر" يوټيوب چينل په اړه وي:

موندل شوي معلومات:

- يو چينل شته په نوم Zama Honar چې لاندې لينک لري: "Zama Honar · Nuristan Beautiful province | Afghanistan" YouTube
- د دې چينل ويډيوګانو کې رباب او منګی / مِنګی کارول شوي دي. د مثال په توګه:
- "New Rabab Mangi Song | Mala Bal Waka 2025" ويډيو د دې چينل لخوا خپره شوې ده. YouTube
- "Pashto Rabab Song | Zama Qismat" هم د دې چينل په نوم دی. YouTube
- د ګډونوالو شمېر ښودل شوی چې شاوخوا ۱۸/۹ زره دی.» YouTube

آصف بهاند:

رباب غږونکی چې سندرې هم وایي، دا څه نومېږي؟

:ChatGPT

«ډېره ښه پوښتنه ده!

په چینل Zama Honar کې چې کوم رباب غږوونکی هم سندرې وایي — هغه یو ځانګړی هنرمند دی، او د ویډیوګانو له مخې د هغه نوم نورستاني خالد (Khalid Nuristani) ښودل شوی.

هغه اکثره وخت د یو بل ملګري سره ګډې هنري ناستې کوي، چې هغه په منګی (ډوګره) غږوي. د دواړو یوځای اجراوې ډېر مشهورې دي — په ځانګړي ډول د "Mala Bal Waka" او "Zama Qismat" سندرې.

نو، په لنډه توګه:

د رباب غږوونکي او سندرغاړي نوم: خالد نورستانی (Khalid Nuristani)

د منګی غږوونکي نوم: عموماً د "شاه ولي" یا ورته نومونو لاندې یاد شوی، خو دا لږ تغیر کولی شي د ویډیو له مخې.

آصف بهاند:

بیا مې خبره داسې ورسره وغځوله:

زه غواړم چې بیوګرافي یې راته ولیکې.

:ChatGPT

«ما د "خالد نورستاني" په هکله هیڅ معتبره سرچینه ونه موندله چې د هغه بشپړه ژوندلیک یا بایوګرافي وړاندې کړي. ممکن هغه هنرمند محلي شهرت لري او په عامو رسنیو کې نه وي استازی شوی.

خو زه کولای شم هغه څه چې موندلي دي او همدارنګه وړاندیزونه درکړم چې څنګه کیدای شي نور معلومات ترلاسه کړې، راځئ لومړی هغه څه چې موندلي دي:

هغه څه چې مې موندلي دي:

- د Zama Honar یوټیوب چینل کې د رباب او منګۍ ترکیب سره سندرې خپرېږي.
- په ځینو ویډیوګانو کې د " New Rabab Mangi Song | Mala Bal Waka 2025" او " Pashto Rabab Song | Zama Qismat" نومونه لیدل شوي دي.
- چینل داسې ښکاري چې د هنري کارونو لپاره جوړ شوی او ښایي محلي، سیمه‌ییز او فرهنګي اثر ولري.
- تر اوسه مې په انټرنېټ کې کومه رسمي بیوګرافي، راپور یا مصاحبه ونه موندله چې د هغه د ماشومتوب، زدهکړې، کورنۍ وضعیت یا د هنر پیل تفصیل راښیي.

ولې داسې معلومات نه موندل کیږي؟

- هنرمندان چې شهرت یې محلي یا سیمې پورې محدود وي، کله ناکله په انټرنېټ کې اسناد نه لري.

- ژبني او رسنيزي موانع: ممکن معلومات په پښتو یا د محلي ژبو کې وي او د لویو نړیوالو سرچینو لخوا نه وي راښودل شوي.
- د رسنیو کم پوښښ: که په رسنیو لکه تلویزیون، اخبار یا معتبر ویبپاڼو کې د هغه په اړه لیکنه نه وي شوې، نړیوالو لټونګرانو ته معلومات نه رسیږي...»

د شفیع‌الله صافي په باب د مصنوعيځیرکتیا ناسم معلومات دا ښیي چې مخکې تر دې د ده په باب چا څه نه دي لیکلي. د همدې دلیل له مخې چټجيپيټې ډېر ځلي د نومورکو کسانو په باب معلومات نه شي وړاندې کولای او یا په تېروتنې سره مورد نظرشخص ته ورته څوک درته معرفي کوي ځکه چې دوی د نورو د معلوماتو په زېرمه‌تونونو تکیه کوي.

بیا هم زه غلی نه شوم خپل لټون مې وغځاوه او د شفیع‌الله صافی له داسې ویدیوګانو سره مخ شوم چې هلته یوازې شفیعجان لیکلی و.

د څو نورو ورته ویدیو ګانو په لیدلو سره راته ثابته شوه چې د دې سندرغاړي نوم شفیع‌الله صافی دی. د ده د یوه غږیز کلپ له‌پاره داسې یو انځور جوړ شوی چې د ده عکس او نوم وربانديې لیدل کېږي چې شفیع دی.



شفیع‌الله صافی په غرېز کلپ کې په خپل سحرګر غږ سره داسې یوه سندره زمزمه کوي چې د ده دواړه هنرونه (رباب غږول او سندرې ویل) ښه په کې ځلېدلي دي:

زما اشنا لاچي لونګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

*****

چې ځي پر لاره نو زنګېږي
عجیبه ښکلی مالومېږي
نشه، نشه بوټی د بنګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

*****

چې ورته ګورې لړاوبره
جوړه زموږه برابره
زه یمه شمعه یار پتنګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

*****

رفیق صافی د یار په مینه
قربانوي د بدن وینه
د یار په مینه کې ملنګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

زما اشنا لاچی لونګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

https://www.facebook.com/reel/914035844104479

بیا مې د دې سندرغاړي داسې سندره مې هم ولیدله چې دی سندرې وایي او پر سکرین باندې یې نوم «شفیع‌الله صافی» لیکل کېږي:

https://www.facebook.com/reel/1283674722550624




ما به چې د شفیع‌الله صافی هره ویډیو لیدله، د ده د پېژندې له‌پاره مې نوره هم تلوسه ډېرېدله. وروسته له ډېر لټون ځخه مې د یو فرهنګ دوست ملګري ښاغلي عثمان غني حمیدي په مرسته د ښاغلي شفیع‌الله صافي د وتساپ شمېره پیدا او د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په اتلسمه نېټه مې خبرې ورسره وکړې. بیا مې د مقالې د لا غنا او رنګینۍ په غرض له ده نه، د ده د زوکړې، نېټه زدکړو، له موسیقي سره اړیکې په باب په تلیفون کې لنډې پوښتنې وکړې او ده هم په ډېر لنډ ډول ځوابونه راکړل، دلته د پښتو موسیقۍ د دې نوي، خو استاد

شخصيت د لا پېژندنې لهپاره، له ده څخه زما د پوښتنو د ځوابونو لنډيز له تاسو درنو لوستونکو سره شريک کړم:

خوږ غږی سندرغاړی او تکړه رباب غږونکی شفيع‌الله صافی، اصلاً د کونړولايت د پېچ درې د شوړيک کلي اوسېدونکی دی، خو زوکړه يې د مهاجرت په کلونو کې د پېښور د چارسدې په اتمانزو کلي کې د ۱۹۸۹ م کال د اگست مياشت کې شوې ده، د پلار نوم يې حضرت‌ولي سمندر دی، په دوهم‌زرم کال (۲۰۰۰ ام کال) کې بېرته خپل کلي کورکلي کونړ ته کډه شوي دی، بيا په ۲۰۲۱ اگست کې د جمهوريت له سقوط سره سم بېرته پېښور ته تللي دی.

له بده مرغه د محلي نامساعدو شرايطو په وجه ښوونځی ته نه دی تللی، خو ليک‌لوست يې د يوه وطن پرست شخص په لارښوونه زدکړی دی.

د شفيع‌الله صافی د ژوند په پوړيو کې داسې هم شوي چې دی مزدوری ته اړ شوی او کله يې چې د کونړ په گاونډ ولايت د نورستان د «وامه» ولسوالۍ په «پولس» کلي کې مزدوري کوله، هلته يې خپل رباب هم له ځان سره وړی و، کله ـ کله به يې ترنگاوه او د خپل ستړي ژوند دمه به يې له رباب سره وه. په دې وخت کې د خدای کوم دوست چې ډاکتر عبدالقيوم نوميده او په نورستان کې يې کوچنيانو ته کتابونه، قلمونه او کتابچې ويشلې، شفيع جان يې له رباب سره ليدلی او د استادانه، وطني او انساني مينې له مخې يې ورته ويلي دي چې که غواړې چې رباب‌غږول زدهکړې او ورسره سندرې هم ووايي، نو د دې کار اساسي او بنسټيز شرط د ليک‌لوست زدهکول دي؛ نو همغلته شفيع‌الله صافی ياد ډاکتر ته گونډه وهلې، هغه کتاب، قلم او کتابچه ورکړې او شفيع‌جان د

مزدورۍ تر خنګه دومره لیک لوست زده کړی چې اوس هرڅه لوستلی او لیکلی شي. شفیع‌الله صافی واده کړی دی او د دوولونېو او دوو زامنو پلار دی.

## شفیع‌الله صافی، موسیقي او سندرېویل:

ښاغلی شفیع‌الله صافی په پیل کې سندرې ویل شروع کړي دي او وروسته یې رباب غږول د خپل ځانګړي شوق له مخې شروع کړی دی. د رباب غږولو او سندرې ویلو په برخه کې یې هم ټاکلې مکتبي زدکړې نه‌دي کړې. دی خپله وایي چې په پېښور کې مې له ناصر استاد څخه رباب غږول زدکه‌کړل. کله مې چې د سندرو ویلو د څرنګوالي په باب وپوښته، نو راته وېویل چې:

«په وړوکوالي کې مې د نواب استاد او سیدمحمد استاد غږونه خوښېدل او سندرې به مې یې اورېدې، ځکه د سندرو ویلو شوق راته پیدا شو او دا دې څه د پاسه پنځه‌لس کاله کېږي چې رباب غږوم او ورسره سندرې هم وایم.»

کله چې ما پوښتنه ځینې وکړه چې:

«له رباب نه پرته د موسیقۍ کومه بله اله غږولی شې؟»

ده په ځواب کې راته وویل:

«اوس مې ارمونیم پیل کړی دی، خو ترحسابي بریده نه‌یم رسېدلی او غواړم چې د زدکړې له‌پاره یې کوم استاد ته ګونده ووهم.»

د پاکستان او افغانستان اوسنیو کړکېچنو حالاتو او روابطو ته چې ولیدل شي، د دې احتمال هم شته چې شفیع‌الله ببرته

افغانستان ته ستون کړای شي، خدای مه‌کړه که دا کار وشي، د ده د هنرونو چینه وچه وګڼئ. دی خپله هم وایي چې:

«ما ته پته ده، چې په اوسنیو شرایطو کې که زه افغانستان ته لاړ شم، زما هنر مړ دی او بیا به د روزي پیدا کولو له پاره چېرې مزدوری ته درېږم.»

د خوشحالۍ خبره خو دا ده چې په کورنۍ کې دننه د ده له سندرې ویلو او رباب‌غږولو سره څوک مخالفت نه لري او دی له پیل نه ترنن پورې خپل هنري فعالیتونه پرته له کوم خنډ نه پرمخ بیايي.

د شفیع‌الله صافی بیوګرافي د لیکلو په وخت کې ناڅاپه د ښاغلي ولي‌الله ملکزي کتاب (کونړ، غرونه غورځنګونه) راپه‌یاد شو، ما ویل چې ښایي ښاغلي ملکزي به د کونړ موسیقۍ ته یو باب ځانګړی کړی وي او د کونړ د موسیقۍ او سازیانو په هکله به یې د پاملرنې وړ معلومات خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړې وي؛ خو کله مې چې یاد اثر پرانست، ومې لیدل چې ملکزي د کونړ د موسیقۍ او سازیانو حق نه‌دی وراداکړی. د خپل کتاب په ۳۵۴ ام مخ کې د «موسیقي او سندریز هنرونه» (ملکزی، ولي‌الله، کونړ، غرونه غورځنګونه، هاشمي خپرندویه ټولنه/ جلاباد، ۱۴۰۰ ام ل/ ۲۰۲۱ م کال، ۳۵۴ ـ ۳۵۶مخونه)

ترسرلیک لاندې یوازې یو پروګراف بحث کړی دی او وروسته تر هغه یې په لنډ ډول د دووسندرغاړو(ګلناربېګم، ګلاجان استاد) په باب ډېر لنډ معلومات لیکلی دی. زما تمه دا وه چې د نورو مطرح سازیانو په څنګ کې به د شفیع‌الله

ساپي په باب هم څه معلومات وړاندې شوی وي، خو هلته مې هيڅ هم ونهليدل.

د افغانستان په موسيقي کې، د مشرقي د موسيقي مکتب ځانته ځانګړیدریځ او خصوصيات لري. ښاغلی شفيع‌الله د دې ښوونځی له استازو يو استازی دی. ده د موسيقۍ په دې ښوونځي کې ځانته داسې ځای او لار پرانستې ده چې ښايي بل چا به دا کار نهوي کړی. دی له رباب سره داسې په مينه او خوند سندرې وايي چې ښېلګه يې تراوسه نه ده ليدل شوې، د همدې دلايلو له مخې شفيع‌الله صافی، لا په ځوانۍ کې د افغانستان د موسيقۍ او بيا په ځانګړې ډول د مشرقي موسيقۍ حق ورادا کړی دی او نورخدمتونه به هم وکړي.

شفيع‌الله صافی د موسيقي په بڼ کې د يو خودرويه صحرايي ګل په څېر خپله غاړه هسکه کړې، په خپله يې ځان اوبه کړی، خپله يې ځان پاللی دی او دا دی اوس د يو بېجوړې مستانه ربابغږونکي په توګه داسې سندرې وايي چې نه پخوا تر ده داسې څوک و او نه اوس کومڅوک شته چې سيالي ورسره وکړي.

## په يوتيوب کې د «زما هنر – zama honar» په نامه د شفيع‌الله صافی چينل:

شفيع‌الله صافی په يوتيوب کې ځانته د «زما هنر – zama honar» په نامه يو چينل جوړ کړی دی چې د ده څه کم درېسوه ويډيو کلپونه په کې خوندي دي. دی خپله د دې چينل په باب داسې وايي:

«په پېښور کې ملګرو راته ووې چې په یوتیوب کې یوځای جوړ کړه چې د سندرو پته دې مالومه وي او بیا همدې ملګرو راته جوړکړ:




اوس مې دومره زدهشوې دي، چې خپلې سندرې، زه په خپله په یوتیوب کې پورته کوم.»

دا چینلونه او داسې هنري پرګرامونه دې ډېر شي چې له یوې خوا په افغانستان کې چې پر موسیقۍ باندې د بندیز لګولو سره ـ سره دوی د غرورغو په لمنو کې د خلکو د خوشالۍ لهپاره د موسیقي ښکلې پروګرامونه جوړوي او له بلې خوا د همدې موسیقي او سندرو له لارې کېدای شي پښتوموسیقۍ او پښتو ژبې عامول په ښه وجه ترسره شي. دغهراز د ژبې او فرهنګ د ژوندي ساتلو تر ټولو ښه او اسانه طریقه هم ده. د شفیعالله صافي د یوتیوب چینل لینک دا دې، که څوک یې د ویدیوګانو او سندرو د لیدلو او اورېدلو هیله لري کولای شي په یو کلیک سره ورننوزي او د ده په هنري بڼ کې چکر ووهي:

https://www.youtube.com/channel/UCBwEqpVjopY7gJjZmfmdpkA

شاغلی شفیع‌الله د خلکو د خوښيو په محافلو کې ګډون کوي او د همدې عايد په ترلاسه کولو سره په پېښور کې خپل روزګار چلوي.
په «زما هنر» ويديوچينل کې تل له رباب سره منګی او يا دوګړې وي او په عجب خوږه غږ او اندازه سره ښکلي شعرونه او اکثراً لنډۍ زمزمه کوي. ما د ده له خولې نه ډېرې لنډۍ اورېدلي او هغه يې چې راته نوې وې خوندي کړې مې دي چې د نويو لنډيو په باب به يې جلا مقاله وليکم.
د پښتو موسيقۍ په دې ويديوچينل کې تر اوسه (۲۰۲۵/۱۰/۱۶) څه کم درېسوه ويديوګانې اپښودل شوې دي. په لاندې لينک کې يې يوه ښکلې بېلګه خوندي ده.

https://www.facebook.com/reel/1269134864202179

داسې هم شوې چې په يوه وچ کنډکپر ډاګ کې يو فرش ورته اچول شوی او دې بې کبره او بې څه‌ويلو ورباندې ناست دی، مست رباب وهي او په خوند سندرې وايي:

https://www.facebook.com/reel/738208167231880

د دې هنرمن له سندرو څخه مې ډېرې لنډۍ اورېدلي دي چې په جلا مقاله کې به مفصلې خبرې پرې وکړم، خو دلته به هم د څو بېلګو په وړاندې کولو سره يوه لنډه اشاره ورته وکړم:

د ده له بېلابېلو ويديوګانو څخه ما دا لنډۍ راخوندي کړې دي:

**که د ځوانۍ زکات وباسې**
**د سوال لاسونه مې کولاو نيولي دينه**

چې ما ويلی، تا منلی
تا به د دغې يارۍ خوند ليدلی ونه

زما دا زړه له تا نه تور شو
په لندکميس باندې دې پورې شه اورونه

ازارګټلې ښځې زويه
په مادې خپله نيا دلاله کړه مينه

ازاروه‌مې‌مه جانانه
څوک به دې خوښ شي، بيا به تا ازاروينه

د ليوني جانان خاطر دی
ځکه د ټول کلي منګي راډکومه

ته ليونی، زه ليونۍ يم
چې ليوني سره يوځای شي خوند کوينه

لونی نه يمه، نور څه يم
ته مې وهې، زه درته شين له خندا شمه

که چېرته لمر تادې ونه‌کړه
ګمان مې کيږي چې به وشي ديدنونه

د پاسنيو نه لنډيو لينک دا دی:

https://www.facebook.com/reel/736616207371466

که سرې ځان ورته حلال کړي
نه مالومېږي معشوقو ته خدمتونه

**تبۍ راواخلئ مخ مې تور کړئ**
**د پښتون لور وم، په هیجړا مینه شومه**

**چې یارانه ساتلی نه‌شې**
**د بختورې لورې ولې دې خالونه**

**یاري دې وکړه رانه لاړې**
**لکه مرغۍ چې ځاله جوړه کړي، ترېځینه**

د پاسنیو لنډیولینک دا دی:
https://www.facebook.com/reel/2277971729235876

په یوه بله ویډیو کې د دې مشهور «سر»:

**په انتظار ولاړه یم، سرې مې منګولې دي**
**ته به خوستته کله راځې، پخې سنځلې دي**

په ملتیا څو د خوند لنډۍ زمزمه کوي، دا یې څو نوې بېلګې دي:

**ما د ګورګورو خوند لیدلی**
**زه په انارو یارانه کله کومه**

**خیر به زما لارو ته ګورې**
**ما به توبه ستا له یارۍ ایستلېوینه**

د دې لنډیو لینک دا دی:
https://www.facebook.com/reel/860672941801306

د ښاغلي شفيع‌الله د سندرو ويلو او رباب غږولو د هنرونو په بحر کې کله داسې کلپونه هم په‌مخه راغلل چې ده ژوندئ مجرا نه ده کړې او دې ته اړ ايستل شوی چې يوه سندره د ليبسنگ په بڼه اجرا کړي چې يو څه پيکه او بې‌خونده ده داسې چې د ده له اصلي هنر سره ډېر واټن لري. داسې ښکاري چې بل چا به داسې يوه ويديوکلپ ثبتولو ته اړکړی وي. دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/510605453973833

شفيع‌الله صافی ډېرځلې له ځينو نورو سندرغاړو سره غبرگې سندرې هم ويلې دي، دا يې د بېلگې له‌پاره د څو سندرو لينکونه دي:

https://www.facebook.com/reel/485378836537277

https://www.facebook.com/reel/540269707532334

https://www.facebook.com/reel/679342657104313

https://www.facebook.com/reel/914035844104479

https://www.facebook.com/reel/699087989093564

https://www.facebook.com/reel/639138440668110

شفيع‌الله صافی که خپلې سندرې ويلي دي. که فولکلوريکې سندرې اجرا کړې دي، که يې د بل چا بياځلي زمزمه کړې دي؛ ډېرې يې ښې او په تول‌تللې يې ويلې دي.

ښايي د تنوع او لا جذابيت له‌پاره دي سندرغاړي هرچېرې سندرې ثبت کړې دي: د سين له غاړې، د ځنګله په منځ کې، په کور کې، پر ستيژ باندې، په ستديو کې... او حتی په يوه وړه بېړۍ يا کښتۍ کې. دا يې په کښتۍ کې د ثبت کړې سندرې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/886747959008104

ما داسې فکر کاوه چې ښاغلی شفيع‌الله يوازې يو هنر لري، خو د خپلو څېړنو په لړ کې په دې پوه شوم چې دی د رباب غږولو ترځنګ، د موسيقۍ د نورو الات د غږولو شوق هم لري، ما يې داسې ويډيوګانې وليدلې چې ارمونيم ته ناست دی او سندرې هم وايي، دا يې د ارمونيم سره د يوې سندرې لينک دی:
https://www.facebook.com/reel/1177914650117882

شفيع‌الله صافی ماته د ارومونيم غږولو په باب ويلي وو چې:

«اوس مې ارمونيم پيل کړی دی، خو ترحسابې بريده نه‌يم رسېدلی او غواړم چې د زدکړې له‌پاره يې کوم استاد ته ګونده ووهم.»

کله داسې هم شوي چې ښاغلي شفيع‌الله صافي ته د رباب بادشاه خطاب هم شوی دی:

https://www.facebook.com/reel/27310255085255366

که د ده رباب غږول د زړه په غوږونو واورو‌یدل شي او د موسيقي هنر په زرينه تله وتلل شي، دی په ريښتيا هم د رباب غږولو يو ماهر استاد دی او بايد د رباب بادشاه لقب ورته ورکړل شي.

د ښاغلي شفيع سندرې په کابل کې له شمشاد تلويزيون او ژوندون او تلويزيون څخه خپرې شوې دي او کله، کله يې د يادو تلويزيونونو په ژونديو پروګرامونو کې ګډون کړی دی.

https://www.facebook.com/reel/663473504808507

د ښاغلی شفيع‌الله په دوو ويديو ګانو کې د پاکستان بيرغ هم تر سترګو کيږي. په يوه ويديو کې د نندارچيانو تر شا بيرغ ټومبل شوی او بله ويديو کې د ارمونيم پر ډېره د عمران خان له عکس سره بيرغ ليدل کيږي. زه يې په وجه پوه نه شوم؟

https://www.facebook.com/reel/1054344006373063

دا لاندې لينک کې هم ډېره ښه سندره ده، خو افسوس چې د ناستو کسانو تر شا د پاکستان بيرغ رپيږي.

https://www.facebook.com/reel/1170426610568216

شفيع‌الله صافی داسې ځوان استعداد وو چې د فقر او قيوداتو په چاپيريال کې په تش‌لاس د موسيقۍ په دايره کې قدم کېښود، د خپل خدای‌ورکړي استعداد په مرسته او په خپلې خوارۍ يې له ځان ښخه د رباب غږولو او سندرو ويلو بېجوړې استاد جوړ کړ او د پښتو موسيقۍ په يو کړکيچن حالت کې خدای له شفيع‌الله نه داسې استاد جوړ کړ چې دا موسيقي يې تر اوسه ژوندۍ ساتلې او د همدې موسيقۍ او سندرويلو د هنر له لارې يې پښتو ژبه تر هر هېواد، ترهرښاره، تر هرې حجرې او تر هرمجلس پورې رسولې ده.

**شفيع‌الله صافي ته په خپل هنر او شخصي ژوند کې**

**د نورو برياوو هيله کوم!**

## د لیکوال پېژندنه:

نوښتګر شاعر، لیکوال، ژباړونکی، فولکلورپوه او فرهنګي شخصیت، پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷ زیږدي کال د دسمبر په ۲۳مه نېټه، د کابل چهاردهي د شکرالله خان کلي په یوه روښانه کورنۍ کې سترګې وغړولې. لومړۍ زدکړې یې د کابل په علاءالدین تجربوي ښوونځي او منځنۍ هغه یې په محمود طرزي لیسه کې بشپړې کړې. دولسم ټولګی یې په میدانښار کې د نرخ په لېسه کې پای ته ورساوه.



استاد بهاند په ۱۳۵۵ لمریز کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی او په ۱۳۵۸ لمریز کې یې دغه پوهنځي پای ته ورساوه. یوه موده د کابل په روښان دارالمعلمین کې استاد و. په ۱۳۶۰ لمریز کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په علمي کادر کې ومنل شو. استاد بهاند په ۱۳۶۶ لمریز کې د اروابناد استاد کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي تر لارښوونې لاندې خپله ماستري بشپړه کړه.

استاد بهاند په ۱۳۵۶ کال کې شاعرۍ ته مخه کړه، په ازاد – نوي پښتو شعر کې يې بريالۍ تجربې وکړې او په شلمه پېړۍ کې د ازادې پښتو شاعرۍ د دويم پښت له مخکښه شاعرانو څخه دی، چې د ازادې شاعرۍ تر څنګ يې د غزلونو او بوللو په ليکلو دوديز قالبونه هم پاللي دي.

استاد بهاند د شعر ليکلو ترڅنګ په څېړنه، کوچنيانو ادبياتو، او پوهنتوني درسي کتابونو په کښلو کې ياد نوم دی او د يوه پياوړي رسنوال په توګه هم پېژندل کيږي.

د استاد بهاند کتابونه، څېړنې، مقالې او رسالې په هېواد کې دننه او بهر د ځينو ادبي جايزو په ورکړه ستايل شوې دي.

استاد هاغه مهال د کوچنيانو د ادبياتو د تيوري او ليکنې لپاره هڅې کړي، چې په افغانستان کې په دې برخه کې ډېرو کمو ليکوالو کار کاوه.

استاد د شپېتمې لسيزې په اوږدو کې څو کاله د کابل پوهنتون د معتبرې علمي – اکاډميکې مجلې (اجتماعي علوم) مرستيال و.

همدا راز د راډيو افغانستان د روزنې ادارې د علمي پروګرام «موږ او اورېدونکي» د ليکوال په توګه د رسنيز کار تجربه هم لري.

استاد آصف بهاند د دافغانستان د ليکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی، په مسکو کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې منشي او د دغې ټولنې د ادبياتو د څانګې مسئول پاتې شوی دی.

اروپا ته تر راتللو روسته یې په سویډن کې د مېشتو افغانانو د فرهنګي ټولنې په ګڼو سیمینارونو کې لکچرونه او ویناوې وړاندې کړې دي. استاد بهاند د مورنۍ ژبې پر ارزښت او په زدکړو کې د مورنۍ ژبې د ونډې په اړه ګڼې لیکنې او ویناوې لري، چې دغې مهمې مسئلې ته له علمي پلوه د پام او هڅو په لومړي کتار کې ولاړ دی.

استاد چې پخپله د کوچنیانو د ادبیاتو پنځوونکی و، د مهاجرت د تجربې او پیداګوژیکې پوهنې پر بنسټ په دې ډېر ښه پوهېده، چې کډوال ماشومان څنګه په نوي ژوندچاپېریال کې له فرهنګي ستونزو سره مخ کیږي. د کوربه ژبو د زدکړو ترڅنګ د مورنۍ ژبې او خپل ملي فرهنګ د ساتنې په برخه کې د استاد نظریات، ویناوې او لیکنې ګڼې او مهمې دي. استاد بهاند په دغو موضوعاتو کې د سویډن په ستاکهولم، یوتیبوري او مالمو ښارونو کې لکچرونه او ویناوې لرلې دي.

استاد بهاند د پښتو فولکلور په تېره بیا لنډیو په برخه کې هم ځانګړې مطالعه او په زړه پورې څېړنې لري. په دې برخه کې د هغوی یو اساسي کار د پښتو لنډیو د راټولولو په څرنګوالي، ربړو او ستونزو څېړنه ده. که په راتلونکي کې څوانان په دې برخه کې څېړنه و راټولونه کوي، د استاد بهاند دغه لیکنه د یوه لارښود په توګه ورپه کاریږي.

استاد بهاند د افغان – جرمن پر لیکه رسنۍ له فعالو لیکوالو او چلوونکیو څخه دی، چې د دغې مشهورې او مهمې پرلیکه رسنۍ لویه برخه ترتیب و تنظیم و خپراوی له کلونو راهیسې پرمخ وړي. استاد د افغانستان په لوی قاموس (قاموس کبیر

افغانستان) کې هم ځانګړې پاموړ ونډه لري، چې د دغه افغاني مهم پرلیکه پوهنغونډ لویه برخه یې د زیار ثمر دی.

استاد آصف بهاند د خپل فرهنګي خلاق ژوند په اوږدو کې لاندې علمي – ادبي اثار پنځولي دي:

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخیـیل مسأ له (د پوهندویۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پـښتو څانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دویم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دریېم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې منظوم متون، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو ځانګې درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لارورکي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ثبتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ـ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اگست کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولگه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

۱۹ ـ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولگه)، د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ میاشت کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۰ ـ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په می میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۲۱ ـ د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه (د مقالو ټولگه) د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۲ ـ د ډنمارکي فرهنگ څو غوره بېلگې (د ډنمارک او ډنمارکیانو په باب د مقالو ټولگه)، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جنورۍ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۳ ـ يو ځل مې د لاس ورغوی وګوره! (شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۴ ـ ژوندي یادونه، لومړی ټوک،د ۲۰۲۰ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۵ ـ د تللو یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۶ ـ راشه! چې سترګې مې له مځکې نه راټولې کړمه، (څلورمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۷ ـ ښځـګلې، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ کال په نومبر میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې
پر لیکه شوی دی،

۲۸ ـ موریې مننه چې ویده دې کړمه (پنځمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۱ کال په مارچ میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۹ ـ مورنۍ ژبه، تعلیمي نصاب او څو نورې مقالې، دا کتاب د ۲۰۲۱ کال اپریل میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۳۰ ـ يو څراغ (د استاد شريف بهاند ژوند، علمي ـ فرهنګي هڅې او مړینه)، دا اثر د ۲۰۲۱ ام کال د جولای پر ۱۷ مه نېټه د استاد شریف بهاند د لسم تلین د درناوي په پار انلاین شوی دی.

۳۱ ـ د نوي نسل روزنه او زموږ دریځ، دا کتاب د ۲۰۲۱ ام کال په جون میاشت کې، په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۲ ـ کوروناییي لنډۍ (د کوروناییي لنډیو لومړنۍ ټولګه)، مقدمه، توضیحات او راټولونه: آصف بهاند، دا کتاب د ۲۰۲۲ کال په جولای میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۳ ـ د تللو یادونه، دویم ټوک، د ۲۰۲۲ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۴ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي څونامي، د ۲۰۲۲ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۵ ـ ژوندي یادونه، دویم ټوک، د ۲۰۲۳ م کال په فبرورۍ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۶ ـ بسځـګلې، دویم ټوک د ۲۰۲۳ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۷ ـ د نجونو د تعلیم مخنیوي تاریخي مسؤلیت چا ته ورله غاړې دی؟ د ۲۰۲۳ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۸ ـ د لنډیو پر ټـټـر باندې د کډوالۍ انځور، دا کتاب د ۲۰۲۴ ام کال د جنورۍ پر ۲۹مه په افغان جرمن پورتال کې انلاین شوی دی.

۳۹ــ لنډۍ، د ثبتولوستونزه، دویم ټوک، دا کتاب د ۲۰۲۴ ام کال په جون میاشت کې په افغان جرمن انلاین پورټال کې پرلیکه شوی دی.

۴۰ ــ د ډنمارکي فرهنګ څوغوره ببلګې، دویم ټوک، دا کتاب د ۲۰۲۴ ام عیسوي کال په اګست میاشت کې په افغان جرمن پورټال کې پرلیکه شوی دی.

۴۱ ــ د نجونو د تعلیم مخنیوي تاریخي مسؤلیت چا ته ورله غاړې دی؟ دویم ټوک، دا کتاب د ۲۰۲۴ ام عیسوي کال په دسمبر میاشت کې، په افغان جرمن انلاین پورټال کې پرلیکه شوی دی.

۴۲ ــ لنډۍ، د ثبتولوستونزه، دریم ټوک، دا کتاب د ۲۰۲۵ ام کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن انلاین پورټال کې پرلیکه شوی دی.

۴۳ ــ ژوندي یادونه، دریم ټوک، د ۲۰۲۶ م کال په جنوري میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:

ــ د شعرونو یوه ټولګه،

ــ او دري عنوانه څېړنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال په ډنمارک کې ژوند کوي او په منظمه توګه د فرهنګي هڅو په لړ کې په څېړنه، لیکنه او شعر پنځونه بوخت دی.